# پښتو نحوه



## نوي کتنه او څېړنه



مؤلف: پوهاند محمد آقا شېرزاد

**مخکيني خبرې**

د پښتو ژبې ليکوالو ، پښوييپوهانو ،له ډېر پخوا راهيسي پښتوييزې څېړنې راپيل کړي دي . ځيني يې د وخت او مهال په چپاوونو کې ورکې او د تاريخ کندو ته سپارل شوي او اوس زموږ په لاس کې نشته ؛ خو هغه پښوييزې ليکنې او څېړنې چې زموږ تر وخته رارسېدلې ، په نيمګړي يا بشپړ ډول يې نمونې او بېلګې راپاتې دي هغه ډېرې لږې او د ګوتو په شمار دي . په ځانګړې ډول د پښتو نحوې او غونډله پوهنې په برخه کې چې نن سبا زموږ په واک کې شته او زموږ سره په دغه ټاکلې موضوع کې د مأخذ او منابعو په ډول مرسته کوي ، د ارواښاد محمد ګل مومند «پښتو ژبې ليار» کتاب چې په (۱۳۱۷لمريز) کال په بلخ کې ليکل شوی او په لاهور کې چاپ شوی دی .

دويم کتاب د پوهاند صديق الله ريښتين «د پښتو ګرامر» دی چې د افغانستان د علومو اکادمی علمي او مسلکي غړي سيدمحي الدين هاشمي له دري ژبې څخه پښتو ته راژباړلی او په ۱۳۷۲ لمريز کال پېښور يونيورسټي بک ايجنسی له خوا خپور شوی دی.

کابل پوهنتون ژبو او ادبياتو پوهنځي پښتو څانګې استاده داکتر زرغونه زيور هم «پښتو نحوه» ترسرليک لاندې کتاب په ۱۳۸۳ لمريز کال په مومند خپرندويه ټولنه کې چاپ کړی دی . معاصر ژب څېړونکي او ژبپوهاند دوکتور مجاور احمدزيار چې په ژبنيو څېړنو او ژبپوهنه کې د لوی لاس خاوند دی په ۱۳۸۴ لمريز کال يې پښتو پښويه (ګرامر) درېيم چاپ دانش خپرندويه ټولنې له خوا چاپ شوی . استاد په دې ګرامري اثر کې د پښتو ګرامر بېلابېلې برخې : (فونولوژي ، مورفولوژي ، سنټکس) د معاصرو ګرامري مېتودونو پر بنا څېړلې دي . د پښتو ژبې په ګرامرونو کې دا کتاب د ګرامري څېړنو يو علمي او په معاصرو اصولو برابر يو ليکلی کتاب دی ، د کتاب ژبه زياتره سوچه پښتو او د ليکنې اصول يې په علمي معيار راجوړ دی .

ځينې نور ګرامري اثار لکه : د محمداعظم ايازي (پښتو نحو ) ، د سيدخيال بخاري (د پښتو صرف و نحو) او نور هم شتون لري چې نن سبا هم ترې ګټه اخيستلی شو . ما هم په خپل نوبت له پوهنوال علمي رتبې څخه د پوهاند علمي رتبې ته د لوړېدو په موخه د څانګې او محصلانو د ضرورت له مخې د پښتو څانګې په سپارښتنه د «پښتو نحو» ترسرليک لاندې د يو علمي اثر د تاليف تابيا وکړه . له ياد تاليف څخه موخه دا وه چې «پښتو نحو» د هېواد په ډېرى پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو ، پښتو څانګو کې تدريسېږي ، نو د يو درسي اثر تاليف ته اړتيا وه ، چې دغه تشه ورباندې يو څه راډکه شي.

د نوموړي اثر د موضوعګانو ليکلړ د پښتو ژبې او ادب څانګې له مفرداتو سر ه برابر دی . که له ننيو تدريسي شرايطو سره د مضمون اړوند ځينو موضوعګانو ته اړتيا ليدل کېده ، هغه وراضافه کړل شوي دي . د اثر په تاليف کې له باوري سرچينو او

مأخذونو څخه کار اخیستل شوی ، همدرانګه د موضوع اړوند مې د څانګې له استادانو او د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې له درنو استادانو په ځانګړي ډول له پوهاند محمدصابر خوېشکي څخه مشوري اخیستې او د اثر په لا باوري کولو کې مې د دوي مشورې او لارښوونې عملي کړې دي .

د خپلې څانګې له استادانو او کابل پوهنتون پښتو څانګې له استادانو څخه مننه کوم چې په خپلو مشورو يې نازولی یم ، د افغانستان د علومو اکادمی له غړي درانه استاد سرمحقق سید محي الدین هاشمي څخه د زړه له کومې مننه کوم چې د ګټورو لارښوونو ترڅنګ يې د خپل کتابتون ډېر کتابونه راته راکړل او ما ترې ددې اثر په بشپړولو کې ګټه واخیسته .

د پښتو څانګې استادې پوهیالی تهمینه رحماني دې کور ودان وي چې زما دغه درسي توکي يې په سمه املاء کمپیوټر او ټایپ کړل . په پای کې له الله تعالی نه غواړم چې د پښتو ژبې ګرامر (نحوي برخې) تالیفي اثر په باب زما دا کړې خواري د پښتو ژبې او ادب د مینه والو په درد وخوړل شي او د پښتو ژبې په غښتلتیا او بډاینه کې مهم رول ولوبوي .

په درنښت

پوهنوال محمدآقا شېرزاد

**سریزه**

پښویه (ګرامر) د تشریحي ژبپوهنې د یوې سترې څانګې په توګه د ژبې مورفولوژیک (صرفي ) او نحوي (سنټکس) جوړښت او ساختمان ترڅېړنې لاندې نیسي .

یا :

ګرامر د ژبپوهنې د اصولو له منځه هغه دسپلین دی چې د یوې ژبې جوړښت تشریح کوي ، ګرامر ته د ژبې پوهه یا د ژبې د پوهې د زده کړې کتاب هم وایي ؛ که څوک غواړي چې لیکنه او وینا یې له نیمګړتیاوو خالي او د ژبې له قانون سره برابره وي ، نو د ژبې په صرف او نحو دې ځان پوه کړي . صرف او نحو یا مورفولوژي او سنټکس د ګرامر هغه دوه اساسي برخې دي چې په لومړۍ (صرف) کې د کلیمو جوړښت ، شکلونه ، اشتقاق - ګردان او په دویمه (نحو) کې د جملو د جوړښت ، ترکیب ، عبارت او ډولونه څېړل کېږي.

تر کومه ځایه چې جوته ده زموږ په هېواد کې د پښتو ژبې په اړه (دننه او بهرکې ) تر اتیاوو زیات پښتو ګرامرونه او ګرامر ډوله اثار لیکل شوي دي ، چې د داخلي پښتو پوهانو ترڅنګ بهرنیو پښتوپوهانو هم یکې ونده لرلې ده .

پښتو ژبه کې د ګرامر لیکنې لومړني څرکونه او نښې د دولسمې پېړۍ په وروستیو لسیزو کې ترسترګو کېږي ، د لومړنیو بنسټګرو لیکوالو په توګه ( د پیرمحمد کاکړ چې ګرامر ته ورته د پښتو ژبې د زده کړې اثر یې د معرفة الافغاني په نامه لیکلی ، نواب محبت خان چې د ریاض المحبت په نامه دویم ژبدودیز کتاب یې لیکلی . قاضي میراحمدشاه رضواني چې د وافیه په نامه پښتو ګرامر یې په اردو ژبه لیکلی ) او محمدګل مهمند چې «د پښتو ژبې » په نامه پښتو ګرامر یې لیکلی) نومونه یادولی شو، بیا وروسته دا لړۍ پسې تر ننه غزېدلې ده .

همدارنګه په بهرنیو پښتو ګرامر لیکونکو کې (د روسي کلاپورت ، بیدولف ، کیپل ، مارګن سترن او داسې نورو ) نومونه د یادولو وړ دي. «پښتو نحو» د هغې موضوع سرلیک دی چې ما د پوهاند علمي رتبې ته د لوړېدو په موخه غوره کړی دی.

د یادې موضوع له تالیف څخه موخه دا ده چې د پښتو ژبې د ګرامر په دې برخه کې تر دې دمه د «پښتو نحو» تر سرلیک لاندې داسې تالیفي کتاب چې د پښتو څانګې د ټاکلو مفرداتو او درسي پروګرام سره سم وي شتون نه درلود .

دا چې د هېواد پـه دېرو پوهنتونونـو او د لـوړو زده کـړو پـه موسسـو کـې نومـوړې موضـوع د څلـورو کردېدتونو پـه تـرڅ کـې تدریسېږي ، نو د اثر تالیف ته اړتیا وه ، چې دغه تشه ورباندې یو څه راډکه شي . زه په دې بـاوري یم چې پـه دغـو ترتیب شـوو درسي توکو سره به په اړونده برخه کې د استادانو او محصلانو ستونزې حل شي .

بلـه دا چې دغه تـالیفي اثـر د نـوې ژبپوهنې د څېړنـدود پـه اسـاس لیکل شـوی دی ، پـه داسې ډول سره چې د نحوي واحدونو او اصطلاحاتو د پېژندنې په اړوند د محصلانو ذهن روښانه وي.

زیاتره پښتو لیکل شوي ګرامرونه د آواز پوهې او صرف برخې ته ځانګړې شوې دي . د پښتو نحوې او جمله پوهې اړوند پکې لازمـې څرګندونې څـه چې حتـی یادونـه هم تـرې نـه ده شـوې ، خـو پـه دا راوروسته لیکل شـوو ګرامرونـو کـې د ګوتـو پـه شـمېر ګرامرونه دي چې د پښتو نحوې په باب څه ناڅه بحثونه پکې راغلي دي ، هغه هم له یو لړ ستونزو سره د بېلګې په ډول د عبارت او ترکیب تر یو سرلیک لاندې راوستل ، مګر په یاد تالیفي اثر (پښتو نحوه) کې تېرو ستونزو ته ګوته نیول شوې او اصلاح شوې بڼې یې له مثالونو سره توضېح شوي دي. هڅه مې کړې چې د دغه اثر ژبه ساده وي ، د موضوعاتو ترتیب یې یو لـه بلـه راوتلې وي ، د موضوع ترتیب او تنظیم لوستونکو ته ستړی کوونکی نه وي .

دا کتاب (پښتو نحو) ښووني او روزني پوهنتون ، ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګې د ښوونیز پلان او درسي مفرداتو سره سم په اوو څپرکو کې اوډل شوی او ترتیب شوی دی :

په لومړي څپرکي کې د غونډله پوهې (نحو = syntax) تر سرلیک لاندې د نحوې علم لغوي او اصطلاحي پېژندنه ، د غونډأه پوهې اړیکې د تشریحي ژبپوهنې یا د ګرامر له نورو څانګو سره څرګندې شوې دي .

دویم څپرکـی پـه عبـارت پیـل شـوی دی ، پـه دې څپرکـي کـې لـومړی د عبـارت نحـوي واحـد بشـپړه پېژندنـه شـوې ، بیـا د عبـارت ځانګړتیـاوې ، د لفظـي جوړښـت او معنـا لـه مخـې د عبـارت بېلابېـل ډولونـه لـه بېلګـو سـره ښـودل شـوې دي . همدارنګـه نـومیز عبارتونه ، له نوم او ستاینوم څخه جوړ شوي عبارتونه ، له نوم او شمېرنوم څخه جوړ شوي عبارتونه ، له نوم او نومځري څخه جوړ شـوي عبارتونـه ، لـه نوم او فعلـي ستاینوم څخـه جوړ شـوي عبارتونـه ، لـه نوم او مصـدر څخـه جوړ شـوي عبارتونـه او پـه عبارت کې د کلیمو ترتیب څرګند شوی دی .

په دریم څپرکي کې د نورو پښتو ګرامرونو په توپیر ترکیب د یو ځانته نحوي واحد پـه توګـه لـه خپلو ټولو بېلابېلو ډولونـو سره څېړل شوی دی او د همدې بحث په پای کې د عبارت او ترکیب خپلمنځـي توپیرونـه هم تشریح شوي دي ، حـال دا چـې پـه نـورو پښتو لیکل شوو ګرامرونو کې عبارت او ترکیب تر یو سرلیک لاندې راوستل شوي دي او د دواړو تـر منځ کـوم توپیر هم جوت

شوی نه دی . ترڅنګ یي د ترکیب بېلابېل ډولونه : (ارتباطي ترکیب ، عطفي ترکیب ، ندایي ترکیب ، ندایي ترکیب ، استثنایي ترکیب ، تاکیدي ترکیب ، قیدي ترکیب ، اضافي ترکیب ، فعلي ترکیبونه ...) او نور د بېلګو سره توضېح شوي دي .

په څلورم څپرکي کې : ( جمله ، په پښتو ژبه کې د جملې ځانګړتیاوې ، په جمله کې د مورفیمونو ترمنځ اړیکې او د اړیکو ډولونه ، د جملې د جوړښت توکي ، د جملې بشپړآند (متمم) توکونه راوړل شوي دي .

پينځم څپرکی د جملې بنسټیزو او پیروو برخو ته ځانګړی شوی دی . په دې کې د جملې لومړی اساسي برخه (مبتداء) د مبتداء ډولونه ، د کلام په بېلابېلو توکو سره د مبتداء افاده ، د جملې دویمه اساسي برخه (خبر) ، د خبر ډولونه : (ساده ، ترکیبي او متعدد خبر) اسمي او فعلي خبر ، د جملې پیروي برخې : ( بشپړوونکی ، ټاکونکی او نحوي قیود ) توضېح شوي دي . شپږم څپرکي ، کې نوموالي او کړوالي غونډلي ، د نوموالو غونډلو قاعدې ، د کړوالو غونډلو یو لړ قاعدې ، د جملو معانیز او جولیز ډولونه ، په پښتو جملو کې د جملې د اجزاوو ترتیب او د جملو د برخو ترمنځ مطابقتونه د لازمو بېلګو په راوړلو سره ښودل شوي دي.

په اووم څپرکي کې د بېلابېلو جملو تجزیه د کلام په توکو (مورفیمونو - کلیمو ) او نحوي جوړښتونو باندې شوې ده . د اثر په لیکنه کې مې له تشریحي ، تحلیلي ، تالیفي ، عملي او تطبیقي مېتود څخه کار اخیستی ، هر څپرکی په یو مدخل پیل شوی او د څپرکي په پای کې د هماغه څپرکي لنډیز ، تمرین او پوښتنې راوړل شوي دي ، چې په ځانګړي توګه به د زده کوونکو لپاره بې ګټې نه وي.

## لومړی څپرکی

## غونډله پوهه – (نحو(*syntax*)

پښویه (ګرامر) د تشریحي ژبپوهنې د یوې سترې څانګې په توګه په ښوونځیو ، لوړو زده کړو موسسو ، پوهنتونونو او ژبنیو زده کړځیو کې د یوې ژبې یا د هغې ژبې د معیاري بڼې د زده کړې د اسانتیا لپاره لوستل او تدریسیږي.

د پښویې ( ګرامر) د سمې او ښې څېړنې او مطالعې لپاره اړینه ده چې بنسټیزې څانګې یې او د ژبې د جوړښت نظامونه په سمه توګه تشخیص کړو ، دا ځکه چې پښویه یا ګرامر د ژبې د رغاوني نظامونه په علمي او سیستماتیک ډول تشریح کوي.

هرکله چې زموږ موخه د یوې ژبې د جوړښت نظام تشریح وي ؛ نو په حقیقت کې د ژبې غږیز جوړښت ، د مورفیمونو او کلیمو جوړښت ، د ترکیبونو ، عبارتونو او جملو جوړښت مطالعه کوو.

په دوديز وېش کې غونډله پوهه – نحو (syntax) تر غږپوهي (phonetics) او ګړ پوهي – صرف (Morphology) وروسته د پښتو پښویې (ګرامر) دریمه برخه ده .

هماغسې چې د غږپوهې د بحث واحد غږ (sound) په بله وینا اواز ( فونیم) او د ګړپوهې د بحث واحد مورفیم دی ؛ نو د غونډله پوهې (نحوې) د بحث واحد غونډله (جمله) او په ترڅ کې د جملې ټول رغنده توکونه ، نحوي واحدونه د هغوی رغښت او ډولونه دي ، چې د همدې څپرکي په ترڅ کې به مطالعه او تر څېړنې لاندې ونیول شي.

**نحو**

د (ن) په زور د (ح) په سکون او د (و) په زور سره ویل کېږي . د عربي ژبې کلیمه ده چې لغوي مانا یې : مثل ، مانند ، قصد ، لاره ، طریقه ، دود ، طرز او روش ده .

تر غږ پوهې او ګړپوهې (صرف) وروسته د ګرامر دریمه برخه ده چې د بحث اساسي واحد یې جمله ده .

د ګرامري معنا له مخې نحو یا غونډله پوهه د پښویې هغه برخه ده چې په جمله کې د کلیمو په مطابقت ، ارتباط ، ترتیب او ترکیب باندې غږېږي . (۱۸:۱)

یا په بله وینا:

غونډله پوهه ( نحو) هغې پوهنې ته وايي چې د يوې ژبې د غونډلو (جملو) ، عبارتونو ، غونډونو (ترکيبونو) ، جوړښت ، ترتيب ، تنظيم او جوړښتي نظام تر څېړنې لاندې نيسي.

دا چې په پښتو ژبه کې غونډله پوهه د عربي ژبې له نحوې او د انګليسي ژبې له سنټکس (syntax) سره په يوه ټاکلي ګرامري مفهوم او معنا استعمالېږي ؛ نو که دا اصطلاح د يوناني ژبې د سينتيسس (synthesis) له نوموني سره پرتله کړو ، وبه ګورو چې په دواړو کليمو کې يوه ګډه ريښه پرته ده ، يعنې د سينټ (synt) برخه په دواړو کې شريکه ده ، چې د ترکيب ، يوځای کېدو او ګډون په معنا راتلای شي.

څنګه چې سينتيسس (synthesis) د برخو د اجزاوو د ترکيب په مانا دی ، نو سنټکس (syntax)هم د ژبني ترکيب په مانا ترجمه يا ژباړل کېدای شي.

په همدې بنسټ ويلای شو چې ژبنی سيستم د ترکيب او اوډنې څخه پرته رامنځته کېدای نه شي ، نو په غونډله پوهه يا نحوي سيستم کې د نحوي واحدونو او د هغوي د اړوندو اجزاوو څخه بحث کېږي او له دې سره هغه يو شمېر دويونه ( قواعد) څېړي چې د همدغو نحوي واحدونو په ترکيب ، ترتيب او اوډون اړه پيدا کوي.

«نو غونډله پوهه د دويونو ( کليمو) او غونډونو( ترکيبونو) يو داسې اوډون دی چې ښه جولې غونډلې رامنځته کوي او له دې سره هغه يو شمېر دويونه ( قواعد) څېړي چې په ياد شوي اوډون اړه پيدا کوي .» (۲:۲۱۶)

د پايلې په توګه ويلای شو چې د غونډله پوهې ( نحوې ) آره او بنسټيزه موضوع غونډله (جمله) ده او نورې خبرې هم پر همدغې غونډلې راڅرخي ، يا يې په رغندو (پوستوو او ترښتي ) توکونو اړه لري او يا يې په بېلابېلو ډولونو ، نو په ټوله کې د نحوې علم يا غونډله پوهې دنده د جملو د هغوي د رغښت شرح ده ؛ يعنې د يوې ژبې د عبارتونو ، غونډونو ( ترکيبونو) جملو او کليمو د نظام او جوړښت اصول او لارې چارې مطالعه کوي.

**د غونډله پوهې اړيکې د تشريحي ژبپوهنې يا ګرامر له نورو څانګو سره**

مخکې مو د پښويي ( ګرامر) يوه لنډه پېژندنه داسې وکړه چې ګرامر د تشريحي ژبپوهنې د يوې څانګې په توګه د يوې ژبې د جوړښت نظام په علمي او سيستماتيک ډول سره تشريح کوي ؛ نو د پښويي يا ګرامر څانګې هم د هغو توکونو له مخې وېشنه مومي چې ژبه له څه او څنګه رغېدلې ده ، يا په بله وينا:

د ژبې رغنده توکونه (متشکله عناصر) کوم دي .

په همدې اساس که وغواړو چې د يوې ژبې رغاونه (ساختمان ) وڅېړو ، نو پر دغو درو څانګو : ( آواز پوهه يا فونيم پوهه – ګړ پوهه (صرف) يا مورفيمپوهه – غونډله پوهه ( نحو) باندې وپشو .)

په آواز پوهه يا فونولوژي کې د ګرامر د مقدمې په توګه هر راز ژبني غږونه (فونيمونه) ترڅېړنې لاندې نيول کېږي چې دا بيا په دوو څانګو فونيټکس او فونيميکس سره بېلېږي ، په فونيټکس کې غږ د فزيکي لوخې ( خاصيت) له مخې او فونيميکس کې آواز د ژبني ارزښت له مخې د مطالعې لاندې نيول کېږي.

مورفولوژي يا صرف د ګرامر اساسي او بنسټيزه برخه ده ، په دې برخه کې د يوې ژبې ټاکلي مورفيمونه ، د هغوي جوړښت ، ترکيب ، ګردان ډولونه تر بحث لاندې راځي.

غونډله پوهه يا نحو د ګرامر د دربېمې اساسي برخې په توګه د غونډلو (جملو) دغه راز د غونډونو ( فقرو) او ګړونو ( ايډيمونو) جوړښت ، اوډون او ډولونه تر کتنې او څېړنې لاندې نيسي .

د ژبې د جوړښت پورته ذکر شوی هر نظام ځانته بېلابېل دودونه ، دويونه ( قاعدې ) لري چې د همدغو دويونو او قاعدو په رڼا کې تشريح او توضيح کېدای شي. د ګرامر د برخو ترمنځ منطقي او سيستماتيکي اړيکي موجودې دي په ځانګړي ډول نحو يا غونډله پوهه د خپلې څېړنې په وخت کې د ګرامر له نورو څانګو يعنې مورفولوژي سره سمې اړيکې لري ؛ ځکه چې د ژبې مورفولوژيکي جوړښتونه تر ډېره ممکنه ځايه پورې د نحوي نظم جوړښت او ترتيب سره ځانګړې او ټاکلي دنده لري.

نو ويلای شو چې مورفيم پوهه او غونډله پوهه ( سنټکس ) د خپلو ځانګړو اصطلاحاتو او خصوصياتو په درلودلو سره په تيوريتيکي لحاظ که له يوې خوا سره بېل دي ؛ نو له بلې خوا يو تربله اړيکي هم لري.

سربېره پر دې هغه معنا لرونکی عناصر او لفظي واحدونه چې عبارتونه او جملې جوړوي په واقعيت کې همدغه مورفيمونه دي چې د يوې ژبې په ګرامري جوړښت کې ستره ونډه لري .

بله دا چې د نحوي واحدونو تجزيه ، ترکيب او ترتيب د ګرامر په نورو برخو ( مورفولوژي – اشتقاق پوهنه او لغت پوهنه) کې هم تر څېړنې لاندې نيول کېږي ، خو د غونډله پوهې او نحوي سيستم په ډول نه . لفظي واحدونه په يوازې ډول د غونډلې ( جملې) په څېر بشپړ مفهوم افاده کولای هم نه شي.

همدلته ده چې د ګرامري مختلفو پوهنو ترمنځ ځيني مشابهتونه او ورته والی ليدل کېږي ، خو هره پوهنه د خپلې تيورۍ د اساساتو له مخې موضوع څېړي ؛ نو ځکه د نژدېوالي سره سره د موضوعاتو بېلوالی هم لري ؛ يعنې په غونډله پوهه يا نحو کې يوازې د

جملو ترکیب ، تجزیه ، جوړښت او د جوړښت سیستم مطالعه کېږي او په مورفیم پوهنه او اشتقاق پوهنه کې لفظي جوړښتونه په نظر کې وي.

لکه د مخه مو چې وویل نحو د جملو په معنا او مفهوم باندې پوهېدل دي ، د دغه نظر له مخې په نحو کې د معنا مطالعې ته زیات ارزښت ورکول کېږي ؛ خو دا په دې معنا نه دی چې لفظ دې له نظره وغورځول شي.

د یوې ژبې شکل د هغې له معنا څخه ډېر باثباته دی او په اسانی سره یې پوهېدنه او پېژندنه کېدای شي ، لامل یې هم هغه ژبنی چاپېریال دی چې د ژبې شکلونه ( فونیمونه ، مورفمونه ، نحوي واحدونه) پکې شامل دي ، مګر په مقابل کې د معنا چاپېریال او سیمه ډېره پراخه وي ، په دې علت سره چې ډېر ژبني شکلونه له یوې څخه ډېرې معناګانې لري او بېلابېلو ځایونو کې کارول کېږي .

دژبې په ګرامري مطالعه کې د الفاظو معنا او لفظي جوړښت دواړه د پام وړ دي ؛ یعنې څنګه چې الفاظ د مفاهیمو د بیان لپاره کارول کېږي ؛ نو که چېرې د لفظ مفهوم په ګرامري شرحه کې له نظره وغورځول شي ، ګرامري شرحه د بې معنا غږونو په شرحه بدلېږي. او که چېرې یوازې مفهوم شرحه شي اونور بدلونونه او لفظي ځانګړتیاوې له نظره وغورځول شي ؛ نو څنګه چې د مفاهیمو بدلون او تغییر د کلیمو د لفظي او اشتقاقي تغیرونو معلول دي ، نو په دې توګه پرته له علت او یا پرته له معلول څخه څه نتیجه نه ترلاسه کېږي .

ددې خبرو په پای کې داسې نتیجه اخیستلای شو :

د نړۍ په ژبو کې هره ژبه په خپلو وار که له یوې خوا د ژبپوهنې په نسبت ځینې ګرامري خصوصیات لري ، ولې له بله پلوه ځانګړي او شخصي خصوصیات هم لري ، چې د هرې ژبې په ساختمان او جوړښت پورې اړه لري ؛ خو دا چې په پښتو ژبه کې د صرف و نحوې د څېړنې موضوعات سره بېل دي ، نو ځکه جلا جلا او هره برخه په بېلو اصولو او قواعدو څېړل کېږي.

هغه څه چې په فونولوژی پورې اړه لري ، د بېلګې په ډول د آواز ، توري او په آواز پورې اړوندې ټولې څېړنې په فونولوژي کې راشي او د موضوعاتو لپاره دې حدود وټاکل شي.

هغه څه چې د مورفولوژی په برخه پورې اړوندېږي ، هغه دې د همدغې برخې لاندې راشي او په هغو واحدونو دې څېړنه وشي چې د مورفولوژي د بحث موضوع وي؛ د بېلګې په ډول :

مورفيم ، الومورف ، د مورفيمونو بېلابېل ډولونه ، سرينه ، پسينه ، مختاړي ، روستاړي ، عطف و ربط ، ادات د فعل بېلابېلې ډلګی او نور...

دا به سمه خبره نه وي چي مركبي كليمي يا مركب نومونه او مورفيمونه چي د مورفولوژي په برخه پوري اړه لري ، په نحوه كي دوهم ځل تر بحث لاندي ونيول شي.

دا اړينه ده چي همدا مورفيمونه او كليمي په مورفولوژي كي هم څېړل كېږي او په غونډله پوهه كي په جملو ، عبارتونو او نورو واحدونو كي هم همدا مورفيمونه او كليمي راځي ؛ خو په مورفولوژي كي د همدغو مورفيمونو يو اړخ او په غونډله پوهه كي د همدې مورفيمونو بل اړخ په نظر كي وي او په پورته هره برخه كي د دوي دندې او د څېړني طريقې د هغوي د تحليل او د بحث لاري بېلې دي.

د پښتو په ليكل شوو ګرامرونو كي د پيرمحمدكاكړ معرفة الافغاني څخه نيولې بيا تر ننه پوري په اكثرو ګرامرونو كي دي اصل ته ځانګړي پاملرنه ، نه ده شوي ، خو په دا وروسته كي پياوړي استاد ژبپوه پوهاند دوكتور مجاور احمد زيار په خپل اثر ؛ پښتو پښويه (پايڅوړ: د ژبپوهني بنستونه) كي د ګرامر د برخو موضوعات سره ښه جلا كړي او بيا يې هري برخي ته خپلو حدود او چوكاټ ټاكلی دی او هره برخه يې د خپلو اصولو په رڼا كي ښېله څېړلي ده . په ځانګړي ډول د غونډله پوهي د برخي څېړل يې د نورو ګروامرونو په پرتله ډېره د پام وړ برخه ده چي زموږ د همدې ليكني آره موضوع په ټوليزه توګه د يوې ژبې په پښويه (ګرامر) كي د غونډله پوهي برخه بايد د غونډلي (جملي ) په اړوند لاندينيو پوښتنو ته سم او عملي ځوابونه وركړي:

**لومړی**

د يوې غونډلي (جملي) ترټولو كوچنی برخه كومه ده ، يا په بله وينا ؛ هغه كوچني واحدونه چي جمله جوړوي كوم دي؟

**دويم**

د جملي دغه واحدونه يا توكي يو له بله سره څنګه يوځای كېږي ، څو جملي جوړي كړي . (يوه جمله بايد تر وروستي حده پوري وشنل شي)

**دريم**

كله چي د يوې جملي د رغښت توكي په ګرامری واحدونو وشنل شي بايد ځان په دې پوه كړو چي دغه كوچني واحدونه كوم او څه نومېږي.

جوته ده چي ژبه د صوتي سيمبولونو ، نښو او علامو داسي يو اکتسابي او قراردادي سيستم دی چي د يوې ټولني غړي يي د مفاهمي لپاره استعمالوي . په دې پېژندنه کي سيستم دا معنا لري چي ژبه ځانته د رغښت او ساختمان مخصوص نظام لري ، دغه نظام د ژبې د ساختمان په هره مرحله کي موجود دی.

غږيزې (صوتي) نښي ، لفظي نښي جوړوي ، په دې مفهوم چي د غږيزو نښو له ترکيب څخه لفظي نښي رامنځته کېږي او له همدغو لفظي نښو يا کليمو او مورفيمونو څخه يوازې او يا يوه له بلې سره د يوځای کېدو په نتيجه کي د ژبې نحوي علامي او نښي نښاني راڅرګندېږي چي هغو ته ګرامري بڼه يا شکل ويل کېږي، او له هغو څخه وينا يا خبرې جوړېږي . همدغه وينا د توکونو خپلمنځي اړيکي او جوړښت په مجموع کي د غونډله پوهي (نحوې ) موضوع جوړوي.

په عمومي ډول په نحوي سيستم کي د تګميم تجزيې - ترکيب او د هغوي ترتيب – تنظيم ته نحوه يا سنټکس ويل کېږي ، يا په بله وينا :

د نحوي واحدونو او د هغو د مربوطه توکو (اجزاوو) تجزيه ، ترکيب ، تنظيم او څرنګوالي ته سنټکس (Syntax) يا نحوه وايي . (۷۱:۳)

مخکي مو د ژبپوهانو په آند د اسانتيا په موخه د ژبې د ساختمان مرحلي په درې برخو وېشلي وې : له کبله يې ژبپوهانو د ژبې د مختلفو او بېلابېلو برخو (اجزاوو) د پېژندني او مطالعي له مخي ځيني بېل اوځانګړي واحدونه ټاکلي دي ؛ د بېلګي په توګه د ژبې د صوتي جوړښت اوساختمان لپاره فونيم (phoneme) او د صرفي (لفظي) ساختمان لپاره مورفيم ( Morpheme) د واحدونو په توګه منل شوي دي.

په دې مانا چي :

فونيم د فونيم پوهني (phonology) واحد يا نه تجزيه کېدونکی صوتی توکي په توګه.

مورفيم د مورفيم پوهني (Morphology) يا نه تجزيه کېدونکي لفظي واحد په توګه .

دغه راز په سنټکس (syntax) نحوه کي هم د ځانګړو اصطلاحاتو سره مخامخېږو ؛ که څه هم په پښتو ژبه کي دغه سينټکسي اصطلاحګاني خاصوه نومونه نه لري (ښايي کوم بل نوم ولري ) مګر په نورو ژبو، لکه : انګرېزي ، لاتيني ، روسي او داسي نورو کي د تګميم (tag meme) ،سينتاګم ( syntagam) په نوم اصطلاحات شته چي په هماغه ژبو کي خپله معنا څرګندولای شي.

دا چي مو دا اصطلاحات پېژندلي وي ، په لنډ ډول به يې تعريف کړو:

**تگميم ، سينتاګم ، تاکسيم يا سنتاکتيکي ترکيب (نحوي جوړښت)**

د تگميم ، سينتاګم اصطلاح د يوناني سينتاګمه (syntagma) څخه د يوځای کېدو په معنا سره راغلی دی . هغه کوچنی واحد دی چې د ( سينتاکتيکي) يا نحوي سيستم دننه ژبنی فورم پرې اندازه او ښودل کېږي. (۲۳:۴)

په گرامري مانا ، مفهوم او خپلواکي بنې سره ، د يوې ژبې تر ټولو کوچنی نحوي واحد چې د وېشني وړ نه وي ، تگميم بلل کېږي.

کله چې يو گرامري شکل د يو لوی شکل يوه برخه وی ، نو هغه شکل ته مقيد يا ناخپلواک وايو ؛ څو که هغه د لوی شکل برخه (جزء) نه وي بيا نو خپلواک گرامري شکل دی ؛ موږ يې تگميم يا نحوي واحد نوموو چې جمله يې محتوا ده.

د بېلگې په توگه کله چې وايو : دغه څوک ده؟

که د همدې سواليه جملې په ځواب کې وويل شی : نجلی ، نو دلته په دغې ځوابيه کليمې سره مخاطب ته بشپړ مطلب رسېږي . په دغه حالت کې (نجلۍ) يو تگميم دی ، ځکه چې يو آزاد گرامري شکل دی او د خپل ځان نه د کوم بل لوی شکل برخه نه ده.

کله که له همدغې (نجلی) سره د «هوښياره» کليمه ورزياته شي او د يو گرامري شکل په توگه (هوښياره نجلی) په عبارت کې وليدل شي ؛ نو بيا دلته (نجلی) د خپلو ځان د لوی جوړښت د يوې برخې په توگه کارول شوې او مقيد دی ؛ نو ځکه يې په دغه صورت کې تگميم نشو بللی.

د يادونې وړ ده چې (هوښياره نجلۍ) په توصيفي حلت کې تگميم دی . د (هوښياره نجلی راغله) گرامري جوړښت کې د خپلو ځان د لوی شکل يوه لويه برخه ده ؛ نو ځکه تگميم نه دی.

له پورته بيانه څخه دې پايلې ته رسېږو چې تگميم يا نحوي واحد په ټوليزه توگه په يوې ژبې کې دوې ساحې احتوا کوي :

- فقره (Clause)

- او جمله (sentence)

خو د پښتو نحوې په ګرامري شکلونو کې نحوي واحدونه (عبارت ، غونډونه یا ترکیبونه) هم شته چې له دوو یا زیاتو داسي کلیمو څخه جوړ وي چې نحوي اړیکي ولري ، خو بشپړه معنا نـه وړانـدې کـوي . دا ګرامري شـکلونه بـه پـه راتلـونکي څپرکـي کـي تر بحث لاندې ونیسو.

**د لومړي څپرکي لنډیز او پوښتنې**

په خاص ډول ژبه هغه آوازونه دي چې انسانان ى د خپلو افکارو او خیالاتو د څرګندونې په غرض تر یو ځانګړي نظم او سیستم لاندې د غړیزو غړو په وسیله له خولې څخه راباسي او په دې توګه یو له بله سره اړیکه ټینګوي.

- په دې تعریف کې سیستم دا معنا لري چې ژبـه ځانتـه د رغښت او سـاحتمان مخصـوص نظـام لـري . دغـه نظـام د ژبـې د ساختمان په هره مرحله کې موجود وي. ژبپوهانو دغه مرحلې د مطالعې د اسانتیا په موخه په درې برخو:

۱- د صوتي ساختمان نظام

۲- د صرفي ساختمان نظام

۳- او د نحوي ساختمان په نظام باندې وېشلي دي.

- د یوې ژبې پېنویه یا ګرامر د ژبې د ساختمان همدغه نظامونه په علمي او سیستماتیک ډول سره تشریح کوي ؛ نو ګرامر د تشریحي ژبپوهنې د یوې څانګې په توګه په ښوونځیو او ژبنیو زده کړځیو کې د یوې ژبې یـا د هغې ژبـې د معیـاري بڼـې د زده کړې د اسانتیا لپاره لوستل کېږي.

- نحوي ساختمان نظام چې د ګرامر درېیمه برخه جوړوي ، په دې برخه کې له لفظي واحدونو څخه د ژبې د عبارتونو ، ترکیبونو او جملو د تشکیل ډولونو ترتیب او نظام په باب څېړنه کېږي.

- غونډله پوهه د ګرامرله نورو برخو مورفیم پوهنې سره نږدې او نه بېلېدونکی تړون لري . د پښتو د صرفي ساختمان پـه ځینو برخو کې صرفیه شکلونه د نحوي ترکیبونو او افتضاآتو په ضمن کې څرګندېدای شي . د بېلګې په ډول:

د نوم شکلونه په نحوي اقتضاااتو کې د فاعلي ، مفعولي ، ارتباطي ، اضافي ، ندایي حالاتو صـورتونه غوره کـوي . همدغـه راز د صفاتو جنس یوازې په عبارتونو او ترکیبونو کې ( چې د نحوي موضوع ده) معلومېدای شي . عبارتونه او جملې پـه اصل کـې لـه الفاظو او نورو معنا دارو عناصرو له ترتیب او ترکیب څخه تشکیلېږي او دغه الفاظ او عناصر اصلاً په مورفیمپوهنه کې مطالعه کېږي.

د پښتو صرفي او نحوي ساختمانونه سره بېلېداى شى ؛ نو ځکه يي موږ په جلا جلا سرليکونو کې مطالعه کوو.

**پوښتني او فعاليتونه**

ښوونکی دې د ټولګي زده کړيالان په دريو ګروپونو ووېشي ، هر ګروپ ته دې د ژبې د ساختمان يو ځانګړی نظام مشخص کړي چې د بحث موضوعات يي راوپېژني . د هر ګروپ مشر دې د خپل ګروپ د غړو نظر په نوبت سره نورو ټولګيوالو ته ووايي.

**لومړی ګروپ**

۱- د ژبې د صوتي ساختمان نظام (فونولوژي) د بحث موضوعات کوم دي؟ په لنډ ډول يي راوپېژنئ.

**دويم ګروپ**

۲- د پښتو ژبې د صرفي ساختمان په نظام ( مورفولوژي) کي کوم توکي مطالعه کېږي؟ يو ماده وار لست يي ترتيب کړئ.

**درېيم ګروپ**

۳- د پښتو ژبې د نحوي ساختمان نظام (غونډله پوهي) بنسټيز واحدونه کوم دي؟ او د ګرامر له نورو برخو : (فونولوژي ، مورفولوژي ) سره يي اړيکي وڅېړئ.

ښوونکی دې له زده کوونکو څخه په نوبت سره د لاندې پوښتنو ځوابونه وغواړي:

۴- د نحوې علم د بحث موضوع څه شی دی ؟ بيان يي کړئ.

۵- د ګرامر له مخي غونډله پوهه څنګه راپېژندلای شئ؟

۶- نحو د کومي ژبې کليمه ده ؟ لغوي مانا يي په فرهنګونو کي څه ډول راغلي ده ؟

۷- تګميم ، سينتاګم يا سينټاکټيکي ترکيب څه ډول نحوي جوړښت ته ويل کېږي؟

۸- د نحوې وظيفه څنګه راپېژندلای شئ؟

۹- آيا په نحوه کي د جملي د توکونو (اجزاوو) قاعدې مطالعه کېدای شي؟

۱۰- د ژبې په تعريف کي د سيستم اصطلاح څه معنا لری؟ واضح يي کړئ.

د پورته پوښتنو ترڅنګ دې ښووکی زده کوونکو ته کورنی دنده ورکړي چې د نحوې علم په اړوند لازم معلومات راغونډ او په راتلونکي درسي ساعت کي دې په نوبت سره خپلو ټولګيوالو ته وړاندې کړي.

## دويم څپرکی

## عبارت او ډولونه يې

څنګه چې د نحوي څېړني د مطالعې او څېړلو اساسي او بنسټيز مواد جملې دي ؛ نو په همدې توګه د کليمو ترکيب ، عبارتونه ، غونډونه او ترکيبونه هر يو د جملو په جوړښت کې اړين توکي دي.

نو غونډله پوهه له ترکيب ، عبارت او د جملې له جوړښت څخه خبرې کوي او په يوې وينا او ليکنه کې د هغوي اهميت ته ګوته نيسي.

د پښتو ژبې ځينو ګرامر پوهانو عبارت ، ترکيب او جمله د يو نحوي واحد په توګه تر څېړنې لاندې نيولې دي ، خو زمونږ په آند دغه درې جلا واحدونه تر يو سرليک لاندې څېړل يو څه ستونزې راپيدا کوي او د مثالونو په وړاندې کولو کې يو څه ګډوډې منځته راوړي .

غوره به دا وي چې د عبارت نحوي واحد له نورو څخه جلا وڅېړو ، نو په همدې موخه مو د عبارت نحوي واحد د بېژندنې او څېړنې لپاره دا څپرکې ځانګړی کړ چې د عبارت تعريف ، د عبارت لفظي او معنوي جوړښت او د عبارت بېلابېل ډولونه او ځانګړتياوې يې له اړينو بېلګو سره تر بحث او څېړنې لاندې ونيسو.

### د عبارت تعريف

په پښتو ژبه اويا نورو ژبو کې چې له پښتو سره همريښه دي ، ځينې داسې خپلواک مورفيمونه او کليمې شته چې د اړيکو په لرلو يو له بله سره يوځای کېږي او په ټوليز ډول يوه ترکيبي بڼه پيدا کوي ؛ خو د دې خپلواکو مورفيمون دا يوځای والی د غونډلو او جملو په ډول پوره معنا او مفهوم نه لري او نه د غونډلې په ډول بشپړ مفهوم لوستونکو يا اورېدونکو ته انتقالولای شي.

نو د همدغه اصل او بنسټ له مخې د ژبې پوهان عبارت داسې راپېژني:

**عبارت:** د هغو غړوندو کليمو يوه ډله چې فعل او فاعل نه لري . (۵:۹۰)

پښتو نحوه اثر کې د ترکيب (غونډ- عبارت) ترسرليک لاندې د عبارت په اړوند داسې ليکل شوي : « څنګه چې د نحوي څېړنې د مطالعې او څېړلو اصلي او اساسي مواد جملې دي نو په همدې توګه د کليمو ترکيب ( د الفاظو ، غونډونو) هم د جملو په جوړښت کې يو توکی يا يوه برخه ګڼل کېږي.

لکه : هلک ولوېد . يوه ساده جمله ده او دغه جمله د دوو کليمو څخه جوړه ده ، لومړی برخه يې (هلک ) چې د جملې فاعل (مسنداليه) او دوهمه برخه يې (ولوېد) فعل (مسند) دی . که چېرې په همدغې جملې کې د جملې د فاعل (هلک) سره ځينې مورفيمونه چې نحوي رابطه سره ولري يوځای شي په دې وخت کې دغه فاعل (هکل) د خپلو مربوطه اجزاوو سره يو ترکيب ( عبارت) دی ؛ لکه : ښه هلک ، يو ډېر ښه هلک ، يو غښتلی تکړه هلک...»

پورتنی ليکنې نه په اقتباس سرمحقق سيدمحي الدين هاشمي په خپل کتاب ( د پښتو ژبې لنډ ګرامر) کې ترکيب (غونډ – عبارت) داسې راپېژندلي :

« ترکيب د دوو يا زياتو (خپلواکو او ناخپلواکو) کليمو او مورفيمونو له يوځای کېدو څخه عبارت دی چې اجزايې يو له بله ګرامري اړيکې ولري . يا بله وينا :

د دوو يا زياتو خپلواکو او ناخپلواکو کليمو ټولګه (مجموعه) ده چې برخې يې يو له بله ګرامري اړيکې لري . ترکيبونه که له يوې خوا د جملو په جوړونه او رغونه کې ارزښتمنه ونډه لري ، نو له بلې خوا په ځانګړې توګه د نحوي واحدونو دنده هم سرته رسولی شي.» (۷۳:۷)

پوهاند صديق الله ريښتين په خپل اثر «پښتو اشتقاقونه ترکيبونه» ، محمد ګل مومند « دپښتو ژبې ليار» ، پوهاند محمدرحيم الهام په «روش جديد در تحقيق دستور زبان دري » او د پښتو ګرامر کې پوهاند محمد حسين يمين «دستور معاصر زبان پارسي - دري» کې هم د عبارت په اړوند دغه ډول پېژندنې راوړی دي چې په ټولو کې عبارت ، ترکيب او غونډ تر يو سرليک لاندې مطالعه شوي او ترمنځ يې کوم توپيرونه ، نه دي څرګند شوي.

معاصر ژبپوهاند دوکتور مجاور احمدزيار پخپل اثر پښتو پښويه کې غونډ (فقره يا نحوي ترکيب phrase) داسې راپېژني :

« غونډ د غونډلې د ياد شويو رغندو آرو او (يا) مرستيالو توکونو (نومونو ، کړونو او ستانوميزو کړولونو او وييکو) يو بابيز يا سست ويي غونډ يا ترنګ (ترکيب) دی ، داسې چې دغه رغنده توکي يې سره خپلمنځي پښوييزې اړيکې پالې او شننوړ دي خو د غونډلې دننه د يوه خپلواک يوون يا واحد (syntagm or tag meme) په توګه ناشنونی بلل کېږي او له نورو رغندو

يوونونو (components or constituents) سره يې پېنوييز تړاو او شتوالی لري ، نه دا چې هر رغنده توک يې دغه راز اړيکي پر کار واچوي . په بله ژبه :

يو عادي غونډ له ترېنتي پلوه يو سست ترنگ بلل کېږي او هغه دا چې رغنده توکونه (گړونه ، وييونه او وييکي) يې په خپل منځ کې د پېنوييز ادلون بدلون منونکي دي ، هم د نحوي توکو ، لکه تولي سربل «د» او داسې نورو توکو د خوند ييښې او هم د اوډون او سمون ، پير (حالت) دا اغېزمنني له مخې هر گوره ، خج، آهنگ او نور بشپړ آند «نازنځيري» توکونه يې سره زياتره يووالی لري او پر هماغه غوره يا وروستي توک يې ټيکاو مومي.» (۲۲۳:۸)

په همدې ډول جوتغونډ (ثابت عبارت) داسې راپېژني : « هغه غونډ دی چې له آره يې د غونډلي د يو ازاد رغنده توک وييغونډ (syntagma) په توگه پېنوييزې نښې نښانې پرځای پاتې وي خو د ويې رغاونې له پلوه يو سست ترنگ بلل کېږي او د نومونو او نومونو (ترمونو) په توگه لکه ترنگونه کارول کېږي ، لکه د ځاينوم علمي ، فرهنگ او فني يا تخنيکي نومو کې ، يا هم د سرليک او سرليکنې (سرلوحي) په توگه ، لکه : د افغانستان بانک ، د کابل پوهنتون ، د شپې ښوونځی ، چې له مهال تېرېدنې او د (و ، د) له لوېدنې سره پر ټاکندويه ترنگونو : افغانستان بانک ، کابل پوهنتون ، شپې پوهنځی له لومړي فشار په راخپلولو سره اضافي سربل (د) له لاسه ورکوي ...) (۸:۷۸)

د عبارت اړوند له پورته څرگندونو ، د عبارت او ترکيب ترمنځ د توپير جوتولو په صورت کې به عبارت نحوي واحد داسې تعريف کړو:

«د دوه يا زياتو خپلواکو مورفيمونو داسې يوځای کېدنه چې پوره معنا ورنکړي او يو مورفيم د بل تابع وگرځي عبارت بلل کېږي . يا په بله وينا:

د دوه يا زياتو خپلواکو مورفيمونو داسې يوځای کېدل چې نحوي رابطه سره ولري ، خو مورفيمونه يې يو بل ته تابع وي او بشپړ مفعوم نه ورکوي .»(۶:۹)

لکه لاندې بېلگې :

د کابل ښار ، د لوست کتاب ، د منو باغ ، د جلال اباد ښکلی ښار ، لوړه ونه ، خړه وربخ ، شين اسمان ، روغ بدن ، پينځه کتابونه ، د کندهار انار ، د سرک غاړه ... او نور.

پورته بېلګو کې ګورو چې هره بېلګه کې دوه یا تر دوو زیاتې خپلواکې کلیمې راغلې دي او یوه کلیمه د بلې کلیمې او یا یوه برخه د بلې برخې تابع ګرځېدلې ده .

**د عبارت ځانګړتیاوې**

د نحوي څېړنې د مطالعې بنسټیز توکي جملې دي ؛ نو غونډله پوهه ( نحو) په جملو کې د مورفیمونو او کلیمو د ګرامري ترکیب یوځای کېدو طریقه ، ترتیب او معنوي رابطه په تاکلې ژبې کې څېړي ؛ نو په همدې توګه د کلیمو ترکیب (الفاظ ، غونډونه) هم د جملو په جوړښت کې یوه برخه ګڼل کېږي. ځینې مورفیمونه چې نحوي رابطه سره ولري ، د خپلو اړوندو اجزاوو سره یو عبارت یا ترکیب جوړوي.

د عبارت نحوي واحد ، د نحوي د نورو واحدونو په څېر ځینې ځانګړنې لري چې د لا ښه پېژندلو لپاره یې په لاندې ډول په ګوته کولای شو:

۱- عبارت د غونډلې (جملې) د یوې برخې په ډول راځي او د غونډلې په څېر بشپړه معنا نه افاده کوي.
که چېرې وغواړو چې پوره معنا ترې واخلو ؛ نو اړ یو چې له دې برخې سره د خبر یوه برخه ملګرې کړو ،تر څو د جملې پشان بشپړ مفهوم ولېږدوي.

د بېلګې په ډول:

که ووایو چې : (د ملالی کور) نو دا یو عبارت شو ، ځکه چې اورېدونکي یا لوستونکی ته بشپړ مفهوم لېږدولی نه شي ؛ ددې لپاره چې د جملې په ډول بشپړ مفهوم ورڅخه واخلو اړ یو چې د خبر برخه ، لکه : (ودان شو) یا (وران شو) ورسره ملګرې کړو او په مجموع کې ووایو چې :

(د ملالی کور ودان شو.) نو بیا دا جمله شوه ، ځکه چې دواړه اساسي برخې (مبتداء او خبر ) بشپړ شول.

۲- په یو عبارت کې (ساده وي که مرکب) د تل لپاره یوه برخه دبلې برخې یا یوه خپلواکه کلیمه د بلې خپلواکې کلیمې تابع وي چې یوې کلیمې ته تابع کونکې او بلې ته تابع شوې کلیمه ویل کېږي ، تقریباً د یوې مرکبې کلیمې حیثیت غوره کوي معنا او مفهوم یې بشپړ نه وي ؛ د بېلګې په ډول:

د تګاب انار ، د ننګرهار شاعران ، د کابل نجوني ، د باميانو بتان . عبارتونو کې ګورو چې يوه خپلواکه کليمه د بلې خپلواکې کليمې تابع ګرځېدلې ده ؛ يعني په لومړي عبارت کې د (د) اضافت په واسطه (انار) کليمه د (تګاب) کليمې تابع شوې چې (تګاب) تابع کوونکې کليمه او (انار) تابع شوې کليمه ده ، په همدې ډول په درې نورو عبارتونو کې.

۳- عبارت د مورفيم او کليمې څخه لوی او د جملې په نسبت نيمګړی او کوچنی وي ، دا ځکه چې عبارت له دوو يا زياتو خپلواکو کليمو څخه جوړ وي او له بلی خوا د غونډل (جملې ) په څېر د خبر برخه نه لري ؛ لکه : ( زموږ هېواد ) عبارت چې دوه خپلواکې کليمې دي ، نو له کليمې څخه لوی او له جملې څخه وړوکی ( کوچنی) دی چې بشپړ مفهوم نه لېږدوي او د خبر برخه نه لري.

۴- عبارت به د جوړښت له مخې يا ساده وي چې له دوو خپلواکو او مستقلو کليمو څخه به رغېدلي وي ؛ لکه : د جرګو هېواد ، د غاښو برس ، زموږ هېواد ، نېکمرغه ژوند ، ښه سړی ، د وطن مينه ، د خپلواکی جشن ... او نور.

او يا هم مرکب وي چې له دوو څخه زياتو خپلوکو او مستقلو کليمو او مورفيمونو څخه جوړ شوی وي ؛ لکه : د جرګو تاريخي هېواد ، د غاښو ښکلی برس ، زموږ لرغونی هېواد ، د خپلواکی نېکمرغه ورځ ، دوه د لوست کتابونه ، زموږ مهربان ښوونکی او نور...

**د لفظي جوړښت له مخې د عبارت ډولونه**

د مورفيمونو او کليمو يوه ډله چې نحوي رابطه سره ولري کليمې او برخې يې يو بل ته تابع وي عبارت بلل کېږي.

د ژبې پوهانو د جوړښت له مخې عبارت په دوو برخو (ساده او مرکب) باندې وېشلی دی :

که عبارت له دوو خپلواکو کليمو څخه جوړ وي ساده عبارت يې بولي ، او که له دوو څخه زياتو خپلواکو کليمو څخه رغېدلی وي مرکب عبارت ورته وايي.

د دواړو ډولو عبارتونو بېلګې په لاندې جدول کې :

| ساده عبارت | مرکب عبارت |
|---|---|
| - د کابل ښار | - د کابل ښایسته او ښکلی ښار |
| - د ننګرهار نارنج | - د ننګرهار تازه نارنج |
| - د وردګو مڼې | - د وردګو خوږې مڼې |
| - د وطن مینه | - د وطن زیاته مینه |
| - زموږ هېواد | - زموږ ګران هېود |
| - د لوست کتاب | - د لوست څلور کتابونه |
| - نېکمرغه ژوند | - نېکمرغه ، ښکلی او ښایسته ژوند |
| - زموږ کور | - زموږ ښکلی او ښایسته کور |
| - دغه هلک | - د ښوونځي تکړه زده کوونکي |
| - د ښوونځی زده کوونکي | - تنکي او ښکلي ځوانان |
| - تنکي ځوانان | - د هېواد با احساسه ماشومان |
| - د هېواد ماشومان | |
| | (۱) |

(۱)

په پورته جدول کې ګورو چې ښي طرف ستون کې راغلي عبارتونه له دوو خپلواکو کلیمو څخه رغېدلي او چپ ستون کې راغلي عبارتونه له دوو څخه زیاتو کلیمو څخه .

**د معنا له مخي د عبارت ډولونه**

په پښتو ژبه کې عبارت زیات ډولونه لري ، خو د اړتیا له مخې به موږ دلته په لاندې عبارتونو باندې د خپلو بحث لړی وغځوو:

- نومیز عبارت

- له نوم او ستاینوم څخه جوړ شوی عبارت.

- له نوم او شمېرنوم څخه جوړ شوی عبارت

- له نوم او نومځري څخه جوړ شوی عبارت

- له نوم او فعلي ستاينوم څخه جوړ شوی عبارت

- له نوم او مصدر څخه جوړ شوی عبارت

پورته هر ډول عبارت لاندې توضېح کوو:

**نوميز اضافي عبارت او ډولونه يې**

هغه عبارت ته ويل کېږی چې اساسي او عمده برخه يې له نومونو څخه جوړه شوې وي دا عبارت کېدای شی د جملې په دواړو برخو مسنداليه (نهاد) او مسند ( گذاره) کې راشي.(۱۰:۱۵۰)

نوميز عبارت دا لاندې ډولونه لري:

**۱- اضافي عبارت**

اضافي عبارت له دوو نومونو څخه جوړ وي ، دا چې د اضافت (د) هم ورسره ملگری وي ؛ نو ځکه يې اضافی عبارت بولي.

په اضافي ترکيب کې د عنعنوي گرامري څېړني له مخې يو نوم مضاف اليه او بل نوم مضاف راځي او د (د) د اضافت په واسطه د يوه نسبت و بل ته کېږي.

په پښتو ژبه کې کوچنی ترين اضافي عبارت يا په بله وينا ساده اضافي عبرات او درې توکو : (د اضافت (د) ، مضاف اليه او مضاف) څخه جوړېږي. لکه دا لاندې بېلگې :

د کابل ښار ، د ننگرهار نارنج ، د تگاب انار ، د ملالی کتاب ، د جرگو وطن ، د اڅک قلم ، د کوهي اوبه ، د غرونو هوسی ، د ستورو رڼا او داسې نور...

پورته هره بېلگه اضافي عبارت له دوو نومونو څخه جوړ شوی دی او د اضافت (د) په واسطه د يوه نوم نسبت و بل ته شوی ، چې لومړی نوم يې مضاف اليه او دويم يې مضاف واقع شوی دی.

دا په هغه صورت کې چې مضاف اليه د (مې ، دې ، يې ) کمزوري ضميرونه واقع نه شي. که چېرې مضاف اليه د پورته ضميرونو څخه هر يو راغلی وي ؛ نو بيا د اضافت (د) ته اړتيا نشته پخپله له همدغو ضميرونو څخه يو نومځری د اضافت دنده ترسره کوي او پارسي ګرامري قاعدي په څېر لومړی مضاف (نوم) او بيا مصاف اليه (ضمير) راځي . لکه : ( کتاب مې ، کتاب دې ، کتاب يې ) چې پخپله (کتاب) مضاف او (مې ، دې ، يې ) متکلم ، مخاطب ، غای کمزوري ضميرونه يې مضاف اليه واقع شوي دي.

اضافي عبارت د معنا له مخې نور ډولونه هم لري ، چې خورا مهم يې دا دي:

**الف: ملکي اضافی عبارت**

د ملکيت يا نسبت او قرابت معنا څرګندوي ؛ يعنې په ملکي اضافي عبارت کې مضاف اليه د مضاف مالک وي او يا د اضافت وييکی (د) مقيد مورفيم په واسطه د مضاف اليه ملکيت په مضاف باندې ثابتوي؛ د بېلګې په ډول:
د ملالی قلم ، د زمرک کتاب ، د توريالي کور ، د پوهنځي محصلين ، د زلمي ورور او داسي نور...

په دې عبارتونو کې ګورو چې لومړی د اضافت ادات (د) راغلی او بيا مضاف اليه : ( ملالی ، زمرک ، توريالی ، پوهنځی ، زلمی) او ورپسې مضاف : ( قلم ، کتاب ، کور، محصلين ، ورور) واقع شوي دي او (قلم ، کتاب ، کور ، محصلين او ورور ) کليمو نسبت د اضاف د دالونو په واسطه (ملالی ، زمرک ، توريالي ، پوهنځي او زلمي ) نومونو ته شوی او د همدغو نومونو ملکيت ګرځېدلي دي.

که چېرې په ملکي اضافي عبارت کې مضاف اليه متصل يا کمزوري شخصي ضميرونه (مې ، دې ، يې ) وي نو بيا دا ضميرونه لکه مخې چې مو يادونه وکړه تر خپل مضاف وروسته راځي او د اضافت ادات ( د) ورسره نه راځي ؛ لکه :

| | |
|---|---|
| - کور مې ، کتاب مې ، قلم مې | د لومړي وګړي (متکلم) لپاره |
| - کور دې ، کتاب دې ، قلم دې | د دويم وګړي (مخاطب) لپاره |
| - کور يې ، کتاب يې ، قلم يې | د درېيم وګړي (غايب) لپاره |

او يا د ډېرګړي( جمع ) په بڼه چې د درې واړو اشخاصو لپاره (مو) کارول کېږي ؛ لکه : کورونه مو ، کتابونه مو ، قلمونه مو او داسي نور...

په همدې ډول په (نظم – شعر) او ځینو نورو ځایونو کې هم کله کله دغه ترتیب بدلیږي او مضاف له مضاف الیه نه وړاندې راځي ؛ لکه :

«دا چې مست به میو راغی یار د چا دی»

په دې نیم بیتي کې (یار) مضاف او (چا) چې د (څوک) ضمیر مغیره بڼه ده مضاف الیه دی او په نثري عبارت کې د (چا یار) ویل کیږي .

مضاف ، مضاف الیه د عطف په صورت کې له دوو نومونو څخه زیات هم راتلای شي ؛ لکه : د ننګرهار ، کابل او هرات ښارونه ، د کابل مڼې ، خټکي او انګور .

کله په خاصو نومونو کې هم ( د) پرېوزي ؛ لکه : اناردانه ، بهي دانه او نور...

**ب: اختصاصی اضافي عبارت**

په دې ډول نومیز عبارت کې مضاف ، مضاف الیه ته اختصاص او منسوب شوی وي ؛ لکه :

د سرک غاړه ، د ګلو باغ ، د کابل ښار ، د کور دروازه ، د انګورو باغ ، د سند څپه ، د کتاب مخ ، د قبایلو جرګه ، د مشرانو جرګه اونور...

پورته هر عبارت له دوو خپلواکو اسمي کلیمو څخه جوړ شوی دی ، او د (د) په واسطه د یوې اسمي کلیمې نسبت و بلې ته شوی دی ، یعنې د اضافت (د) په واسطه مضاف د مضاف الیه ملکیت نه دی ګرځېدلی ؛ بلکې مضاف ، مضاف الیه ته مختص شوی دی لکه : (د ګلو باغ) په عبارت کې (باغ) مضاف کلیمه د (ګلو) مضاف الیه کلیمې ته مختصه شوې ده . په همدې ډول په دې نورو بېلګو کې ګورو چې ( سرک ، کابل ، کور ، انګور، سیند ، کتاب ، قبایلو ، مشرانو )کلیمې نومونه او مضاف الیه واقع شوي دي او د( غاړه ، ښاره ، دروازه ، باغ ، څپه ، مخ ، جرګه ...) کلیمې هم نومونه دي او مضاف واقع شوي دي چې مضاف الیه ته اختصاص شوي دي ؛ نو ځکه یې اختصاصي اضافي عبارت بولو.

**ج: بیاني اضافي عبارت**

په دې ډول نومیز عبارت کې مضاف د مضاف الیه له جنس څخه وي ؛ یعنې یو شی د خپلې مادې و خواته منسوب شوی وي.

یا په بله وینا :

په بیاني اضافي عبارت کې مضاف الیه او مضاف دواړه له یو جنس څخه وي ؛ لکه په دغه لاندې بېلګو کې:

د اوسپني سیخ ، د زرو ګوته ، وریښمین ټوکر ، د ګلاب ګل ، د اور لمبې ، د اوسپني مېخ ، د خاورو کنډولی ، د لمر وړانګې او نور...

په پورته لومړۍ بېلګه بیاني اضافي عبارت کې ګورو چې دواړه اسمي کلیمې مضاف الیه (اوسپني ) او مضاف (سیخ) د اضافت (د) په واسطه سره ترکیب شوي دي چې د (سیخ) نسبت (اوسپني ) ته شوی دی او دواړه له یو جنس څخه دي .

په همدې ډول په دې نورو عبارتونو کې هم له یوې خوا مضاف او مضاف الیه له یوه جنس څخه دي او له بلې خوا د مضاف کلیمې د مضاف الیه په وسیله بیان او توضېح شوي هم دي.

**د : تشبیهي اضافي عبارت**

په دې ډول نومیز عبارت کې مضاف الیه له مضاف سره تشبیه شوی وي . لکه په دا لاندې بېلګو کې:

د بیلتون اور ، د مینې اور ، د فکر ټال ، د بڼو غشي ، د زړه تخت...

په پورته بېلګو کې ګورو چې د عبارت هره بېلګه له دوو خپلواکو نومونو څخه ترکیب شوې او یوه خپلواکه کلیمه د بلې خپلواکې کلیمې تابع ګرځېدلې ده ، نو اسمي عبارتونه دي ، دا چې مضاف الیه له مضاف سره د تشبیه په ډول واقع شوي دي او په ټولو بېلګو کې د اضافت ادات (د) هم ورسره راغلی دی ؛ نو تشبیهي اضافی عبارت یې بولو.

په همدې ډول په پورته عبارتونو کې : ( بیلتون ، مینه ، فرک ، بانه ، زړه ) مضاف الیه او مشبه ، ( اور ، اور ، ټال ، غشي ، تخت) مضاف او مشبه به په ډول راغلي دي ، چې دغه ډول تشبیه ته د تشبیه د اداتو د ذکر په لحاظ اضافي مؤکده تشبیه وایي ځکه چې د مشبه او مشبه به ترمنځ یې د تشبیه د اداتو ذکر نه دی راغلی ، خو د تشبیه وجه د دوی په منځ کې شته .

خو دا باید له یاده ونه باسو چې کله کله په تشبیهي اضافي عبارت کې د تشبیه ادات هم راتلای شي ؛ لکه په دې لاندې عبارتونو کې :

د صدف پشان غاښونه ، د نرګس غوندې سترګې ، د لعل پشان شونډې ، د لیندۍ په څېر وروځې ، د غشو پشان بانه او داسې نور...

په پورته تشبيهي اضافي عبارتونو کې : ( پشان ، په څېر ،غوندې) د تشبيه کليمې يا ادات دي او د دوي ترمنځ د تشبيه وجه يا مشترک صفات هم موجود دي .

**هـ : استعاري يا مجازي اضافي عبارت**

چې مضاف په مجازي او استعاري معنا باندي وکارول شي ؛ لکه : د بهار لاس ، د بخت ستوری ، د هنر اسمان ، د خيال وزر ، د جنون منګول ، د صبر لمن ، د فکر پښې ...

په استعاري يا مجازي اضافي عبارت کې د مضاف اليه او مضاف ترمنځ ريښتينی اړوندتوب (حقيقي تعلق ) موجود نه وي ، بلکې مجازي يا غيرحقيقي تعلق سره لري لکه په لاندې عبارتونو کې :

د زړه سترګې ، د خيال وزرې...

په دې عبارتونو کې ګورو چې (زړه او سترګې) همدا ډول (خيال او وزرې ) يو له بل سره تشبېه شوي نه دي ، بلکې د استعاري مفاهيمو په شکل ترې مطلب اخيستل شوی دی او اړوندوب يې هم غيرحقيقي (مجازي) دی.

په استعاري اضافی عبارت کې مضاف د مضاف اليه يو جزء يا حصه ګڼلی کېږي ، خو په اصل کې يې هغه جزء يا حصه نه وي.

د استعاري اضافي عبارت او تشبيهي اضافي عبارت ترمنځ توپير په دې کې دی چې په تشبيهي اضافي عبارت کې مضاف اليه (مشبه) او مضاف (مشبه به) په ځينو خصوصياتو کې يو شان وي او ځينې مشترکې وجهې سره لري : لکه «د مينې اور» په مثال کې دا ويلی شو چې مينه د اور په شان تاو لري او د استعاري اضافي عبارت ( د خيال وزرې ) په مثال کې دا نه شو ويل چې خيال د وزرو په شان دی.(۲۳۳:۱۱)

په لنډيز سره د دې دواړو عبارتونو ، د توپير په باب بايد ووايو چې :

که په تشبيهي اضافي عبارت کې مضاف اليه او مضاف مقلوب شي او د تشبيه ادات يې په منځ کې راوړل شی، مطلب يې سالم پاته کېږي ، مثلاً : (زلفې په شان د مار) موږ ويلای شو ، لاکن داسې ويلای نه شو ( پښې په شان دفکر).

**۲- له نوم او ستاينوم څخه جوړ شوی عبارت**

توصيفي عبارت هغه عبارت ته وايي چې د يو نوم يا ضمير حالت او څرنګوالی د صفت په واسطه بيان شوی وي.

توصیفي عبارت له نوم او ستاینوم څخه جوړ شوی وی ، ژبپوهانو دا ډول عبارت چې یوه برخه یې نوم او بله برخه یې ستاینوم ( صفت) وي د توصیفي عبارت په نوم یاد کړی دی ؛ لکه : دا لاندي بېلګې :

تکړه زلمی ، ښکلې نجلی ، ښکلی ښار ، لوړه ونه ، روښانه فضا ، سړه هوا ، د نوي کال ورځ ، د لوی خدای کلام ، د ژېړو ګلو باغ او داسې نور...

په پښتو ژبه کې صفت له موصوف نه دمخه راوړل کېږي او د خپل موصوف ځرنګوالی بیانوي .

په پورته عبارتونو کې : (تکړه ، ښکلی ، ښکلې ، لوړه ، روښانه ، سړه ، نوی ، لوی ، ژېړو) کلیمې صفتونه دي چې له خپل موصوف یا ستایل شوي څخه د مخه راغلي او د موصوف ځرنګوالی یې بیان کړی دی . تخلصونه او لقبونه له موصوف څخه وروسته راځي ؛ لکه : احمدشاه بابا ، میرویس نیکه ، خوشال خان خټک ، ګل پاچا الفت ...او نور.
دلته یوه خبره بله هم د یادوني وړ ده ، هغه دا چې په توصیفي عبارت کې صفت د جنس او عدد یعني د نارینه او ښځینه ، یوګړي او ډېرګړي له لحاظه د خپل موصوف تابع وي ؛ لکه : زوړ سړی ، زړه ښځه / زاړه سړي ، زړې ښځې . یا خوږ خټکی ، خواږه خټکي / خوږه هندوانه ، خوږې هندوانې ...
یعني ګورو چې موصوف مفرد مذکر راغلی ؛ نو صفت هم د مفرد مذکر په بڼه کارول شوی ، کله چې موصوف مفرد مؤنث دی ، صفت هم د مفرد مؤنث په ډول واقع شوی ؛ په همدې ډول په جمع مذکر او جمع مؤنث کې هم.
دا عبارت هم کېدای شي کله ساده وي ؛ لکه (هوښیارسړی) او کله هم مرکب ؛ لکه ( د زماني هوښیار سړی) او داسې نور.
مشترک صفتونه له دغه قانون څخه وتلي دی او په ټولو صورتونو کې یو شکل راځي .

په پښتو کې مشترک صفتونه په دې ډول دي:

**الف:** چې په ځرګنده (ه) ختم وي ؛ لکه : ساده هلک ، ساده نجلی ، ساده هلکان ، ساده نجوني ...

**ب:** چې په ځرګند (و) ختم وي ؛ لکه : ساوو سړی ، ساوو سړي ، ساوو ښځه ، ساوو ښځې...

**ج:** چې په ساکن الف ختم وي ؛ لکه : خوسا خټکی ، خوسا خټکي ، خوسا هندوانه ، خوسا هندوانې ...

**د:** چې په اوږده (ې) ختم وي ؛ لکه : خوشې سړی ، خوشې سړي ، خوشې ښځه ، خوشې ښځې ...

په پښتو ژبه کې له صفت او موصوف څخه جوړ شوي عبارتونه په لاندې توګه ښودلی شو:

**الف**

هغه توصیفي عبارت چې له صفت (مفرد) + نوم (مفرد) څخه جوړ وي.

لکه دا لاندې بېلګې :

لنډ فکر ، رڼا ورځ ، لنډه ورځ ، نوې مفکوره ...

په پورته بېلګو کې ګورو چې هره بېلګه له دوو خپلواکو کلیمو څخه جوړه شوې ده ، چې لومړی مفرده کلیمه صفت او دویمه مفرده کلیمه نوم دی ؛ دصفت او موصوف په بڼه یې سره سمون او مطابقت کړی دی.

**ب**

هغه توصیفي عبارت چې د صفت او موصوف دواړه برخې یې د (جمع) بڼه لري . لکه په لاندې بېلګو کې:

کاړه ورمېږونه ، تاوده سلامونه ، لنډې ورځې ، اوږدې شپې ، زاړه خیالونه ...

**ج**

هغه توصیفي عبارت چې له نسبتي صفت + نوم څخه جوړ شوی وي ؛ لکه دا لاندې بېلګې :

کابلی سړی ، ننګرهاری هلک ، پښتني کلتور ، دولتي موسسه ، اوبلن ماسته ، وریښمین کالي ، غیرتي پښتانه او نور...

**د**

هغه توصیفي عبارت چې له نسبتي عددي صفت او نوم څخه یې ترکیب موندلی وي ؛ لکه :

شلیز نوټ ، سلګون نوټ ، لسګون نوټ ، پنځوسګون نوټ او نور...

**۳- له نوم او شمېرنوم څخه جوړ شوی عبارت**

په دې ډول عبارت کې نوم او شمېر نوم سره یوځای کېږي او په عنعنوي ګرامري اصطلاح له عدد او معدود څخه جوړ شوی وي ؛ لکه : دوه کتابونه ، څلور کتابچې ، پینځم مخ ، لسم ټولګی ، لس نجونې ، څلور ښځې ، یو سړی ، یوه مانۍ او نور...

په پورته عبارتونو کې نوم د عبارت مرکزي زړی دی ، هره بېلګه یې له نوم او شمېرنوم څخه رغېدلې ده چې یوه کلیمه د بلې شمېره ښئي.

په پښتو ژبه کې عدد له خپل معدود څخه دمخه راځي ، یوازې د (یو) عدد مفرد او نور ټول اعداد جمع دي .

په دې ډول عبارت کې کېدای شي اصلي اعداد راشي ؛ لکه : لس روپۍ ، شل منې ، دولس نجونې او کله هم کېدای شي توصیفي یا ترتیبي اعداد راشي ؛ لکه پینځم پوړ ، شلمه پېړۍ ، درېیم صنف ، اتمه چوکۍ او نور...

د اسمونو او عددونو ترمنځ کله کله قیدي (تمیزي) او توصیفي کلیمې هم راوړل کېږي . لکه :

دوه تنه سړي ، دېرش کسه مېلمانه ، څلورسره غویان ، دوه دانې قلمونه ، څلورټوکه کتابونه ، څلورجوړې بوټان ، یوه ښکلې مرغۍ ، دوې هوښیارې نجونې ، لس تنه پاخه پاخه مشران ، یوه ډېره لویه درنه جرګه...

**۴- له نوم او نومځري څخه جوړ شوی عبارت**

په دې ډول عبارت کې نوم او نومځری سره یوځای کېږي ؛ لکه : هغه ښار ، دا سړی ، دې ښځې ، دې سړي ، هغه ونه ، دغه باغ ، دغه باغونه ، د وطن هغه شاړې دښتې ، د بنوال دغه باغونه...

په پورته عبارتونو کې ؛ ( هغه ، دا ، دې ، دغه) کلیمې اشاري ضمیرونه دي او (ښار ، سړی ،ښځې ، سړي ، ونه ، باغ ، باغونه ، وطن ، دښتې ، بنوال ) کلیمې نومونه دي.

پخوا یې دا عبارت د اشاري عبارت په نامه هم یاداوه ؛ لومړۍ کلیمې ته یې اشاره دوهمې کلیمې ته مشارالیه ویل ، چې لومړی اشاره او ورپسې د مشارالیه کلیمې راتلې .

*یادونه : د ګرامري قاعدې له مخې په پورته له نوم او نومځري څخه جوړ شوي عبارت بېلګو کې اشاري ضمیرونه د اشاري صفت په ډول کارول شوي دي.*

**۵- له نوم او فعلي ستاینوم څخه جوړ شوی عبارت**

فعلي ستاینوم هغه ستاینوم (صفت) ته ویل کېږي چې په هغه کې د یو کار کولو معنا پرته وي؛ که هغه فاعلي وي ؛ لکه : تلونکی او تللی ، او که مفعولي وي ؛ لکه : وهلی ، ساتلی او نور... (۱۷۱:۱۲)

له نوم او فعلي ستاینوم څخه جوړ شوي عبارت کې نوم او فعلي ستاینوم سره یوځای کېږي او د دواړو له ترکیب څخه نحوي واحد منځته راځي ؛ لکه دا لاندې بېلګې :

لیکلی کتاب ، لیکلي مقاله ، ګنډلی کمیس ، یا په مرکب ډول:

د لیکونکي ښه مقاله ، د لیکونکو ښې مقالې ، د تللي هېر یادونه ، د تللو هېر یادونه ...

په پورته لومړیو ساده عبارت بېلګو کې ګورو چې (لیکلی ، لیکلي ، ګنډلی ) کلیمې فعلي ستاینومونه دي او د (کتاب ، مقاله ، کمیس ) کلیمې نومونه دي او د دواړو په یوځای کېدو سره یې عبارت جوړ کړی دی.

په همدې ډول په دویمه مرکب عبارت بېلګو کې د فاعلي صفتونو په راوړلو سره یې په مرکب ډول عبارت جوړ کړی دی ؛ چې دغه ډول عبارتونه له نوم او فعلي ستاینوم څخه جوړ شوي عبارتونه نومېږي .

په پښتو ژبه کې له نوم او فعلي ستاینوم څخه جوړ شوی عبارت په لاندې توګه ښودلی شو :

**الف**

هغه عبارت چې له فاعلي صفت او نوم څخه یې ترکیب موندلی وي ؛ لکه : په دا لاندې بېلګو کې :

راغلی سړ ، تللي وختونه ، سوځونکی بم ، تلونکي دوره ، تلونی هلک ، ګرځندوي موټر ، خوځندوی (خوځند) ماشوم او نور...

په پورته بېلګو کې ګورو چې فعلي ستاینوم د فعلي صفت په بڼه راغلی دی .

**ب**

هغه عبارت چې له مفعولي صفت او نوم څخه رغېدلی وي . لکه دا لاندې بېلګې :

رټلی هلک ، وهلی هلک ، ځپلی هلک ، رټل شوی هلک ، وهل شوی ماشوم ، ځورول شوي خلک او نور...

یا په مرکب ډول : د ډېبدلي ژېړه ځېره ، د وهلي تېزه منډه ، د رټل شوي ځورند سر.

په پورته عبارتونو کې فعلي ستاینوم د مفعولي صفت په بڼه راغلی دی .

**۶- له نوم او مصدر څخه جوړ شوی عبارت**

مصدر عربي نومونه ده چې په پښتو کې ورته کړنوماند یا کړنومی وایي . په پښتو کې یو کړ ( فعل ) په مصدر نومول کېږي ، لکه چې وایو : د « وهل» فعل یو متعدي فعل دی.

مصدر يو ناپای (Infinitive) فعل دی ، یا په بله وینا ؛ یو تاکلی گردانې بڼه (صیغه) نه راڅرگندوي ، بلکې د نوم غوندې له زماني اړوندی ازاد دی او دا چې یوه ناپایه کړنه او پيښېدنه څرگندوي ، نو ښايي له همدې لاسونده ( شواهد ) ورسره په پښتو کې د یوه ډېرگړي ( نرینه) چلند کېږي او همداسې اوړون مومي . په پښتو کې زیاتره له کړولی او (ل) روستاړي څخه جوړېږي او د دود له مخې پرې کړ نومول کېږي.(۸۹:۱۳)

د نوم او مصدر څخه جوړ شوي عبارت کې نوم او مصدر سره یوځای کېږي او بیا مصدري عبارت جوړوي ؛ لکه ډوډی پخول ، کتاب لیکل ، ډرامه کتل او داسې نور...

په پورته عبارتونو کې (ډوډی ، کتاب ، ډرامه) کلیمې نومونه دي او (پخول، لیکل ، کتل ) فعلي کلیمې یا فعلي نومونه (مصدرونه ) دي چې د دواړو له یوځای کېدو څخه مصدري عبارتونه جوړ شوي دي.

په پښتو ژبه کې کړنومی (مصدر) د جوړښت او پای له مخې په پينځو ډولو وېشل کېږي :

**۱-« لام» والا مصدرونه**

هغه دي چې یوازې په (ل) پای ته رسېدلي وي ، یعنې د مصدر نښه پکې «ل» وي ؛ لکه : تلل ، غوښتل ، ژړل او نور...

**۲- «ول» والا مصدرونه**

هغه دي چې په (ول) باندې پای ته رسېدلي وي ؛ یعنې مصدري نښه پکې «ول» وي ؛ لکه : گرځول ، تښتول ، ژړول ، ماتول ، مړول او نور...

**۳- «ېدل» والا مصدرونه**

چې په «ېدل» پای ته رسېدلي وي ؛ یعنې مصدري نښه یې «ېدل» وي . لکه : گرځېدل ، تښتېدل ، غورځېدل ، خندېدل ، ماتېدل ، مړېدل ، څغلېدل او نور...

### ۴- «کول» والا مصدرونه

هغه دي چي په پای کي د «کول» په یوځای کولو سره یوه بله کلیمه جوړه شي ؛ لکه : پخلا کول ، پورته کول ، پرې کول ، وابنه کول ، ظلم کول ، کر کول او نور...

### ۵- «کېدل» والا مصدرونه

هغه دي چي په پای کي یې «کېدل» راغلي وي ؛ لکه : پخلا کېدل ، رنا کېدل ، پرې کېدل ، زیاتی کېدل ، ټیله کېدل ، باندي کېدل او نور ...(۱:۱۴)

د کړنومي (مصدر) اړوند د پورته معلوماتو په پام کي نیولو سره په پښتو ژبه کي له نوم او مصدر څخه جوړ شوي عبارتونه په لاندي توګه ښودلی شو :

**الف**

هغه عبارت چي له نوم او «ل» والا مصدر څخه جوړ شوی وي ؛ لکه په دا لاندي بېلګو کي :

پرمخي ځملاستل ، پښتني دود پالل ، ډوډۍ خوړل ، کار موندل ، په مړي ژړل ، خوله پرانیستل ، له غره پرېوتل او نور...

**ب**

هغه عبارت چي له نوم او «ول» والا مصدر څخه جوړ شوی وي ؛ لکه دا لاندي بېلګي :

سړي تښتول ، پړی غوځول ، ګېډه مړول ، خبرې سپینول ، زړه ماتول ، تار زغلول ، تیږه غورځول او نور...

**ج**

هغه عبارت چي یوه برخه یې نوم او بله برخه یې «یدل» والا مصدر وي . دا هغه ډول عبارت دی چي لومړی برخه یې د یو شي یا شخص نوم وي او دویمه برخه داسي فعلي نوم یا مصدر وي چي په «یدل» پای شوی وي ؛ لکه په دا لاندي بېلګو کي :

د خبرې سپینېدل ، له کټه غورځېدل ، له خوبه جګېدل ، په ډوډۍ مړېدل ، له هېواده تښتېدل او نور...

پورته له نوم او مصدر څخه جوړ شویو عبارت بېلګو کي نومیزې کلیمي د غیراصلي قیدونو په ډول کارول شوي دي .

د

هغه عبارت چي يوه برخه يي نوم او بله برخه يي «کول» والا مصدر وي ؛ لکه په دا لاندې بېلګو کي :

محبوب پخلا کول ، ګوته پرې کول ، د غنمو کر کول ، په ګاونډي زياتی کول ، رانجه پورې کول ، د لونګو لو کول او نور...

هـ

هغه عبارت چي يوه برخه يي نوم او بله برخه يي «کېدل» والا مصدر وي . دا هغه ډول عبارت دی چي لومړی برخه يي له نوم له ډولونو څخه يو ډول نوم وي او دويمه برخه يي داسي فعلي کليمه يا مصدر وي چي کليمه په «کېدل» لفظ سره پای شوي وي ، يعني له نوم او «کېدل» والال مصدر څخه ترکيب شوي وي ، لکه په دا لاندي بېلګو کي :

دوستان پخلا کول ، ګوتي پرې کېدل ، ډوډی پورې کېدل ، دېګ باندې کېدل ، د اسانو تېل کېدل ، په ګاونډي زياتی کېدل او نور...

**په عبارتونو کي د کليمو ترتيب**

د پښتو ژبي په عبارتونو کي د کليمو ترتيب د پښتو ژبي د ګرامري قاعدې (مطابقت) سره سم سرته رسېږي .

که چېرې د عبارت نحوي واحد په بېلابېلو ډولونو کي د کليمو ترتيب او مطابقت (سمون) په پام کي ونه نيول شي ؛ نو معنا او مفهوم هم لاسته نه راځي .

د بېلګي په ډول : په پښتو ژبه کي د مضاف اليه او مضاف څخه جوړ شوي عبارت ترکيب داسي دی چي لومړی به مضاف اليه او بيا مضاف راځي او د دغو دوو کليمو ترمنځ اړيکه د (د) ناخپلواک مورفيم په واسطه چي د اضافت او ملکيت اړيکه ده ټينګېږي . او د همدغه ناخپلواک مورفيم په واسطه پر مضاف باندې د مضاف اليه ملکيت ثابتېږي . لکه «د ملالی کور» عبارت کي (د اضافت (د) + مضاف اليه + مضاف) چي (کور) د ملالی ملکيت ګرځېدلی دی ؛ نو که د مضاف نوم د مخه راوړو نو دا بيا د پښتو ګرامري قاعدې سره سمون نه لري .


په همدې ډول په پښتو ژبه کي د توصيفی عبارت ترتيب داسي دی چي لومړی صفت او بيا موصوف راځي (صفت + نوم) . په ګرامري لحاظ صفت د موصوف تابع وي ؛ لکه ناولي ځېره ، ښېرازه سيمه ، لوړه ونه ، ښکلي ودانی . مګر که ووايو ځېره

ناولي ، سيمه ښېرازه ، ونه لوړه ، وداني ښکلي ؛ نو بيا دا هغه عبارت نه دی چي ټاکلي مانا ځرګنده کړي . په دغه صورت کي د کليمو او ويپونو بې اساسه ترکيب (يوځای کېدنه) کومه ټاکلي مانا نه ورکوي .

د عددي عبارت په برخه کي هم چي له عدد او معدود څخه جوړ شوی وي ، لومړی شمېرنوم او بيا شمېرلی راځي . ( عدد+ نوم) او لږ و ډېر ورسره اوړون مومي . يو کتاب ، يوه کتابچه ، دوه کتابونه ، دوې کتابچي ...

په همدې ډول په فعلي او مصدري عبارتونو کي.

د لنډيز په توګه د عبارت بېلابېل ډولونه په لاندې جدول کي




د ژيړو ګلو باغ   ځلو کتابچي   دا سړی

ليکلی کتاب   مقاله ليکل

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د توريالي | د ګلو | طلايي | د بنو | د زره | |
| کور | باغ | ګوته | غشی | سترګي | (دويمه ګڼه جدول) |

په پورته دويمه ګڼه جدول کي د معنا له مخي د عبارت بېلابېل ډولونه سره دبېلګو په لنډه توګه ځرګند شوي دي.

## د دویم څپرکي لنډيز او پوښتني

د پښتو ژبې په ليکل شويو گرامرونو کي ترکيب ، عبارت او جملو تر يو سرليک لاندې څېړل شوي دي . دا چي دا درې واړه نحوي واحدونه سره جلا دي ، نو موږ په همدې منظور د عبارت نحوي واحد له نورو واحدونو څخه جلا په دې څپرکي کي ترمطالعي لاندې ونيو.

دوه يا تر دوو زياتو خپلواکو کليمو داسي يوځای کېدنه چي د جملي په څېر بشپړ مفهوم ورنکړي او يوه خپلواکه کليمه يا خپلواکه برخه يې د بلې خپلواکي کليمي يا برخي تابع وگرځي عبارت بلل کېږي .

يا :

د دوه يا زياتو خپلواکو کليمو داسي يوځای کېدل چي نحوي رابطه سره ولري ، خو مورفيمونه يې يو بل ته تابع وي او بشپړ مفهوم نه ورکوي عبارت بلل کېږي . په عبارت کي يوه کليمه اساسي او بله کليمه يې تابع وي ؛ لکه : د (شين اسمان) په عبارت کي چي (اسمان ) اساسي کليمه او د (شين) برخه يې تابع ده .

د جوړښت له مخي عبارت په ساده او مرکب باندې وېشل کېږي .

- ساده عبارت چي له دوو خپلواکو کليمو څخه رغېدلی وي ؛ لکه : د کابل ښار.
- مرکب عبارت چي له دوو څخه زياتو خپلواکو کليمو څخه يې جوړښت موندلی وي ؛ لکه : د کابل ښايسته ښار.

د عبارت نحوي واحد ، د نورو گرامري توکو په څېر ځيني ځانگړني لري :

- يوه دا چي عبارت د غونډلي د يوې برخي په ډول راځي او د جملي په څېر بشپړ مفهوم نه ورکوي .
- دويم دا چي د عبارت د برخو ترمنځ مطابقت موجود وي ، يعني يوه برخه يې بلې برخي ته تابع وي او مفهوم يې مرکب وي.
- درېيم دا چي عبارت د کليمي په نسبت لوی او د جملي په نسبت وړوکی وي ....

عبارت ډېر ډولونه لري چي يو ډول يې نوميز عبارتونه دي ؛ په دې ډول عبارتونو کي عبارت له دوو يا زياتو نوميز کليمو څخه رغېدنه موندلي وي ؛ چي په دې ډله کي ملکي اضافي عبارت ، اختصاصي اضافي عبارت ، بياني اضافي عبارت ، تشبيهي اضافي عبارت ، استعاري اضافي عبارت او په همدې ډول نور راځي .

- له نوم او ستاينوم څخه جوړ شوي عبارت کې نوم او ستاينوم سره يوځای کېږي ؛ لکه لوړه ونه ، سړه هوا ...

- له نوم او شمېرنوم څخه جوړ شوی عبارت ، لکه ؛ څلور کتابونه ، لسم ټولګی ، څلور ښځې او نور..

- له نوم او نومځري څخه جوړ شوی عبارت ، لکه : د وطن هغه شاړې دښتې ، دغه هلک ، دغه باغونه ...

- له نوم او فعلي ستاينوم څخه جوړ شوی عبارت ، لکه : ليکلی کتاب ، ګنډلی کميس ...

- له نوم او مصدر څخه جوړ شوی عبارت ، لکه : مقاله ليکل ، کتاب ليکل او داسې نور...

## تمرين او پوښتنې

### لومړی تمرين

محصلين دې د لاندې جدول کليمې او مورفيمونه په غور سره ولولي ، بيا دې د کليمو او مورفيمونو ترمنځ په اړيکو درلودلو سره ترې بېلابېل نوميز عبارتونه جوړ کړي .

ښوونکی دې د محصلينو دغه کړنه وارزوي.

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| زما | هرات | ملالۍ | اوبه | اڅک | ښارک | وطن | هېواد | وريښمين |
| درياب | ستا | سيخ | انګور | وردګ | تګاب | باميان | تاو | جامې |
| مخ | سيند | د | کابل | | ستورو | اور | بيلتون | هوسۍ |
| پانه | دروازه | کتابونه | مينه | منې | جلال اباد | کوهي | جرګو | ټوک |
| بانه | کور | سرک | کتابچې | باغ | انار | کتابچه | تياره | غرونو |
| خيال | غشی | سرو | له | قلم | ګلو | کتاب | ختکي | مېز |
| غونډۍ | زړه | فکر | ګوته | طلايي | مېز | سره | رڼا | څپه |
| پشان | وزرې | تخت | اوسپنه | ټال | او | چوکۍ | غاړه | کمر |

### دويم تمرين

د ټولګي محصلين دې په پينځو ګروپونو کې تنظيم شي ، هر ګروپ ته دې د نوميز عبارت له ډولونو څخه يو ډول : ( ملکي اضافي عبارت ، اختصاصي اضافي عبارت ، بياني اضافي عبارت ، تشبيهي اضافي عبارت ، استعاري اضافي عبارت )

دنده ورکړل شي چې په اړوند يې لازمي بېلګې ومومي ، د بلې ورځې د نحوې مضمون په درسي ساعت کې دې د ګروپ مشر ټولګيوالو ته وړاندې کړي .

ښوونکی دې مهمې نکتې يادداشت او د هر ګروپ کورنی کار دې وارزوي.

**درېيم تمرين**

ښوونکی دې د ټولګي محصلين په پينځو ګروپونو ووېشي او هر ګروپ ته دې په لاندط ډول موضوع ورکړی چې کار پرې وکړي او د ګروپ مشر دې د خپل ګروپ نظر نورو ټولګيوالو ته وړاندې کړي .

**د لومړي ګروپ موضوع**

د نوم او ستاينوم څخه جوړ شوي عبارتونو بېلابېلې بېلګې

نوم او اصلي صفت څخه جوړ شوي عبارت بېلګې

د نوم او نسبتي صفت څخه جوړ شوي عبارت بېلګې

د نوم او فعلي صفت څخه جوړ شوي عبارت بېلګې

د نوم او اشاري صفت څخه جوړ شوي عبارت بېلګې

**د دويم ګروپ موضوع**

له نوم او شمېر څخه جوړ شوي عبارت بېلابېلې بېلګې

له نوم او اصلي عدد څخه جوړ شوي عبارت بېلګې

له نوم او وصفي يا رتبه يي عدد څخه جوړ شوي عبارت بېلګې

له نوم او کسري عدد څخه جوړ شوي عبارت بېلګې

له نوم او انقسامي عدد څخه جوړ شوي عبارت بېلګې

**د درېيم ګروپ موضوع**

له نوم او نومځري څخه جوړ شوي عبارت بېلابېلې بېلګې

له نوم او شخصي ضميرونو څخه جوړ شوي عبارت بېلګې

له نوم او اضافي ضميرونو څخه جوړ شوي عبارت بېلګې

له نوم او ملکي ضميرونو څخه جوړ شوي عبارت بېلګې

له نوم او استفهامي ضميرونو څخه جوړ شوي عبارت بېلګې

له نوم او مبهم ضميرونو څخه جوړ شوي عبارت بېلګې

**د څلورم ګروپ موضوع**

له نوم او فعلي ستاينوم څخه جوړ شوي عبارت بېلګې

له نوم او فاعلي ستاينوم څخه جوړ شوي عبارت بېلګې

له نوم او مفعولي ستاينوم څخه جوړ شوي عبارت بېلګې

**د پينځم ګروپ موضوع**

له نوم او مصدر څخه جوړ شوي عبارت بېلا بېلې بېلګې

له نوم او (ل) والا مصدر څخه جوړ شوی عبارت

له نوم او (ول) والا مصدر څخه جوړ شوی عبارت

له نوم او (يدل) والا مصدر څخه جوړ شوی عبارت

له نوم او (کول) والا مصدر څخه جوړ شوی عبارت

له نوم او (کېدل) والا مصدر څخه جوړ شوی عبارت

هر ګروپ خپله موضوع په يو چارت کې ترتيبوي او د ګروپ مشر يې نورو ټولګيوالو ته تشرېح کوي

ښوونکی د هرګروپ د کار ارزونه کوي ، مهمې نکتې يادداشت او په پای کې محصلينو ته لازم معلومات وړاندې کوي.

**پوښتنې**

**تشريحي پوښتنې**

محصلين دې لاندې پوښتنو ته لنډ ځوابونه ووايي:

۱- عبارت څنګه راپېژنئ ؟

۲- عبارت له څه ډول کلیمو څخه جوړېږي او څنګه ؟

۳- د عبارت او جملې ترمنځ توپیر څنګه کولای شئ؟

۴- نومیز عبارتونه راوپېژنئ او د بېلابېلو ډولونو ، نومونه يې واخلئ .

۵- پينځه داسي جملې وليکئ چي په ملکي اضافي عبارت پيل شوي وي.

۶- دوه داسي جملې وليکئ چي په استعاري اضافي عبارت پيل شوي وي.

۷- د بياني اضافي عبارت لس بېلګي وليکئ.

۸- د تشبيهي اضافي عبارت او استعاري اضافي عبارت ترمنځ توپير څنګه کولای شئ ؟

۹- له نوم او ستاينوم څخه جوړ شوي عبارت پينځه بېلګي وليکئ.

۱۰- له نوم او مصدر څخه جوړ شوي عبارت او ملکي اضافي عبارت سره څه توپير لري ؟ مثالونو سره يې واضح کړئ.

**څلورځوابه پوښتني**

لاندي هرې پوښتني ته څلور ځوابه ليکل شوي ، تاسي يې سم ځواب په نښه کړئ .

۱۱- «زما اوښکي وچي نه شوې» ددې جملې پيل په کوم ډول عبارت سره شوی دی؟

الف : ملکي اضافي ب: اختصاصي اضافي ج: بياني اضافي د : توصيفي

۱۲- «د ښو غشي» د کوم ډول عبارت بېلګه کېدای شي؟

الف: له نوم او صفت څخه جوړ شوي عبارت ب: تشبيهي اضافي عبارت ج: ملکي اضافي عبارت د: استعاري اضافي عبارت

۱۳- « دملالی کور » څه ډول عبارت دی ؟

الف: بياني اضافي ب: اختصاصي اضافي چ: ملکي اضافي د: عددي

**۱۴- «** د سيند غاړه » څه ډول عبارت دی؟

الف: بیاني اضافي      ب: اختصاصي اضافي      ج: نومیز      د : ب ، ج سم دي

۱۵- په لاندې عبارتونو کې بیاني اضافي عبارت په نښه کړئ:

الف: د سروزرو ګوته      ب: د اوسپنې سیخ      ج: د سرک غاړه      د: الف او ب سم دي

**تکمیلي پوښتنې**

لاندې تش ځایونه په مناسبو کلیمو ، ترکیبونو او عبارتونو سره تکمیل کړئ :

۱۶- په عبارت کې ک ساده وي ...............................ګرځي.

۱۷- په مرکب عبارت کې .......................................ګرځي.

۱۸- په پښتو ژبه کې مضاف الیه ترخپل مضاف ................راځي.

۱۹- که مضاف الیه د (مې ، دې ، یې ) ناخپلواک ضمیر وي ............................واقع کېږي .

۲۰- کتاب لیکل ، مقاله لیکل له ........................................................بېلګې کېدای شي.

**مقابلوي پوښتنې**

لاندې ښي طرف ته د عبارتونو بېلګې او چپ طرف ته یې د عبارت ډول لیکل شوی ، تاسې محصلان یې شمارې سره انډول کړئ

| | |
|---|---|
| ۲۱- (      ) له هېواده تښتېدل | ۱- اختصاصي اضافي عبارت |
| ۲۲- (      ) لیکلې مقاله | ۲- له نسبتي عدي صفت او نوم څخه جوړ شوی عبارت |
| ۲۳- (      ) کاږه ورمېږونه | ۳- مصدري عبارت |
| ۲۴- (      ) د خیال وزرې | ۴- له نوم او فعلي ستاینوم څخه جوړ شوی عبارت |
| ۲۵- (      ) د صدف په شان غاښونه | ۵- ملکي اضافي عبارت |
| ۲۶- (      ) د خاورو کنډولې | ۶- له نسبتي صفت او نوم څخه جوړ شوی عبارت |

۲۷-(        ) د کور دروازه

۲۸-(        ) د زمرک کتاب

۲۹- (        ) ننګرهاری هلک

۳۰- (        ) سلګون نوټ

۷- بیاني اضافي عبارت

۸- توصیفي عبارت

۹- تشبیهي عبارت

۱۰- استعاري عبارت

۱۱- له ضمیر او نوم څخه جوړ شوی عبارت

۱۲- له نوم او (ل) والا مصدر څخه جوړ شوی عبارت

۱۳- له اشاري ضمیر او نوم څخه جوړ شوی عبارت

## درېیم څپرکی

### ترکیب او ډولونه یې

غونډله پوهه د ګرامر درېیمه اساسي برخه ده چې په ګرامر کې هغه علم ته وایي چې پکې د جملې د اجزاوو د ترکیب او یوځای کېدو لارې چارې زده کېږي .

د ګرامر په دې برخه کې له لفظي واحدونو (خپلواکو او ناخپلواکو) څخه د ژبې د عبارتونو ، ترکیبونو او جملو د تشکیل د ډولونو ، ترتیب او نظام په باب څېړنه کېږي ؛ یعنې څنګه چې لفظي واحدونه (مورفیمونه او کلیمې ) له صوتي واحدونو له ترکیب او یوځای والي څخه جوړېږي همداراز د ترکیب ، عبارت ، جملو په تشکیل او جوړښت کې د لفظي واحدونو ترکیب - یوځای والی او ترمنځ یې اړیکې اړینې دي ؛ ځکه چې اساسي واحدونه د مقیدو واحدونو په وسیله سره ارتباط پیدا کوي او دهمدغو الفاظو ارتباط او یوځای کېدنه ، یو نحوي واحد : (عبارت ، ترکیب ، جمله ) منځته راوړي .

په تېرڅپرکي کې مو د عبارت او د عبارت د ځانګړنو په اړوند لازمې څرګندونې وکړې ، دلته به اوس د ترکیب په ځانګړنو او خصوصیاتو خپل بحث ته ادامه ورکړو ، څو د دغو دواړو اصطلاحاتو (عبارت، ترکیب ) ترمنځ توپیر واضح شي.

### د ترکیب تعریف

د پښتو ژبې په لیکل شوو ګرامرونو کې د ترکیبونو پیژندنه او ذکر په لاندې ډول راغلی دی :

« د پښتو ژبې لیار » د محمد ګل مومند اثر چې په ۱۳۱۷ کال په لاهور کې چاپ شوی دی . ترکیب یې داسې راپېژندلی :

«ترکیب : د خبرو هغه هیئت (ډلګی) ته ویل کیږی چي د دوو یا ډېرو کلیمو څخه حاصل شوی وي . ترکیب دوه رازه دی یو (نیمګړی ترکیب ) بل ( بشپړ ترکیب.)

- نیمګړی ترکیب  هغه دی چي یو خبر؛ آورېدونکي ته بشپړ افاده کولای نشي .

- تام ترکیب  هغه دی چي یو خبر اورېدونکي ته پوره افاده کولای شي.» (۳۱۶:۱۵)

محمداعظم ایازي په خپلي کوچنی رساله (د پښتو نحوه) کي د «کلام ناقص اقسام» ترسرلیک لاندې داسي کښلي :

«کلام ناقص و هغه کلام ته وایي چي اورېدونکی د هغه څخه پوره مطلب اخیستلای نه شسی او و بل عبارت ته منظر وي.» (۲:۱۶)

«د پښتو صرف و نحو» د سیدخیال بخاري تالیف د ناقص مرکب تر سرلیک لاندې داسي لیکي :

«ناقص مرکب : هغي مرکب ته وایي چي څه پوره خیال یا مطلب تري نه څرګندېږي ؛ یعني داسي مرکب چي اورېدونکی تري پوره فایده وانه خیستی شي او تسله یي پرې ونه شي او هغه د پوره مطلب د بیان منتظر وي  ، ناقص مرکب تل د یوې جملي جزء وي .» (۲۲۸: ۱۷)

«د پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه » کتاب کي د ترکیب په اړوند داسي لیکي :

«ترکیب : ترکیب دې ته وایي چي د دوه یا له دوو څخه زیاتي کلیمي سره ونښلي او یوه کلیمه تري جوړه شي ، ځانله مفهوم او معنا ونښندي ، لکه : پی مخی ، روڼ مخی ، غوړوالی ، نمرګلی او نور...» (۲۹:۱۸)

«پښتو ګرامر» د صدیق الله رښتین اثر د سید محي الدین هاشمي ژباړه ؛ چي په ۱۳۷۲ هـ . ش کال چاپ شوی ، د موضوع په اړوند داسي څرګندوني لري :

«کلام په اول سر کي په دوه ډوله وېشل کیږی : ناقص کلام او پوره کلام په بله ژبه نیمګړې خبره او پوره خبره .

- پوره خبره یا فایده من کلام هغه دی چي اورېدونکی ورنه پوره مطلب واخلي او بل ټکي ته یي اړتیا پاتي نه شي ، یعني په اورېدو یي د ده قناعت حاصل شي .

- نیمګړي خبره یا ناقص کلام هغه دی چې اورېدونکی ورنه پوره مطلب وانه خلي او بل ټکي ته یې احتیاج پاتې شي .»
(۴۳۲:۱۹)

د کابل پوهنتون استاد پوهنوال محمد نسیم نګهت سعیدي په خپل اثر دستورزبان معاصر دري کې د « ساخت و انواع کلمه مرکب» تر سرلیک لاندې داسې لیکي :

«کلمه مرکب کلمه ایست کي عموماً از دو کلمه مستقل ، یا دو مستقل و یک یا چند نامستقل (پسوندها ، کلمهء عطف ،پیشینه ها ) ساخته میشود.» (۱۰۴:۲۰)

معاصر ژبپوهاند دوکتور مجاور احمدزیار یې داسې راپېژني :

«غونډ د یوې غونډلې بېلابېلې ټوټې ته وایي چې له یو یا څو ازادو او تړلو ګړونو څخه رغېدلي وي او راز راز دولونه لري ؛ لکه نوموال غونډ ، کړوال غونډ او داسې نور ...» (۱۹:۲۰)

همدارنګه د پوهاند محمد رحیم الهام په «روش جدید در تحقیق دستور زبان دري » او د هربرت پنزل پښتو ګرامر کې د عبارت ، ترکیب او لنډ عبارت ذکر راغلی دی .

که ښه ځیر شو په پورته ذکر شوو ګرامرونو کې عبارت او ترکیب تر یو عنوان لاندې څېړل شوي او حتی په ځینو ځایونو کې یې جمله هم په همدې قطار کې راوستې ده ؛ خو زما په آند عبارت او ترکیب د جوړښت او د کلیمو د مطابقت له مخې سره توپیر لري .

دا چې عبارت د جوړښت او د کلیمو د ترکیب او مطابقت له مخې د ځانته ځانګړنو( لکه په تېر څپرکي کې چې مو وویل) درلودونکی او ترکیب به ځانته ځانګړنې ولري ؛ نو د ترکیب به لنډه پېژندنه داسې وکړو:

ترکیب د دوو یا زیاتو خپلواکو او ناخپلواکو مورفیمونو مجموعه ده چې برخې یې یو بل سره ګرامري رابطه ولري .

یا :

ترکیب د دوو یا زیاتو (خپلواکو او ناخپلواکو) کلیمو او مورفیمونو له یوځای کېدو څخه عبارت دی چې اجزاء یې یو له بله ګرامري اړیکې ولري .

**د ترکيب ځانګړني**

د کليمو ترکيب که له يوې خوا د جملو په جوړونه او رغونه کې ارزښتمنه ونډه لري ؛ نو له بلې خوا په ځانګړې توګه د نحوي واحدونو دنده هم سرته رسولی شي.

ترکيب يا په دوديزه نومونه نيمګړی او ناقص کلام په جمله کې د جملې يو جزء ګڼل کېږي او د مفردې کليمې حکم لري ، کېدای شي په جمله کې د مفرد نوم په شان د فاعل ، مفعول ، مبتداء او خبر په صفت راشي .

ترکيب هم د نحوي د نورو واحدونو په څېر ځيني ځانګړني لري چې د لا ښې پېژندنې لپاره يې د عبارت توپير په لاندې ډول په ګوته کولای شو:

**۱-** ترکيب له دوو يا زياتو خپلواکو يا ناخپلواکو کليمو څخه جوړېږي ، يعنې د عبارت په توپير په ترکيب کې کېدای شي ناخپلواک مورفيمونه هم راشي .

لکه : له ښاره ، په کور کې ، له مور سره ، کورته ، له تاسره ، له هغه سره او نور...

**۲-** په ترکيب کې د عبارت په توپير د کليمو ترمنځ مطابعت موجود نه وي ؛ يعنې يوه کليمه يې د بلې کليمې تابع نه ګرځي ؛ خو د کليمو ترمنځ يې نحوي اړيکې موجودې وي ؛ لکه په پورته ذکر شوو بېلګو کې ؛ يا لکه دا لاندې ترکيبونه :

لاندې باندې ، هلته دلته ، له پلار سره ، څوک څوک ، چا چا او نور...

**۳-** د غونډله پوهې يا د نحوې اساساتو له مخې مرکبې کليمې چې په مورفولوژۍ کې مو د مرکب نوم تر عنوان لاندې لوستې وې ؛ دلته په دې منظور چې امتزاجي ترکيب جوړوي او زموږ ګرامر پوهانو پخپلو ګرامرونو کې په ترکيب کې راوړې دي .

لکه : جلال اباد ، پښتون کوټ ، شېرشاه مېنه ، ميرويس ميدان او داسې نور...

**۴-** ترکيب نسبت کليمې ته پراخ او مرکب مفهوم ښرګندوي .

**۵-** دوه خپلواکې کليمې چې د (او) عطف وييکې په واسطه يوځای کېږي په ترکيب کې راتلای شي .

۶- د ترکيب ، عبارت او جملې ترمنځ بېلوالی شته.

## د ترکيب ډولونه

د پښتو ژبې په نحوي سيستم کې مورفيمونه يو له بله سره اړيکي لري ، چې دغه اړيکي زياتره د ناخپلواکو مورفيمونو : ( سربلونو ، ستربلونو ، عطف و ربط اداتو ) په واسطه منځته راځي . په يو ترکيب کې هم دوه يا له دوو څخه زياتي خپلواکي او ناخپلواکي کليمي سره يوځای کيږي ، د کليمو د موقعيت او ګرامري توکي له مخې د ترکيب يوډول رامنځته کوي ، چې په پښتو ژبه کې يې لاندې ډولونه په ګوته کولای شو:

**لومړی - ارتباطي ترکيب**

**الف : د نوم له ډولونو څخه جوړ شوی ارتباطي ترکيب**

دا هغه ډول ترکيب دی چې له ارتباطي اداتو (له ، په ، تر) سرينو ، (کې ، سره ، پسې ، پورې ) پسينو ناخپلواکو مورفيمونو او نوميزو کليمو له يوځای والي څخه رغېدلی وي . بېلابېل ډولونه يې لاندې د بېلګو سره وړاندې کېږي :

**۱-** هغه ارتباطي ترکيب چې له اداتو او خاص نوم څخه جوړ شوی وي ؛ لکه په دا لاندې بېلګو کې :

له احمدسره ، له محمود سره ، له افغانستانه ، له خيبر څخه ، په کابل کې ، تر پېښور پورې ، په ملالۍ پسې او نور...

يا لکه په دا لاندې جملو کې :

- له احمد سره مې دوستي ده .
- له محمود سره درس وايم .
- له افغانستانه بهرني پوځيان وباسم .
- له خيبر څخه تر ننګرهاره پنځوس کيلو متره سړک پخېږي.
- په کابل کې شپاړس تلويزيوني شبکې فعاليت کوي.
- تر پېښور پورې يې ناروغ ورسوو.
- په ملالۍ پسې لښکر روان شو.

په پورته اوو واړو جملو کې د هرې جملې مبتداء په ارتباطي ترکيب سره پيل شوې ده .

**۲-** هغه ارتباطً ترکیب چې له سرينو ، پسينو او عام نوم څخه جوړ شوی وی ؛ لکه دا لاندې بېلګې :

له ښوونځي څخه ، په کور کې ، تر کلي پورې ، په هېواد کې او نور ...

بېلګې يې په لاندې جملو کې هم وويئ :

- په کور کې اوسم .
- تر کلي پورې لاړم .
- په هېواد کې سوله راتلونکي ده .
- له ښوونځي څخه راغلم .

په پورته جملو کې : (کور ، کلی ، هېواد ، ښوونځی ) عام نومونه ( په ، تر ، په ، له ) سربلونه او (کې ، پورې ، کې ، څخه ) ستربلونه دي ، چې له عامو نومونو سره د سرينو او پسينو په توګه يوځای شوي او ارتباطي ترکيبونه يې جوړ کړي دي .

**۳-** هغه ارتباطي ترکيب چې له سرينو ، پسينو او جمعيت نوم څخه جوړ شوی وي ؛ لکه دا لاندې بېلګې :

له لښکر څخه ، په لښکر پسې ، له ولس سره ، په جرګه کې .

يا لکه په دا لاندې جملو کې :

- له لښکر څخه تښتېدل بېغيرتي ده .
- په لښکر پسې نورې لښکرې راغلې .
- له ولس سره يې پيمان لاسليک کړ.
- په جرګه کې له دواړو خواوو تضمين واخيستل شو.

په پورته جملو کې : ( جرګه ، لښکر ، ولس ) جمعيت نومونه دي چې له سرينواو پسينو سره يې ارتباطي ترکيبونه جوړ کړي دي .

**۴-** هغه ارتباطي ترکيب چې له سرينو ، پسينو او مجرد نوم څخه جوړ شوی وي ، بېلګې يې په دا لاندې غونډلو کې وويئ :

- چې له عقل څخه کم وي ، مدام يې په کور غم وي .
- په وېره کې ژوند کول بې غيرتي ده .

- له خياله تګ کول د عاشقۍ نښه ده .
- له پوهې څخه کار واخله .

په پورته جملو کې : ( عقل ، وېره ، خيال ، پوهه ) مجرد نومونه دي چې له نورو ناخپلواکو کليمو سره يوځای يې ارتباطي ترکيبونه جوړ کړي دي .

**۵-** هغه ارتباطي ترکيب چې له جنس نوم او ناخپلواکو مورفيمونو څخه جوړ شوی وي ، لکه په دا لاندې جملو کې :

- له اوړو او غوړيو څخه ځلوبۍ جوړېږي .
- په غنمو کې وربشې ګډې شوي دي .
- په جوارو کې واښه مه کوه.
- ترغنم لو پورې راسره مرسته وکړه .
- په غلې دانې پسې مه ګرځه .

په پورته جملو کې : ( اوړه ، غوړي ، جوار ، غلې دانې ) جنس نومونه دي چې له نورو ناخپلواکو کليمو سره يې د يوځای والي په صورت کې ارتباطي ترکيبونه جوړ کړي دي .

***يادونې***

*نوم : هغه کليمه ده چې د کسانو ، شيانو ، ځايونو او حيواناتو د نومولو لپاره په کار وړل کېږي .*

*خاص نوم : د يوه ځانګړي کس ، شي ، ځای يا حيوان نوم دی.*

*عام نوم : هغه نوم دی چې د يوې کټګورۍ ، هر کس ، هرشي ، هر ځای او هر حيوان ته ورکړ شي ، چې ځانګړی او خاص نه وي .*

*جمع نوم : چې يوه ډله او جمعيت نوموي .*

*مجرد يا معنا نوم : هغه نوم ته وايي چې په يو غيرمحسوس څيز پوره اړه ولري .*

*جنس نوم : چې په يوه نه شمېرېدونکي څيز پورې اړه ولري . (۵۷:۲۱)*

**ب : له نومځرو او اداتو څخه جوړ شوي ارتباطي ترکيبونه**

نومځری (ضمير) داسې يوه خپلواکه کليمه ده چې د يو نوم ښکارندويي کوي او د هغه پرځای راځي ؛ نو د همدغې دندې له مخې د نومونو په ډله کې ځای نيسي .

ضمیر د نورو نومونو سره د یوځای والي په صورت کي د عبارت بېلابېل ډولونه جوړولای شول ، همدا ډول د اداتو (سرينو- پسينو) سره ديوځای والي او ترکيب په صورت کي ارتباطي ترکيب هم جوړولای شي .

په پښتو ژبه کي د نومځرو ډولونه خورا زيات دي ، چي هر يو ځانته نحوي حالتونه لري ، دلته به يي ځيني ډولونه له اداتو سره د ترکيب په صورت کي ذکر کړو:

**۱-** هغه ارتباطي ترکيب چي له خپلواک شخصي ضمير او اداتو څخه جوړ وي .

خپلواک منفصل شخصي ضميرونه هغه دي چي له نورو کليمو څخه جلا ليکل کېږی او ځانله معنا ورکوي . د وګړي په لحاظ پـه دري وګړو (متکلم ، مخاطب ، غايب ) باندي وېشل کېږي او هر وګړی يي د شمېر لـه مخي مفرد او جمع لـري . (۲۱:۲۲)

په پښتو ژبه کي خپلواک منفصل شخصي ضميرونه دا دي :

| وګړی | مفرد | | جمع |
|---|---|---|---|
| | اصلي حالت | مغيره حالت | |
| لومړی وګړی ( متکلم) | زه | ما | موږ |
| دويم وګړی (مخاطب) | ته | تا | تاسي |
| درېيم وګړی ( غايب) | دی (نرينه)<br>دا (ښځينه) | ده<br>دې | دوي<br>دوي |

د پښتو ژبي په ګرامري قاعدو کي داسي ويل شوي :

«که چېري ضمير په يوه جمله کي د ځينو سرينو يا پسينو په راوړلو فاعل يا مفعول واقع شي ؛ نو ويلای شو چي نوموړی ضمير په جمله کي ارتباطي حالت لري . » (۹۳:۲۳)

نو د پورتني ګرامري قاعدي له مخي د ارتباطي حالت په هکله داسي ويلای شو چي که په يوه جمله کي له ضمير سره ، سرينه يا پسينه راشي او داسرينه يا پسينه د ضمير ارتباط له فعل سره ښکاره کړي ، نو د ضمير دغه حالت ته ارتباطي حال وايي.

لکه په دې لاندې جملو کې :

۱- له ما څخه څه غواړې .

۲- تاته خبره کوم

په پورتنی لومړی جمله کې (ما) د خپلواک منفصل شخصـي ضـمير مغيره حالت دی او د اشخاصو پـه لحـاظ پـه لومړي شخص پورې اړه لري او د (له) ناخپلواکه کليمه سرينه ده . دا چې د (له) د سريني په واسطه د (غواړې) فعل په (ما) باندې واقع شوی دی ؛ نو ويلای شو جي (ما) ضمير په جمله کې ارتباطي حالت لري .

له + ما + څخه ( له ما څخه ) ځانله په ترکيبي ډول په همدې جمله کې يو ارتباطي ترکيب هم دی چې د جملې مبتدا يې جوړه کړې ده .

همدارنګه په دويمه جمله کې (تا) خپلواک منفصل شخصـی ضمير دی او د اشخاصو په لحاظ پـه دويم وګړي پورې اړه لري او د (ته = ta) ناخپلوکه کليمه پسينه ده . دا چې د (ته) د پسيني په واسطه د (کوم) فعل په (تا= tá) باندې واقع شوی دی ؛ نو ويلای شو چې د (تا) ضمير په جمله کې ارتباطي حالت لري .

تا+ ته (تاته) د ترکيب په صورت کې له ضمير او پسيني څخه جوړ شوی ارتباطي ترکيب هم دی ، چې يوې خپلواکي او يوې ناخپلواکي کليمي په ګډه سره جوړ کړی دی .

نورې بېلګې يې په لاندې جملو کې :

| | |
|---|---|
| ۱- له ما څخه څه غواړې ؟ | له موږ څخه څه غواړې ؟ |
| ۲- له تا څخه کتاب غواړم. | له تاسو څخه کتاب غواړم . |
| ۳- له ده څخه کتاب غواړم . | له دوې څخه کتاب غواړم. |
| ۴- له دې څخه څخه غواړې . | له دوې څخه کتاب غواړم. |

يا :

| | |
|---|---|
| ۱- احمد ماته وويل. | احمد موږ ته وويل . |
| ۲- احمد تاته وويل. | احمد تاسو ته وويل . |

۳- احمد ده ته وویل .                    احمد ده ته وویل.

۴- احمد دی ته وویل .                    احمد دوي ته وویل .

*یادونه*

*د خپلواکو منفصلو شخصي ضمیرونو مفرد اصلي حالت (زه ، ته ، دی ، دا ) ارتباطي حالت نه لري ؛ یعني د ارتباط لـه اداتو سره نـه راځي او نو تول ضمیرونه د ښکاره نوم په شان ارتباطي حالت لري او لـه سرینو او پسینو سره استعمالیږي . پـه ارتباطي حالت کـې ضمیرونه مفعول واقع کیږي او د فاعل فعل د سرینو او پسینو په واسطه په مفعول باندي واقع کیږي.*

**۲-** هغه ارتباطي ترکیب چې له اشاري ضمیر او اداتو څخه جوړ شوی وي .

اشاري نومځری هغو ضمیرونو ته وایي چې د اشـاري پـه ډول د یو یـا ډېرو وګړو او څیزونو یادونـه کوي.دا نـومځري یوازي د درېیم وګړي (غایب) له پاره راځي او د هغي له مخي ګردان مومي . (۷۸:۲۴)

د اشاري ضمیرونو مفرد اصلي شکلونه په ارتباطي حالت کي نه راځي مګر د اشاري نومځرو د مفرد مغیره شکلونه په ارتباطي حالت کي راځي خو په دي شرط چې د مفعول کېدو نښي یا سریني او پسیني ورسره راشي. چې په همدي صـورت کـي د اشـاري ضمیر او اداتو (سرینو – پسینو) په ترکیب سره په جمله کي ارتباطي ترکیب رامنځته کوي.

لکه په دا لاندي بېلګه یي جملو کي:

د (له) سرینه + اشاري ضمیر +(سره) پسینه = اشاري ارتباطي ترکیب .

۱- له ده سره لوبي مه کوه .

۲- له دي سره لوبي مه کوه .

۳- له دغه سره لوبي مه کوه.

۴- له دغي سره لوبي مه کوه.

۵- له هغه سره لوبي مه کوه.

۶- له هغي سره لوبي مه کوه.

۷- له هوغه سره لوبي مه کوه.

۸- له هوغي سره لوبي مه کوه.

۹- له هغو سره مرسته وکړه.

۱۰- له هوغو سره مرسته وکړه.

په پورته هره جمله کې اشاري ضمیر او سرینو ، پسینو په ګډه سره د اشاري ارتباطي ترکیب په توګه د جملو مبتداوې جوړې کړي دي.

**۳-** هغه ارتباطي ترکیب چې له استفهامي ضمیر او اداتو څخه جوړ شوی وي.

په پښتو ژبه کې : (څوک چې مغیره حالت یې چا دی ، کوم ، څنګه ، څه ، څو ، څومره ، کله ، چېرې ، ولې ) د پوښتنې (استفهامي ) ضمیرونه دي چې د پوښتنې له دې نومځرو څخه یوازې (چا ، کوم ، کومې ) ضمیرونه په ارتباطي حالت کې راځي ؛ خو په دې شرط چې د مفعول کېدو سرینې یا پسینې ورسره راشی.

لکه په دا لاندې جملو کې :

۱- له چاسره یې لوبې کړې دي .

۲- له چاسره لوبې کوې .

۳- له چاسره به لوبې وکړې.

په پورته درې واړه غونډلو کې ګورو چې د (چا) ضمیر چې د (څوک) استفهامي ضمیر مغیره بڼه ده ، د (له) د سرینې او (سره) پسینې سره یې ارتباطي ترکیب جوړ کړی او په جمله کې په ارتباطي حالت کې کارول شوی دی.

په همدې ډول د (کوم او کومې ) استفهامي ضمیرونه په لاندې بېلګو کې :

۱- له کوم هلک سره یې لوبې کړې دي .

۲- کوم هلک سره لوبې کوې .

۳- له کوم هلک سره به لوبې وکړې.

۴- له کومې نجلۍ سره ګرځېده .

۵- له کومې نجلۍ سره ګرځې .

۶- له کومې نجلۍ سره به وګرځې.

۴- هغه ارتباطي ترکيب چي ناټيک (مبهم) ضمير او اداتو څخه جوړ شوی وي.

ناټيک نومځری (ابهامي ضميرونه) هغه ضميرونو ته ويل کېږي چي د يوناجوت وګړي يا څيز لپاره راځي .(۵۸:۲۵)

يعني کله چي د يو نوم يا يو شی ښکارندويي او يا د هغوي شمېر او اندازه مقصد نه وي ؛ نو په هغي صورت کي بعضي کليمي د نوم پرځای کارول کېږي . که چېري دغه کليمي د نوم پرځای ښېله خپل موصوفه راوړل شي مبهم ضميرونه نومول کېږي.

په پښتو ژبه کي اکثره پوښتنومځري د ناټيکنومځرو په بڼه هم کارول کېږی . د ناټيکنومځرو څخه د (څوک) ناټيک نومځری ارتباطي حالت نه لري نو په همدې اساس د سرينو او پسينو سره د ارتباطي ترکيب په بڼه هم نه شی راتلای ، نور ناټيک نومځري ارتباطي حالت لري ؛ د سرينو او پسينو سره استعمالېږي. په ارتباطي حالت کي ضميرونه مفعول واقع کېږي او د فاعل فعل د سرينو او پسينو په واسطه په مفعول باندي واقع کېږي.

په جمله کي د ناټيک نومځرو استعمال په ارتباطي حالت کي د سرينو او پسينو سره په لاندې ښېلګو کي :

(چا) : له چاڅخه خبره مه پټوه.

چاته د بي ځايه خبرو وخت مه ورکوه.

(څو) : له څو څخه وروسته نوبت درځي.

څو ته يي شمېر ورسېد.

(بل) : له بل څخه کار واخله.

بل ته مه وايه چي لټ يي .

(ځيني ) : له ځينو څخه غوښتنه مه کوه.

ځينو ته وخت ورکړه چي پوښتنه وکړي .

(واړه – واړو) : له واړو څخه انتقام اخيستل په کار دي.

واړو ته خبر ورکړه.

(نور – نورو) :                    له نورو څخه ګیله مه کوه.

نورو ته هدایت مه ورکوه.

(ټول – ټولو):                    ټولو ته په یوه سترګه ګوره .

له ټولو څخه یو ته جزا ورکړه.

په پورته بېلګو کې ګورو چې ناټیک نومځري له سرینو او پسینو سره د ارتباطي ترکیب په بڼه د جملو مبتداوې جوړې کړې دي او په ارتباطي حالت کې استعمال شوي دي.

**دویم : عطفي ترکیب**

عطف عربي کلیمه ده په لغت کې د یو څیز په طرف ګرځېدلو او مایل کېدلو ته وایي. اصطلاحاً : په څه کار کې اولني سره د بل شریکولو په معنا دی .

عطفي ترکیب یا عطفي مرکب هغه مرکب ته وایي چې یوه کلیمه له بلې سره د عطف اداتو په واسطه یوځای شوي وي.(۲۳۶:۲۶)

په دې ډول ترکیب کې دوه نومونه یا صفتونه د عطف ادات په واسطه سره یوځای شوي وي ؛ چې په دودیزه نومونه اول ته معطوف علیه او دوهم ته معطوف وایي (او) د عطف ادات دی .

لکه : انار او انګور ، ملالی او غازي ادې ، توریالی او بریالی ، تور او سپین ، خپل او پردي ، ټیټ او جګ ، ښه او بد ، دوست او دښمن ، موسی خان او ګلمکی ...

اړینه نه ده چې معطوف علیه او معطوف هم یوه کلیمه وي ؛ بلکې کېدای شي چې اضافي یا توصیفي او نور مرکبات په عطفي مرکب کې معطوف علیه وي یا معطوف .

لکه : د عثمان او سرور پلار ، د عثمان پلار او ماما...

کله کله کېدای شي چې پکې د عطف ادات (او یا و) رانشي ؛ لکه : وړی تږی ، خوراک څښاک او نور...

په پښتو کې لومړی معطوف علیه راځي او ترمعطوف علیه وروسته (حرف عطف) او تر حرف عطف وروسته معطوف راځي ؛ لکه :

احمد او محمود راغلل .

په دې جمله کې (احمد) معطوف علیه (او) حرف عطف ، (محمود) معطوف دی .

معطوف علیه و هغه اسم ته وايي چې بل اسم د ده و خواته عطف شوی وي او (معطوف) و هغه اسم ته وايي چې عطف يې و بل اسم ته شوی وي.

په پښتو ژبه کې نومونه ، ستاينومونه ، شمېرنومونه ، ضميرونه هر يو بېلابېل ډولونه لري ، کېدای شي هرډول يې د عطفي ترکيب په بېلګو کې په لاندې ډول راوړل شي :

۱- هغه عطفي ترکيب چې دواړه برخې يې خاص نومونه وي .

لکه په دې لاندې بېلګو کې :

- ميرويس خان او احمدخان د قندهار اوسېدونکي وو.
- اجمل خټک او خوشحال خان خټک د پښتو ژبې شاعران دي .
- ملالی او غازي ادې د انګرېزانو په مقابل کې مبارزې کړي دي.
- اشرف غني احمدزي او عبدالله عبدالله د جمهوري رياست لپاره نوماند دي.
- جان کيري او اشرف غني احمدزي سره خبرې وکړې .

د پورته هرې جملې د مبتداء په برخه دوه خاص نومونه د (او ) عطف ادات په واسطه سره يوځای شوي او د عطفي ترکيب په ډول يې د جملې مبتداء جوړه کړې ده .

**۲-** هغه عطفي ترکيب چې معطوف عليه او معطوف يې دواړه عام نومونه وي . بېلګې يې په لاندې جملو کې :

- کتاب او کتابچه د زده کوونکي لپاره اړين توکي دي.
- قلم او کاغذ د ليکنې لپاره کارول کېږي .
- هلک او نجلی يوځای راغلل.

په پورته جملو کې : کتاب او کتابچه ، قلم او کاغذ ، هلک او نجلی عام نومونه دي ، یعني د خپلو ټولو ډولونو یو ډول ښکارندویي کوي یا پر خپلو افرادو یو شان دلالت کوي او د ارتباطي ترکیب په توګه په جمله کې کارول شوي دي .

یا لکه په لاندې ډول:

هېواد او وګړي ، ونه او ډېره ، مېز او چوکی ، پوهنتون او استاد ، ښوونکی او زده کوونکی او نور...

**۳-** هغه عطفي ترکیب چې معطوف علیه او معطوف یې جنس نوم وي . بېلګې یې په لاندې جملو کې :

- چرس او شراب دواړه نېشه یي توکي دي .
- غنم او جوار د کال په بېلابېلو موسمونو کې کرل کېږي .
- کوچ او غوړي مې ډېر خوښېږي .
- نسک او شړشم په یو موسم کې کرل کېږي.
- میرویس د تېلو او غوړیو تجارت کوي.

په پورته جملو کې : (چرس ، شراب ، غنم ، جوار ، کوچ ، غوړي ، نسک ، شړشم ، تېل) جنس نومونه دي چې د (او) عطفي ادات په راوړلو سره یې په جمله کې عطفي ترکیب جوړ کړی دی ، یا لکه دا لاندې بېلګې :

جوار او غنم ، اوړه او غوړي ، تېل او اوبه ، ماسته او شوده ، مالوچ او وړی ، پالک او ټېپر ، غوښت او وړدن ، پیاز او کچالو ...

**۴-** هغه عطفي ترکیب چې معطوف علیه او معطوف یې جمعیت نوم وي . لکه په لاندې جملو کې :

- جرګه او مرکه د پښتو لرغونی دود دی.
- هارون د مېږو ګلې او رمې لري.
- میرویس خان د پښتون ولس او ټبر نه دفاع کړې ده.

په پورته جملو کې : ( جرګه ، مرکه ، ګله ، رمه ، ولس ، ټبر ) جمعیت نومونه دي چې د عطفي ترکیب په بڼه کارول شوي دي.

**۵-** هغه عطفي ترکیب چې معطوف علیه او معطوف یې معنا نوم وي . لکه په دا لاندې بېلګو کې :

- دروغ او رښتیا به یې معلوم شي .
- د پلار هیله او امید خپلو زوی ته وي .
- په ننګ او مېړانه خپلو هېواد وساتئ .
- په وېره او ډار ژوند کول بې ننګي ده.

په پورته جملو کې : ( دروغ ، رښتیا ، هیله ، امید ، ننګ ، مېړانه ، وېره ، ډار) معنا نومونه دي چې یو له بله سره د عطفي ترکیب په ډول راغلي دي .

**۶- هغه عطفي ترکیب چې معطوف علیه او معطوف یې ضمیرونه وي . لکه دا لاندې بېلګې :**

- زه او ته به سبا ته ننګرهار ته لاړ شو.
- هغه او دغه سره ورونه دي .
- څوک او څنګه به سره یوځای شي.

په پورته لومړۍ جمل ه کې د (زه او ته ) خپلواک شخصي ضمیرونه په دویمه جمله کې (هغه او دغه ) اشاري ضمیرونه او په درېیمه جمله کې (څوک او څنګه) استفهامي ضمیرونه سره د ارتباطي ترکیب په ډول راغلي دي .

یو بل ډول کلام هم په عطفي ترکیب کې راځي ، یعني هرکله چې په کلام کې دوه داسې نومونه یوځای راوړل شي چې یو نوم د بل نوم وضاحت کوي ، دغه ډول ترکیب ته هم عطفي ترکیب ویلی شو ، لکه : احمدشاه دراني ، صاحب زاده عبدالقیوم.

په دې ډول ترکیبونو کې «درانی » او «صاحب زاده» د احمد شاه او عبدالقیوم وضاحت کوي او که دا ټکي ورسره نه وي راغلي نو دا خبره مبهمه ده چې کوم احمدشاه او کوم عبدالقیوم؟

**درېیم : ندایي ترکیب**

دا ډول ترکیب له ندا او منادا څخه ترکیب شوی وي ؛ لکه ای هلکه ، ای وروره ، ای زلمیه ، ای ځوانه ، ای خورې ، ای مورې ، ای ښوونکیه .

یا :

ای زما خوږې مورې ! ، ای زما ګرانه زویه ! ، ای د احمدپلاره ! ، ای د هېواد زلمیو ! ، ای د هېواد اتلو زلمو ! ...او نور.

په پورته بېلګو کې لومړنی بېلګې د ندايي ترکيب اړوندې دي . دويمو بېلګو کې ندايي ترکيب د ندايي ترکيب او عبارت په بڼه راغلي دي .

**څلورم : استثنايي ترکيب**

چې له مستثنی او ادات څخه جوړ شوی وي ، يا له مستثنی او مستثنی منه څخه جوړ شوی وي او د استثنی ادات دا دواړه اسمونه په يو کار کې يو له بله څخه بېل کړي وي. لکه :

بې له ځلميه ، پرته له تا ، بې له ده نه ، بغير له ځلمي نه او نور ...

د استثنی څخه مراد دا دی چې يو شی له ډېر شيانو څخه يا يو سړی له ډېرو سړيو څخه په يو کار کې مسنثنی (جدا) شوی وي .

لومړي اسم ته مستثنی منه او دوهم اسم ته مستثنی وايي. په پښتو ژبه کې لومړی مستثنی منه او بيا د استثنی ادات وروسته مستثنی راځي . لکه په دا لاندې جملو کې :

ټول خلک بې له احمده راغلل . په دې جمله کې (ټول خلک) مستثنی منه (بې له) د استثنی ادات او (احمد) مستثنی دی .

مستثنی منه و هغه اسم ته واي چې د هغه څخه يو بل اسم په يوه کار کې د استثنی ادات په واسطه جلا شوی وي او (مستثنی ) و هغه اسم ته وايي چې د مستثنی منه څخه په يو کار کې جلا شوی وي .

**مستثنی په دوه ډوله ده :**

- متصله مستثنی هغې مستثنی ته وايي چې په هغې کې مستثنی منه او مستثنی له يوه جنسه څخه وي ، لکه په دې لاندې جمله کې :

ټول خلک بې له محمود راغلل.

په دې جمله کې (ټول خلک) مستثنی منه او (محمود) مستثنی دی او دواړه له يوه جنس څخه دي .

- منفصله مستثنی هغې مستثنی ته وايي چې په هغې کې مستثنی منه او مستثنی له يوه جنس څخه نه وي ؛ لکه :

احمد ماته يو آس بې له زينه راکړ.

په دې جمله کې (آس) مستثنی منه ، (بېله) د استثنی ادات او (زين) مستثنی دی چې دواړه له يوه جنس څخه نه دي.

همدغه پورتنی جمله د نحوي ترکیب له مخې په لاندې ډول تجزیه کولای شو :

ټول خلک بېله محمد راغلل:

ټول = عددي ستاینوم
خلک = معدود
مستثنی منه
فاعل
بېله =...............................د استثنی ادات
محمود = ..........................مستثنی
مفرده فعلیه جمله

راغلل= ..........................................................فعل

**پینځم : تاکیدي ترکیبونه**

پوهاند مجاور احمدزیار پخپل کتاب «وییپوهنه» کې تاکیدي ترکیبونه ، د بیاځلکي ترنګونه (تکراري ترکیبونه) تر عنوان لاندې څېړلي او داسي یې راپېژندلي دي :

« بیاځلي ترنګونه هغه دي چې د یوه ویي (لغت) په یومخیز یا برخیز تکرار سره منځته راځي ؛ لکه : ژر ژر ، کور کور، ټوټه ټوټه ، ادل بدل ، نوی زوی ، کور مور ، ونه منه ، خرپر ، سوربور، څانګي وانګي ، چانګ وانګ ، ګډوډ ، چاڼ چوڼ ، ډزو ډوز ، بېلابېل او نور... (۳۰۱:۲۷)

د لغتپوهني له مخې دا ډول لغت رغاوني که څه هم له آره ډېرې ماشومانه او عامیانه ښکاري او زیاتره له مهملاتو ا انګېنومونو ( صوتي نومونو) څخه سرچینه اخلي ، خو په لیکنی او ادبي ژبه کي ډېري څرګندوني (افادې ) اړتیاوي پوره کوي .
د مثال په ډول هغه معنا چې (کورمور) څرګندوي ، یواځې (کور) یې نشي څرګندولای .
همداچي ووایو : انارګل « کورمور» نه لري ، دا جوتېږي چې هغه یواځې کور نه ، چې نور کورته ورته هستوګنځی هم نه لري

په پښتو ژبه کي تاکیدي یا تکراري ترکیبونه له دوو همشکله او هم معنا کلیمو څخه جوړ شوي وي . چې درې بڼې لري :

۱- چې یو لفظ یا کلیمه یکي کټ مټ تکرار شوي وي .

۲- چې یو لفظ یا کلیمه په ترکیب کي په لږ تغییر سره تکرار شوي وي.

۳- چي په دويمي کليمي کي د اول توري پرځای (م) يا (پ) يا (ب) او يا (و) راوړل شوي وي.

ددې لپاره چي د تکراري يا تاکيدي ترکيبونو پر جوړښت ښه پوهېدلي وو ؛ نو ټول بياځلي تړنګونه (تکراري ترکيبونه) په جوليزو (لفظي) ډلو وېشو :

**۱- يومخيز بيا ځلي (تکراري) ترکيبونه**

چي يوه کليمه يا لغت په يومخيز ډول تکرار شي او د يوې ترکيبي کليمي په توګه يوه يواځينی معنا وښندي . دا راز ترکيبونه له صوتي نومونو پرته ، زياتره کړولي (قيدي) څرګندوني کوي.

په دې ډول :

- څيزنوم + څيزنوم = کړول تکراري ترکيب ، لکه : اغزي اغزي (کېدل) برخو برخو ، غرونه غرونه ، کلی کلی ، سر سر ، پنډ پنډ...

- ستاينوم + ستاينوم = کړول تکراري ترکيب ؛ لکه : غلی غلی ، نبغ نبغ ، جګرجګ ، پټ پټ ، پوست پوست ، تور تور او نور...

- کړول + کړول = قيدي تکراري ترکيب ؛ لکه : اوس اوس ، بېرته بېرته (کتل) ، وروسته وروسته .

- آرشمېرنوم + آرشمېرنوم = وېش، ووړ شمېرنوم ؛ لکه : اته اته ، څلورڅلور، درې درې ، يو يو ...

- صوت نوم + صوت نوم = صوت نوم ؛ لکه : بربر ، بړبړ ، چغ چغ ، چرچر، در در (باران) ژغ ژغ...

**۲- د منځتاړي په منځګړتوب جوړ شوي تکراري ترکيبونه**

چي د تکرار بنو ترمنځ يوغړ يا غړونه هم زيات شوي وي . ددې منځتاړي غړ يا غړو دنده : عطف ، نسبتيت ، ټينګار ، برابری .......دی . په دې راز ترکيبونو کي هم راز راز نومونه او ويپونه برخه اخيستلای شي . دغه راز اړونده منځتاړي غړونه ډول ډول ، لکه : الف ، را ، ما ، نا ، په ، پر ، ړد ، ل ....کېدای شي.

- د الف په منځتاړي ؛ لکه : برابر ، بېلابېل ، ډراډر ، ډګاډګ ، کوراکور، مخامخ ، سراسر ...

- د (را) په منځتاړي ؛ لکه : غونډ راغونډ ، کوراکور ، مات رامات ، پاک راپاک ، تاوراتاو( په دې ډول جوړښت کې يوازې ستاينومونه برخه اخلي . )

- د (ما) په منځتاړي ؛ لکه : چغماچغ (اندرچوب) ، چين ماچين ، چورماچور ، ګرماګړ ( ډېرشور) ، شورماشور ، ټېل ماټېل ، ترماتر، خول ماخول (ډېر ژوبل) .

- د (نا) په منځتاړي ، لکه : څه ناڅه ( تقريباً ، اصلاً ، اقلاً ، نسبتاً) ، څوک ناڅوک ، ګناه نا ګناه ، کله ناکله ، وخت ناوخت ، زړه نازړه ، موړ ناموړ ...

- د (پر) پ مختاړي ؛ لکه : اړخ پراړخ ، څنګ پرڅنګ ، غرپرغر ، هېرپرهېر ، تېرپرتېر ، ځای پرځای ، لنډپرلنډ ، سرپرسر ، خره پر خره (يوبرابر) ، توده پر توده ، تار پرتار ، خوله پر خوله ، يو پر يو ، ژر پر ژر...

ددې بېلګو له مخې ښکاري چې دغه ترنګونه (ترکيبونه) که د بنسټ ويي هر ډول نوم دی ګډه معنا يې کړول راځي.

- د (تر) په منځتاړي ؛ لکه : لېر ترلږ ، زيات ترزيات ، څنګ ترڅنګ ، خوا تر خوا، ښه تر ښه ( تر ټولو ښه) ، سر تر سر ، موړ ترموړ ، وار تر وار ، کال تر کال ، ورځ تر ورځ ...

- د (د) يا (پر) په منځتاړي ، لکه : لور د لور ، شپې د شپې ، شپه پر شپه لرې د لرې ، نژدې د نژدې ...

**٣- چې په دويمي کليمې کې د اول توري پرځای (م) يا (پ) يا (ب) يا (و) راوړل شوی وي:**

- ځيزنوم + مهمل (م) ؛ لکه : انګورمنګور ، بنګ منګ ، څوباړی موباړی ، سينما مينما ، چرګ مرګ ، خره مره ، کور مور ، پی مې ...

- ستاينوم + مهمل (م) ؛ لکه : برګ مرګ ، لړه مړه ، لوی موی ، پړمړ ، پيټ ميټ ، پلن ملن ، پوست موست ، پوخ موخ ، پوه موه ، پېړ مېړ ، تود مود ...

- ستاينوم + مهمل (پ) ؛ لکه : خړپړ ، هېښ پېښ ، غټ پټ ، نری پری ، ناول پاولی ، سوړ پوړ ، خوار پار ، تش پش ، شډل پډل ...

- صوت نوم + مهمل (پ) ؛ لکه : ګړپړ ، کړت پړت ، سوټ پوټ ، شخ پخ ، خرچ پرچ ...

- ستاينوم + مهمل ( ب) ؛ لکه : ارجل برجل ، اړنګ برنګ ، هرزه برزه ، بډ بډ ، سور بور ، تېروبېر ، زيږ بيږ ...

- ستيانوم + مهمل ( و) ؛ لکه : څانګي وانګي ، چانګ وانګ ، دړې وړې ، داني واني ، دانګي وانګي ، دړې وړې ، داني واني ، ګېوډ ، ګاري واري ، کنګال ونګال ، کج وج او نور...

**شپږم : کړولي (قيدي ) ترکيبونه**

قيدونه هغه کليمې يا ژبني توکي دي چې په يوه جمله کې د فعل معنا څرګندوي . يا هغه ژبني عناصر دي چې د يو فعل د پېښېدلو څرنګوالی ښئي . همدا څرنګوال د فعل د پېښېدو ځای يا مهال ټاکي او يا يې څرګندتيا ، اړوندتيا ، ټينګار او داسي نوري ځانګړني څرګندوی.

ځيني قيدونه جمله ، د فعل متمم هم مقيد کوي ، ځيني بيا د بشپړ فعل پر مقيدکولو سربيره فاعل يا مفعول هم توصيفوي .(۳۳: ۲۸)

د بېلګي په ډول :

فرهاد خوشحاله راغی .

چي په دې جمله کې « خوشحاله » کليمه قيد واقع شوې ده چې هم يې د « راغی » فعل قيد کړی او هم يې فاعل «فرهاد» توصيف کړی دی.دلته زموږ موخه د قيدي ترکيبونو پېژندنه ده .

قيدي ترکيبونه هغه ترکيبونه دي چې د جوړښت بنسټيز او اصلي توکي يې قيدونه وي .

دا ترکيبونه د بېلابېلو معناګانو د افادې په خاطر ځيني نورې کليمې (تاکيد ، عدد ، نوم ، سرينه ، پسينه ) ورسره يوځای کېږي او ټول ترکيب يې د قيد په توګه په جمله کې استعمالېږي .

په پښتو ژبه کې د قيدي ترکيبونو جوړښت په لاندې بڼو سره راځي :

**الف: قيد + قيد = قيدي ترکيب**

دوه غيراصلي قيدي کليمې سره يوځای کېږي او قيدي ترکيب جوړوي . لکه :

ښکته پورته ، دلته هلته ، لاندې باندې ، اېلو دې پلو ....

يا لکه په دا لاندې جملو کې :

۱- ښکته پورته يې منډې وهلې .

۲- هلته او دلته وګرځېد خو پيدا يې نکړ.

۳- لاندې باندې منزل یې وکوت.

۴- اپلو دې پلو یې کتل .

**ب: نوم + نوم = قیدي ترکیب**

دوه نومونه په تکراري ډول سره یوځای کېږي او قیدي ترکیب جوړوي . لکه : اغزي اغزي ، غرونه غرونه ، ځولی ځولی ، سیندونه سیندونه ، کلي کلي ، پند پند ....

بېلګې یې په لاندې جملو کې :

۱- په سترګو کې راته اغزی اغزی کېږي.

۲- غرونه غرونه سلامونه درته وړاندې کوم.

۳- ځولی ځولی ګلان یې راټول کړل .

۴- سیندونه سیندونه اوبه بهېدې .

۵- چنګېز کلي کلي سره لوټ کړل.

۶- پند پند غمونه زما په غاړه دي.

**ج: ستاینوم+ ستاینوم = قیدي ترکیب**

دوه ستاینومیزې کلیمې د تکرار په ډول سره یوځتی کېږي او قیدي ترکیب جوړوي . لکه :

پوست پوست ، پټ پټ ، لوی لوی ، تود تود ، خوار خوار ، غټ غټ ، غلی غلی ، وران وران ، مات مات ، ټوک ټوک...

بېلګې یې په لاندې جملو کې :

۱- فرهاد ل شیرینی څخه پټ پټ ګرځېده .

۲- لوی لوی کورونه به وران شي.

۳- غټ غټ خلک پکې اوسېږي.

۴- ټوک ټوک کتابونه یې وکتل.

۵- خوار خوار څاروي یې پکې خوښ کړل .

**د : شمېرنوم + شمېرنوم = قيدي ترکيب**

دوه شمېرنومیزې کلیمې سره یوځای کېږي ، په ګډه سره قيدي ترکيب جوړوي . لکه :

لس لس ، شل شل ، دوه دوه ، یو یو ، درې درې ....

بېلګې يې په لاندې جملو کې :

۱- لس لس يې سره بېل کړل .

۲- شل شل يې ورسېدل .

۳- یو یو لاړ .

۴- درې درې يې پکې واچول.

**هـ : شمېرنوم + شمېرنوم + نوم = قيدي ترکيب**

په دې ډول قيدي ترکيب کې دوه بېلابېل عددونه او نوم سره یوځای کېږي ، په ګډه سره قيدي ترکيب جوړوي ؛ لکه :

دوه درې کتابچې ، څلور پينځه هلکان ، پينځه شپږ ښوونکي ، دوه درې ورځې ، یو دوه ورځې او نور...

يا لکه په دا لاندې بېلګه يې جملو کې :

۱- د ټولټاکنو پايلې به په دوه درې ورځو کې اعلان شي.

۲- دوه درې کتابچې يې سره ډکې کړې .

۳- یو دوه ورځې به نورې درسره تېرې کړم.

۴- څلورپينځه هلکان راغلي وو.

۵- پينځه شپږ ښوونکي هم راغلي وو.

**و : صفت + قيد = قيدي ترکيب**

په دې ډول قيدي ترکيب کې ستاينوم له غيراصلي قيد سره یوځای قيدي ترکيب جوړوي . لکه :

ډېر ژر ، ډېر نږدې ، ډېر لرې ، ډېر کښته ، ډېر لږ ، لږ ورو ...

يا لکه په دا لاندې جملو کې :

۱- ډېر ژر به د ټولټاکنو پايلې اعلان شي.

۲- ډېر نږدې مه راځه پښېمانه به شې.

۳- ډېر لرې لاړم خو پيدا مې نکړ .

۴- ډېر کښته مه ځه .

۵- لږ ورو راشه .

**ز: ستاينوم + ستاينوم = قيدي ترکيب**

په دې ډول قيدي ترکيب کې يو ستاينوميزه کليمه له بلې ستاينوميزې کليمې سره ترکيبېږي او قيدي ترکيب جوړوي ؛

لکه : ډېر هوښيار ، ښه غښتلی ، توره خړه ، ډېر ښه ...او نور.

بېلګې يې په لاندې جملو کې :

۱- ډېره هوښيارتيا هم په درد نه خوري .

۲- ښه غښتلی يې ووزه .

۳- ډېرښه يې راسره وکړه.

۴- توره خړه کې له کوره ووت.

**ح : نومځری + نومځری = قيدي ترکيب**

لکه : څوک څوک ، چا چا ، څه څه ، کوم کوم...

**ط : ضمير + نوم = قيدي ترکيب** (د زمان او مهال قيد )

لکه : هرځای ، هرچېرته ، هر وخت ، هر کله او نور...

**ی: سرينه + نوم = مکاني قيدي ترکيب**

لکه : هم هلته + هم دلته

**ک: نوم + په + نوم = مکاني زماني قيدي ترکيب**

لکه په لاندې بېلګو کې :

ځای په ځای ، کور په کور ، کوڅه په کوڅه ، کلي په کلي ، وخت په وخت ، کال په کال ، مياشت په مياشت ، ټک په ټک ، ګړۍ په ګړۍ ...

**ل: ستاينوم + په + ستاينوم = حالتي قيدي ترکيب**

لکه په لاندې بېلګو کې :

پټ په پټه ، ښکاره په ښکاره ...

همدارنګه شمېرنوم + په + شمېرنوم ، لکه : يو په يو ، دوه په دوه...

**م: نوم + تر + نوم= زماني قيدي ترکيب**

لکه لاندې بېلګو کې :

کال ترکاله ، ساعت تر ساعته ، ورځ تر ورځې ...

**ن: قيد + تر + قيد = قيدي ترکيب**

لکه ژر ترژره ، تل تر تله

**س: ستاينوم + تر + ستاينوم**

لکه : لږ ترلږه ، ډېرترډېره

**ع: قيد + تر + ناخپلواک ضمير**

لکه : وروسته تر دې يا تر دې وروسته ، مخکې تر دې ، پخوا تردې ...

**ف: سربل (سرينه) په + ستاينوم +نوم**

لکه : په ښه توګه ، په ډېره بیړه ...

**ص: سربل (سرينه) په + نوم**

لکه : په خندا ، په ژړا ، په مړانه ، په منډه ، په تلوار

**ق: سربل په + نوم + نوم = قيدي ترکيب**

لکه : په منډه منډه ، په خندا خندا ، په ژړا ژړا ، په نارو نارو ، په چيغو چيغو ، په کړيکو کړيکو...

**اووم : اضافي ترکيبونه**

مخکې مو وويل چې ترکيب د دوو يا زياتو خپلواکو او ناخپلواکو کليمو او مورفيمونو له يوځای کېدو څخه رغښت مومي ، چې اجزا يې يو له بله سره ګرامري اړيکې لري .

په اضافي ترکيب کې اضافي حروف يا اداد د ادات او اسم څخه په ترکيب شوو مرکباتو کې له نومونو څخه وړاندې استعمالېږي .

«د» په پښتو کې د اضافت ادات دی چې له نومونو ، خپلواکو نومځرو څخه د مخه راځي ؛ لکه : د نازو کتاب ، د ملالی کور ، د سرک غاړه ، د زړه سترګې او نور...

چې په لومړي او دويم مثال کې د مضاف اليه ملکيت پر مضاف باندې ثابت شوی ، په درېيم مثال کې مضاف ، مضاف اليه ته مختص شوی او په څلورمه بېلګه عبارت کې د استعاري اضافي عبارت په توګه د مضاف او مضاف اليه ترمنځ حقيقي اړوندتوب نه ، بلکې مجازي اړوندتيا موجوده ده ، چې مخکې مو د عبارت په ډولونو کې وشمېرل .

دلته د «د» په واسطه جوړ شوي ترکيب څخه زموږ موخه د ملکيت يا نسبت او قرابت څرګندول ، د اختصاص په مفهوم ، د تشبيه په مقصد او د ظرفيت په معنا نه دی ، بلکې هدف مو هغه ترکيب دی چې «د» د يوې بلې خپلواکې کليمې د مخه د سرينې په توګه راغلی وي او اضافي عبارت نه ؛ بلکې اضافي ترکيب يې جوړ کړی وي.

«د» په فارسي کې «از» غالباً د مقيدې کليمې په ډول ليکل کېږي . لکه :

د احمد نه دمخه راغلم .

پارسي بنه : پيش از احمد امدم.

چې په پښتو جمل کې « د احمد نه دمخه » يو اضافي ترکيب دی.

«د» ښېښنې په په ډول د دغو وروستيو معناګانو لپاره په کارېږي :

**١- د وړتوب په مفهوم**

لکه : د دوستی وړ ، د مينې وړ، د ستاينې وړ ، د ملګرتيا وړ ، د ټينګار وړ ، د پرېکړې وړ ...

چې په پورته ټولو بېلګو کې دوه خپلواکو کليمو د «د» په واسطه اړيکې پيدا کړې او اضافي ترکيب يې جوړ کړی دی.

**٢- د تشبيه او مکاني اداتو سره د سريني يا سربل په توګه**

لکه : د مارغونډې ، دزمرې په څېر ، د مثال په ډول ، د هغه په ډول ، د ګل په شان ، د غشو په څېر تېز ...او داسې نور.

**٣-** د هېواد دننه ، د هېواد دباندې ، د هېواد نه بهر

**۴-** همدارنګه «د» له + پاره په ترکيب کې د موخې او کړنې د ټاکلو لپاره هم راځي ؛ لکه :

د مور دپاره (د مورلپاره ) ، د پلار دپاره ( د پلار لپاره ) د هېواد دپاره (د هېواد لپاره ) ، د خلکو دپاره ( د خلکو لپاره ) د ولس دپاره ( د ولس لپاره ) .

**اتم : فعلي ترکيبونه**

په پښتو ګرامر کې د فعلونو برخه ډېره پېچلې ده ، پراخه څېړنه غواړي. همدالامل دی چې د فعلي ترکيبونو په اړه په پښتو ګرامرونو کې ډېر څه نه دي ليکل شوي حتی په اکثرو ليکل شوو ګرامرونو کې تری يادونه هم نه ده شوې . يو نيم پښتو ګرامر کې که د فعلي ترکيب په اړه بحث شوی دی ، او په اړوند يې بېلګې وړاندې شوې ، د جملې د بېلګو سره کوم توپير نه لري .

د پنزل پښتو ګرامر کې چې پښتو کوونکی يې محمدرحيم الهام دی د فعلي ترکيبونو په باب داسې ليکلي دي:

«هغه ترکيبونه (جملې) چې له يو ادات او يو اسم څخه تشکيل شوي وي .(د پښتو فعل له اداتو سره ترکيبېږي او فعلي ترکيب جوړوي لکه :

(الف) ويې ترم ، (ب) پرې به مو ږدو . » (۴۶۴:۲۹)

که پورته ښېلګو ته ځیر شو ، هره ښېلګه یې یوه جمله ده چې د ترکیب له پېژندنې او ښېلګو سره توپیر لري .

پوهاند صدیق الله ریښتین د پښتو ژبې د لغت پوهنې په برخه کې « د پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه» ترسرلیک لاندې یو اثر لري ، په دې اثر کې یوه برخه د مرکب فعلونو او د فعلي نومونو ترکیب تر عنوانو لاندې راغلي .

په دې کتاب کې «د فعلي نومونو ترکیب » ترسرلیک لاندې داسې لیکلي دي :

«له فعلي نومو څخه مطلب مصدرونه او د حاصل مصدر نومونه دي . مرکب مصدرونه په پښتو کې د کول او کېدل په واسطه جوړېږي او دا وروسته صورتونه لري :

۱- چې (کول- کېدل) د ذاتي یا مجرد اسم نه وروسته راشي . لکه : اشر کول ، تلوار کول ، څار کول ، پام کول ، اسره کول ، پلمه کول ، جرګه کول ...

۲- چې اول جزء یې بسیط مصدر او دوهم جزء یې کول او کېدل وي . لکه :

وهل کول ، چیچل کول ، تلل کول ، ګنډل کېدل ، شړل کېدل ....

۳- چې اول جزء یې صفت وي ؛ لکه : ملامت کول ، پړ کول ، خړ کول ، خپه کول ، تړی کول ....

۴- چې اول جزء یې قیود او ادات وي . لکه : کښته کول ، وروسته کول ، یوازې کول ، ځانته کول ، پورې کول، باندې کول ، لاندې کول...

۵- بل قسم مرکب مصدرونه هغه دي چې تر کول او کېدل دمخه له یوه څخه زیات اجزاء لري .

لکه : مخه ښه کول ، تودبرېښ کول ، راشه درشه کول ، خواره واره کول ، ښلاري کول ، خوابدی کول ، پرځای کول ، په یوه خوله کېدل ، پورې راپورې کېدل ، لاندې باندې کېدل ، هغه دغه کول ...

۶- پرته له کول او کېدل څخه د ځینو نورو بسیطو مصدرونو په واسطه هم مرکب مصدرونه جوړېږي . لکه :

لاس وهل ، زړه وهل ، پورې وهل ، ټک وهل ، لاندې وتل ، لاندې ویستل ...

مرکب حاصل مصدرونه له مرکبو مصادرو څخه په لاندې ډول تیارېږي :

۷- په ټولو کول والا مصدرونو کې د (ل) پرځای (نه) راځي او مرکب حاصل مصدر ځنې جوړېږي ؛ لکه : تلوار کونه ، پخلا کونه ، وروسته کونه ....

۸- په کېدل والا مصدرو کې د (ل) پرځای (نه او هـ) راوړل کېږي او حاصل مصدر ترې جوړېږي لکه : پخلا کېدنه ، پخلاکېده او نور...» (۱۱۳:۳۰-۱۱۲)

پوهاند دوکتور مجاور احمدزیار پخپل اثر « پښتو پښویه (پایڅوړ : د ژبپوهنې بنستونه او غړپوهنه) کې د غونډلي (جملې) دننه غونډونه ، لومړی په دوو سترو غونډونو (اینسی او اینسونی) باندې وېشي او بیا وايي چې د دغو دوو غورو غونډونو دننه د پښوییزو ټولیو (مقولو یا کتګوریو) له مخې بېلابېل نومغونډونو او کړغونډونو وېشنه مومي معنا داچې منځتوکي یې یا نوم وي او یا کړ(فعل).

هغه غونډ چې منځتوکی یا زړی یې ځېزنوم یا نومځری وي ؛ د نومغونډ په نامه یادوي او هغه چې د کړ (فعل) په منځغړیتوب رغېدلي ویی غونډ وي د کړغونډ (فعلي ترکیب (verbal phrase) په نامه یادوي او داسې راپېژني :

« لکه څنګه چې مو په کړ کړپوهه او بیا کړ اوړون کې ولیدل ، یو کړغونډ له یوه اوړېدلي (ګردان) شوي یووستوي یا بېلښتي آر کړ سره د یوه یا زیاتو مرستیالکړونو او (یاهم) د کوم وییکي (ادات) په یوځای کېدو منځته راځي او دا چې د نورو ژبو غونډي په پښتو کې د کړستېږ شمېر زرګونو ته رسي او بیا له اوړوني ځېلونو سره ؛ ګرد سره له شمېره وځي ، نو اړوند کړغونډونه یې هم ناپایه دي ، ان تر دې چې ګردې نوم اوړوني او نوم ترېښتي بڼې او بیا یې غونډونه د کړهغو په سیوري (طفیل) کې استېدنه او کارېدنه مومي ، یا په لنډ ډول درسته ژبه پرې راڅرخي .

یو کړغونډ ، که له یوې خوا د غونډلي د بنستیز توک په توګه یوه کوشنی غونډله (tagmeme, clause) ګڼل کېږي ، او بل خوا د غونډلي دننه بیا لکه بل هر رغنده غونډ یوه ناشننوړ یوون (syntagm) دی ، خو د خپل رغښت دننه یې رغنده توکونه سره زیاتره سست و بابز رایوځای کړ شوي وي او له یو خجوالي سره سره شننوړ وي . په دې لړ کې یوازې څرګندیز ( اصطلاحي ) او ګړنیز (محاوروي) کړغونډ زیات ترېښتي او ناشننوړ ګڼل کېږي. ( ۲۳۰:۳۱-۲۲۹)

د همدغو ټولو څومره بیزو او څرنګیزو ځانګړتیاوو له مخې دا لاندې کړغونډونه ( فعلي ترکیبونه) سره توپیرولای شو:

**لومړی**

اداتي یا وییککړغونډ چې له اوړېدلي کړ (تصریفي فعل) ګردان شوي یا ګردانېدونکي سره یو وییکی مختاړی شوی وي .

۱- د پلوي وییکو یا په بله وینا پلوي نومځرو (را- در- ور) په مختاړي کولو سره بې له دې چې د مخکړ (preverb) په توګه نه جلاکېدونکی توک اوسي ؛ لکه :

را+ اچول = رااچول

در+اچول = دراچول

ور + اچول = وراچول

را + لېږل = رالېږل

در + لېږل = درلېږل

ور+ لېږل = ورلېږل

په همدې ډول :

رابښوول ، دربښوول ، وربښوول

راکښل ، درکښل ، ورکښل

راڅملول ، درڅملول ، ورڅملول

راګرځول ، درګرځول ، ورګرځول

مګر دغه درېګوني پلوي نومځري د مخکړونو په توګه د کړونو نه جلاکېدونکي مختاړي وي ، نو اړوند کړونه ، کړغونډونه ( فعلي ترکیبونه) نه ، بلکې کړ بېلنګونه (فعلي اشتقاق ) ګڼل کېږي . ځکه که ترې لري کړ شي ، خپلې تاکلې معناوې له لاسه ورکوي ؛ لکه : راکول – درکول – ورکول .

یا یوازې «را» د مخکړ په توګه ، لکه په راتلل ، راوړل ، راوستل ...کې .

همداسې په ګړنیز بېلنګ (مورفیمي اشتقاق) «رانیول» کې چې په دغه دویمه یا ګړنیزه معنا د (پیرل) معنا ښندي ، دغه درېګوني ادات یا پلوي وییکي له ډېرو بېلښتي کړونو (اشتقاقي فعلونو) سره چې اړوند مخکړونه یې (را- در- ور) نه وي ، هم مختاړي کېږي او کړغونډونه (فعلي ترکیبونه) رامنځته کوي ؛ لکه : راپرېوتل – درپرېوتل – ورپرېوتل ، راپرېکول – درپرېکول – ورپرېکول ، را ننه ایستل – درننه ایستل ، ورننه ایستل ، راننوتل ، درننوتل – وررننوتل ، راکښېنول – درکښېنول – ورکښېنول او داسې نور...

دا چي په ګړني او لړ و ډېر په ليکنی پښتو کي (را – در – ور) له يوه ګڼ شمېر کړو (فعلو) سره مختاړي کېږي او کړغونډونه (فعلي ترکيبونه) رامنځته کوي ، لامل يې لنډون او سپما ده . د ساري په توګه : ددي پرځای چي (هغه په غېږ کي راپرېوت ، هغه ستا په غېږ کي پرېوت ، هغه دده په غېږ کي پرېوت ) وويل شي ؛ (هغه په غېږ کي راپرېوت ، هغه په غېږ کي درپرېوت ، هغه په غېږ کي ور پرېوت) کارول کېږی .

۲- له هممانيزو «سره» «وبله» او «ځبله» سره رامنځته کېدونکي کړغونډونه لکه : سره زېښنل ، سره غږېدل ، سره اوسېدل ، سره قسم کول ، سره اخښل ، سره لړل ، سره پرېوتل ، سره پېيل ، سره وهل ، سره نښتل ، سره پوښتل، سره وژل ، سره ليدل ...
د فعلي ترکيبونو د پېژندني په پايله کي ويلای شو چي فعلي ترکيبونه هغه ترکيبونه دي چي ستره مرکزي او اصلي برخه يې فعلونه وي . دغه ډول ترکيبونه معمولاً په جمله کي د خبر (مسند) برخه جوړوي. فعلي ترکيبونه په ځانګړي توګه ګرامري معنا هم ځرګندوي او په ځانګړي توګه يوه جمله هم ګڼل کېدای شي.

په پښتو کي فعلي ترکيبونه په لاندي ډول جوړېږي:

- نوم + د فعل نوم (مصدر) = فعلي ترکيب ؛ لکه : کتاب لوستل ، ليک ليکل ، په لاره کي درېدل ...
- مصدر + فعل = فعلي ترکيب ، غوښتل کوم ، رتل کوي ...او نور.
- قيد + فعلي ترکيب = فعلي ترکيب ، لکه : عادلانه چلند کول .
- نوم + کومکي فعل = فعلي ترکيب ، لکه : انسان يم ، انسان دی ، ښوونکی يم.
- صفت + کومکي فعل = فعلي ترکيب ؛ لکه : جوړ يم ، ناروغ يم ، ښه يم .
- قيد + کومکي فعل = فعلي ترکيب ؛ لکه : لري يم ، نژدي يم ، دلته يم ، هلته يم .
- عدد + کومکي فعل = فعلي ترکيب ؛ لکه : يو دی ، دوه دي ...
- د يم ، وم کومکي فعلونه + فعلونه يا فعلي صفتونه = فعلي ترکيب ؛ لکه : راغلی يم ، ګرځېدم ، راغلی ومخ ، ګرځېدلی وم ...
په همدي ډول نور .

پورته مو د فعلي ترکيبونو په اړوند بېلابېلي بېلګي او د پښوييپوهاندو (ګرامرپوهو) اندونه وړاندي کړل ؛ خو زما په اند يوه خبره چي دلته يې يادول اړين دي هغه دا ده چي :

زموږ فاضلو ګرامر پوهانو د فعلي ترکیبونو په جوړښت کې چې کومې بېلګې وړاندې کړي له هغو سره یې دا هم ښودلي چې په فعلي ترکیبونو کې اصلي او اساسي توکی فعل وي ، چې دغه ډول ترکیب معمولاً په جمله کې د مسند (خبر) برخه جوړوي ، دغه ترکیبونه په ځانګړې توګه د ګرامري معنا له مخې معنا هم څرګندوي او په ځانګړې توګه یوه جمله هم ګڼل کېدای شي.

لکه : وبه یې ګوري ، رابه وړم ، ولاړ به شم ، کولای شم ، لیکلای شم ، منځته راغله ، رامنځته شوه ، پای ته ورسېد، پای ته ورسول شو ، له منځه ووت ، له منځه یووړل شو...او ځیني نور.

کله چې دا ډول ترکیب په ځانګړې توګه جله ګڼل کېدای شي ؛ نو بیا ولې دې ته ترکیب وایي ؟ که چېرې دوي دا ترکیب یا عبارت ګڼي ؛ نو په جمله کې نه شي راتلای ؛ ځکه چې ترکیب او عبارت بیا د جملي ځانګړتیاوې او خصوصیات نه لري.

هغه د فعلي ترکیب بېلګې چې بشپړه معنا لېږدوي او د جملې د مسند (خبر) په توګه راځي هغو ته دې د جملي نوم ورکړل شي ، او هغه فعلي ترکیب چې د فعلي کلیمو او نورو الفاظو او اداتو څخه جوړ شوی وي او د جملي په څېر مخاطب ته بشپړ مفهوم نه شی لېږدولی هغه دې د فعلي ترکیبونو په بېلګو کې راوړل شي او د فعلي ترکیب نوم دې ورته ورکړل شي.

**راز راز ترنګونه (ترکیبونه)**

د نورو ډېرو ژبو غوندې په پښتو ترکیبونو کې داسي ډولونه هم شته چې د غونډو (فقرو) او غونډلو (جملو) بڼې لري.

غونډېز ترنګونه ؛ لکه : واښه پرخوله ، رسی پرغاړه ، ځان خپه ، بي بي خوشحاله ( د یو ټوکر نوم دی) له اوښکو ډکې سترګې (چاته واړومه) ...

غونډله ییز ترنګونه ؛ لکه : ښه راغلئ ، ښه راغلاست ، ستړی مه شي ، خواره مه شي ، مخه ښه ، خدای پاماني ، راکړه ورکړه(ورسره نه لرم) ، یا د متلونو په بڼه ؛ لکه : مه مره او مه رغېږه ( بخور و نمیر) ، بېل یې کړه – اېل یې کړه ـ تفرقه انداز و حکومت کن) او نور...

عسکري بولی او نوموني چې له نولسمې پېړی راهیسې یې پښتو ته لیار موندلي ده هم د دغه راز ترنګونو په توګه کارول کېږي ؛ لکه : تیار سئ ، ارام سئ ، ولاړسئ ، پروت سئ ، سلام کئ ، راحت کئ ، کښېنئ ، وړاندې مارش ، وړاندې ګور ، ښی خوا ګرځ ، کیڼ خوا ګرځ ، پښه پرځای (چپرځای) ، درېږ (درېش) ، اوربل ، اوربند ، لاسونه پورته او داسي نور ...البته دغه بولی هم د ورکولو په وخت کې د امریه جملو بڼه لري او د نورو بېلګو غوندې هله د ترنګونو بڼه پیدا کوي چې د ناشنوینو یوونونو (واحدونو) په توګه په جملو کې وکارول شي ، لکه د یو عسکر له خولې چې وایي:

«ما تیار سئ او ارام سئ ....زده کړي دي .» (ډاکټر زیار ، ۱۹۸۱میلادي)

پوهاند دوکتور محمدحسین یمین پخپل اثر دستور معاصر زبان پارسي – دري کې د غونډو (فقرو) په باب داسي لیکي :

«فقره هم د ژبې لـه کلـي واحدونو څخـه ده او د جملـي بنسټیز ارکـان (مبتداء او خبـر) لـري ؛ خـو کلـه کلـه د معنـا لـه مخـې د لـوی جوړښت یوه برخه ګرځي او مقیدېږي او کله کله د یو خپلواک (ازاد) ګرامري واحد په توګه کارول کېږي . (۱۶۳:۳۲)

د بېلګي په توګه :

«پسرلی راغی» یوه خپلواکه ګرامري بنه ده چي اینوی او اینونی (مبتدا او اخبر) دواړه لري ؛ خو کـه وویل شـي : پسرلی چـي راغـی ، مقیده شوه او خپلواکه ګرامري بنه نه لري . په دغه حالت کي باید یوه بله ګرامـري بنـه ورسـره یوځـای شـي چـي معنـا یـي بشپړه شي. لکه :

«پسرلی چي راغی نړۍ ښکلي کېږي.»

په پورته ګرامري بنه کي : « پسرلی چي راغی » یوه مقیده او ناخپلواکه ګرامري بنه ده او «نړۍ ښکلي کېږي» یوه خپلواکـه یـا ازاده ګرامري بنه او فقره ده .

ځیني داسي غونډونه (فقري) هم شته چي د معنا له مخې ګرامري بنه لري ؛ خو د بڼي او جوړښت له مخې د جملـي بنسټیز ارکـان (مبتداء او خبر) نه لري ؛ لکـه : خـداي پـه آمـان ، سـهار پـه خیر ، ماښـام پـه خیر ، شـپه پـه خیر او نـور . چـي دغـه ډول فقرو تـه کوچنۍ فقرې ویلی شو.

د بڼي له مخې فقرې په دوو ډولونو ( کوچنۍ فقرې او لویې فقرې ) بېلېږي .

- کوچنۍ فقرې هغه فقرې دي چي د جملي بنسټیز ارکان مبتداء او خبر نـه لـري ؛ لکـه : هـو ، افسـوس ، احمـده ! ، هېڅ ، بلي ، دلته او نور .
- لویې فقرې هغه دي چي د جملي اساسي ارکان (مبتداء او خبر) لري ؛ لکه : چېرې یې ( ته چېرې یې ؟ ) څه کـوې ( تـه څه کوې؟) او نور...

لویې فقرې بیا په دوه ډولونو باندې بېلېږي :

- یو ډول یې ازاده یا خپلواکه فقره ده ، چې ظاهراً د بنې له مخې بشپړه وي او کولای شو هغه بې له کوم بدلون څخه په ازاده او خپلواکه بڼه وکاروو او یو بشپړ مفهوم د هغې په واسطه ولېږدوو. لکه :

ملالۍ راغله ، اڅک ولاړ...

دلته اڅک ولاړ ، یوه ازاده فقره ده په یوازې ځان هم کارېدلی شي.

- بل ډول مقیده فقره ده چې په خپلواک ډول یې نشو کارولی او په یوازې ځان یې مفهوم بشپړ نه وي ؛ لکه په لاندې بېلګو کې چې دویمې فقرې یې مقیدې او ناخپلواکې دي.

ملالۍ راغله او ګلالۍ لاړه .

هغه غیرحاضر شو ، ځکه چې ناوخته راغی.

د معنوي اړیکو له مخې لویې فقرې بیا په دا لاندې ډولونو باندې وېشل کېږي :

**۱- نیمګړې یا ناقصې فقرې**

چې معنا یې پخپل ذات کې بشپړه نه ده ؛ بلکې یوې بلې جملې ته اړتیا لري ؛ لکه په دې لاندې جملو کې :

ګل مې ولید ..............(چې په باغ کې غوړېدلی وه.)

چې کرې ................(هغه به رېبې)

**۲- بشپړوونکې (متممې ) فقرې**

هغه چې د ناقصو او نیمګړو فقرو د بشپړتیا او یا د نیمګړو فقرو د مفعوم د پوره کولو لپاره راځي ، یعنې د هغوی معنا بشپړوي ؛ لکه په پورته بېلګو کې (چې په باغ کې غوړېدلی وه) او (هغه به رېبې)

**۳- معترضه فقرې**

چې د جملو په منځ کې راځي او له اصلي موضوع سره مستقیماً څه اړه ونه لري ؛ بلکې یو څه اضافه تشریح وي ، که هغه له جملې څخه حذف هم شي ، د جملې مفهوم ته کوم زیان نه رسېږي.

معترضه فقره معمولاً په جمله کي د ليندېو (    ) ترمينځ نيول کېږي . او ځيني يي د کامي (،) ليک نښي په واسطه د جملي له متن څخه بېلوي لکه په دې لاندې بېلګو کي :

- احمد او بريالى (چي ورونه دي) ننګرهار ته ولاړل.

- پوهاند حبيبي ، اروا دې ښاده وي، د پښتو ادبياتو پياوړی څېړنکی وه . (۸۰-۳۳:۷۸)

**د دربېيم څپرکي لنډيز او پوښتني**

په دربېيم څپرکي کي مو د ترکيب د پېژندني په اړوند د پښتو په ليکل شوو ګرامرونو کي بېلابېل تعريفونه وړاندې کړل او همدا ډول مو د ترکيب اته بېلابېل ډولونه د بېلګو سره تر بحث لاندې ونيول.

په رښتيا هم چي پښتو پښوييپوهاندو ؛ غونډ ، ترکيب او عبارت تر يو عنوان لاندې راوستي دي ، د عبارت او ترکيب توپير ته قايل شوي نه دي ، حتی تر دې چي په بعضي مواردو کي يي يوې بشپړې جملي ته هم د ترکيب نومونه کارولي ده .

- که ښه ځير شو عبارت او ترکيب د جوړښت او د کليمو د مطابقت له مخي سره يوراز نه ، بلکي توپير لري . کومي ځانګړني چي عبارت يي لري ، هغه ځانګړني بيا ټولي په ترکيب کي نه تر سترګو کېږي .

- ترکيب د دوو يا زياتو خپلواکو او ناخپلواکو مورفيمونو مجموعه ده چي برخي يي يو بل سره ګرامري اړيکه ولري .

په عبارت کي د دوو خپلواکو کليمو موجوديت او د يوې خپلواکي کليمي مطابقت بلې ته اړين دی ، مګر په ترکيب کي کيدای شي يوه کليمه خپلواکه او بله يي ناخپلواکه وي . په يو ترکيب کي دوه يا له دوو څخه زياتي خپلواکي او ناخپلواکي کليمي سره يوځای کېږي او د ترکيب يو ډول رامنځته کوي ؛ چي په لنډېز سره يي له هر ډول څخه يادونه کوو:

چي له اړيکوييکو (له ، په ، تر) سرينو ، ( کي ، سره ، پسي ، پورې ) پسينو ناخپلواکو مورفيمونو او نوميزو کليمو له يوځايوالي څخه رغېدلی وي ؛ لکه : له افغانستن نه ، په کابل کي ، تر پېښور پورې ، په ملالی پسي ، له ښونځي نه ، په هېواد کي ، په جرګه کي ، له ولس سره ، په وېره کي ، په غنمو کي ، ترغنم لو پورې ، له ما څخه ، تاته ، له ده څخه ، له ده سره ، له دې سره ، له هغه سره ، له هغې سره ، له چاسره ، له کوم هلک سره ، له کومي نجلی سره ، له ځينو څخ ، له نورو څخه او داسي نور ...

په عطفي ترکیب کې دوه نومونه یا صفتونه د عطف ادات په واسطه سره یوّای شوي وي ؛ لکه : انار او انګور ، ملالی او نازو آنا ، د ملالی مور او انا ، وړی تړی ، خوراک څښاک ، میرویس خان او احمدخان ، کتاب او کتابچه ، چرس او شراب ، غنم او جوار ، جرګه او مرکه ، دروغ او رښتیا ، زه او ته ، هغه او دغه ، څوک او څنګه او داسې نور...

ندایي ترکیب چې له ندا او منادا څخه ترکیب شوی وي ؛ لکه : ای هلکه ! ، ای ځوانه ، ای زما خوږې مورې ...

استثنایي ترکیب لکه : بې له زلمیه ، پرته له تا ، ټول خلک بې له محموده او داسې نور...

تاکیدي ترکیب چې د یوې کلیمې په یو مخیز یا برخیز تکرار سره منځته راځي ؛ لکه : ژر ژر ، ادل بدل ، کور مور ، چانګ وانګ ، بېلابېل ، کوراکور ، مخامخ ، تاوراتاو ، شورماشور، هېر پرهېر ، خورا ترخوا، لرې د لرې ، انګور منګور ، خره مره ، پی می او داسې نور...

چې د جوړښت بنسټیز او اصلي توکي یې قیدونه وي او دبېلابېلو معنا ګانو د افادې په خاطر ځینې نورې کلیمې (تاکید ، عدد ، نوم ، سرینه ، پسینه ) ورسره یوځای کېږی او ټول ترکیب د قید په توګه په جمله کې استعمالېږي ؛ لکه :

ښکته پورته ، هلته دلته ، لاندې لاندې ، سیندونه سیندونه ، پټ پټ ، لوی لوی ، یو یو ، لس لس ، ډېر ژر ، ډېر نږدې، څوک څوک ، ډېر شه ، هم هلته ، هم دلته ، کال په کال ، میاشت په میاشت ، کور په کور او داسې نور ...

د اضافي ترکیب څخه موخه د ملکیت یا نسبت او قرابت څرګندول نه ؛ بلکې هدف مو هغه ترکیب دی چې «د» د یوې بلې خپلواکې کلیمې د مخه د سرینې په توګه راغلی وي او اضافي ترکیب یې جوړ کړی وي ؛ لکه : د احمد نه ، د احمد نه د مخه ، د دوستی وړ ، د مار غوندې ، د مور دپاره ، د ولس دپاره او داسې نور ...

فعلي ترکیبونه چې د پښتو فعل له اداتو سره ترکیبېږي او فعلي ترکیب جوړوي . لکه : اشر کول ، ملامت کنول ، کښته کول ، پورې وهل ، لاس وهل ، تلور کونه ، پخلا کونه ، را اچول ، وراچول ، ورلېږدول ، درڅملول ، راګرځول او داسې نور ...

د نورو ډېر ژبو غوندې په پښتو ترکیبونو کې داسې ډولونه هم شته چې د غونډو (فقرو) او غونډلو (جملو) بڼې لري ؛ لکه : وابښه پر خوله ، رسی پر غاړه ، له اوښکو ډکې سترګې ... ښه راغلئ ، ښه راغلاست ، مخه ښه ، خدای پامانې ، سترې مه شې ، خوار مه شې او داسې نور...

## تمرین او پوښتنې

### لومړی تمرین

محصلین دې د ټولګي د شمېر په پام کې نیولو سره په ګروپونو وویشل شي او هر ګروپ دې لاندینی متن په ځیر سره ولولي ، د ترکیبونو بېلابېل ډولونه دې سره بېل کړي ، بیا دې په وار سره خپلو ټولګیوالو ته ووايي:

-« روښاني غورځنګ زموږ د هېواد د علمي ، ادبي – عرفاني ډګر او د پردی په وړاندې د خپلوکی غوښتنې او ترلاسه کولو لپاره د ملي مبارزو د لړۍ یوه زرینه کړی ده ، چې د افغاني تاریخ ځانګړې او ځلانده باب یې جوړ کړی دی.

ددې ملي ، ادبي ، تصوفي او عرفاني غورځنګ مشر او بنسټګر بایزید روښان انصاري ، د قاضـي عبدالله اورمړ زوی و ؛ چې دودیز دینـي علوم ی لـه خپلو پلار او ملاپاینده ځخه ولوستل ، پـه ځوانی کې یې څه موده ظـاهراً د سوداګری لپاره د هندوسـتان او خراسـان سفرونه وکړل ، بیـا یـې لـه دې کـاره لاس واخیسـت ، د یـوې ځـانګړې تصـوفي – عرفـاني لارې او ملـي غورځنګ د جوړولو هوډ یې وکړ.

د علمي او عملي هلوځلو په نتیجه کې د هغه پر بنسټ اینبودلو بریـالی شـو. زیـاترو څېړنـو کـې دده زوکـړه پـر ۹۳۱هجري قمـري کال د پنجاب په جالندهر کې ښودل شوې ده ؛ خو د پېښو تـاریخي بهیر تـه پـه کتنـه ذکر شـوې نېټه ناسمه جوتېږي . د روښـان او روښاني غورځنګ په اړه د معتبرو او موثقو منابعو په رڼا کې د ترسره شوې یوې څېړنـې لـه مخـې ۹۲۵هــ.ق. یـا ۹۲۶ هجـري قمري د هغه د زوکړې د کال په توګه منو.

همدارنګـه یـې د مړینـې کـال پـه هکلـه هم بېلابېلـې نېټـې (۹۹۴هــ. ق ، ۹۹۳ هــق ، ۹۸۸هــ . ق. ،۹۸۹هــ . ق . ، ۹۸۰هــق. ، ۹۸۶هـق. ) کلونه ښودل شوي دي .

د استاد عبدالشـکور رشـاد د څېړنـې لـه مخـې د بایزیـد روښـان د مړینـې کـال ۹۸۰هــ . ق. او د زلمـي هېوادمـل د لیکنـې لـه مخـې ۹۸۵هـق. ګڼل شوی دی.

### دویم تمرین

محصلین دې لاندې متن په ځیر سره ولولي ، د عبارت بېلابېل ډولونه او د ترکیب بېلابېل ډولونه دې پکې ونوموي او د بېلګو په رڼا کې دې د عبارت او ترکیب په توپیرونو باندې بحث وکړی.

**د خاطراتو کتابچه**

یو وخت یوه کورس ته روان وم چې لمو ته د لیکوالی تخنیکونه ورزده کړم . د کورس اوله ورځ وه . د لیکوالی په اړه د تېرعمر تجربه او کړي مطالعه مې رایادوله چې تر ګردو مهمه خبره په لومړی ناسته کې وکړم.

په هغه ورځ مې راغلیو زلمو ته وویل چې د لیکوالی د زده کړي او په دې تکار کې د پرمختګ لپاره تر ګردو ښه طریقه دا ده چې سړی د خاطراتو کتابچه ولري او هره ورځ لس ، پینځلس دقیقې د ورځنیو خاطرو لیکلو ته بېلې کړي ،چ

په هغې ورځ اوس څو کال تېر دي او تر ننه پورې فکر کوم چې د خاطراتو لیکل د هغو زده کوونکو ، محصلانو او ځوانانو لپاره چې غواړي تکړه لیکوالان شي ډېره ګټه لري . که له ځاه اوبه راونه باسو ځاه وچېږي دغه راز که همېشه لیکل ونه کړو د لیکلو استعداد مړاوی کېږی ، د ورځنیو خاطراتو لیکل په تېره بیا زلمو لیکونکو ته چې موضوع ورسره کمه وی، د پرله پسې لیکلو یو پرانستی میدان دی . د لیکوال اصلي کمال دا دی چې ځان بیان کړي یعني هغه څه چې ده ته ښکاري ، دی ورنه خوند اخلي او دی یې احساسوي ، هغه لوستونکي ته ورسوي.

د ورځنیو خاطراتو د لیکلو بله ګټه داده چې له وخته سمې استفادې ته مو هڅوي . کله چې مو ورځ فعاله تېره کړې وي او ماخوستن یې ریوټ لیکو په جنتي خوند کې ډوبېږو ؛ خو که مو وخت وژلی وي ناکراري احساسوو . لوی لیکوال د بل هر ډګر بریالي کس غوندې هغه څوک دی چې د وخت په قدر پوهېږي او په دې خبر دی چې زموږ ورځې زموږ پیسې دي دغه پیسې اوته هم اچولی شو او د معنا و ښکلا دنګې مانۍ هم ورباندې جوړولی شو.

لاندې پوښتنو ته لنډ ځوابونه ورکړئ :

۱- ترکیب څه ډول راپېژنئ ؟

۲- د ترکیب او عبارت توپیر څنګه کولای شئ؟

۳- د ژبني ترکیب او مرکب نوم ترمنځ که توپیرموجود وي واضح یې کړئ.

۴- ترکیب او مشتق نوم سره څه توپیر لري؟

۵- د استثنایي ترکیب او قیدي ترکیب ترمنځ توپیر څنګه څرګندولای شئ؟

۶- فقره څنګه راپېژنئ ، د بنې له مخې کوم ډولونه لري؟

**سمي او ناسمي پوښتني**

لاندې هره پوښتنه په غور سره ولولئ ، که سمه وي (ص) او که ناسمه وي (غ) ورته وليکئ.

۷- (       )د اضافي ترکيب څخه موخه د ملکيت او قرابت څرګندول دي.

۸- (       )ښه راغلاست ، مخه ښه ، خدای پاماني د فعلي ترکيب په بېلګو کې راتلای شي.

۹- (       )په عطفي ترکيب کې دوه نومونه يا دوه صفتونه د اضافت اداتو په واسطه سره يوځای کېږي.

۱۰- (       )په يو ترکيب کې دوه يا له دوو څخه زياتې خپلواکې او ناخپلواکې کليمې سره يوځای کېږي.

۱۱- (       )د فعلي ترکيبونو ستره او اصلي برخه نومونه او ضميرونه تشکيلوي.

۱۲- (       )هغه غونډ چې منځتوکی يا زړی يې څيزنوم يا نومځری وي د نومغونډ په نامه يادېږي.

۱۳-(       ) له فعلي نومونو څخه مطلب مصدرونه او د حاصل مصدرو نومونه دي.

۱۴-(       ) د «د» په واسطه جوړ شوي ترکيب کې زموږ موخه د ملکيت څرګندول نه دي.

۱۵- (       )«د احمد نه دمخه» اضافي عبارت نه ؛ بلکې د اضافي ترکيب بېلګه يې ګڼلای شو.

۱۶- (       )په عطفي ترکيب کې دوه کليمې د عطف ادات په واسطه سره يوځای شوې وي.

**څلورځوابه پوښتني**

لاندې هرې پوښتنې ته څلورځوابه ورکړل شوي دي ، تاسې سم ځواب په نښه کړئ .

۱۷- «انار او انګور» کوم ډول ترکيب دی :

الف: قيدي ترکيب       ب: ندايي ترکيب       ج: استثنايي ترکيب       د: عطفي ترکيب

۱۸- لاندې هغه عطفي ترکيب په نښه کړئ چې د جوړښت توکي يې عام نومونه وي :

الف: اجمل خان او ايمل خان       ب: د ملالی کور       ج: بې له تا       د: کتاب او کتابچه

۱۹- لاندې هغه ترکيب په نښه کړئ چې معطوف او معطوف عليه يې جنس نومونه وي:

الف: جرګه او مرکه       ب: هغه هلک       ج: چرس او شراب       د: زه او ته

۲۰- لاندې ترکيبونو کې ندايي ترکيب په نښه کړئ :

الف: ای خلکو       ب: څوک او څنګه       ج: کورمور       د: پوست موست

۲۱- په لاندې ترکیبونو کې اضافي ترکیب په نښه کړئ:

الف: غونډ راغونډ ب: اوس اوس ج: چرګ مرګ د: د ستاینې وړ

**مقابلوي پوښتني**

لاندې ښي طرف ته د ترکیب نوم او چپ طرف ته یې پېژندني راغلي ، تاسې یې سره انډول کړئ :

| | |
|---|---|
| ۲۲- ( )د پښتو فعل له اداتو سره یوځای کېږ/ي او ترکیب جوړوي | ۱- ارتباطي ترکیب |
| ۲۳- ( )چې له اړیکوییکو (له ، په ، تر) سرینو (کې ، سره ، پسې) پسینو او نومیزو کلیمو له یوځای والي څخه رغېدلي وي. | ۲- عطفي ترکیب |
| | ۳- فعلي ترکیب |
| ۲۴- ( )په دې ډول ترکیب کې دوه نومونه یا صفتونه د عطف په واسطه سره یوځای کېږي. | ۴- قیدي ترکیب |
| ۲۵- ( )چې له ندا او منادا څخه ترکیب شوی وي. | ۵- اضافي عبارت |
| ۲۶- ( )چې له یوې کلیمې په یو مخیز یا برخیز تکرار سره منځته راځي. | ۶- اضافي ترکیب |
| ۲۷- ( )چې د جوړښت بنسټیز او اصلي توکي یې کړولونه وي . | ۷- تاکیدي ترکیب |
| ۲۸-( ) په دې ډول ترکیب کې اضافت ادات له نومونو ، خپلواکو نومځرو څخه دمخه راځي . | ۸- ندایي ترکیب |
| ۲۹- ( )چې له مستثنی او ادات څخه جوړ شوی وي | ۹- استثنایي ترکیب |
| ۳۰- ( )چې د یو ناجوت وګړي یا څیز لپاره راځي . | ۱۰- اشاري نومځری |
| ۳۱- ( )چې د اشارې په ډول د یو یا ډېرو وګړو او څیزونو یادونه کوي | ۱۱- پوښتنومځری |
| | ۱۲- ناټیک نومځری |

## څلورم څپرکی

### غونډله (جمله) یا (*sentence*)

ژبه د غږیز(صوتي) نښو او علامو یو نظام دی ، چې د دغو غږیزو نښو له ترکیب څخه لفظي نښې رامنځته کېږي او له همدغو لفظي نښو یا کلیمو څخه په یوازې یا یوه له بلې سره د یوځای کېدو په نتیجه کې د ژبې نحوي علامې او نښې نښانې راڅرګندېږي چې هغو ته ګرامري بڼه یا شکل ویل کېږي او له هغو څخه وینا یا خبرې جوړېږي.

موږ د وینا ، خبرو اترو یا لیکلو په ترڅ کې اړ کېږو چې غونډلي ( جملې ) جوړې کړو ، د هرې جملې په جوړولو سره به مو اصلي موخه دا وي چې اورېدونکو یا لوستونکو ته یو نظر یا فکر ولېږدوو ؛ نو د یوې غوره وینا او یو ښه لیک د وړاندې کولو لپاره ، سمو او ښو جملو ته د جوړولو مهارتونه به زده کړو ، د جملې ځانګړتیاوې د کلیمې د معنی ترتیب ، مفهوم او بشپړتیا له پلوه وپېژنو ، د جمل د جوړښت رغنده توکونو پېژندنه به وکړو...

#### د جملې تعریف او پېژندنه

جمله یوه عربي کلیمه ده لغوي معنا یې مجموعه او ټولګه ده او په اصطلاح کې د مورفیمونو او کلیمو یوه داسې ترتیب شوې مجموعه ده چې یو بشپړ مفهوم او مطلب ورڅخه پوهېدل کېږي.

یا په بله وینا :

جمله د یوې ژبې هغه خپلواکه ګرامري بڼه ده چې هم د جوړښت او هم د معنا له مخې پوره او بشپړه وي ، یعنې جمله د الفاظو او کلیمو مجموعه ده ، چې یو له بله نحوي اړیکې ولري ، پوره او خپلواکه معنا او مفهوم وړاندې کوي. (۱۱۱:۳۴)
عربي جمله ، پښتو غونډله ، سینټنیس ( sentence) یې انګرېزي نومونه ده چې په لغت کې مجموعې ته وایي ، د داکترې زرغونې زېور په اخځلیک چې د ژبني اصطلاحي قاموس په استناد یې لیکلي دي ؛ جمله یو لړ داسې نورې معناګانې لکه ( پرېکړه ، حکم ، جزا) او نورې هم لري .

ښايي غونډله یا جمله په هره ژبه کې د ځانګړو معناوو درلودونکي وي ولې ګرامري معناوې یې سره ورته یا یو ګډل کېږي.

دلته زموږ موخه په گرامري چاپيريال کې غونډلي (جملې) پېژندل دي . د جملې تعريف او پېژندني په اړه د ژبپوهانو ترمنځ د نظر يووالی نه ليدل کيږي ؛ نو ښه به دا وي چې لومړی د جملي د تعريف په اړوند د څو پوهانو نظرونه راواخلو او بيا غونډله ( جمله ) تعريف کړو.

ارستو د جملي په باب داسي ويلي دي:

« هره نظريه (مفهوم) د جملي په شکل څرګنديږي ، مګر ټولي جملي مفاهيم نه څرګندوي ، په جمله کي ممکن سوال ، خبرداری او داسي نور مفاهيم ځای شي ، خو پرته له دې څخه ممکنه ده ، چي يو فکر د شعور د ځينو نورو اشکالو په واسطه هم ورسول شي . »

دی وايي :« جمله د دماغ فعاليت انځوروي او جمله د احساس د څرګندولو وسيله هم ده . » همدارنګه په پخوانی فلالوژي کي داسي ښودل شوي ده چي جمله مفاهيم د الفاظو په مرسته څرګندوي ، او يا جمله داسي يو ترکيب دی چي پوره مطلب څرګندوي.

له نن څخه کابو (۲۰۰۰) کاله د مخه په لرغوني يونان کي يوناني پوه : ديونيوسس تراکس ( Dionysius Thrax) د يوناني ژبي د قاعدي په باب يوه کوچنی رساله ليکلي وه ، په هغي کي يي د جملي تعريف او پيژندنه په لاندي ډول کړي ده :

- « جمله په نظم او نثر کي د کليمو او الفاظو د مجموعي څخه عبارت ده چي پوره معنا او مفهوم څرګند کړي.»

په لغت نامه دهخدا کي د جملي تعريف داسي راغلی دی :

- د کلام ترټولو کوچنی ترين واحد دی چي بشپړه معنا ولري او د مسنداليه او مسند لرونکي وي.

داکتر معين په لږ تغيير سره همدا پورته تعريف په خپل فرهنګ کي راوړی دی .

غربي ګرامر ليکونکو هم د تراکس تعريف منلی دی ، ولي له دوي څخه د مخه عربي ګرامر ليکونکو هم د تراکس په تعريف سره خپله موافقه ښودلي ده ؛ خو ډېريو جمله د کلام په نامه بللي او داسي يي تعريف کړي ده :

- « جمله يو بشپړ پوره مطلب رسوي.»

ولي بيا دا خبره تر يوې اندازې پورې په منطقي لحاظ سمه نه ګڼي او وايي چي د بشپړتوب او نابشپړتوب په باب کوم خاص بريد نه شو ټاکلی ځکه په وينا کي جملي يو په بل پسي دوام پيدا کوي او يا دا چي جمله د خپلي قريني په نسبت په ډېر لنډ چوکاټ کي څرګندېدای هم شي؛ د بېلګي په ډول ؛ که ووايو :

ميرويس پوهنتون ته ولاړ ؟

ځواب به داسي وي : هو   يا   نه .

په (۱۹) پېړی کي ځينو ګرامر پوهانو دا هڅه کړې ده چي جمله د يو منطقي قضاوت د فعلي ترکيب په توګه وپېژندل شي . د منطق له نظره د جملي په هکله بوسلايف روسي پوه په خپل يو اثر ( د روسي ژبي تاريخي ګرامر) کي ويلي دي :

- «هغه قضاوت (نظر) چي د الفاظو په واسطه څرګند کړای شي جمله ده .»

د نولسمي پېړۍ په پای او د شلمي پېړۍ په پيل کي په لويديځه نړۍ او روسيي کي د جملي په باب روحياتي نظريي منځته راغلي او ګرامر پوهانو په دې برخه کي ډول ډول څېړني وکړې او خپلي نظريي يي وړاندې کړې . د دغه نظريي له نمايندګانو څخه په شوروي کي شاخمتوف دی چي د جملي په باب يي خورا زياتي څېړني کړي دي ؛ خو بشپړي نتيجي ته هم نه دی رارسېدلی .

تر ده وروسته ف . ف فرتوناتوف د عنعنوي ګرامر پلوي د جملي په باب داسي بيان کړی دی :

- « جمله يو ډول د کليمو د ترکيب څخه ګڼي او ليکلي يي دي : « د وينا هغه ګرامري ترکيبونه چي په جمله کي استعمالېږي په جمله کي د ګرامري مبتدا او ګرامري خبر په توګه راځي . » (زرغونه زېور ، پښتو نحوه ، ۲۹ مخ)

ايراني ژبپوه داکتر پروېز خانلري د جملي تعريف د تراکس په ډول کړی دی او يوازې د نظم او نثر الفاظ يي ترې ايستلي دي . دی وايي:

- « جمله يک يا مجموع چند کلمه است که بر روي هم پيام کاملي را از گوينده به شنونده برساند.» (۳۵:۳۰۰)

يا :

- جمله مجموعه يي از کلمات است که بر روي هم داراى يک مفهوم تمام و کامل باشد.

له دې وروسته زموږ ځينو ژبپوهانو غونډله (جمله) داسي راپېژندلې ده :

- « جمله د الفاظو او کليمو يو داسي ترکيب دی ، چي يو بشپړ مفهوم افاده کوي . »

يا په بله وينا :

- « خبري او ويناوې د جملو په مرسته کېږي او پرته له جملو خبري او ويناوې نه تر سترګو کېږي.»

پر دې سربېره په ځينو ګرامرونو کي د جملي پېژندنه دارنګه راغلې ده :

- جمله د کليمو له يوځای کېدو څخه جوړېږي او هم د نحوي کوچني واحد ته جمله وايي.»

يا په بل عبارت:

- د يو مقصد د څرګندولو لپاره اړ يو چي کليمي سره يوځای کړو ؛ نو له دي امله د يو شمېر کليمو او لفظونو له يوځای کېدو څخه کلام يا جمله منځته راځي . او د جملي په مرسته خپل مقصدونه يو بل ته څرګندولای شو.

په ځينو ګرامرونو کي د جملي پېژندنه داسي هم شوې ده :

« کلام ، جمله هغه عبارت ته وايي چي لږ ترلږه له دوو کليمو څخه جوړه شوې وي ، او بيا په دوه ډوله بېلېږي : بشپړه جمله او نيمګړې جمله .

- « د کليمو له ارتباط او تړون څخه جمله او د جملو له يوځای کېدو څخه خبرې او عبارتونه منځته راځي.»

پورته ذکر شوي تعريفونه د پښتو ژبې په ليکل شويو ګرامرونو کي ؛ لکه :

د محمد اعظم ايازي « قواعد پښتو» چي په ۱۳۱۸ هجري کال د پښتو ټولني (اوسنی علومو اکادمي) له خوا چاپ شوی ، د محمد ګل مومند « پښتو ژبې ليار» په ۱۹۳۸عيسوي کال په لاهور کي خپور شوی دی ، د پوهاند صديق الله ريښتين «ژبښوونه» د عظيم شاه خيال «صرف و نحو پښتو» او داسي نورو کي راغلي دي.

همدارنګه پوهاند مجاور احمد زيار پخپل اثر ( پښتو پښويه ) پايڅوړ- د ژبپوهني بنسټونه) کي د جملي تعريف داسي کړی دی :

- « جمله يا غونډله ، د خبرو وينا يا ګړهار هغه بشپړه خپلواکه رغاونه ده چي ترې بله ستره رغاونه نشته »

يا په بله وينا :

- غونډله يا جمله د خبرو او وينا تر ټولو لوی واحد دی.

دا تعريفونه له حقيقت څخه لېري نه دي او په خپلو وخت کي يې مطلب بشپړ څرګند کړی دی ؛ خو د امريکي مشهور ژبپوهاند بلوم فيلډ د غونډلي ( جملي ) جوړښتي او اساسي تعريف دا ډول کړی دی :

- « د جملي جوړښتي معنا هغه معنا ده چي د جملي د توکونو په مرسته څرګندېږي ، بې له دې چي لغوي اړخونه يې په نظر کي ونيول شي.»

د غونډلي جوړښتي او ساختماني معنا يوازې د بلوم فيلډ په ذريعه نه ده ښودل شوې ؛ بلکي ځينو نورو ژبپوهانو هم دغه ډول موضوعات بيان کړي دي.

په هرصورت د غونډلي (جملي) د تعریف او پېژندني د کره کولو لپاره ښايي جمله د فورم او معنا دواړو له مخي په پام کي ونيول شي ، ځکه یوازي فورم غونډله ( جمله) نـه شـي راپيژنـدلی او معنـا هم پـه ګوښـي توګـه سره د غونـډلي لـه تعریفونو څخـه نـه شـي وتلای .

که دا ومنو چي غونډله يو داسي نحوي واحد دی چي د فورم او معنـا پـه شریک او ګډ ارتبـاط سره يـي ځـانګړی ژبنـی سیستم هم جوړ کړی دی ؛ نو دا به هم ومنو چي دا نحوي واحد (جمله) يو ژبنی سیستم هم دی.

څرنګه چي ژبه يو جلا سیستم دی او جمله په دې سیستم کي د نحوي واحد په توګه پيژنو ؛ نـو بيـا ویـلای شـو چـي غونډلـه هم يو کوچنی ژبنی سیستم دی . په دې کي هيڅ شک نشته چي جمله معنا لري او يو مفهوم افاده کوي ؛ نو له دې کبله ښه بـه دا وي چـي د بلوم فیلډ نظریه په پام کي ونیسو . دی وایي :

« متکلم او خبرې کوونکی د عبارت په ذریعه د خبرو اورېدونکی دې ته اړباسي چي شرایط او حالاتو تـه ځـواب ورکړي ، دغو شرایطو ، حالاتو او په هغوي پوري اړوند ځواب ته د هغه عبارت معنا وايي.»

یا په بله وینا:

کله چي يو ژبنی فورم له خولي څخه ووځي ، نو اورېدونکي هم هغي تـه هغسـي ځـواب ورکـوي ، يـا هماغسـي عکس العم ښئي ، چي د ټاکلي ژبني شکل معنا ګڼل کېږي.

بلو م فیلډ ګرامر ته د ژبنیو فورمونو د معنا لرونکي نظم په توګه ګوري ، وايي چي په ژبه کي د ژبنیو فورمونو معنا لرونکی نظم او ترتیب د ژبي ګرامر جوړوي . څرګنده شوه چي جمله د ژبنیو فورمونو داسي مجموعه ده چي نحوي واحد يي جوړ کړی دی.

دا چي په نحوي جوړښت کي اساسي نحوي واحد غونډلـه (جملـه) ده ؛ نو پـه دې معنا سره جملـه د وینـا هغه واحد دی چي پوره مطلب رسوي ، که چيرې جمله له يوې کلیمي څخـه جوړه شوې وي ؛ خو شرط يکي دا دی چي د يوې جملي يـا غونډلي پوره مفهوم به افاده کوي.

د غونډلي يا جملي د پيژندني لپاره ددې بحث په پای کي باید ووایو چي :

جمله يا غونډله له کلیمو او مورفیمونو څخه جوړه وي ، خو په دې جوړښت کي یوازې د مورفیمونو شمېر او اندازه مهمه نـه ده ، د پوهانـد محمدحسـين يمـين پـه وینـا : چـي پـه خپـل اثـر « دسـتور معاصـر زبـان پارسـي – دري) کـي د جملـي لپـاره دا لانـدي خصوصیات ځانګړي کړي دي:

۱- غونډله له داسي مورفيمونو څخه جوړه شوې وي چي يو له بله سره ارتباط او اړيکي ولري او بشپړ مفهوم افاده کړي.

۲- دا چي له خپل ځان نه د يوې لويي بڼي (شکل) برخه نه وي ، مقيده او تړلي نه وي.

۳- په ډېرو کوچنيو نحوي واحدونو د تجزيي او شنني وړ نه وي ، يعني تکميم وي.

۴- د جوړښتي برخو ترمنځ يي نحوي اړيکه موجوده وي او د ځانګړو عروضي خصوصياتو درلودونکی وي ، يعني ځانګړی لحن ، تون او موسقيت ولري.

۵- د جملي دوه بنسټيز رکنونه ولري ، يعني يوه يا څو مبتداء او خبر پکي وي. (۳۶:۱۷۰)

پورته ځانګړنو ته په پاملرني سره د غونډلي ( جملي ) د پېژندني لپاره لاندې جملو ته ځير شئ:

۱- هر څوک له خپل هېواد سره مينه لري .

۲- بزګر په ګرونده کي کار کوي.

۳- کارګر په فابريکه کي کار کوي.

۴- اڅک او خوازک د يوه ټولګي زده کوونکي دي.

۵- جرګه د پښتنو يو لرغونی او منلی دود دی.

۶- تر نادان دوست دانا دښمن ښه دی.

۷- ناپوه سړی خپل کور پخپله خرابوي.

۸- ځه

۹- ولوله !

۱۰- وليکه ! ( ليک وليکه)

له پورته بېلګو څخه جوتېږي چي جمله د مرتبطو کليمو څخه چي يوه له بلي سره اړيکي ولري جوړېږي ، پوره او بشپړ مفهوم افاده کوي.

د ليک د ښو نښانو په واسطه د غونډلي حدود جلا او نومونه يي بشپړېږي ؛ نو جمله د يوې ژبې هغه خپلواکه ګرامري ښه ده چي هم د جوړښت هم د معنا له مخي پوره او بشړه وي . دوه يا تر دوو زياتي مرتبطي کليمي او يا يوه ځانګړي کليمه چي پوره او بشپړ مفهوم څرګند کړي جمله بلل کېږي.

## په پښتو ژبه کې د جملې ځانګړتیاوې

موږ د خبرو اترو ، وینا او یا لیکلو په ترڅ کې تل له غونډولو ( جملو) څخه کار اخلو او د هرې جملې په ویلو سره موخه دا وي چې اورېدونکو یا لوستونکو ته نظر ، فکر او بیان ولېږدوو ؛ نو د یوې ښې وینا د وړاندې کولو یا د یوه ښه لیک د لیکلو لپاره د سمو جملو کارونه اړینه ده . په همدې موخه د یوې جملې ځانګړتیاوې په لاندې ډول بیانوو :

**۱- د کلیمې معنا**

د یوې جملې د جوړولو لپاره د جملې ټولې کلیمې (خپلواکې او ناخپلواکې) باید (لغوي یا ګرامري) معنا ولری او دیوڅه په هکله بیان وکړي ؛ که داسې نه وي ، نو بیا جمله نه ده ځکه چې مخاطب ته یې کوم فکر یا بیان انتقال نشو کړای .

د بېلګې په توګه لاندې د کلیمو مجموعه:

پوف او لوف ښایې موف وپېري.

پورتنی جمله له شپږ کلیمو څخه د بنې له مخې پینځه خپلواکې کلیمې او یوه یې ناخپلواکه ده . د (او) ناخپلواکه کلیمه ګرامري معنا لری یعنې د (عطف) وظیفه یې سرته رسولې ده ، دوه نورې خپلواکې کلیمې (ښایې او وپېري) هم معنا لري ؛ خو درې نورې کلیمې : ( پوف ، لوف او موف) مبهمې کلیمې دي او هېڅ معنا نه لري . په دې توګه جمله هم معنا نه لری او مخاطب یا اورېدونکی ترېنه هم کوم مطلب نه شي اخیستلی .

**۲- د کلیمو ترتیب**

د کلام د توکو پېژندنه ؛ په جمله کې یې کارونه - ترتیب او په جمله کې د کلیمو ترمنځ اړیکې پیوستون ، سمون ، مطابقت او د نورو ځانګړنو څېړنه د ګرامر موخه جوړوي ؛ نو د جملې رغنده توکي باید داسې ترتی او تنظیم شي چې جمله معنا ولري.

د بېلګې په توګه لاندې جمله وګورئ چې ټولې کلیمې یې معنا لري.

سزا زده کوونکي ورکړه شوخ ته ښوونکي.

پورتنی کلام له شپږو کلیمو څخه جوړ شوی دی ، چې پینځه کلیمې یې خپلواکې او یوه یې ناخپلواکه کلیمه ده ، د جملې ټولې کلیمې معنا لري ؛ خو پخپله جمله معنا نه لري ، ځکه چې ترتیب او تنظیم یې سم نه دی.

د دغې جملې د سم تنظیم لپاره هڅه کوو او ټولې کلیمې خپلو مناسبو ځایونو ته لېږدوو، د دغو کلیمو د سم تنظیم او پرځای کارونې له لارې کولای شو یوه داسې جمله جوړه کړو چې معنا ولري ، په لاندې ډول:

ښوونکې شوخ زده کوونکي ته سزا ورکړه.

اوس نو پورتنی جمله معنا لري او دغه خبره څرګندوي چې د یوې معنا لرونکې جملې کلیمې باید تل په سم ترتیب سره تنظیم او پرځای وکارول شي.

**۳- مفهوم**

د جملې کلیمې باید داسې تنظیم شي چې جمله مفهوم ولري. لاندې بېلګه؛

پرانګ ښکارې وڅاره او هغه یې وویشت.

پورتنی جمله معنا لري او دهغې ټولې کلیمې هم معنا لري ؛ خو جمله کوم مفهوم نه لري ؛ ځکه دغه کار ناشونی دی چې پرانګ به راولاړ شي ، ټوپک به راواخلي او سړی به وولي. موږ کولای شو د دغې جملې کلیمې یو وار بیا داسې تنظیم کړو چې مفهوم ولري:

**۴- بشپړتیا**

جمله باید تل هم د جوړښت او هم د معنا له مخې بشپړه وي. لاندې بېلګه وګورئ :

پرون چې دې بس ته تم و .

د پورتنی جملې په اورېدو یا لوستلو سره به زموږ طبیعي غبرګون دا وي چې پوښتنه وکړو ( نو څه پېښه وشوه؟) دا پوښتنه ځکه رابرسېره کېږي چې جمله نیمګړې ده . موږ کولای شو جمله داسې بشپړه کړو :

پرون چې دی بس ته تم و چا یې ټولې پیسې غلا کړې.

اوس نو پورتنی جمله بشپړه ده او دغه خبره څرګندوي چې جمله باید تل بشپړه وي.

**۵- ګرامر**

لکه د مخه مو وویل د جملې د عناصرو ترمنځ باید تل له ګرامري اړخه سمون او مطابقت موجود وي. لاندې بېلګه وګورئ:

(هلکان پر چوکی ناسته وه)

دغه جمله سمه نه برېښي او کومه نیمګړتیا پکې شته دی ؛ هغه دا چې جمله د ګرامري اړخه نیمګړې ده . د جملې د (ناسته ده ) برخې فعل مفرده بڼه لري، په داسې حال کې چې د فاعل (هلکان) برخه دېرګړی ( جمع) بڼه لري. په دې جمله کې د فعل بڼه له فاعل سره د شمېر ، شخص او جنس له مخې سمون (مطابقت) نه لري.
دغه جمله به هغه وخت یوه سمه او ګرامري جمله وي چې د فعل بڼه له فاعل سره د شمېر ، شخص او جنس له مخې سمون (مطابقت) ولري ؛ لکه په دا لاندې ډول:

هلکان پر چوکی ناست وو.

اوس نو په پورتنی جمله کې د (ناست وو) فعل برخه جمع بڼه لري او د جملې د فاعل (هلکان) له برخې سره د شمېر ، شخص او جنس له اړخه سمون لري ؛ نو دغه خبره څرګندېږي چې د جملې د عناصرو ترمینځ باید د ګرامري پلوه سمون موجود وي . ( ۶-۵:۳۷)

**په غونډله ( جمله) کې د مورفیمونو ترمنځ اړیکې**

څنګه چې د کلیمو په ترکیب کې د الفاظو رابطه او ترتیب د پام وړ ارزښت لري ، همداشان د پښتو ژبې په نحوي سیستم کې هم د کلیمو او مورفیمونو ترمنځ اړیکې موجودي او د پام وړ دي .

څرګنده خبره ده چې جمله له مورفیمونو څخه جوړه وي او دا د جملې رغنده توکي ( مورفیمونه او کلیمي) یو له بله سره اړیکې لري او دغه اړیکې زیاتره د ناخپلکواکو مورفیمونو ( سرینو ، پسینو ، عطف و ربط) په واسطه منځته راځي. د بېلګې په توګه لاندې جملې وګورئ:

۱- ژبه په زبات تکرار مشق او تمرین سره زده کېږي.

۲- قرآنکریم د انسانانو لپاره د هدایت بشپړ قانون دی.

۳- اجمل په ښوونځي کې درس وايي.

۴- د مشرانو په پاملرنه د کشرانو کارونه سمبېږي.

۵- هوښیارې میندې خپل اولادونه ښه روزي او ډېر ناز نه ورکوي.

په پورته لومړی جمله کې : ( په ، او ، سره) دویمه جمله کې : ( د ، لپاره) ، دریمه جمله کې : ( په ، کې) ، څلورمه جمله کې : (په ، د ) ، پینځمه جمله کې : ( او) ناخپلواک مورفیمونه دي چې په غونډلو (جملو) کې د خپلواکو مورفیمونو ترمنځ د اړیکو ټینګولو لپاره استعمال شوي دي. همدارنګه په لاندې غونډلو کې د (له ، نو ، پر ، تر ) ناخپلواک مورفیمونه :

۱- د ملالی ګرمي کېده نو اوبه یې وڅښلې.

۲- اسد دومره ستړی و چې له کار نه وروسته ویده شو.

۳- تر کوره ورسره لاړم خو کار مې ونه شو.

۴- د داخله چارو وزیر پر چوکی کښېناست.

**په غونډله (جمله) کې د مورفیمونو ترمنځ د اړیکو ډولونه**

د پښتو ژبې په جملو کې د مورفیمونو او کلیمو ترمنځ اړیکې په لاندې دوو ډولونو باندې وېشل کېږي :

الف: عطفي اړیکې

ب: تابعي اړیکې

**الف: عطفي اړیکې**

په عطفي اړیکو کې د جملې د خپلواکو مورفیمونو ترمنځ او یا پخپله د دوو ساده جملو ترمنځ د عطف اداتو په واسطه په مساوي او متوازن ډول اړیکې ټینګېږي. یعني د عطف ادات چې د نه ګردانېدونکو مورفیمونو له ډلې څخه دي ، پښوییزه دنده یې همدا ده چې دوه توکه ، کلیمې او یا جملې سره یوځای کوي ؛ لکه : ( او ، و ، که ، یا...) . د بېلګې په ډول لاندې جملې وګورئ :

۱- احمد او محمود ښوونځي ته ولاړل .

۲- ښه کوې که بد.

۳- ځې یا نه ځې .

۴- د ادم خان او درخانی داستان یې ولوست.

۵- دوست او دښمن په بده ورځ معلومیږي.

۶- د نن او سبا فکر باید درسره وي.

۷- وږی تږی ترې راووتم.

۸- خوراک ، څښاک مو وکړ.

په پورته جملو کې د خپلواکو مورفیمونو ترمنځ عطفي اړیکي د عطف اداتو په واسطه سره ټینګې شوي دي . په اوومه او اتمه غونډله کې بیا د عطف ادات ( او) حذف شوی دی. کله کله د (و) ادات د رابطو لپاره هم راځي . لکه : خور و ورور ، مور و پلار ، تور و سپین...

**ب : تابعي اړیکي**

په دې ډول اړیکو کې تابعیت موجود وي ، هغه مورفیم چې بل مورفیم د ځان تابع کوي تابع کوونکی مورفیم بلل کېږي او هغه مورفیم چې د بل مورفیم تابع ګرځي تابع شوی مورفیم ورته وایي.

تابعي اړیکې په څلور ډوله ترلې کېږي:

**۱- د سمون اړیکه**

د سمون یا مطابقت معنا دا ده چې په ترکیبونو او عبارتونو کې د کلیمو ترمنځ او په جمل کې د جملې د اجزاوو یا غونډونو ( اسمي او فعلي) ترمنځ ګرامري سمون او مطابقت موجود وي . دغه مطابقت او سمون د جملې د فاعل او فعل یا مبتداء او خبر ترمنځ د شمېر (عدد) ، نوږي ( جنس) او وګړي (شخص) له مخې په نظر کې نیول کېږي.

د شمېریا عدد له پلوه مطابقت او سمون هغه وي چې د جملي ارکان (اجزاء) د عدد ( مفرد ، جمع) له مخې سره سمون ولري ، که چېرې د جملې فاعل ( مبتداء برخه ) مفرد وي یعني یوګړی وي یا ډېرګړی(جمع) یا ډېر کسان وي ؛ نو د خبر (فعل) برخه هم ورسره د مفرد یا جمع په شکل راوړل کېږي.

د نوري ( جنس) له پلوه سمون او مطابقت دا دی : که چیرې فاعل ښځینه جنس وي فعل ورسره په ښځینه ډول کارول کېږي او که فاعل نارنیه جنس وي ؛ نو د جملې فعل ورسره د نارینه په ډول راوړل کېږي.

د وګړي یا شخص له مخې مطابقت او سمون هغه دی چې په جمل کې (فاعل ، مسندالیه ، مبتداء) هر یو شخص ( لومړی ، دویم ، دریم ) راغلی وي ؛ نو (فعل ، مسند ، خبر) ورسره سم وکارول شي.

د سمون اړیکې د پیژندنې لپاره د بېلګې په ډول لاندې جملې وګورئ :

۱- زه له خپل هېواد سره مینه لرم.

۲- موږ له خپل هېواد سره مینه لرو.

۳- اڅک پرون کندهارته لاړه.

۴- ملالی پرون کندهار ته لاړه.

۵- نجلی له ښوونځي څخه راغله.

۶- هلک له ښوونځي څخه راغی.

په پورته لومړۍ جمله کې (زه) د مفرد متکلم ضمیر د جملې د مبتداء برخه ده او (مینه لرم) د جملې خبر دی دا چې مسندالیه یا فاعل مفرد دی ؛ نو مسند (فعل) هم ورسره مفرد راغلی دی چې دواړه سره سمون او مطابقت ښئي.

په دویمه جمله (موږ) د جمع متکلم ضمیر دی چې دجملې مبتدا یې جوړه کړې ده او (لرو) د جملې خبر دی چې د جمه په بڼه راوړل شوی دی. همدارنګه په دریمه جمله کې (اڅک) نرینه خاص نوم یوګړی ( مفرد) راغلی او خبر (لاړ) هم ورسره نارینه یوګړی راغلی او د دواړو ترمنځ د سمون اړیکه موجوده ده . څلورمه جمله کې (ملالی) ښځینه خاص نوم یوګړی مفرد راغلی او خبر (لاړه) هم ورسره ښځینه یوګړی راغلی چې د دواړو ترمنځ یې د سمون اړیکه رامنځته کړې ده.

په همدې ډول په پینځمه جمله کې (نجلۍ) عام ښځینه نوم او (راغله) فعل هم په مفرده ښځینه بڼه کارول شوی دی . کله چې په شپږمه جمله کې د نجلی پرځای ( هکلک) عام مفرد نوم د مبتداء په برخه کې راځي ، نو بیا د خبر برخه کې (راغی) فعل د مفرد مذکر په بڼه کارول کېږي ، چې دا پخپله د جملې د برخو (مبتداء او خبر) ترمنځ د سمون اړیکه ده.

**۲- اضافي اړيکه**

په اضافي اړيکه کې يو مورفيم سره د اضافت د اداتو ( د ، ز ، س ) په واسطه خپله اړيکه ټينګوي او د مضاف مورفيم ته ټاکل شوي او مضاف اليه مورفيم ته ټاکونکی وايي.

د اضافي اړيکي د پيژندني لپاره لاندې جملي وګورئ :

۱- زما ورور ښوونکی دی.

۲- ستا وربرونه زده کوونکي دي.

۳- د پوهنتون زده کړيالان امريکې ته ولاړل .

۴- د لوړو زده کړو وزير د ښووني او روزني پوهنتون کتابتون پرانيست.

۵- د ګناه توروالی په صابون نه لرې کېږي.

په پورتنيو غونډلو کې د اضافت اړيکې (ز ، س ، د) د اداتو په واسطه ټينګې شوي دي ، چې په لومړۍ جمله کې (زما ورور) د ملکي ضمير او نوم څخه جوړ شوی عبارت دی ، په دويمه جمله کې « ستا وربرونه» دمخاطب ملکي ضمير او نوم څخه رغېدلی اضافي عبارت دی ، همدارنګه په درېيمه جمله کې ( د پوهنتون زده کړيالان) په څلورمه جمله کې ( د لوړو زده کړو وزير) او په پينځمه جله کې   ( د ګناه توروالی) نوميز اضافي عبارتونه دي.

(زما ، ستا ، د پوهنتون ، د لوړو زده کړو ، د ګناه) مورفيمونو ته مضاف اليه يا ټاکونکي او د (ورور ، وربرونه ، زده کړيالان ، توروالی ) مورفيمونو ته مضاف يا ټاکل شوي مورفيمونه وايي.

**۳- د ملتيا اړيکه**

د ملتيا اړيکه کې تابع شوی مورفيم يا کليمه د تابع کوونکي مورفيم يا کليمي سره څنګ په څنګ راځي او د دوي ترمنځ د ترني ، سمون او اضافي رابطو او پسينو ته اړتيا نشته او که فرضاً تابع شوې کليمه له جملي څخه لرې کړای شي بيا هم جمله معنا ورکوي او د جملي معنا ته کوم ځانګړی بدلون نه ورکوي.

د بېلګي په ډول لاندې جملي وګورئ :

۱- ځانګه په تلوار راغله .

۲- زه په کراره ځم.

۳- یما ډېر وځنډېد.

په پورته جملو کې (تلوار ، په کراره ، ډېر) قیدونه او تابع شوې کلیمې دي چې د جملې د خبر یعني تابع کوونکو ( راغی ، ځم ، وځنډېد) له کلیمو یا مورفیمونو سره په ځنګ کې راغلي دي.

**۴- د ترني اړیکه**

په دې ډول اړیکه کې د جملې خبر تابع شوې کلیمې مجبوروي چې په جمله کې د بشپړوونکي یا نحوي قید په ډول واقع شي .

د بېلګې په ډول په لاندې جملو کې:

۱- ملالۍ کورته لاړه.

۲- خوازک له ښوونځي څخه راغی.

۳- غورځنګ په موټر کې راځي.

په پورته جملو کې وینو چې (لاړه) د لومړی جملې خبر دی او د (کور) کلیمه له (ته) سره یوځای مکاني نحوي قید دی او په جمله کې په خبر ( ولاړه) پورې مربوط شوی دی .

په دویمه جمله کې (راغی) کلیمه خبر او تابع کووکی هم دی او د (ښوونځي) کلیمه چې مکاني نحوي قید دی (له ، څخه )سره یوځای د (راغی) تابع دی چې په منځ کې مفعول او بشپړوونکی واقع شوی دی.

په دریمه جمله کې (راځي) خبر او تابع کوونکي کلیمه ده او (موټر) بشپړوونکي او تابع شوې کلیمه ده چې د (په) سرینه (کې ) پسینه نحوي قید په وسیله (موټر) مفعول او د خبر تابع شوی دی.

**د جملې د جوړښت رغنده توکونه**

د یوې په جوړښت او ساختمان کې دغه لاندې توکونه برخه لري.

**۱- اصلي يا خپلواک توکونه**

په دې برخه کې ټول خپلواک مورفيمونه : ( نومونه ، ستاينومونه ، شمېرنومونه ، نومځري او فعلونه راځي.

دلته ښايي ووايو چې دغه توکونه په ځانګړې توګه مختلفو پوښتنو ته ځوابونه ورکوي ، د موضوع څرنګوالی ، څومره والی ، فعاليت او داسې نور مفاهيم نوموي او يا ورته اشاره کوي ، او يا خو هم ګرامري ، لغوي معنا ښندي . دغه ډله له آرو ګړولو (ژر ، اوس ، ورو ، هرومرو...) پرته ټول اوربدلي ګړونه را اخلي . د بېلګې په ډول په لاندې جملو کې :

۱- ماشوم ژاړي .

۲- اجمل ښوونکی دی.

۳- توپېکی ښکلي ده .

۴- زمری تښتي.

۵- الوتکه راپرېوته .

۶- ښار وسو .

په پورته جملو کې د ماشوم ، اجمل ، تورپېکی ، زمري ، الوتکي او ښار کليمې پر څه شي باندې دلالت کوي ؟

ځواب به داسې وي :

ماشوم ، اجمل او تورپېکی د کسانو نومونه دي .

زمری د يو ځيرووونکي حيوان نوم دی.

الوتکه د يو شي نوم دی.

ښار د يو ځای نوم دی .

نو هغه کليمې چې د کسانو ، څيزونو ، ځايو او حيواناتو د نومولو لپاره کارول کېږي ، نوم بلل کېږي . دا ډول کليمې خپلواکي کليمې دي ځکه چې په خپلواک ډول کارول کېږي او خپلواکه – مستقله معنا هم لري.
په همدې ډول ستاينوم د يو نوم څرګندونه کوي ، شمېرنوم د شيانو شمېر او اندازه ښئي. نومځری د تکرار د مخنيوي لپاره د نوم پرځای راځي ، فعل د يوه عمل ترسره کول او د يوه حالت درلودل بيانوي.

اوس که دا وپوښتو چې د پورتنیو جملو کلیمي د کلام په کومو توکو یا ډلو پورې اړه لري ؟

ځواب به دا وي چې :

د (ماشوم ، زمری ، الوتکه ، ښار ، ښوونکی) کلیمې ټولې نومونه یا (نومیزې ) کلیمې دي . د (ژاړي ، دی ، ده ، تښتي ، راپرېوته ، وسو) کلیمې ټولې فعلونه یا (کړنیزې ) او ښوونیزې کلیمې دي ، د کلیمو دغه ډلې ( نومونه او فعلونه) د جملې د عناصرو یا د کلام د توکو په نامه یادېږي او دې توکو ته د جملې خپلواک یا اصلي توکي وايي.

**۲- مرستیال (کومکي) توکونه**

د جملې مرستیال یا کومکي توکي په ځانګړې توګه د جملې خپلواک توکونه ، نه دي ځکه دغه ناخپلواک توکي په جلا او مستقله توګه پوښتنو ته ځواب نه ورکوي او د کوم شي یا څیز نومونه نه دي ، یوازې په جمله کې ګرامري معنا رسوي .
مرستیال یا کومکي توکونه ورته ځکه ویلای شو چې د جملې د اصلي توکونو ، ترکیبونو او جملو ترمنځ ارتباط او اړیکه ټینګوي ، مرستیال توکونه د نوموني او نغوتني پاژه نه ؛ بلکې یوازې پښوییزه معنا او چار لري .

په دې توکو کې ادات (عطف و ربط ، پیشیني او پسیني ... او داسې نور راځي) د بېلګې په ډول لاندې جمله وګورئ :

ستا ورور مې د لوړو زده کړو په وزارت کې ولید .

ګورو چې دغه جمله له (۹) توکونو څخه رغېدلې ده ، مګر په دې کې شپږ خپلواک توکي او نور ناخپلواک (مرستیال ) توکي دي. وییکي (حرف ، ادات) یو ناوړېدونی ، نیم ازاد ګړ ( مورفیم) یا هغه کوشنی ویی دی چې د غونډلې دننه جولیزه خپلواکي لري ؛ خو مانیز – پښوییز چار یې د ازادو ګړونو (وییونو ← نومونو ، کړونو ، اروکړولونو) په ملتیا راڅرګندېږي ، او په دې توګه د غونډ او غونډلې په رغاونه کې برخه اخلي ؛ لکه : سربلونه (په ، پر ، تر ، له ...) وستربلونه ( سره ، څخه ، پورې ...)؛ اړیکوییکي (conjunction) د (عطف) په مانا لکه ( او ، و ) ؛ د (ربط) په مانا چې غونډلې دننه یا د آرې او څرمهغوندلو ترمنځ اړیکې ټینګوي ؛ (لکه : که ، څنګه ، هسې ، دومره ، څومره ، هورمره ...)
ناړیکوییکي (disjunction) لکه : نه ...، نه...(neither) ، چې ( نه آشه ښه ده ، نه بله ....دوی دې وخوري یو تربله ) متل یې یوه په زړه پورې بېلګه ده .(۴۶:۳۷)

د بېلګې په ډول د جملې مرستیال توکي په لاندې جمله کې وګورئ :

ستا ورور مې د لوړو زده کړو په وزارت کې له وزير صاحب سره وليد.

ګورو چې د پورته جملې په جوړښت کې د جملې خپلواک او مرستيال توکي دواړه شتون لري.

په همدې ډول په دې لاندې جملو کې :

۱- د کابل پوهنتون زده کوونکو د سولې ورځ ولمانځله .

۲- يرغلګرو زموږ هېواد له خاورو سره سم کړ.

۳- زموږ هېواد بيا رغونې ته اړتيا لري .

۴- موږ په کابل کې اوسېږو.

۵- زه مطالعه کوم.

۶- زه کتاب ليکم.

پورته لومړی جمله له اتو توکو څخه جوړه ده چې پينځه يې خپلواک توکي او دری ناخپلواک يا مرستيال توکي دي.

دويمه جمله هم له اتو ، توکو څخه جوړه ده چې دوه يې ناخپلواک او شپږ يې خپلواک دي. دريمه جمله کې يو توکی ناخپلواک دی او نور پينځه يې خپلواک دي. څلورمه جمله کې دوه توکي ناخپلواک او نور يې خپلواک دي. په همدې ډول پينځمه او شپږمه جمله کې ټول خپلواک توکي راغلي دي ؛ نو ويلای شو چې د جملې رغنده توکي دوه ډوله توکي خپلواک او ناخپلواک يا مرستيال کېدلای شي ؛ خو کېدای شي چې يوازې خپلواک توکي هم جمله جوړه کړي ، خو د خپلواکو توکو له شتون پرته جمله نشي جوړېدای .

۳- په دريمه ډله کې انګيويکي ، پارنوييکي يا هيجاني غږونه او چغې ، بلن وييکي او داسې نور راځي.

دريمه ډله ( انګوييکي ، پارنوييکي ، بلن وييکي ...) د نوموني پاژه نه لري او دبېلا بېلو ځانګړو ننګېرنو څرګندونه کوي.

پارنوييکي لکه : د خوښې (واخ ، وخ ، اوخ ، واوا ،وهوه ...) يا د خپګان ، خواشينی يا اندېښنې او درد ( وای ، وی ، وې ، وئ ، آه ، واه ، وش ، هئ ، شو ، الا ، هله ...) او داسې نوري هيجاني چغې ، سوري اوازونه.

بلن وييکي د څارويو ، ژويو او مرغانو د بلنې او هڅونې يا رټنې او شړنې لپاره راځي ؛ لکه : اوشه ، اڅه ، کشې ، ټغه ، ډرې ، کچ کچ ، کورې ، ورکيش ، پيش پيش ، څک څک ، کورکور (خروته) ډيو ډيو (غويو ته).

انګوییکي یا انګینومونه ، یا د طبیعي غږونو په پېښو رامنځته شوي نومونه (onomatopoeia) لږ و ډېر بیا د نوموني پـازه تر سره کوي ؛ لکه : بغ ، بم ، بو ، غر ، ګر او داسي نور...

په دوي کي ځینو د آرو ژبنیو توکونو ( ځیزنومونو) ارزښت هم پیدا کړی وي ؛ لکه : درز ، غرز... ( د غورځېدو آوازونـه) ، درب دروب ، ډب ډوب ...( د وهني آوازونه) او داسي نور.(۳۸:۲۲۰)

**د جملي بشپړ آند یا متمم توکونه**

د غونډلي (جملي) په جوړښت کي پر آرو (خپلواکو) او نا آرو(مرستیالو) توکو سربېره د جملي بشپړ آند ( متمم) توکونـه هم شته چي په هغو کي : خج ، سېلاب ، آهنګ ، بیلتون او پیوستون ( فصل – وصل) راځي.

دا توکونه د لیکنښو سربېره د جملي په معانیز جوړښت او د ویلو په ډول ځرګنده اغېزه کوي . په فونولوژي کي دا برخـه د سوپرا سیګمنت (supra segment) په نامه بلل شوي او ځینو ګرامر ځېړونکو د مقطع او عروضـي فونیمونو پـه نامـه یـاد کړي دي : (محمدرحیم الهام ، روش جدید در تحقیق دستور زبان دري ، ۱۳۴۹کال ، ۵۰ مخ)

که څه هم د پورتنیو توکونو څېړل د پښتو ژبي د جوړښت له لومړني ساختماني نظـام فونولـوژي ( غږ پـوهي) پـوري اړونـدېږي ، ځکه چي د فونیمونو د الوفونونو په ځانګړتیاوو پوري یوه تړلي موضوع ده ؛ نو د غونډله پوهي په برخه کي مو لـه دې موضـوع څخه یادونه ځکه اړینه وګڼله چي لږ ترلږه باید زموږ زده کړندویان ورسره اشنا وي او د غونډلي په ویلو او له هغي څخـه د معنـا اخیستني پر وخت تېروتنه ونکړي.

**۱- آهنګ**

پـه پښـتو ژبـه کـي د نـورو ژبـو پـه څېـر آهنـګ ځـانګړی ارزښـت لـري چـي پـه پارسـي آهنـګ ، انګرېـزي tone, intonation ، لاتین intonare ، یوناني tonos نوموي.

د ژبني جوړښت له پلوه آهنګ هغه نازنځیري توک (فونیم) دی چي د ګرهار پـه بهیر کـي د آواز د کښته پورتـه والـي یـا زیـروبم رامنځته کوي . په نومېرلي ( مشخصه ) توګه کله چي د ګړهار په ترڅ کي د زیروبمي پراختیا لمن د غونډلي په کچه وي ، آهنګ بلل کېږي.

يا داسي وايو ، د غونډلي د زير وبمي يوه غځېدلي بڼه ده ، اهنګ د ساه هوا او ورسره د غږيزو تارونو له رېږدېدا سره را زېږېدونکي کښته پورته کېدونکی غږ دی او دا چې يو ډول خوږ غږي هم رامنځته کوي ، نو د غونډلي (جملې) ميلودي هم بلل کېږي.(۲۴:۴۰)

آهنګ په پښتو کې پښوييز ( ګرامري ) ارزښت لري او (د نورو نازنځيري توکو په لړ و ډېره ملتيا) د غونډلي (جملې) د مانيز توپير لامل کېږي.

آهنګ د ژبې په وييز سيستم کې مهم ځای لري او بېلابېلې دندې سرته رسوي . مثلاً وينا پر نحوي واحدونو بېلوي ، نحوي ترکيبونه ، عبارتونه او جملې تنظيموي او سره بېلوي يې .

آهنګ د افکارو ، احساساتو او د اشخاصو د ارادې په ځرګندولو کې فعاله ونډه اخلي . د وينا د اورېدو په وخت کې موږ يوازې د آهنګ په مرسته په دې پوهېدای شو چې جمله پوښتني ( استفهامي ) ، امري ، ندايي ، هيښني (تعجبي) ، احساساتي ، د خوښی يا غم مفهوم او معنا افاده کوي.

د آهنګ په بدلېدو سره پرته له دې چې د جملې په ترکيبي اجزاوو کې کوم بدلون راشي ، د جملې معنا بدلېدای شي. آهنګ يوه فونيميکي پره سوديکي نحوي پديده ده .

له پورتنيو خصوصيتونو او دندو څخه جوتېږي چې آهنګ د نحوې سره اړيکه لري او بايد د نحوي واحدونو د يوه خصوصيت په حيث وڅېړل شي. آهنګ په خپله کومه خپلواکه ژبنۍ نښه يا علامه نه ده ، بلکې د ژبنۍ نښې (نحوي واحد) يو خصوصيت دی . په همدې اساس آهنګ نه مقطع او نه هم عروضي فونيم دی.(۱۲۵:۴۱)

آهنګ د هغو وسايلو مجموعه ده چې وينا تنظيموي او د وينا د وييزې بڼې حتمي خصوصيت دی ، بې له آهنګه وينا ممکنه نه ده . هغه وسيلې چې د آهنګ د اجزاوو په حيث د وينا په وييز نظم کې برخه اخلي دا دي:

**۱- ميلودي**

د اساسي تون د آواز حرکت (ټيټېدل او لوړېدل) دي.

**-۲**

د جملې پر کومې برخې د آوازونو توقف دی.

**۳- خج**

چي د جملي کومه برخه نسبت نورو برخو ته په زيات فشار سره ويل کېږي.

**۴- ټيمپ**

چي د جملي يوه برخه د نورو برخو په تناسب په زيات سرعت سره ويل کېږي.

**۵- ټيمبر**


يعني د جملي موسيقيت .

د آهنگ دغه پورتنی اجزا د مفاهمي په پروسه کي په ګډه په يوه وحدت کي عمل کوي. د وينا په بهير کي خج او آهنګ سره داسي توپيرولای شو :

خج يون (حرکت ) نه لري ، بلکي ځای پرځای د بېلابېلو توکو په لړ کي پر يوه ټاکلي توک (ځپې ، ويي ، غونډ ، غونډلي ) او بيا يي پر يوه ټاکلي برخه زور اچوي ، او په دې ډول يي وينګ تر نورو توکو ښه ترا برجسته وي ؛ خو آهنګ يو خوا يوازي له هماغه لويترين او بشپړترين ويناييز توک ( غونډلي ) سره کار لري او بلخوا يون و خوځون مومي او کښته پورته يا هوار ځي او راځي. په دې توګه د غونډلي بېلابېل ډولونه (خبري ، ناخبري ، امري ، هيښني ، ارماني ...) سره نوميري(تشخيصوي)
په دې توګه خبرې ، پوښتني ، هيښني ، بلني او امري غونډلي سره د خپلو ځانګړو آهنګونو په مرسته توپيرېږي.


۱- د خبري جملي آهنګ هوار پيلېږي او بيا غورځېدلی پروت پای ته رسېږي ؛ لکه :

زمری راغی.




۲- د پوښتني غونډلي آهنګ ټيټ پيل مومي او بيا نبغ شوی پروت پای ته رسي، لکه :

زمری راغی.



۳- د هيښني ، بلني ، ګوماني او داسي نورو غونډلو آهنګ کابو يوراز راځي او هغه دا چي ټيټ پيلېږي بيا پورته ځي او په پای کي ربب پای ته رسېږي؛ لکه :



**۲- خج**

خج ته په عربي ژبه کي هم خج وايي ، په پارسي يې فشار يا تکيه ، انګرېزي stress يا accent او په لاتين يې eccentus نوموي.خج د يوې ژنې ځرګندوني پر يو ټاکلی ځای باندې د غږ سختوالي يا شدت او هسکوالي ته وايي ، په بله وينا هغه چار ( عمليې) ته وايي چې د ژبنيو يوونونو (واحدونو) يا توکونو په لړ کي يو يوون يا توک د سا (ايستنې) له فشار سره په زيات زور او شدت وويل شي ؛ خج د يوه «← ناځنځيري» يوون يا غږ (فونيم) په توګه د عادي فونيم پر خلاف د کوم مانيز توک (ګړ ، ويي ، غونډلې ) په رغاونه کي سينده ونده نه اخلي ، بلکي د دغو نورو پر وينګ اغېز اچوي او اړوند غږ يا څپې ته تر نورو ګاونډو هغو زياته ټينګتيا ( شدت) او لوړتيا وربښي او له دې چار (عمليې) سره هر ګوره مانا او په ترڅ کي شعري تول و تال اغېزمنوي.(۵۴:۴۲)

خج د څپې پر خلاف د ژبې په «← ځنځيري» توکونو ، نه ، بلکي په «← ناځنځيري» هغو اړه لري . خج په ځينو پښتو کليمو کي معنوي بېلوالی راوستلای شي، خج بې له فونيمونو اصلاً موجوديت نه لري ، خج د ژبو د غږيز جوړښت په ارتباط د کليمو په خاصو موقعيتونو کي د فونيمونو يو خصوصيت دی چې د همدې خصوصت پر اساس د يوه فونيم الوفونونه سره بېلېږي :

- خج لرونکی الوفون
- بې خجه الوفون.

خج اصلاً بې له فونيمه په جلا او مستقل ډول نه کوم آواز دی او نه هم تلفظ کېدای شي . خج له آهنګ سره نه شلېدونکي اړيکي لري او آهنګ ته ورته نازنځيري توک دی . خج هغه عمليه ده چې د ويلو پر وخت د کليمي يوه څپه تر نورو په ډېر شدت سره ادا شي.

موږ په پښتو ژبه کي د يوه فونيم خج لرونکی الوفون او بې خجه الوفون لرو ، خج لرونکی سېلاب او بې خجه سېلاب لرو ، چې يو يې د بل په نسبت زيات او بل يې د بل په نسبت په لږ فشار سره ويل کېږي. مثلاً د (څاڅکي) cáckey په کليمه کي د لومړی (څ) نه وروسته په (a) باندې خج راغلی د ( څ) فونيم هم ورسره دروند تلفظ کېږي او وروستی (څ) بيا هغومره په زور او شدت سره نه تلفظ کېږي، همدارنګه د (کورkor) او کورونه (korúna) په کليمو کي.

**د خج چاپېريالي ډولونه**

خجونه د ژېني چاپېريال (جوړښتونو) له مخې څلور ډوله دي:

**۱- څپيز خج**

خج د اړوند زړي (واول) په مټ ريښتاينه مومي ، ځکه واول د بېواک (کنسونينټ) په توپير يو خپلغړی فونيم دی او جوت ويل کېږي او د بېواک وينګ اوربډنګ هم پر غاړه اخلي ، لکه په سپين کي (- ي- ) ؛ په يو غږيزه (يو فونيمي) څپه هم له خپلواک (واول) پرته ، نه بېواک (کنسونينټ) رغولای شي ،نه نيمواک ( سيمي واول) .

**۲- ويي خج**

چې د يوه ويي دننه يوه څپه د يوه واول او ساييز فشار په مرسته تر نورو ملګرو څپه ټينګه ترينګې او يو څه لوړه وويل شي ، لکه په ورعوي (ور – غ + زورکی – وي) کي منځنی هغه ، يا په په کټمل (کټ + مل) کي دويمه څپه چې مانيزه هم ده . د نورو ژبنيو يوونونو غوندې که په يوه ويي کې خج پر خپل ټاکلي ځای را نه شي ، معنا يې ونجېږي (بدلېږي)او ښايي له بل ويي سره يې په ټکر (ادلون بدلون ) پېښ شي، لکه لکه غوټه چې له لومړي خج سره (ګنډه – ګره) او له دويم خج سره (غوپه ، غوطه) معنا راخپلوي.
د نورو ډېرو ليک سيستمونو په څېر په پښتو دوديز ليک يا ابېڅې (الفباء) کې د خج لپاره کومه نښه يا سيمبول نشته او يوازې په غږيز (فونيميک) هغه کي د ټاکلي څپې ، څه چې په هماغه ټاکلي زړي ( واول) باندط يا لاندې (فتحه وزمه) ربېه نښه اچول کېږي.

**۳- غونډ خج**

چې په يوه غونډ( عبارت) کې يو توک په زوره سره وويل شي ، لکه په (سپين کالي)کې (سپين) يا په (د نجونو ښوونځی) کي د (نجونو) ويي خجن راځي او د «ويي خج » په تړاو يې بيا له دواړو څپو (نجو – نو) څخه لومړی دا خجنه ده . دلته له غونډلي څخه موخه (نحوي عبارت يا ترکيب) دی ، نه تړنګ (لغوي ترکيب).

**۴- غونډله یا غونډله ییز خج**

چې د یوې غونډلې(جملې ) دننه یو غونډ یا ویی تر نورو په زیات فشار او لوړوالي وویل شي او په دې توګه د غونډلې (جملې) بېلابېل مانیز ډولونه ( بیاني ، امري ، پوښتني...) سره ونومېږي او جوت کاندي .

پورتني درېګوني خجونه تر خپل سیوري لاندې راولي او کمزوري کېږي ، خو ګرد سره له منځه نه ځي او د هماغه غړوند توک (ویي ، وییغونډ) مانیز او پښویی چار خوندي ساتي . یونیم یې بیا د غونډلي د دویم یا درېیم درجه خج استازي هم کوي ، بې له دې چې مانیز اغېز ورباندې واچوي . په دې توګه غونډله خج په عادي غونډلو یا شعري مسرو کې په درو ځېلونو وېشل کېږي ، لکه په لاندې غونډله کې :

زه پوهنتون ته ځم . zə- po-hə́n-tún-ta -jə'm

دغلته (’) لومړی درجه ( درانه ، ډېنامیک ) خج نښه ده ، (ˊ ) د دویم درجه او (ˋ ) درېیم هغه نخښه ده . ځینې ژبپوهان خج یوازې د وړو توکونو اړوند بولي ، خو ددې لپاره چې د غونډلي دننه له دغو توکو څخه یو خج زیات درونوالی مومي او ورسره یې بېلابېل ډولونه توپیر مومي ، نو همدغه غونډله ییز ، غونډله پوهیز (نحوي) یا منطقي خج نومېږي.

خج په :

- جوت ( ثابت) خج

- او خپلواک خج

باندې هم وېشون مومي.

**جوت (ثابت ) خج**

دا هغه خج دی چې په ځینو ژبو کې ټاکلی ځای لري ، خپل دریځ نه بدلوي ، لکه د فرانسوي ، انګلیسي او الماني ژبو په کلیمو کې تل په پیل کې راځي او د پولینډي ژبو په کلیمو کې تل پر پایمخه څپه یا خپلواک اواز راځي.

**خپلواک یا ازاد خج**

دا هغه خج دی چي د وینا په ترځ کي د هرې کلیمي پر هره څپه راتلای شي او تاکلی ځای نه لري ، د ځای په غوره کولو کي خپلواکي لري لکه په روسي او پښتو ژبه کي چي د بېلابېلو ژبنیو توکونو په بېلابېلو برخو کي راتلای شي.
د پایلي په توګه ویلای شو چي خج په پښتو کي معنوي او شعري دواړه ارزښتونه لري . معنوي دا چي په کلیمو کي یې د ځای بدلون د کلیمو ترمنځ منځپانګیز(معنوي) او وینايیز ( تلفظي) بدلون پیښوي ، لکه د (غوټه) په کلیمه کي که خج پر لومړی څپه (غو) راشي د (بخڅي) معنا ورکوي او که چېرته پر دویمه څپه (ټه) باندې راشي د حملي په اوبو کي د ډوبېدو معنا څرګندوي.

دې ته ورته بله کلیمه (کونډه) ده ، که خج پر لومړی څپه (کون) راشي ، د (مېړه مړي) معنا ورکوي او که چېرته پر دویمه څپه (ډه) راشي ، ددروازې د زنځیر د مقابل لوري چي قفل پکي اچول کېږی ؛ معنا څرګندوي.
همدارنګه د ګرامر له مخي ځیني فعلونه د خج په بدلولو ، نابشپړ (استمراري) څخه پر بشپړ (مطلق) بدلېږي ، لکه د (کښېنم) فعل که چېرته خج پر لومړی څپه (کښې) راشي ( مطلق فعل ځني جوړېږي او که چېرته خج پر دویمه څپه (نم) راشي استمراري حال (فعل) ځني جوړېږي.

په همدې ډول د «ښکا'ري» په کلیمه کي خج پر لومړی څپې (ښکا) باندې راشي ، لیدل کېږي ، څرګندېږي ، معلومېږي فعل دی.

ښکار'ي خج پر وروستی څپې (ري') باندې نوم (ښکار کوونکی) فاعلي صفت دی . همدارنګه د ګرامر له مخي ځیني فعلونه د خج په بدلولو ، له نابشپړ (استمراري) څخه پر بشپړ (مطلق) بدلېږي ؛ لکه د (کښېنم) فعل که چېرته خج پر لومړی څپه (کښې) راشي مطلق فعل ځني جوړېږي او که چېرته خج پر دویمه څپه (نم) راشي استمراري حال ( فعل) ځني جوړېږي.

دا چي خج د کلیمو په جوړښتي نظام اغېزه لري ، دغه ډول د جملو په جوړښت او د هغوي په معنوي نظام هم بې اغېزي نه دی او کولای شي چي د خج په راوړلو یا ځای بدلولو جمله خپله معنا بدله یا له لاسه ورکړي.

که د جملي پر یوه توکي باندې زیات فشار راشي هماغه توکی خجن کېږي او نور توکونه یې بې خجه او یا کمزوري خجونه لري . دغه خجن توکي له نونور توکونو څخه زیات د مطلب ټکي بیانوي؛ د بېګي په توګه په دې لاندې جملو کي :

۱- زه کورته ځم .

۲- ما لیک ولیکه.

په پورته جملو کې که چېرې خج په (زه ) او (ما) ضميرونو باندې چې د جملې فاعل هم دي راشي ، نو دلته موږ سمدلاسه پوهېږو چې جمله د (څوک) او (چا) استفهامي ضميرونو په مرسته سواليه کېږي او يا برعکس که جمله د څوک او چا په مرسته سواليه شي ، نو موږ پوهېږو چې په ځواب کې جملوي فشار د جملو له نورو برخو څخه (۱) په (۲) پر (ما) باندې زيات دی.

مګر که چېرې جمله د چېرې ، چېرته - څه او يا داسې نورو ژبنيو مورفيمونو په واسطه سواليه شي ؛ نو پوهېږو چې په ځواب کې جملوي فشار پر (کور) ، (ليک) باندې راځي. او يا که فشار په خبري جملو (زه کورته ځم . ) يا (ما ليک وليکه.) کې د (کور) او ( ليک) باندې زيات وي ، نو سواليه جمله د (چېرې – څه ) او داسې نورو فورمونو په ذريعه سواليه کېږي.
ولې که فشار پر (ځم) او (وليکه) فعلونو باندې زيات وي ؛ نو په ځواب کې هم فشار په دغه برخه باندې راځي ؛ نو ويلی شو چې غونډليز يا جمله يي خج هماغه پياوړی خج دی چې د نورو توکونو يا واحدونو په ترڅ کې پر يوه سېلاب راشي او هماغه خجن توک تر نورو زيات موض (مطلوب) وښئي او نور توکونه - سېلابونه يا هېڅ خجن نه وي او يا د هماغه خجن يا پياوړي خج تر اغېز لاندې کمزوري ويل کېږي ، چې په دې اساس درې ډوله غونډليز خجونه سره توپيروو:

- پياوړی
- لږ پياوړی
- کمزوری

د پورته غونډليز خجونو د تطبيق لپاره پوهاند مجاور احمدزيار په خپل کتاب پښتو پښويه کې د استاد اولمير دا سندره راوړې ده :

«ستا د سترګو بلا واخلم ، بيا دې سترګې ولې سرې دي.»

چې پر (ولې) پياوړی ، پر (واخلم ) لږ پياوړی او پر (سترګو) کمزوری خج اورېدل کېږي. يا لکه په دې لاندې جملوکې:
ته کورته ځې ، ته کورته ځې ، ته کورته ځې.
اوس که د لومړۍ جملې په لومړني (ته) په ضمير پياوړی خج راشي دا جمله تعجبي يا هيښني ګرځي او دليکنښو په مراعات کولو بايد دا جمله په دې ډول وليکو :
ته کور ته ځې !

په دويمه جمله کې د (کور) په کليمه کمزوری خج راشي ؛ نو جمله خبري يا بياني شکل غوره کوي او داسې ليکل کېږي :

ته کورته ځې .

همدارنګه که په درېيمه جمله کې (ځې) پر کليمه لږ پياوړی خج راشي ، نو جمله د پوښتنې بڼه غوره کوي او داسې ليکل کېږي :

ته کورته ځې ؟

يوه بله خبره چې دلته يې يادونه اړينه ده ، هغه داده چې د جملط د تلفظ او ادا کولو په وخت کې د فشار د ځای بدلول مستقيماً د جملې معنا بدلوي ، نو ښه به دا وي چې د يوې جملې د لوستلو پر وخت ، ددې خبرې خيال وساتو چې فشار اچول ضروري وي په هماغه ځای کې مراعات شي ؛ د بېلګې په ډول دا اندې جمله وګورئ :

دا زما ورور دی .

اوس که چېرې د جملې په لومړي سېلاب فشار راوړو ؛ نو په دې صورت کې د جملې ويونکی د خپلو ورور له کار او عمل څخه راضي او خوښ معلومېږي ، همدرانګه که چېرې جمله په کمزوري فشار ادا شي يوه بيانيه جمله ترې جوړه او پورته دواړه مانيز اړخونه بايلي.

خج نظمي يا په بله وينا شعري ارزښت هم لري ، په دې معنا چې د يو بيت په مسره کې بېلابېل رکنونه د همدې خج پر بنسټ رامنځته کېږي . په پښتو نظمونو کې د هرې مسرې په څلور څنګ په څنګ څپو کې يوه يې خجنه وي چې د همدغه قانون له مخې د پښتو نظم هر رکن له څلور څپو څخه رامنځته کېږي.

که چېرته د يو نظم د لومړی مسرې د لومړی رکن پر هره شمېره څپه خج راشي د ورپسې رکنونو په هماغې شمېر څپې د خج شتون اړين دی ، که چېرته ځای يې بدلون ومومند د نظم آهنګ ( تون) ټکنی کوي چې بيا د لوستونکو يا اورېدونکو په غوږو ښه نه لګي او خپله وزني ښکلا له لاسه ورکوي.

**۳- هېجا ، څپه يا سېلاب**

د وينا په وخت کې وينا پر وړو وړو ټوټو بېلېږ چې په خپلو منځو کې اړيکې سره لري ، دا وړې ټوټې د سېلابونو په نامه يادېږي. پښتو څپه ، عربي هېجا ، انګرېزي syllable او سېلاب syllable يې لاتين نومونه ده .

په یوه ژیه کي د یوه یا زیاتو غږیزو یوونونو ( واحدونو) هغه ټولګه یا ټوټه ده چي له یوه خپلواک (a , á , e , I , o , u) یا یوه خپلواک او یوه یا څو بېواکو (b , g , h , f , k , l , m , n , p…) رغېدلې وي ، یا له یوه خپلواک او یوه نیمواک (w , y) او یا هم له یوه خپلواک (واول) ، یوه نیمواک (سیمي واول) او یوه یا څو بېواکو ( کنسونینټو) څخه منځته راغلي وي او په یو ځایي ډول په خورا لنډ مهالټکي یا زماني نقطه کي په یو وار سا ایستنه له خولي راوځي . یو خپلواک هم خانته جلا یوه (یو فونیمي) څپه رامنځته کولای شي او هم د یوه بېواک یا نیمواک په ملتیا ( دوه فونیمي) او همداراز د یوه نیمواک او څو بېواکو په ملتیا .

مانا دا چي خپلواک یو خوا ځانته یوازې یو فونیمي څپه رغولای شي او بلخوا د دغو نورو په ملتیا لنډې او اوږدې څپې ؛ خو یو بېواک یا نیمواک بې د خپلواکو له ملتیا ، نه ځانته څپه رغولای شي او نه دواړه په ګډه ؛ له همدې کبله خپلواک ته د څپې زړی ( هسته ) هم وایي . هر غبرګغږ (دیفتونګ) هم څپه بلل کېږي ، ځکه یو خپلواک او یو نیمواک (واول او سیم واول) رانغاړي. ( مجاور احمدزیار ، پښتو بدلمېچ، ۴۸ مخ)

د پورته یادونو په ترڅ کي ویلای شو چي :

څپه د ویلو پر مهال همغې ټاکلي برخي ته وایي چي د خولي په یو وار پرانیستلو بې فاصلي او پرېکېدو وویل شي . کله څپه یوه خپلواکه کلیمه وي چي خپلوکه معنا لري او کله د کلیمي یوه برخه چي خپلواکه او مستقله مانا نه لري.

استاد مجاور احمد زیار پخپل کتاب «پښتو پښویه» کي د حقشناس په حواله څپه یا هجا داسي راپېژني :

« څپه یو مرکب غږیز یوون (واحد) دی چي له یوه یا څو زنځیري او یو یا څو نا ځنځیري ، یوونونو څخه رغېدلی وي.» (۳۲:۴۳ مخ)

د وینګه له مخي څپه په وازه او تړل څپه باندې وېشل کېږي:

**وازه یا (خپلواکپایه) څپه**

که د څپي وروستی اواز خپلواک وي ، یعني پر یوه خپلواک (واول) پای ته رسېدلی وي ، وازه څپه بلل کېږي . پښتو اووه (۷) خپلواک اوازونه لري. د څپي په پای کي یي بېلګي په لاندې ډول دي :

۱- په زور (a) پایته رسېدلي څپه : دوه = dwa ، څه = za ، نه= na ، ښه = xa ...

۲- په زورکي (ə) پای ته رسېدلي څپه : څه = cə ، ښه xə ، تره = trə ...

۳- په الف ( á) پایته رسېدلي څپه : ما = má ، ورا= wrá ، تا = t á...

۴- په څرګنده (ي =i) پایته رسېدلي څپه : شي = ṣi ، ځي = zi، دي= di...

۵- په اوږده یا مجهوله (ې) پایته رسېدلي څپه : چې = Če ، دې = de ، کې = ke ، درې= dre...

۶- په واو (ú) پایته رسېدلي څپه : ګو= gú ، لو=lú

۷- په اوږد واو (o) پایته رسېدلي څپه : مو = mo ، خو= xo...

**تړلي څپه**

که د څپې پای یا وروستی اوازو بېواک (کنسونینټ ) یا غبرګغږ (دیفتونګ) وي تړلي (بنده) یا بېواکپایه څپه ورته وایي؛ لکه :

اور= or، کور= kor، پوست = post، چرګ = əČrg ، لاس = las، خج = zaj، روڼ = roṇ، څوک = cok، څرک = crək ، خوند= xwand، ورى = wray، ځای= záy، ویاړ = wyáṛ ، ویر = wir ، توپ = top...

اړینه نه ده چې هره څپه دې معنا ولري او د یو مانیز توکه (ویي ، وییکي) په توګه په آزاد ډول وکارول شي او یا په یوه لوی ژبني یوون غونډ ( عبارت ، فقره) یا غونډله ( جمله) کې دننه کوم مانیز یا پښوییز (ګرامري) چار پرځای کاندي ، خو نامانیزه څپه ازاده نه ، بلکي تل د دغو لویو جوړښتونو دننه راتلای شي.

د غږونو د شمېر له مخې يې څپه په درې ډولونو باندې هم وېشلي ده :

**۱: لنده څپه**

د جوړښت له مخې په دوه ډوله ده :

الف: یو بېواک + یو حرکت (خپلواک) : به (بـِ)، نه (نَ) .

ب: (اَ) ، ( اِ)، (اُ) په یوازې ډول : لکه د ( اَ نار) (anár) ، ( اِمام) imám ،او( اُتاق ) utáq، په کلیمو کې .

۲- یو بېواک + خپلواک : ما má، چې Če ، شو Šo .

۳- (آ) ، (اِې) ، ( او) : آر ár ، آرام árám، ایمان imán، او اُولس uləs په کلیمو کې .

په پورتنيو څپو کې هم (آ) په حقيقت کې له يو بېواک (همزه) او يو خپلواک څخه جوړه شوې ده او د هغې معادل (تا) او (عا) ده .

همدارنګه (اې) د (يې) او (عې) برابره څپه ده او (او) د (تو) او (عو) برابره څپه ده چې د دويمې ګڼې له څپو سره توپير نه لري.

۴- (آ)، ( اِ) او (اُ) + يو بېواک : (آن)  án ، اِنسان insán  او اُستاد  ustád په کليمو کې.

**۳- راکښلې څپه**

په پښتو کې په لاندې بڼو ليدل کېږي :

الف : يو بېواک + يو جرکت + دوه بېواکه : درد dard، خُرد zurd، وخت waxt، تنګ tang، مست mast، هستhast ...

ب: دوه بېواکه + يو حرکت + يو بېواک : تلم tləm، ورځ wraz...

ج: يو بېواک + يو خپلواک + يو بېواک : کال kál، تېر ter، تورtor...

د : دوه بېواکه + يو خپلواک + دوه بېواکه : خواست xwást، نماست nmást، ځغاست zğást...

هـ : دوه بېواکه + يو حرکت + دوه بېواکه : ژوند žwand، خوند xwand ، ږمنځ Ẓmanz ...

و : درې بېواکه + يو حرکت + دوه بېواکه : شخوند žxwand.

په همدې ډول ځيني نورې څپې ...

**۴- بېلتون او پيوستون ( فصل او وصل )**

بېلتون يا وقفه ، پيوستون يا اتصال ، دا معنا چې د نحوي واحدونو (ترکيب ، عبارت ، جملو) د پای وييونه (کليمې يا مورفيمونه) سره پيوست (متصل) بې له لارغي (بې مکثه) او بې له ځنډه وويل شي او يا سره ناپيوست او په ځنډ سره . دا چې دغه بېلتون او پيوستون يوازې د نحوي واحدونو تر منځ نه ، بلکې د غږپوهنيزو هغو ترمنځ هم نقش او اغېز لري ؛ نو د خج ، آهنګ او غاړې (لحن) غوندې بېلتون او پيوستون يا فصل او وصل څخه مقصد د کليمو ، عبارتونو او جملو په برخه کې د وينا اصلي او سمه بڼه ده .

د جملي د برخو ترمنځ وقفه باید په خپل ځای کي مراعات شي ، یعني که وقفي ته په جمله کي اړتیا پیښه شي په هماغه ځای کي وقفه راشي او که چیری د دي اړتیا ولیدل شي چي د جملي برخه پیوسته او تړلي ادا شي ، نو هلته به پیوستون راځي او وقفه به پکي نه راوړل کیږي ، دا ځکه چي پخپله وقفه د جملي معنا ته تغیر او بدلون ورکوي او یا یي مطلوبه معنا له منځه وړي.

د بېلګي په ډول بیلتون او پیوستون د مجاور احمد زیار په لاندي بیتونو کي :

| | |
|---|---|
| کړي که بخشش د وصل رازیــــاره | زره سوزول پر ما ملنګ ښه دي |
| بولي دي بي علمه شیخ کافر ، زیاره | پتــــه د ښه بد خو پر محشر لګي |

د پورته شعر په لومړي نیم بیتي کي که (ز) له مخني ویي ، یا په بله وینا له مخني اواز (الف) سره پیوست وویل شي ، معنا یي داسي راځي چي ( یه یاره ) که ماته ( د وصل راز ) رابخشش کړي او که نه (ز) له یاره سره پټلیزه (پیوسته) وویل شي ، یا په بله ژبه د (الف ) او ( ز ) ترمنځ بیلتون او وقفه راوړل شي ، بیا دا معنا ښندي چي (یه زیاره !) که ماته د وصل بخشش راکړې . په دې توګه که مخنی معنا موخه وي ، په کار ده ، د (راز) او (یاره) وبیونه ، یا په بله وینا د (ز) او (ی) ترمنځ په تلفظ کي لارغه او بیلتون ، او له بله پلوه د (الف) او (ز) ترمنځ پیوستون راشي ، او که وروستی معنا موخه دي ؛ په کار ده ، د (را) و (زیاره) ، یا په بله وینا د (الف) او (ز) ترمنځ لارغه او بیلتون ، او له بله پلوه د (ز) او (ی) ترمنځ پیوستون راشي.

په دې ډول نوموړی نیم بیتي یا غونډله دوه رازه کاږو :

د لومړئ معنا له مخي : کړي که بخشش د وصل راز – یاره !

د دویمي معنا له مخي : کړي که بخشش د وصل را – زیاره !

په دې توګه په دویمه بېلګه کي هم یو مانیز بدلون پیښېدای شي.

د مطلب د ښه وضاحت لپاره دا لاندې بېلګي وګورئ :

۱- راځه ، مه ودرېږه .

۲- پاځه ، مه کښېنه .

۳- نورمحمد غمجن ، ولاړ.

۴- سورګل ستومان ، راغی .

۵- بریالی حیران ، ناست دی .

اوس که په پورته جملو کي د وقفو ځایونه تغییر کړو ؛ نو په معنا او مقصد کي يې هم تغییر او بدلون راځي ؛ په لاندې ډول :

۱- راځه مه – ودرېږه . ( نه راتګ او د درېدلو امر)

۲- پاڅه مه – کښېنه . (نه پاڅېدل او د کښېناستلو امر)

۳- نورمحمد – غمجن ولاړ . ( د نورمحمد په غمجن ډول تګ)

۴- سورګل – ستومان راغی . ( د سور ګل په ستړيا سره راتګ)

۵- بريالی – حيران ناست دی . ( د بریالي په حیرانه او تعجب سره ناسته )

ومولیدل چي په پورته جملو کي د بیلتون او پیوستون یا د وقفي د ځای په بدلولو د جملو معنا بدله شوه ، حتی د جملو د مسند الیه او مسند یا مبتدا او خبر د متعلقاتو په برخه کي بدلون رامنځته شو.

یا دا جمله :

ما ماماته یو کتاب راوړ.

په پورته جمله کي د لومړي (ما) او (ماما) ترمنځ بیلتون موجود د ی ، او که چیري دا بیلتون د (ماما) او وروستي (ما) ترمنځ راوړو ؛ نو باید جمله دا ډول ولولو:

ماما – ماته یو کتاب راوړ.

یعني په لومړی جمله کي وقفه د (ما او ماما ) ترمنځ راوړو ، او په دویمه جمله کي وقفه د (ماما او ما) ترمنځ راوړو ؛ نو د جملي مطلوبه معنا ورسره سمه بدلیږي.

یا په دا لاندې جمله کي :

هغه سر له سبا نه غواړي چي خپل کار پیل کړي.

ددې جملي معنا دا ده چي : « هغه سبا له خیره خپل کار پیل کوي.»

خو که چېرې دا وقفه (له سبا نه ) وروسته اوله (غواړې) دمخه راشي او جمله داسي وويل شي چې وقفه (له سبا) وروسته او (نه غواړې) د مخه راشي ، نو د جملي معنا به بدله شي او منفي بڼه به غوره کړي.

*یادونه : لیکنښي چې د لیک په سمو لوستلو کې د لوستونکي سره مرسته کوي او له تېروتنې څخه یې ژغوري ، د نورو غونډي د همداراز د ویمنیو توکونو (خج ، آهنګ ، لحن ، بیلتون او پیوستون ...)لیکنې پیلامونه یا سیمبولونه بلل کېږي.*

**د څلورم څپرکي لنډیز او پوښتني**

**لنډیز**

په څلورم څپر کې ، کې مو څلور مهم موضوعات : ( د جملي تعريف او پېژندنه ) د جملي اړوند د ځينو پوهانو آندونه ، په جمله کې د مورفيمونو ترمنځ اړيکي او د جملي د جوړښت خپلواک ، ناخپلواک او متمم توکي تربحث لاندې ونيول .

مونږ تل د خبرې کولو او يا ليکلو په ترڅ کې له جمله څخه کار اخلو او له هرې جملي جوړولو څخه مو اصلي موخه دا وي چې اورېدونکو او يا لوستونکو ته يو نظر يا فکر ولېږدوو.

جمله يا غونډله د مورفيمونو او کليمو يوه داسي ترتيب شوې مجموعه يا د يوې ژبې هغه خپلواکه گرامري ينه ده چې هم د جوړښت او هم د معنا له مخې پوره او بشپړه وي.

د جملي د تعريف او پېژندني په اړه د ژبپوهانو آندونه بېلابېل دي . ارسطو ، ديونيوس تراکس ، داکتر معين ، عربي گرامر ليکونکو ، شوروي پوهانو ، امريکايي ژبپوه ، ايراني ژبپوه داکتر پرويز خانلري ، زموږ د هېواد ژبپوهانو ، داکتر پوهاند مجاور احمدزيار ، داکتر زرغونه زېور ، پوهاند صاحب يمين . هر يوه د جملي اړوند بېلابېل تعريفونه وړاندې کړي دي . ځينو جمله د کلام او عبارت په نامه هم بللي ده ؛ خو ددې ټولو په تعريف او پېژندنه کې د جملي د تعريف په اړوند گډ ټکي دا دي چې :

جمله د وينا هغه واحد دی چي پوره مطلب رسوي ، که چېرې جمله له يوې کليمي څخه جوړه شوې وي ؛ خو شرط يکي دا دی چي د يوې جملي يا غونډلي پوره مفهوم به افاده کوي ، مقيده او تړلي نه وي ، له خپل ځان نه د يوې لويې بڼي ( شکل) برخه نه وي.

د جملي بنسټيزې ځانگړني به دا وي:

۱- د جملي ټولي کليمي بايد معنا ولري .

۲- د جملې کليمې باید داسې تنظیم شي چې جمله معنا ولري .

۳- د جملې کليمې باید داسې تنظیم شوې وي چې جمله مفهوم ولري .

۴- جمله باید تل بشپړه وي .

۵- د جملې د عناصرو (مسنداليه ، مسند ، اسناد ...) ترمنځ بادی تل له ګرامري اړخه سمون (مطابقت ) موجود وي.

د جملې د جوړښت رغنده توکي مورفيمونه او کليمې دي . د پښتو ژبې په نحوي سيستم کې د کليمو او مورفيمونو ترمنځ اړيکې موجودې دي ، چې دا اړيکې زياتره د ناخپلواکو مورفيمونو :(سرينو ، پسينو ، ادات ، عطف و ربط) په واسطه منځته راځي.

په جمله کې د مورفيمونو ترمنځ اړيکې په دوه ډوله (عطفي اړيکې ، تابعي اړيکې) دي .

- په عطفي اړيکو کې د جملې د خپلواکو مورفيمونو ترمنځ او یا پخپله د دوو ساده جملو ترمنځ د عطف اداتو په واسطه په مساوي او متوازن ډول اړيکې ټينګيږي.

په تابعي اړيکو کې تابعيت موجود وي او په څلور ډوله تړلې کيږي.

- د سمون اړيکه چې د جملې د اجزاوو يا برخو ( مبتداء او خبر) ترمنځ ګرامري سمون او مطابقت موجود وي او دا مطابقت د جنس ، عدد ، حالت او شخص له مخې په نظر کې نيول کيږي.

- اضافي اړيکه کې يو مورفيم له بل مورفيم سره د اضافت اداتو ( د ، ز ، س ) په واسطه خپله اړيکه ټينګوي . د مضاف مورفيم ته ټاکل شوی او مضاف اليه مورفيم ته ټاکونکی مورفيم وايي.

- د ملتيا په اړيکه کې تابع شوی مورفيم يا کليمه د تابع کوونکي مورفيم يا کليمې سره څنګ په څنګ راځي او ترمنځ يې اضافي رابطوه او پسينو ته اړتيا نشته .

- د تړني په اړيکه کې د جملې خبر تابع شوې کليمې مجبوروي چې په جمله کې د بشپړوونکي يا نحوي قيد په ډول واقع شي .

د يوې جملې په جوړښت کې لومړی خپلواک توکونه يا مورفيمونه ( نومونه ، ستاينومونه ، شمېرنومونه ، نومځري او فعلونه ) راځي. دغه خپلواک توکونه په ځانګړې توګه مختلفو پوښتنو ته ځوابونه ورکوي ، د موضو ع څرنګوالی ، څومره والی ، فعاليت او داسې نور مفاهيم نوموي.

دویم د جملی د جوړښت مرستیال یا کومکي توکي ( عطف و ربط ، ادات ، سریني او پسیني ) دي . دغه ناخپلواک توکي په جلا او مستقیمه توګه پوښتنو ته ځواب نه ورکوي ، د کوم شي یا څیز نومونه نه دي . یوازې په جمله کې ګرامري معنا رسوي ، د جملې د اصلي توکونو ، ترکیبونو او جملو ترمنځ ارتباط او اړیکه ټینګوي.

د غونډلي (جملي) په جوړښت کې پر خپلواکو او مرستیالو توکو سربېره د جملې متمم توکونه هم شته چې په هغو کې : ( خج ، سېلاب ، آهنګ ، بیلتون او پیوستون) راځي . دا توکونه د لیکنښو سربېره د جملې په معانیز جوړښت او د ویلو په ډول څرګنده اغېزه کوي چې په فونولوژي کې دا برخه د سوپرا سیګمنټ په نامه بلل شوې او په ځینو ګرامرونو کې ورته عروضي فورنیمونه ویل شوي دي.

## تمرین او پوښتنې

### لومړی تمرین

د ټولګي محصلین دې د جملې اړوند د پوهانو اندونه او نظریات په کتاب کې ولولي بیا دې هر محصل خپل نظر نورو ټولګیوالو ته وړاندې کړي. ښوونکی دې د محصلانو نظرونه وڅاري او د پایلې په توګه دې د جملې د پېژندنې په اړه خپلو توضیحات وړاندې کړي.

### دویم تمرین

محصلین دې د ټولګي په پام کې نیولو سره په پینځو ګروپونو ووېشل شي ، هر ګروپ دې لاندینی متن په ځیر سره ولولي ، په متن کې د راغلو جملو خپلواک او ناخپلواک توکي دې سره بېل کړي ، بیا دې هر ګروپ د نورو ټولګیوالو په وړاندې د همدغو توکونو د پېژندلو په اړه خپل لیکلي توضیحات وړاندې کړي.

د کوم ځای دی؟

یو کور یې دلته بل په کابل کې ، بل په یو بل ځای کې .

څه ځمکه په کوهدامن کې لري څه په بغلان کې ، څه په بل ځای کې .

نقدي روپۍ په رشوتونو دلته پیدا کوي ، مګر ګټه ورباندې نور بانکونه کوي په یو بل ځایک ې .

ته ووایه چې دا د کوم ځای دی؟

مینه یې له دې خلکو سره نشته او د نورو ملکونو خلک ورته ډېر ګران دي.

ددې وطن له شعر او موسیقی نه خوند نه اخلي او د خارجي میوزیک په صفت مړېږي نه .

مونږ ته په نفرت ګوري او پردیو مستخدمینو په مقابل کې ډېره تواضع کوي . ته ووایه چې دا د کوم ځای دی؟

دی د هېڅ ځای نه دی ، ځکه چې هر ځای د ده دی او سړی ورته هرځایي ویل شي.

هو! دا هغه مرغان دي چې څلور فصلونه په څلورو مملکتونو کې تېروي او وطن نه لري . وطن نه پېژني ، د یوه وطن په هوا کې نه الوزي د وطن تودې او سړې نه شي تېرولای .

مونږ هغه کسان ددې وطن بللي وو چې د وطن په کاڼو او بوټو سر ورکوي او په سختو ورځو کې د وطن پکاربېږي ، که څه هم پولي او پټي نه لري او په زړو کوډلو او جونګړو کې اوسي.

هو ! زما په عقیده دا وطن د هغه چا نه دی چې د ډېرو ځمکو قبالې یې اخیستې دي ، بلکې د هغه چا دی چې د وطن مینه یې په زړه کې ده او له وطن سره علاقه لري.

لاندې پوښتنو ته لنډ ځوابونه ولیکئ :

۱- جمله له یوه عبارت سره څنګه توپیرولای شئ ؟

۲- د یوې جملې د جوړښت خپلواک توکي کوم دي؟

۳- د جملې په جوړښت کې د ناخپلواکو توکو دندې څه دي؟

۴- د جملې بشپړ اند یا متمم توکي په کومو نومونو یادېږي؟

۵- خج څنګه راپېژندلای شئ ؟ او په پښتو نظمونو کې یې په ارزښت خبرې وکړئ.

۶- د آهنګ اغېزه د جملې په معنا کې څنګه توضېح کولای شئ؟

۷- د لیکنښو سمه کارونه په لیکنه او ینا کې څه رول لري؟

۸- څپه تعریف کړئ ، د یوې کلیمې څپې څنګه بېلولای شئ؟

۹- د جملې ځانګړتیاوې بیان کړئ.

۱۰- تابعي اړيکي څنګه توضيح کولای شئ ؟

۱۱ – لنډه څپه تعريف او بېلګي يې وليکئ .

۱۲- اوږده څپه کومي څپي ته وايي ؟ بېلګي يې وليکئ.

۱۳- د وازې څپي او تړلي څپي توپير څنګه کولای شئ؟ بېلګي يې وړاندې کړئ .

۱۴- لاندې هره جمله په غورسره ولولئ ، په جمله کي د کليمو ترمنځ پر اړيکو باندې خبرې وکړئ.

- پوهني وزارت د سرو سيمو زده کوونکو ته جامي ووېشلي .
- د احمدشاه بابا مېني کوڅي بيا رغوني ته اړتيا لري.
- يرغلګرو د سرو انارو باغونه د خاورو سره سم کړل.
- د ننګرهار ولايت اوسېدونکو د ولسمشر سره وکتل.
- په کلي کي واده شوې نجلۍ کونډه شوه.
- د ښووني او روزني پوهنتون زده کوونکو د سولي ورځ ولمانځله .
- مورې د خامو خښتو څخه جوړ شوي کورته کډه وکړه.

**څلور ځوابه پوښتني**

لاندې هرې پوښتني ته څلور ځوابه ليکل شوي دي ، تاسي يې سمه ځواب په نښه کړئ :

۱۵- په لاندې کليمو کي درې هيجايي کليمه په نښه کړئ :

الف: ژوند ب: امام ج: کېوال د: پلورل شوي.

۱۶- لاندې هغه کلميه په نښه کړئ چي دوه هجاوې ولري :

الف: ملګرى ب: صفت ج: خواږه د: خواست

۱۷- لاندې هغه کليمه په نښه کړئ چي يوه هجا يا سېلاب ولري :

الف: کال ب: شخوند ج: ساده د: الف او ب ځوابونه سم دي.

۱۸- په لاندې کلیمو کې هغه کلیمه په نښه کړئ چې له څلور څپو رغېدلې وي :

الف: مېلمستیا ب: نندارتون ج: بریالیتوب د: لوغړن

۱۹- د غږونو د شمېر له مخې څپه په څو ډولونو باندې وېشل شوې ده :

الف: یو ډول ب: دوه ډوله ج: درې ډوله د: څلور ډوله

۲۰- په لاندې کلیمو کې هغه کلیمې په نښه کړئ چې د وینګ له مخې تړلې څپه ولري :

الف: چې ب: دې ج: ځي د: مور

**سمي او ناسمي پوښتني**

لاندې هره پوښتنه په غور سره ولولئ ، که سمه وي د (ص) او که ناسمه وي د (غ) توری ورته ولیکئ :

۲۱- ( ) دا اړینه ده چې هره څپه دې معنا ولري.

۲۲- ( ) که چېرې په یوه کلیمه کې دوه واول (خپلواک) غږونه راغلي وي د څپو شمېر به یې درې څپې وي .

۲۳- ( ) د جملې د تلفظ په وخت کې د خج د ځای بدلول مستقیماً د جملې معنا بدلوي .

۲۴- ( ) آهنګ په خپله کومه خپلواکه ژبنی نښه یا علامه نه ده ، بلکې د نحوي واحد یو خصوصیت دی.

۲۵- ( ) وییکي یا ادات د غونډلې دننه جولیزه او مانیزه خپلواکي لري.

**تکمیلي یا منځتشي پوښتني**

د لاندې پوښتنو خالي ځایونه په مناسبو کلیمو او عبارتونو سره بشپړ کړئ:

۲۶- په اضافي اړیکه کې یو مورفیم له بل مورفیم سره د ..........................اړیکه ټینګوي.

۲۷- په تابعي اړیکو کې ..............................موجود وي.

۲۸- تابعي اړيکي په ..................................دوله ترلي کېږي.

۲۹- په جمله کي د کليمو ترتيب دا معنا چي د جملي رغنده توکي بايد داسي ترتيب شي چي .......................ولري.

۳۰- جمله د يوې ژبې هغه خپلوکه گرامري بڼه ده چي هم د ..................................پوره او بشپړه وي.

**مقابلوي پوښتني**

لاندې يو طرف ته تعريف او بل طرف ته اصطلاح درکړل شوې ، تاسي يې سره اندول کړئ.

۳۱- (        )د يوې ژبې هغه خپلوکه گرامري بڼه چي هم د جوړښت او هم د معنا له مخي پوره او بشپړه وي.

۳۲- (        )د يو په وينا : « هره نظريه (مفهوم) د جملي په شکل څرگندېږي ، مگر ټولي جملي مفاهيم نه څرگندوي....

۳۳- (        )د يوناني پوه په آند :«جمله په نظم او نثر کي د کليمو او الفاظو د مجموعي څخه عبارت ده چي پوره معنا او مفهوم څرگند کړي.»

۳۴- (        )د جملي د خپلواکو مورفيمونو او کليمو ترمنځ او يا د دوو ساده جملو ترمنځ د عطف اداتو په واسطه په مساوي او متوازن ډول ټينگېږي.

۳۵- (        ) د ژبني جوړښت له پلوه هغه ناځنځيري توک دی چي د گړهار په بهير کي د آواز د کښته پورته والي يا زيرو بم رامنځته کوی.

۳۶- (        )د يوې ژبنی څرگندوني پر يو ټاکلي ځای باندې د غږ سختوالي يا شدت هسکوالي ته وايي.

۱- بلوم فيلډ
۲- عطفي اړيکي
۳- جمله
۴- تابعي اړيکي
۵ - آهنگ
۶- ارستو
۷- فصل و وصل
۸- تراکس
۹- خج
۱۰- څپه يا سېلاب

**د څلورم څپرکي وروستی تمرين د کورنی دندې په توگه**

زده کړيالان دې هر يو لاندې جملي په کور کي ولولي ، په هره جمله کي د کليمو تر منځ د اړيکو ډولونه ونوموي ، د جملو د جوړښت رغنده خپلواک او مرستيال توکي دې سره بېل کړي او دبلي ورځي د نحوي مضمون په درسي ساعت کي دې هر زده کړيال خپله ليکلي کورنی دنده نورو ټولگيوالو ته د سمينار په توگه وړاندې کړي.

۱- پوهنه نړۍ رڼا کوي.

۲- په سپرلي کې ګلان غوړېږي.

۳- اجمل د انګرېزي ژبې ښوونکی دی.

۴- زه په دري ژبه لیکل او لوستل کولای شم.

۵- چا زموږ په هېواد کې د جګړې اور بل کړی دی.

۶- زده کړیالانو! له مور او پلار سره ښه سلوک کوئ .

۷- د اسلام له نظر سړي او ښځې برابرې دي.

۸- کله چې جومات ته داخل شئ ، نو سنت طریقه دا ده چې لومړی به دوه رکعته لمونځ کوئ .

۹- د خلکو سره مرسته پکار ده.

۱۰- افغانستان په یوه ښکلې او ښایسته هېواد بدلوو.

۱۱- موږ له خپلو هېواد سره مینه لرو.

۱۲- ادیب هغه څوک دی چې په ادبي علومو کې د پوهې خاوند وي.

۱۳- زموږ یوازینی هیله دا ده چې خپل هېواد اباد کړو.

۱۴- زه له هغه چاسره مینه لرم چې له خپلو هېواد سره مینه ولري.

۱۵- هغه څوک چې د هېواد لپاره زیار نه شي ګاللی ، ښاغلی سړی نه دی .

۱۶- د اسلام سپېڅلي دین ښځو ته د رایې ورکولو حق ورکړی دی .

۱۷- حضرت عایشه (رض الله عنهما) د لومړي خلیفه حضرت ابوبکر صدیق (رض) لور او د حضرت محمد (ص) مېرمن وه .

۱۸- په اسلام کې تعلیم حاصلول پر نر او ښځه فرض دي.

۱۹- جنت د مور تر قدمو لاندې دی.

۲۰- مېړه او مېرمنې ته پکار دي چې د یو بل پر عیبونو باندې پرده واچوي.

## پینځم څپرکی

### د غونډلې (جملې) برخې

د جمل د پېژندنې او د جملې د جوړښت رغنده توکونو (آر او مرستیالو) او همدارنګه د جملې د بشپړ آند (متمم) او عروضي توکونو په باب مو په تېر (څلورم ) څپرکي کې اړینې خبرې وکړې ، دلته موږ غواړو چې د پښتو جملو د بنسټیزو (اساسي) برخو : ایښې ، ایښونې (مبتداء – خبر) یا مسندالیه - مسند او پیرو برخو :(بشپړوونکی (مفعول) تاکونکی او نحوي قید ) په باب خپل بحث ته ادامه ورکړو.

دلته زموږ موخه دا ده چې هره یوستوې یا غبرګه جمله چې د (فاعل ، مفعول ، فعل) یا (فاعل او فعل) او ورسره یوځای متعلقاتو درلودونکې وي څنګه سره اړوندېږي او یو له بله سره سمون او مطابقت ښئي.

دابه هم جوته شي چې په غونډله (جمله) کې یوازې هغه خپلواک مورفیمونه او کلیمې نظر خپل نحوي موقعیت ته د جملې په اجزاوو یا برخو کې راځي چې هغه پوښتنې ته ځواب وویلای شي او د معنا له پلوه خپلواکې وي؛ لکه : نوم ، ستاینوم ، شمېرنوم ، نومځری او کړ (فعل).

ناخپلواکې کلیمې یا مورفیمونه چې خپلواکه معنا نه لري او په ژبنې بهیر کې هم په خپلواک ډول نه کارول کېږي ، د جملې خپلواکه برخه (مبتداء – خبر) نه شي کېدای .

کېدای شي دا ډول مورفیمونه نه یوازې له خپلواکو مورفیمونو سره د اړیکو د ټینګولو لپاره راشي ؛ نو د غونډلې (جملې ) اجزاوې په دوه ډوله وېشل کېږي :

- لومړی هغه اجزاوې چې په جمله کې اساسي ښه لري ، یعنې د جملې اساسي برخې دي.

- دویم هغه برخې ته چې د جملې پیروې برخې وایي.

### د غونډلې (جملې) اساسي برخې

جوته خبره ده چې یوه بشپړه جمله سربېره پر فرعي توکونو دوه بنسټیزې (اساسي) برخې لري چې له پیوستون څخه یې بشپړ مطلب لاسته راځي.

د غونډلي دا بنسټيزې برخې : مبتدا او خبر دي. مبتدا او خبر يا اينسى او ايښونى د يوې جملې اساسي برخې يا زړى (هسته) جوړوي ، چې له فرعي اجزاوو او توکونو څخه پرته هم يوه پوره او بشپړه جمله جوړولاى شي ؛ لکه په دې لاندې جملو کې :

- زده کوونکي راغلل.
- ټولنه وده کوي.
- جرگه جوړه شوه.
- اجمل ښوونکى دى .
- ډوډۍ تياره شوه.

وينو چې په پورته هره جمله کې د مبتداء او خبر برخې په خپلواکه او مستقله توگه راغلي دي او نورو فرعي توکو ته يې اړتيا نه ده ليدل شوې .

په جمله کې دغه دوې اساسي برخې په اسمي او فعلي غونډونو بېلېږي ؛ چې اسمي برخې ته يې مسنداليه (فاعل) ، مبتدا يا نومول غونډ او فعلي برخې ته يې (مسند ، فعل ، خبر) يا کړوال غونډ وايي.

مخکې له دې چې په جملو کې مبتداء او خبر وپېژنو ؛ نو لازمه ده چې لومړى د مبتداء او خبر په هکله يو څه معلومات وړاندې کړو:

**لومړى: مبتداء (مسنداليه – فاعل =*subject***

مبتداء يا مسنداليه ته په پښتو کې اينسى او په دري ژبه کې همدغه اصطلاح؛ د نهاد په نامه سره راغلې ده ، چې مطلب ترېنه د جملې يوه معينه او ټاکلې برخه ده .

د غونډلي (جملې) دغه بنسټيزه برخه (مبتداء) معمولاً د يو شي په باره کې معلومات ورکوي . يا په بل عبارت : د جملې هغه برخه ده چې د هغې په نسبت څه ويل کېږي ، ياني د هغې په باب خبر ورکول کېږي او يا هم دا چې جمله ورته حواله کېږي.

د جملې په دې برخه کې د کلام د ټولو اجزاوو څخه د شيانو نومونه ، ضميرونه ، شمېرنومونه ، ستاينومونه ، کړولونه (قيدونه) له ټولو ساده او مرکبو ښو سره د (فاعل يا مسنداليه) په توگه راځي.

Comment [M1]: سمه ښه دې د کتاب له ۱۴۷ پاڼې سره پرتله شي.

د مبتداء د پېژندنې لپاره لاندې جملې وگورئ :

۱- ملالۍ ښوونځي ته لاړه .

۲- اجمله ښوونکی دی .

۳- زه په کابل کې ژوند کوم.

۴- روغتیا لوی نعمت دی.

۵- بزگر په کرکیله لگیا دی.

۶- مېلمانه سهار وختي راغلل.

ومو ویل چې مبتداء معمولاً د یو شخص او د یو څیز په باره کې معلومات ورکوي او د (څوک ، چا ، څه ) پوښتنو ته ځواب ورکوي. گورو چې پورته جملې د څه په هکله دي:

لومړی جمله د (ملالۍ) په هکله ده ، چې په دغه جمله کې د (ملالۍ) ښځينه نوم د مبتداء په نامه يادېږي او موږته وايي چې جمله د څه شي په هکله ده .

دویمه جمله د (اجمل) په هکله ده . په دغه جمله کې د (اجمل) برخه چې خاص نوم دی د جملې د مبتداء په نامه يادېږي او موږ ته وايي چې جمله د څه شي په هکله ده .

درېيمه جمله د (زه) په هکله ده . په دغه جمله کې د (زه) برخه چې د لومړي وگړي لپاره د نومځري په توگه کارول شوې ، د جملې د مبتداء په نامه يادېږي او موږ ته وايي چې جمله د څه شي په هکله ده .

څلورمه جمله د (روغتيا) په هکله ده . په دغه جمله کې (روغتيا) برخه چې مجرد ستاینوم دی د مبتداء په نامه يادېږي او موږ ته وايي چې جمله د څه شي په هکله ده .

پينځمه جمله د (بزگر) په هکله ده . په دغه جمله کې (بزگر) برخه چې عام نوم دی د مبتداء په نامه يادېږي او موږ ته وايي چې جمله د څه شي په هکله ده .

شپږمه جمله د (مېلمانه) په هکله ده . په دغه جمله کې د (مېلمانه) برخه د جملې د مبتداء په نامه يادېږي او موږ ته وايي چې جمله د څه شي په هکله ده .

په دې توگه ویلای شو چې په پورته جملو کې په ترتیب سره :

(ملالی ، اجمل ، زه ، روغتیا ، بزگر ، مېلمانه) کلیمي د مبتداء په ډول راغلي دي چې د (څوک او څه شي ) پوښتنو ته ځواب وايي . د جملې مبتداء تل نوم ، نومځری یا د هغو معادل جوړښتونه وي. هغه معادل جوړښتونه چې د جملې مبتداء جوړوي په هغوي کې اساسي کلیمه نوم وي او د فاعلي نوم په نامه یادېږي.

**د مسند توابع**

مسندالیه په عام ډول یوازې راځي ، خو کله ورسره توابع هم راوړل کېږي . دغه توابع درې بڼې لري :

- یا به د صفت او بیان په بڼه وي

- یا به د تاکید او ټینګار په بڼه وي

- یا به د بدل او عطف په بڼه وي. (۴۴۲:۴۵)

**۱- د ستاینوم او ستایلي په بڼه**

د ستاینوم د راوړلو غرض د مسندالیه یا مبتداء وضاحت او څرګندوالی دی ، لکه په دې لاندې جملو کې :

۱- ښه صحت یو لوی نعمت دی .

۲- روغ صحت نیمه پاچاهي ده .

۳- منګرو زلفو لیونی کړم.

۴- ببرنی لویه جرګه د حامدکرزي پر مهال دایره شوه.

ستاینوم په عام ډول سره له مسندالیه نه دمخه راځي ، خو کله ورنه وروسته هم راوړل کېږي او د یو لقب حیثیت پیدا کوي ، په دې ځای کې د مبالغې او تاکید معنا ورکوي ، لکه :

- کاروان عاجز څوک نه لري .
- برېښنا غریبه څه نه لري.
- زه خورا به څه ورکړم.
- ما خوراي به څه کړي وای.

په دې جملو کې د (عاجز ، غريبه ، خوار ، خوراې ) کليمې د لقبي صفت په توګه راوړل شوي دي .

**۲- د ټينګار او تاکيد په بڼه**

د تاکيد د راوړلو په مقصد باور پيداکول او شک لرې کول دي. لکه :

- بريالی پخپله راغی.
- بريالی او توپېکی دواړه تللي دي.

په دې بېلګو کې (پخپله او دواړه) د مسنداليه د تاکيد کليمې دي او د تاکيد وظيفه پرځای کوي . که لـه مسنداليه نـه وروسته د جمع غايب ضمير راوړی شي ؛ نو دغلته په تاکيد سربېره د عاموالي معنا هم ورنه اخيستل کېږي ، لکه :

- سليم دوي راغلي وو.
- بريالی او تورپېکی دواړه تللي دي.

ددې جملو مطلب دا دی چې د سليم کورنی او يا ملګري ، يعنې د ده ټوله ډله راغلي وه او يا ولاړه وه .

**۳- بدل**

د بدل راوړل هم د وضاحت او خاصوالي لپاره وي ؛ لکه :

- ستا ورېره ملالی راغلې وه.
- زما ملګری اجمل کندهار ته تلل دی .

پـه دې جملـو کـې (ستا ورېره او زمـا ملګری ) تـه مبدل منـه او (ملالـی او اجمل) تـه بدل وايـي. چـې د مسنداليه د وضـاحت او خاصوالي لپاره راوړل شوي دي.

**۴- عطف**

کله له مسند اليه سره يو بل نوم د عطف په توګه راوړل کېږي ، چې په حکم او ځرنګوالي کې ورسره شريک وي او دواړه د مسنداليه حيثيت لري ؛ لکه :

- بريالی او توريالی بازار ته لاړل.
- بريښنا او ګلالی ننګرهار ته ځي.

په دې جملو کې (بريښنا او بريالی) ته معطوف عليه ، (توريالي او ګلالی ) ته معطوف او تابع ويل کېږي ، يا په بله وينا د مسند اليه عطفي تابع ګڼل کېږي.

**د مبتداء ډولونه**

مبتداء کېدای شي يوه ساده کليمه وي ، ترکيبي وي او يا په متعدد ډول سره . مبتداء کېدای شي چې د جملې په سر ، مينځ او پای کې راشي ، نو د جوړښت له مخې مبتداء په (ساده ، ترکيبي او متعدده ) باندې وېشل کېږي.

**۱- ساده مبتداء**

ساده مبتداء و هغې مبتداء ته وايي چې ساده جوړښت ولري ، يعني دا مبتداء بايد د يوې خپلواکې کليمې يا يوه خپلواک مورفيم څخه جوړه وي ؛ لکه :

مصطفی نن کنفرانس ورکوي:

(څوک )          څوک کنفرانس ورکوي؟

مصطفی کنفرانس ورکوي .

دلته ګورو چې مصطفی يوه کليمه يا نوم دی او د مبتداء په ډول راغلی دی. يا لکه په دا لاندې جملو کې :

۱- ملالی د ميوند د جګړې اتله پښتنه ده .

۲- ټاګور يوه نړيواله ادبي څېره ده .

۳- افغانستان لرغونی تاريخ لري.

۴- زړه د عاطفې مرکز دی .

۵- مور سوکاله ژوند غواړو.

په پورته جملو کې ګورو چې : ( ملالی ، ټاګور ، افغانستان ، زړه ، مور) ساده خپلواکې کليمې دي چې په جمله کې د مبتداء په ډول راغلي دي.

**۲- ترکیبي مبتداء**

ترکیبي مبتداء چې له یوې څخه زیاتي کلیمي په ترکیبي ډول مبتداء جوړه کړي او یا د مبتداء پرځای راشي ، خو شرط په يکې دا وي چې دا ترکیب به د تجزیي په صورت کې د مبتداء کار نه شي ورکولای . لکه :

- د پاکو اوبو څښل وجود ته ګټه رسوي.
- ښه زده کوونکي خپل درس په ټاکلي وخت زده کوي.

- د کومو اوبو څښل و جود ته ګټه رسوي ؟ ځواب: (د پاکو اوبو.)
- کوم زده کوونکي خپل درس په ټاکلي وخت زده کوي؟ ځواب: ( ښه زده کوونکي)

اوس که وغواړو داترکیب تجزیه کړو او بیا یي د متبداء پرځای وکاروو؛ نوخپل اصلي مفهوم نه افاده کوي. لکه : د پاکو ، ښه ...

یا لکه په دا لاندې جملو کې :

۱- د تولیداتو په زیاتوالي کې کارګران ستره ونډه لري .

۲- په افغانستان کې لومړنی خپرونه شمس النهار نومېده .

۳- «سراج الاخبار افغانستان» د امیرحبیب الله خان په واکمنی کې خپروني پیل کړې .

۴- ستا د پلار نوم میرویس خان دی.

۵- پښتو ادب ځانګه به پیاوړې کړو.

په پورته جملو کې : (د تولیداتو په زیاتوالي کې ، په افغانستان کې لومړنی خپرونه ، سراج الاخبار افغانستان ، ستا د پلار نوم ، پښتو ادب ځانګه ) ترکیبي کلیمي او عبارتونه د مبتداء په ډول راغلي دي ، ځکه ترکیبي مبتداء ورته وایي ، یعني د هرې جملې د مبتداء برخه ترکیبي جوړښت لري . یا لکه په دا لاندې جمله کې :

- د افغانستان ختیځ زون له څلورو ولایتونو (ننګرهار ، کونړ ، لغمان او نورستان) څخه جوړېږي.

**۳- متعدده مبتداء**

هغه مبتداء ته ویل کېږي چې څو مبتداوې د یو جزء په مقابل کې راغلي وي . یا په بله وینا :

که په یوه جمله یا غونډله کې دوه یا څو مبتدواوې د یو خبر په مقابل کې راغلي وي او ټولي یوه خبر ته ځواب ووایي متعدده مبتداء بلل کېږي او که تجزیه هم شي هره مبتداء یې د مبتدار کار ورکولای شي. لکه :

- مصطفی او هارون په یوه دفتر کې کار کوي.

د تجزیې په صورت کې :

- مصطفی په یوه دفتر کې کار کوي.
- هارون په یوه دفتر کې کار کوي.

یا لکه دا لاندې جملې :

- میرویس نیکه او احمدشاه بابا په تاریخ کې ځانګړی دریځ لري.
- د ننګرهار او کندهار هوا په ژمي کې ښه وي.
- هېواد او انیس زموږ د هېواد نامتو ورځپاڼې وي.
- شړل شویو سرتېرو او پاکستاني طالبانو بیا دجګړې ډګر ته راودانګل.
- ټاکل شوي ولسمشر او د اجرائیه شورا ریيس د امریکا د جمهور رئیس سره وکتل.

په پورته جملو کې (میرویس نیکه او احمدشاه بابا ، د ننګرهار او کندهار هوا ، هېواد او انیس ، شړل شي سرتیري او پاکستاني طالبانو ، ټاکل شوي ولسمشر او د اجرائیه شورا رئیس) متعددې مبتداوې دي چې هره یوه یې په جمله کې د یو خبر په مقابل کې راغلي ده .

**په پښتو ژبه کې د مبتداء (مسندالیه ، فاعل) ځرګندونه د کلام د بېلابېلو توکو په واسطه**

په ګرامري توګه مبتدا د جملې یوه خپلواکه او مستقله برخه ګڼل کېږي . په دغې برخه کې د کلام د ټولو اجزاوو څخه د فاعل (مسند الیه ) په توګه راځي ، چې په هغې کې د اشخاصو نومونه ، د شیانو نومونه ، ساکښ او بې ساه نومونه ، ضمیرونه ، صفتونه ، عددونه ، قیدونه ، په ساده یا مرکبو ( ترکیبي – اشتقاقي) شکلونو سره هم راځي . په پښتو ژبه کې د قاعدې له مخې نومونه ، صفتونه ، ضمیرونه ،عددونه برسېره په اصلي حالت په مغیره (غیراصلي) حالت سره هم راځي چې دغه برخه جوړوي.

همدارنګه د ارتباط له اداتو سره د پسینو او پیشینو سره هم یوځای راتلای شي. ( ۸۲:۴۶)

بېلابېلې بېلګې به يې په وروسته ډول راوړو:

**الف: په نوم سره د مبتداء ځرګندونه**

نوم هغه خپلواکه کلیمه ده چې بې د زماني له ارتباط څخه راز راز څیزونو او پدیدو ځرګندونه کوي؛ لکه : مړی ، تیږه ، لرګی ، ښایست ، روغ ... او داسې نور .

نوم چې ژبپوهان يې اسم بولي ، یو داسې نوم دی چې د یو ځای ، شي یا پدیدې نومونه او ځرګندونه کوي . په مجموع کې نومونه په دوه ډولو باندې وېشل کېږي :

- یو ډول يې ذات نوم یا اسم ذات دی ؛ چې په یو حس کېدونکي څېز اړه لري ، یعني داسې یوڅیز نوموي چې زموږ په حواسو لمس او حس کېدای شي؛ لکه لرګی ، ډبره ، ونه ، هوا ، لښته ، اوبه ... او نور.

- بل معنی نوم دی چې په یو غیرمحسوس څیز پورې اړه لري او جسماً په بهر کې وجود نه لري؛ لکه : بدي ، ښه والی ، پوهه ، فکر ، ننګر ، غیرت ، وېره ، غم ، اندېښنه ، درناوی ، سپکاوی ... او نور. ( ۳۴:۴۷)

د معنا له مخې نوم په خاص نوم ، عام نوم ، جنس نوم ، جمع یا جمعیت نوم ، صوت نوم باندې وېشل کېږي ، نو نوم او ډولونه يې په غونډله (جمله) کې د مبتداء دنده ترسره کولای شي.

اوس به په ترتیب سره په هر ډول نوم سره په جمله کې د مبتداء ځرګندونه (افاده) تربحث لاندې ونیسو :

**۱- په خاص نوم سره د مبتداء ځرګندونه**

خاص نوم چې یو ځانګړی څیز ، وګړی ، ځای یا کومه پدیده نوموي ، په جمله کې د مسندالیه یا مبتداء په ډول راتلای شي . لکه په دا لاندې جملو کې :

۱- بایزید روښان د مسجع نثر بنسټ اېښودونکی دی .

۲- میرویس نیکه صفویانو ته ماتې ورکړې ده .

۳- احمدشاه بابا د معاصر افغانستان بنسټ اېښودونکی دی.

۴- ملالی انګریزان په شا وتمبول .

۵- کابل ښار په خپلمنځي جګړو کې وران شو.

د پورته هرې جملې په جوړښت کې د جملې د جوړښت خپلواک او ناخپلواک توکي په ترتیب سره راغلي دي ، هره جمله معنا او مفهوم لري او د ګرامر له مخې سمې جملې دي .

- په لومړی جمله کې د ( بایزید روښان) کلیمه چې خاص نوم د جملې مبتداء ده .
- په دویمه جمله کې ( میرویس نیکه ).
- په دریيمه جمله کې (احمدشاه بابا ).
- په څلورمه جمله کې (ملالۍ) .
- په پینځمه جمله کې (کابل ښار) .

چې خاص نومونه دي د جملې د مبتداء په توګه راغلي دي . په همدې ډول په دا لاندې جملو کې :

۱- ننګرهار ولایت (۲۲) ولسوالی لري.

۲- جلال اباد ښار د ننګرهار ولایت مرکز دی.

*یادونه : هغه نومیزې کلیمې چې په پورته جملو کې دځانګړو خلکو ، شیانو ، ځایونو او حیواناتو لپاره کارول شوي وي ، خاص نومونه بلل کیږي.*

**۲- په عام نوم سره د مبتداء څرګندونه**

عام نوم داسې څیز یا پدیده نوموي چې ځانګړی او خاص نه وي ، بلکې ډولونه او څېلونه ولري ؛ لکه : هېواد ، څاروي ، ونه ، هلک ، کتاب ، نجلی او نور ...

یعنې په یوې همرنګې ډلې ( ګروپ) پورې اړه لري او د نومېرنې (تشخیص) لپاره له «کوم؟» یا «کوم یو ؟» پوښتنې سره مخامخیږو.

دا ډول نومونه په غونډله (جمله) کې د متبداء برخه جوړولای شي اود مبتداء یا مسندالیه په توګه راتلای شي ، یعنې مبتداء یو عام نوم وي ، دغه نوم په جمله کې نسبت نورو نومونو ته اساسي وظیفه ترسره کوي . لکه په دا لاندې بېلګه یې جملو کې :

۱- هلک پیسي غلا کړې .

۲- کتاب د زده کړې ښه وسیله ده .

۳- بزګر په کر کیله لګیا دی .

۴- مېلمانه سهار وختي له خوبه پاڅېدل .

۵- څاروي په خوړلو لګیا دي.

لومړی جمله د (هلک) په هکله ده ، په دغه جمله کې د (هلک ) برخه د جملې د مبتداء په نامه یادېږي.

دویمه جمله د (کتاب) په هکله ده او د (کتاب) برخه یې د جملې د مبتداء په نامه یادېږي.

دریمه جمله د (بزګر) په هکله ده او د (بزګر) برخې د جملې مبتداء جوړه کړې ده .

څلورمه جمله د (مېلمنو) په باره کې ده او د (مېلمانه) کلیمې د جملې مبتداء جوړه کړې ده .

پینځمه جمله د (څاروي) په هکله ده او د (څاروي) برخه د جملې د مبتداء په نامه یادېږي.

پورته هره یوه جمله کې په عام نوم سره د مبتداء برخه څرګنده شوې ده .

یا لکه په دا لاندې جملو کې:

۱- ونه یې له بېخه ویستله .

۲- نجلۍ یې په وهلو وهلو له کوره وشړله .

۳- هېواد به په مېړانه وساتو.

(ونه ، نجلۍ ، هېواد) مفرد عام نومونه دي ، چې په جملو کې د (مسندالیه ، فاعل) وظیفه لري.

**۳- په جنس نوم سره د مبتداء څرګندونه**

دا نوم په یوه نه شمېرېدونکي څیز (جنس) پورې اړه لري او د خپل همجنس سره په لږو او ډېرو باندې یو شان دلالت کوي ؛ لکه : اوبه ، زر ، غوړي ، غنم ، کوچ ، چرس ، بنګ ،کوکنار ، جوار ، واښه ، سابه ، کورت ، درمل ، ویټامین ، هایدروجن ، یو لړ نور نومونه (جنس نومونه) چې ښځینه پایلې لري او بې له دې چې شمېر وړ اوسي ، د یوګړي په توګه کارول کېږي او له دې سره د نورو نومونو غوندې د ډېرګړي او پېر پایلې (جمع او حالت خاتمه) هم راخپلوي ، لکه : اوسپنه ، خټه ،

بوره ، شکره ، خاوره ، ایره ، غله ، مالګه ...   که یو نوړنوم (جنس نوم) ډولونه ولري ؛ نو بیا هم ډېرګړي او شمېر وړ کېدای شي ، لکه : ویټامین ( ویټامینونه ) ، درمل (درملونه) ، واکسین ( واکسینونه) .

هرګوره ، نوړ نومونو نرینه او ښځینه توپیر د پایلو له مخې کېږي . نرینه ، لکه : غنم ، غوړي ، سابه .

ښځینه لکه :اوبه ، اوربشي ، نکریزي ، شودې ، مستې . یو نیم ډېرګړی نوړ نوم پر یو ګړي هم اړول کېږي ؛ لکه :

- د غزني غوړي ښه دی

- د کندوز اوبه ښه ده ... (۹۷: ۴۸)

په جنس نومونو سره د مبتداء افاده په لاندې جملو کې وګورئ :

۱- غوړي توی شول .

۲- تېل سوځېږي.

۳- بنګ وریېل شول .

۴- اوسپنه یې وټکوله.

۵- غنم یې وریېل .

۶- خټه یې جوړه کړه .

۷- ایره یې بهر ته واچوله .

په پورته جملو کې :( غوړي ، تېله ، بنګ ، اوسپنه ، غنم ، خټه ، ایره ) جنس نومونو په جمله کې نسبت نورو نومونو ته اساسي وظیفه ترسره کړې او د جملې د مبتداء په ډول راغلي دي.

**۴- په جمعیت نوم سره د مبتداء څرګندونه**

غونډ نوم ( جمع اسم) چې یوه دله او غونډ نومونو ، په جمله کې د (مبتدا ، مسندالیه) په توګه دنده ترسره کولای شي ؛ لکه:

په دا لاندې جملو کې :

۱- قوم د قبیلوي جوړښت تر ټولو لوی واحد دی.

۲- ټبر د خپلونو مجموعي ته وايي.

۳- ولس غونډه وکړه .

۴- جرګه کلي ته ستنه شوه .

۵- رمه په څړ ځای کې څرېږي.

۶- لښکر پر شا شو.

په پورته جملو کې : ( قوم ، ټبر ، ولس ، جرګه ، رمه ، لښکر) جمعیت نوموونه دي چې هر یوه یې د جملې د مبتدء برخه جوړه کړې ده ، نو ویلی شو چې جمعیت نوم چې لفظاً مفرد او د جمعې مانا ترې اخیستل کېږي ، په جمله کې د مبتداء په توګه دنده سرته رسولای شي.

**۵- په مجرد یا معنا نوم سره د مبتداء څرګندونه**

معنا نوم چې په یوه نه ننګرېدونکي (غیرمحسوس) څیز پورې اړه لري او هغه نوموي ؛ په جمله کې د مبتداء په ډول راتلای شي ، بېلګې یې په لاندې جملو کې ګورو :

۱- روغتیا لوی نعمت دی.

۲- پوهنه نړۍ رڼا کوي.

۳- ښېګڼه ښه ده .

۴- وېره د یوچا د ماتې لامل کېدای شي.

۵- رښتیا ویل د سړي اعتبار زیاتوي.

پورته جملو کې : ( روغتیا ، پوهنه ، ښېګڼه ، وېره ، رښتیا ) مانا نوموونه دي ؛ چې هر یوه یې د جملې د مبتداء برخه جوړه کړې ده .

**ب: په ستاینوم سره د متبداء څرګندونه**

ستاینوم (صفت ) په خپلواک ډول څه نه نوموي ، بلکې د یو څه څرنګوالی نوموي ، یعنې یو ستاینوم په یوه څیز نوم اړه لري ، هغه ټاکي او څرنګوالی یې ښئي.

د کلام دا توکی هم د ځیزنوم سره یوځای د جملي د مبتداء برخه جوړولای شي، بېلګي يي په لاندې جملو کي داسي راوړو:

۱- زاړه د تېر عمر ارمان کوي.

۲- ویده هماغسي ناخبره پاتي شو.

۳- موړ د وږي له حاله څه خبر دی.

۴- کندهاری راغی .

۵- ویرجن ارمانجن ناست دی .

۶- څمکه وال خپله څمکه سمبالوي.

۷- ښوونکی خپله دنده تر سره کوي.

۸- لیکونکی لیک کاږي.

۹- ځارندوی شپه او ورځ کار کوي.

۱۰- وهلی لا ناست دی.

۱۱- ځپلی له ځان سره خبرې کوي .

۱۲- رټل شوی خبري نه کوي.

په پورته لومړی ، دويمه او دريمه جمله کي (زاړه ، ویده ، موړ) اصلي ستاینومونه دي چي هر يوه د جملي د مبتداء برخه جوړه کړې ده . څلورمه ، پینځمه او شپږمه جمله کي : ( کندهاری ، ویرجن ، څمکه وال) نسبتي صفات دي چي د جملي د مبتدا برخي يي جوړې کړي دي. اوومه ، اتمه او نهمه جمله کي : ( ښوونکی ، لیکونکی ، ځارندوی) فاعلي نومونه دي چي د فاعلي صفاتو په ډول راغلي دي او د جملو مبتداوې يي جوړې کړي دي.

په لسمه ، يوولسمه او دولسمه جمله کي : ( وهلی ، ځپلی ، رټل شوی) مفعولي نومونه او د مفعولي صفتونو په ډول راغلي دي چي هر يوه د جملي د مبتداء برخه جوړه کړې ده ؛ نو ويلای شوچي ستاينومونه او ډولونه يي په جمله کي د مبتداء يا مسنداليه په ډول راتلای شي.

په همدې ډول ستاینوم + ستایلی د مبتداء په ډول په لاندې جملو کي :

۱- شوخ هلک یوه لویه هنداره ماته کړه .

۲- برای سړي یوه ښوزلي هلک ته  پیسي ورکړې .

۳- ساده هلک خپلي جامي وسوځولي.

۴- دغه هلکان شوخ دي.

۵- دغه نجلی ښکلي ده .

په پورته لومړی جمله کي (شوخ) کلیمه صفت دی چي د فاعلي نوم (هلک) په هکله یو څه بیانوي او هغه تشریح کوي ، صفت او موصوف دواړو کلیمو په ګډه د جملي د مبتداء برخه جوړه کړې ده .

همدارنګه په دویمه جمله کي (ښډای) کلیمه صفت دی چي د فاعلي نوم (سړي) ستاینه کوي او د جملي مبتداء یي جوړه کړې ده .

په دریمه جمله کي کي (ساده) کلیمه مشترک صفت دی چي د (هلک) فاعلي نوم ستاینه یي کړې ده او د جملي د مبتدا په ډول راغلي.

په څلورمه جمله کي (دغه) اشاري ضمیر چي دلته یي (هلکان) کلیمي لپاره د اشاري صفت په ډول راغلي او په ګډه یي د جملي د مسندالیه یا مبتداء دنده ترسره کړې ده .

همدارنګه په پینځمه جمله کي (دغه) کلیمه د (نجلی) کلیمي لپاره د اشاري صفت په ډول راغلي او د جملي د مبتداء برخه یي جوړه کړې ده .

**ج: په مصدر او مصدري عبارتونو باندي د مبتداء څرګندونه**

مصدر یو عربي ګړ دی چي د (صدر) لېږل اسم مفعول دی . مصدر په پښتو کي د (تربنه د راوتلو ځای) په توګه مانا کېدلی شي ؛ نو مصدر هغه ګړ ( دفعل ډول) دی چي په کوم کس یا وخت پوري نه وي تړل شوی ؛ لکه (تلل) . کله چي په کس او وخت پوري وتړل شي ؛ نو تصریف شوی فعل ورته وایي ؛ لکه زه ځم ، زه ولاړم . (۹۲:۴۹)

په پښتو کي یو کړنومی (مصدر) په یو ګړنیز (یومورفیمز) روستاړي (ل) پېژندل کېږي چي دغه روستاړی په فعلي ریښه پوري سیده نښلي ، په دې شرط چي فعل ساده یا په بله وینا یوګړنیز یا یو مورفیمز وي او که اشتقاقي وي نو په ستې پوري نښلي نه په کړولی پورې .

لکه : موندل ، وهل ، خوړل ... په ستې پوري لکه غورځول ، اوبول ، کښېناستل ، پرېوتل...

کړنومی (مصدر) د اړوند فعل د نوموني دنده پرغاړه لري او له همدې پلوه يي کړنومي يا کړنومونکی بولو ؛ خو دا چې دوديزو ژبپوهانو «مصدر» او له دي سره د فعل آري (منشاء) په توګه د فعل دبېلابېلو بڼو «زېږند» بللي دي يوه بې سرو بوله خبره ده . پښتو مصدر د يوه نوم په توګه تل ډېر ګړی نارينه دی او يوازې د حالت له مخې ګردان مومي ؛ لکه : لوستل ښه دي ، ډېرو لوستلو ستومانه کړم او نور... (زيار ، پښتو پښويه ،۱۴۸مخ)

دا چې پخپله مصدر يوازې يو فعلي نوم ، د فعل پر خلاف زمانه تړې نه مرادېږي ؛ نو په فعلي نومونو او عبارتونو سره هم د جملي د مبتداء برخه جوړېدای شي ، بېلګي به يي په لاندې جملو کي وګورو :

۱- لوستل د ژبې د زده کړې او تدريس يو مهارت دی .

۲- لوستلو ستومانه کړم .

۳- ليدل کتل مو سره وشول .

۴- وهل او ټکول د ماشوم په روحيه ناوړه اغېزه کوي.

۵- خوړل څښل د اړتيا په اندازه بدن ته ګټه رسوي.

په پورته جملو کي (لوستل ، لوستلو (مغيره بڼه) ، ليدل کتل ، وهل او ټکول ، خوړل څښل ) مصدرونه او مصدري عبارتونه دي چې د جملي د مبتداء پرځای راغلي دي . يا لکه په دا لاندې جملو کي :

۱- تېرې کول لويه ګناه ده .

۲- ليکل اسان کار نه دی .

۳- ژبه کول له مشرانو سره ښه خبره نه ده .

**د : په شمېرنومونو سره د جملي د مبتداء څرګندونه**

شمېرنوم هم د ستاينوم غوندې به خپلواک ډول کومه نومونه نه کوي ، بلکي په يو څېزنوم اړه لري ، د شيانو څومره والی او پوړ والی ښئي. شمېرنومونه په اصلي عدد ، وصفي يا رتبي عدد ، کسري عدد ، انقسامي عدد او تخميني عدد باندې وېشل کېږي . (زيار ، ۱۳۸۴لمريز ، ۱۱۳مخ)

شمېرنوم او ډولونه يي په جمله کي د مبتداء برخه جوړولای شي . بېلګي به يي په لاندې جملو کي وګورو :

۱- پينځو تنو څخه دوه راغلي وو.

۲- شپږم کوټي ته راغی .

۳- شل پر څلورو پوره د تقسيم وړ دي.

۴- نولس به شل نه شي.

۵- لومړی کوټه زما ده .

په پورته جملو کې ګورو چې شمېرنومونو د جملو د مبتداء برخې جوړې کړې دي.

**هـ : په نومځرو (ضميرونو) سره د مبتداء څرګندونه**

ضمير هغه کليمه ده چې د نوم نمايندګي کوي ، يا د نوم پرځای استعمالېږي چې د مخه د هغه يادونه شوې وي . د ضمير دنده د نوم له تکرار څخه مخنيوی دی ، د کليمې تکرار او بيا بيا راوړنه د کلام د نارسايي او ضعف لامل ګرځي . (۸۹:۵۰)

د نومځري توپير له نورو نومونو (څيزنوم ، ستاينوم او شمېرنوم) سره دا دی چې دا پر درې ګونو اړخونو (جنس ، عدد او حالت) سربېره د وګړي (شخص) (لومړي ، دويم ، درېيم ) له مخې هم اوړون (ګردان ) مومي.

نومځری د شکل او چار له مخې بېلابېل ډولونه لري ، هر ډول يې کېدای شي د جملې د مبتداء د برخې په ډول خپله دنده سرته رسوي .

**لومړی – په ځانګړي يا شخصي نومځري سره د مبتداء افاده**

شخصي ضمير هغه کليمه ده چې د انسان يا شخص د نوم ځای نيسي يعنې د (زه ، ما ، ته ، تا ، دی ، ده ، دا ، دې ، موږ ، تاسې او دوي) په څېر کليمې چې د عامو او خاصو نومو پرځای کارول کېږي او د هغوي د بياځلي توب مخنيوی کوي شخصي ضميرونه بلل کېږي. ( ۲۳:۵۱)

زموږ موخه دلته د شخصي ضمير له پېژندنې څخه دا ده چې د دې ضمير بېلابېلې بڼې د يوې غونډلې د مبتداء او مسنداليه په ډول وکاروو.

بېلګې به يې په لاندې جملو کې وګورو :

۱- زه به ځانګه وګورم .

۲- موږ به ځانګه وګورو.

۳- ته هلک خوښ کړه .

۴- تاسي هلک خوښ کړئ .

۵- دی نجلی ګوري.

۶- دوي نجلی ګوري .

۷- دا نجلی ګوري .

۸- دوي نجلی ګوري.

په پورته لومړی جمله کي (زه) د لومړي وګړي (مفرد متکلم) شخصي ضمیر او په دویمه جمله کي (موږ) د جمع متکلم شخصي ضمیر دی ، چي په دواړو جملو کي د مبتداء یا مسندالیه په ډول راغلي دي او مبتداء یي جوړه کړي ده .

په دریمه او څلورمه جمله کي (ته او تاسي) د دویم وګړي (مفرد مخاطب او جمع مخاطب) شخصي ضمیرونه دي چي د جملو د مبتدء برخي یي جوړي کړي دي.

همدارنګه په پینځمه او شپږمه غونډله کي (دی او دوی) د دریم وګړي (مفرد غایب او جمع غایب) شخصي نومځري دي چي د جملو د مبتداء په ډول راغلي دي . په همدې ډول په اوومه او اتمه جمله کي (دا او دوي) د مؤنث لپاره .

دا هم باید له یاده ونه باسو چي د همدې شخصي ضمیرونو مغیره بڼي (ما ، تا ، ده ، دې ) هم د جملي د مبتداء په توګه راتلای شي ، یعني د جملي مبتداء جوړولای شي . لکه په دا لاندي جملو کي :

۱- ما ځانګه ولیده .

۲- تا هلک خوښ کړ .

۳- ده نجلی ولیده .

۴- دې (مؤنث) نجلی ولیده .

په پورته جملو کي (ما ، تا ، ده ، دې) د شخصي ضمیرونو مغیره بڼي دي ، چي هر شخصي ضمیر د جملي د مبتداء او مسندالیه په توګه خپله دنده سرته رسولي ده .

***یادونه :***

*۱ - شخصي ضيرونه کولای شي د جمل د فاعل يا مفعول په توګه وکارول شي.*

*۲ - د شخصي ضميرونو بڼه هغه وخت بدلون مومي چي هغوي په جمله کي د فاعل يا مفعول په توګه وکارول شي.*

د شخصي نومځرو يو بل ډول کمزوري يا شخصي ناخپلواک نومځري دي ، چي دا نومځري په خپلواکه توګه کومه معنا نه لری ، کله چي له يو نوم سره وکارول شي خپل مفهوم او معنا څرګندوي.

دا نومځري د بل نوم سره يوځای د مضاف اليه په توګه د جملي د مبتداء په برخه کي راتلای شي . بېلګي يې په لاندي جملو کي :

۱- کتاب مي ورکړ .

۲- کتاب دې ورکړ.

۳- کتاب يې ورکړ.

چي په پورته جملو کي (کتاب) مضاف او د (مي ، دې ، يې ) د متکلم ، مخاطب او غايب ضميرونه دي چي په جمله کي د مسنداليه په توګه راغلي دي. په ځينو پښتو ګرامرونو کي دا ضميرونه د ناخپلواکو اضافي نومځرو په نامه هم نومول شوي دي.

**دويم – په ملکي يا اضافي خپلواکو نومځرو سره د مبتداء څرګندونه**

دا ډول نومځري د يو څيز ملکيت او اړوندتيا يا متعلقيت ښئي . دا ډول نومځری د نورو نومونو سره يوځای د جملي د مبتداء او مسنداليه په توګه راتلای شي. بېلګي يې په لاندې جملو کي وګورئ :

| | |
|---|---|
| ۱- زما قلم راکړه . | زموږ قلم راکړه. |
| ۲- ستا کتابچه چېرې ده ؟ | ستاسي کتابچه چېرې ده ؟ |
| ۳- د ده کتاب چېرې ده ؟ | د دوي کتابونه چېرې دي؟ |
| ۴- د دې (مؤنث) پوړنی چېرې دی ؟ | د دوي پوړني چېرې دي ؟ |

په پورته جملو کي ګورو چي د ملکي اضافي ضميرونو د مفرد او جمعي بڼي د نورو نومونو سره يوځای د جملي په مبتداء کي راغلي دي .

يالکه په دا لاندې جملو کي :

۱- زموږ کلی له ښاره لرې دی .

۲- زما زوی ښوونځي ته ځي.

۳- د ده کور لرې دی .

۴- د دې کور لرې دی .

۵- زما ماما کور واخیست .

کله ملکي ضمیرونه د اشاري یا نورو نومځرو سره یوځای هم د جملې د مبتداء په ډول دنده سرته رسوي . لکه په دا لاندي بېلګو کي :

- زما زوی ناروغ دی — زما هغه هم ناروغ دی.
- زما زوی ښوونځي ته ځي . — زما دی لا کوچنی دی.
- زما قلم زلمي واخیست . — زما دا زمري واخیست یا زما هغه زمري واخیست .
- د هغه مور ناروغه ده . — د هغه ، هغه هم ناروغه ده ( د هغې هم ناروغه ده )

**درېیم – په اشاري نومځرو سره د مبتداء څرګندونه**

دا هغه نومځري دي ، چې اشخاصو ، څیزونو یا شیانو ته اشاره کوي . اشاري نومځري کله د اشاري ضمیر او کله هم چې مرجع ورسره ذکر شي د اشاري صفت په توګه د جملې د مبتداء برخه جوړولای شي . لکه په دا لاندې بېلګو کي :

- دغه ښه سړی دی .
- دغه ښه ښځه ده .
- هغه ډوډۍ خوري.
- هغې ډوډۍ وخوړه .
- هوغې ډوډۍ وخوړه.

د اشاري صفت په ډول :

- دغه نجلی ناروغه ده .

- دغه هلک ناروغ دی.
- دغه سړي غلا وکړه .
- هغه ښځه په بیړه راغله .

په پورته لومړیو پینځو جملو کې ګورو چې اشاري ضمیرونو د جملو د مبتداء برخې جوړې کړي دي او پـه دویمنیو څلور جملو کې اشاري صفت چې مرجع هم ورسره ذکر ده د جملو د مبتداء برخې جوړې کړي دي.

**څلورم – د پوښتني په نومځرو سره د مبتداء افاده**

پوښتنومځري له آره له دویم وګړي (شخص) ځخه د یو علم ، پېښې ، وګړي یـا یـو ځـه د پوښـتني لپـاره پـه کـار لوېږي ، زیاتره د پوښتغونډلو یا غونډو په سر کې راځي او یـا هـم د جملو د لنډون پـه توګـه ځـان تـه کـارول کېږي . ( زیـار ، ۱۳۸۴ هــ ، ۱۱۹مخ)

استفهامي ضمیرونه د (فاعل ، مسند الیه ، مبتداء) په توګه په لاندې جملو کې :

- څوک راغی؟
- څوک راغلل؟
- څوک راغله ؟
- څوک راغلې ؟

او یا په مغیره بڼه :

- چا ولید ؟
- چا ولیدل ؟
- چا بیړه وکړه ؟
- چا ولیکل؟

(څوک) پوښتنومځری چي مغیره حالت یي (چا) دی ، د هغه شخص یا اشخاصو لپاره استعمالیږي چي ]ه یي کړي وي ، یا یي کوي ، یا پري څه شوي وي ، یا کیږي ؛ نو په پورته جملو کي ګورو ؛ د «څوک» استفهامي ضمیر چي مغیره حالت یي (چا) دی ، د جملي د مبتداء برخه جوړه کړې او د جملي د مبتداء په توګه راغلی دی .

په همدې ډول د (کوم ، کومه ) ، کله ، څنګه ، څو ، څومره او ولي ) پوښتنومځري په دا لاندي بېلګه یي جملو کي :

| | | |
|---|---|---|
| ۱- کوم سړی راغی؟ | کوم سړي راغلل ؟ | کومو سړیو جنګ وکړ؟ |
| ۲- کومه ښځه راغله؟ | کومي ښځي راغلي؟ | کومو ښځو کالي وګنډل؟ |
| ۳- کله راغلې ؟ | کله به راشي ؟ | کله دې درس ولوست ؟ |
| ۴- څنګه راغلې ؟ | څنګه دې وپېژانده | څنګه دې وواهه ؟ |
| ۵- څه دې وکړل؟ | څه یي ارزښت دی ؟ | |
| ۶- څو هلکان راغلل؟ | څو نجوني راغلي ؟ | څو کمیسونه دې واخیستل ؟ |
| ۷- ولي درس نه وایې؟ | ولي خاندې؟ | ولي دې احمد وواهه؟ |
| ۸- څومره هلکان راغلل؟ | څومره نجوني راغلي ؟ | څورمه غنم دې واخیستل؟ |

په پورته لومړی او دویمه جمله کي (کوم) د مذکر لپاره او (کومه) د مؤنث لپاره د پوښتني ضمیرونه دي چي د وګړي یا وګړو ، څیز یا څیزونو تر مخه راځي اود همدغو څومره والي ، چارو نقش یا نور څه پوښتي ، چي دلته د نوم سره هم مل شوی او د نوم ټاکنه یي کړې ، له نوم سره یوځای یي د جملي د مبتداء برخه جوړه کړې ده .

په همدې ډول (کله) چي وخت او زمان پوښتي ، (څنګه) چي د یو شخص د یو عمل یا شي د څرنګوالي پوښتنه کوي ، (څه) چي څومره والی ، څرنګوالی یا نور څه پوښتي ، (څو) چي د اشخاصو یا شیانو د شمېر پوښتنه کوي ، (ولي )چي د یو عمل او پېښي د سبب او عامل پوښتنه کوي ، (څومره ) زیاتره د وګړو او شیانو شمېر او د جنس څرنګوالی ، کیفیت ، مقدار او درجه پوښتي ؛ استفهامی ضمیرونو د جملي مبتداوې جوړي کړي دي.

**پینځم – مبهم نومځري د مبتداء په توګه**

دا نومځري د یو ناټاکلي - یو نامعین وګړي یا څیز پرځای راځي . مبهم نومځري دا دي : ( هر ، بل ، نور ، ټول ،ځیني ، هېڅ ، څوک ، څه ). بېلګي یي په لاندې ډول دي:

۱- څوک کار کوي او څوک ساعت تېروي .

۲- بل څوک نشته.            بله پېغله راغله .          بل څوک زما په کار نه پوهېږي.

۳- نور هلکان هم راغلل.

۴- ټول هلکان راغلي.

۵- هر څوک حاضر دی .

۶- هر چاټ خپله رايه وکاروله.

۷- څه دا دي او څه نور.

په پورته جملو کي گورو چي ضميرونه د يو ناجوت (نامعين) وگړي يا وگړو يا څيزونو پرځای راغلي او د جملو د مبتدا برخي يي جوړي کړي دي.

**په غونډله کي د مبتداء ځای**

په گرامري توگه مبتداء د جملي يوه اساسي برخه ده ، په دغه برخه کي د کلام لـه ټولـو اجزاوو څخه د فاعل (مسنداليه) په توگه راتلای شي. په پښتو کي مبتداء زياتره د جملي په پيل کي راځي ،خو کله کله د جملي په مينځ او پای کي هم راتلای شي .

د بېلگي په توگه په لاندي جملو کي :

۱- د پوهنتون محصلين امريکي ته ولاړل.

۲- د کندهار والي وتښتېد.

په پورته لومړی جملـه کي ( د پوهنتون محصلين) يو نوميز عبـارت دی چي د (ولاړل) فعل فاعل جوړوي ؛ پـه همدي ډول پـه دويمه جملـه کي (د کندهار والـي) هم يو نوميز عبـارت دی چي د (وتښتېد) لازمـي فعل فاعل يـي جوړ کړی دی . د لومړی او دوهمي جملي نوميز عبارت چي د جملي مبتداء هم دي ، د جملي په پيل کي راغلي دي . په همدي ډول په دي مسره کـي (گناه مـه گڼه حقيره – که کمکی وي که کبيره ).

او په دي مسره کي مبتداء په مينځ کي راغلي ده : ( سخت دی د نيمگړو طبيبانو ناز ترمرگه ) . او په دي مسره کي (په دنيـا کـي ) چي د جملي مبتداء ده په پای کي راغلي ده (هېڅ کار نه شي بې زحمته په دنيا کي) .

**دویم – خبر (مسند – فعل = *Predicate*)**

مخکي مو د غونډلي (جملي) په پېژندنه کي وويل چي يوه بشپړه عادي غونډله د نيمګړې يا لنډکی غونډلي په توپير د دوو غورو برخو (اينسی «مبتداء» او اينسونی «خبر» ) څخه رغښت مومي.

د مبتداء (يا هغه برخه چي جمله ورته حواله کېږي) په باب مو اړيني څرګندوني وکړې ، اوس به د جملي د دوهمي بنسټيزې برخي ( خبر- مسند – فعل ) په اړوند خپل بحث ته ادامه ورکړو :

د جملي دغي بنسټيزې برخي (خبر) ته په پښتو کي (اينسونی) او په دري ژبه کي (ګذاره) نومونه کاروي. خبر يا مسند د مبتداء او مسنداليه حال ښکاره کوي او حرکت يي څرګندوي ، د مبتداء پوښتني ته ځواب وايي او خبره پوره کوي .

په لنډو ټکو کي خبر د جملي هغه برخه ده چي موږ ته د جملي د مبتداء په هکله خبر راکوي . د بېلګي په ډول به لاندي جملي وګورو:

١- ماشوم ژاړي .

٢- زمری ټښتي.

٣- الوتکه راپرېوته.

۴- ښار وسو.

۵- ښوونکی راغی .

- د لومړی جملي خبر (ژاړي) دی ، يعني جمله موږ ته وايي چي مبتداء (ماشوم) ژاړي .
- د دويمي جملي خبر (ټښتي) دی او موږ ته وايي چي مبتداء (زمری) ټښتي.
- د دريمي جملي خبر (راپرېواته) دی او موږ ته وايي چي (الوتکه) راپرېوته.
- د څلورم جملي خبر (وسو) دی او موږ ته وايي چي (ښار) وسو.
- د پينځمي جملي خبر ( راغی) دی او موږ ته وايي چي ښوونکی راغی.

(ژاړي ، ټښتي ، راپرېواته ، وسو ، راغی) کليمي ځيني کړني او حالات بيانوي او موږ ته خبر راکوي چي مبتداء څه کوي او يا څه حالت لري . دغه کړنيزې او ښوونيزې کليمي فعل نومېږي ، يعني دا کليمي د يوه عمل د ترسره کول او د يوحالت درلودل

بیانوي ؛ نو فعل د یوې جملې د خبر اساسي برخه جوړوي او د خبري فعل په نامه یادېږي . د جملې خبر هم کولای شي د جملې د مبتداء په څېر د یوې یا ډېرو کلیمو څخه جوړ شي ؛ خو په دې شرط چې د هغه زړی یا اساسي کلمه فعل وي.

د خبر د پېژندنې لپاره به د بېلګې په توګه لاندې جملې وګورو :

۱- ویکتور هوګو په (۱۸۰۲.م) کال زېږېدلی دی.

۲- رحمان بابا یو صوفي شاعر و.

۳- زه با اجمل وګورم.

۴- دغه سړي ښوونکي ته کتاب ورکړ.

۵- ایمل کلي ته راستون شو.

په پورته جملو کې په ترتیب سره (زېږېدلی دی ، شاعر و ، وګورم ، ورکړ ، راستون شو ) کلیمې د خبر په ډول راغلې دي.

دپورته جملو مبتداوې کومې دي ؟

ځواب :

د لومړۍ جملې مبتداء (ویکتور هوګو ) دی .

د دویمې جملې مبتداء ( رحمان بابا ) دی.

د درېیمې جملې مبتداء ( زه) ده .

د څلورمې جملې مبتداء (دغه سړی) دی .

د پینځمې جملې مبتداء (ایمل) دی.

د دغو جملو خبر کوم دی؟

ځواب:

د لومړۍ جملې حبر (په ۱۸۰۲. م) کال کې زېږېدلی دی) دی.

د دویمې جملې خبر (یو صوفي شاعر وه) دی.

د درېیمې جملې خبر (اجمل وګورم) دی.

د څلورمي جملي خبر ( ښوونکي ته کتاب ورکړ) دی.

د پينځمي جملي خبر (کلي ته راستون شو) دی.

د پښتو ژبې په جملو کې هغه څه چې د خبر په توګه راوړل کېږي ، يا به فعلي غونډ وي او يا خو به اسمي غونډ وي او په دې ډول يې غونډله (جمله) لومړی په دوو غورو برخو يا غونډونو (فقرو يا ګروپونو) وېشل کېږي ، چې يوه ته نوموال (اسمي) او بل ته کړوال ( فعلي) غونډ وايي.

د پازې له مخې نوموال غونډ ته ايښې (مسنداليه ، مبتدا) او کړوال غونډ ته ايښونی (مسند يا خبر) هم ويل کېږي . په ايښې (مبتدار) کې يا کړند(فاعل) له خپلو اړوندو سره راځي او يا کړی (مفعول) له خپلو اړوند سره .

په ايښوني (خبر) کې فعل او مفعول دواړه له خپلو اړوندو سره راځي ، په دې شرط چې فعل متعدي وي که نه يوازې کړ (فعل) له خپلو اړوندو سره راځي.

د فاعل او مفعول اړوندان ستاينوم ، تولنوم (مضاف اليه) تولوييکي ، پيژندوييکي او داسې نور اړين وييکي کېدای شي او د فعل هغه کړولونه (قيدونه) په دې توګه ټول لوی او واړه با خپلواک او ناخپلواک يا ناوړېدوني ګړونه او توکونه په يوه غونډله کې راغونډېدای شي او د همدغو توکونو په کموالي او زياتوالي سره وړې يا لويې غونډلې منځته راځي .

(زيار،پښتو پښويه ، ۲۴۵مخ)

په پښتو ژبه کې خبر په دوو ډولو (اسمي او فعلي) وېشل کېږي ، له دې سره يې جملې هم په اسمي او فعلي جملو وېشنه مومي ، چې پخپل ځای کې به پرې بحث وشي.

**اسمي او فعلي خبر**

**لومړی – نوميز يا اسمي خبر**

دا ډول خبرونه تل د نوم له ډلې (نوم ، ستاينوم ، شمېرنوم ، نومځري او مرستيالو فعلونو) سره راځي . په اسمي جمله کې مسنداليه او مسند يا د مبتداء او خبر برخې د اسمي غونډونو (اجزاوو) څخه ترکيب شوي وي او د يو مرستيال ( کومکي) فعل په مرسته يې سره اړيکه پيدا کړې وي ؛ دبېلګې په توګه په لاندې اسمي جملو کې :

۱- د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک دی.

۲- ورکه خزانه د همېش خلیل اثر دی.

۳- د ملالی ورور ښوونکی دی.

۴- د ګرمی رخصتي خلاصه شوه .

۵- افغانستان غرنی هېواد دی.

پورته هره جمله اسمي ده ، ځکه چې د مسندالیه او مسند دواړه برخي يې د اسمي غونډونو څخه ترکیب شوي او د کومکي فعل په مرسته يې سره اړیکي پیدا کړي دي.

د دغو جملو خبر کوم دی؟

ځواب

د لومړی جملي خبر (محمدهوتک) دی.

د دویمي جملي خبر ( د همېش خلیل اثر دی ) دی.

د درېیمي جملي خبر (ښوونکی دی ) دی.

د څلورمي جملي خبر ( خلاصه شوه) دی .

د پینځمي جملي خبر ( غرنی هېواد دی) دی.

په پورته جملو کې په قوس کي نیول شوي کلیمي او عبارتونه د نومیز یا اسمي خبر په ډول راغلي دي. د اسمي یا نومیزو جملو اساسي توکي درې دي : ( مسند ، مسندالیه ، اسناد). د مسندالیه او مسند ترمنځ حکم ته اسناد وایي. (زرغونه زېور ، پښتو نحوه ، ۸۹ مخ) .

په اسمي جملو کي (خبر ، مسند ) د کلام ببلا بېلي اجزاوې (نومونه ، صفتونه ، عددونه ، ضمیرونه ، قیدونه ، فعلي صفات ، اسمي فرازیالوژیکي ترکیبونه) په اصلي او غیراصلي یا مغیره حالت سره راتلای شي.

**الف: نوم له مرستیال فعل سره د نومیز خبر په توګه**

کله چې نوم په اصلي یا مغیره حالت کې د نومیز خبر په توګه راځي ، هلته د کومکي فعل سره یوازې نوم ذکر کېږي ؛ لکه په دې لاندې جملو کې چې نوم په اصلي حالت کې د مرستیال فعل سره راغلی دی:

۱- حمزه باب شاعر دی .

۲- زه ښوونکی یم.

۳- د ورغوي تڼاکه مرغلره ده .

۴- د کلي مشر میرویس دی .

۵- غني مالیار دی.

په پورته جملو کي : ( شاعر ، ښوونکی ، مرغلره ، میرویس ، مالیار ) کلیمي نومونه دي چي هر یو په خپله اصلي بڼه راغلي دي.

(دی ، یم ، ده ، دی ، دی ) مرستیال فعلونه دي . د نومیزو کلیمو د مرستیالو فعلونو سره یوځای د جملو د خبر برخي جوړي کړي دي. د دغو جملو خبر نومیز خبر دی او نومونه په اصلي حالت کي کارول شوي دي په لاندي ډول :

د لومړی جملي خبر (شاعر دی ) دی .

ددویمي جملي خبر ( ښوونکی یم ) دی .

د دریمي جملي خبر ( مرغلره ده ) دی .

د څلورمي جملي خبر ( میرویس دی) دی .

د پینځمي جملي خبر ( مالیار دی) دی.

کېدای شی چي نوم په غیراصلي (مغیره) حالت کي د سریني او پسیني سره د خبر په توګه راشي ؛ لکه په دا لاندي جملو کي :

۱- داړونکي ځناور په ځنګله کي وي.

۲- غرمل زموږ له دوستانو څخه دی .

۳- ملالی د ادبیاتو په پوهنځي کط ده .

د دغو جملو خبر کوم دی؟

ځواب

د لومړی جملي خبر ( په ځنګله کي وي ) دی .

د دویمي جملي خبر ( له دوستانو څخه دی ) دی .

د دریمي جملي خبر ( د ادبیاتو په پوهنځي کي ده ) دی .

په پورته جملو کي د خبر په برخه کي راغلي نومونه (ځنګله ، دوستانو ، پوهنځي ) کلیمي په مغیره حالت کي د سرینو او پسینو سره د نومیز خبر په توګه راغلي دي.

**ب: ستاینوم له مرستیال فعل سره د نومیزخبر په توګه**

ستاینوم (صفت ) زیاتره د مرستیالو فعلونو سره د نومیز خبر په توګه راځي. لکه په دا لاندي جملو کي:

۱- د هرات ښار کوڅي لویې دي.

۲- د ښووني او روزني پوهنتون ودانی زړه ده .

۳- مورږ خپل کلي ته تلونکي یو .

۴- دغه ښار زوړ دی .

۵- زما لیک ښکلی دی.

په پورته لومړی جمله کي (لویې دي ) خبر دی .

دویمه جمله کي (زړه ده ) خبر دی .

دریېه جمله کي (تلونکي (فعلي صفت) یو) خبر دی.

څلورمه جمله کي (زوړ دی ) خبر دی.

پینځمه جمله کي (ښکلی دی) د جملي د خبر برخه ده .

چي (لویې ، زړه ، تلونکي ، زوړ ، ښکلی) کلیمي ستاینومونه دي او (دي ، دی ، یو ، دی ، دی ) مرستیال فعلونه دي چي دواړو په ترکیب سره نومیز خبرونه جوړ کړي دي . یا لکه په دا لاندي جملو کي :

۱- دغه هلکان شوخ دي.

۲- زه روغ یم .

۳- دی لوړ دی .

۴- اجمل ګرندی دی.

۵- دوي لیونیان دي.

فعلي ستاینومونه هم د نومیز خبر په توګه راځي ؛ لکه په دا لاندي بېلګه یي جملو کي :

۱- ځانګه خپل کلي ته تلونکي ده .

۲- اباسین تل ځپاند وي .

۳- زلمی د هېواد ساتندوي دی .

۴- د خوښی ورځي راتلونکي دي.

۵- په دوبي کي لمر سوځوونکی دی.

په پورته جملو کي : (تلونکی ، ځپاند ، ساتندوی ، راتلونکي ، سوځوونکی ) فعلي صفتونه دي چي د (ده ، وي ، دی ، دي . وي ) مرستیالو فعلونو سره یوځای د نومیز خبر په توګه د جملو د خبر برخه جوړه کړي ده .

**ج: نومځري له مرستیال فعل سره د نومیز خبر په توګه**

نومځری د مرستیال فعل سره یوځای کېدای شي په جمله کي د نومیز خبر په توګه راشي . بېلګي یي په دا لاندي جملو کي ګورو:

۱- د ده مطلب زه یم .

۲- دا په لوړ آواز خبري د چا دي ؟

۳- دا د نحوي کتاب زما دی .

۴- دا مېز ستا دی .

۵- دا ښکلی لیک د چا دی؟

په پورته جملو کي د (زه) لومړي شخص ضمیر ، په دویمه جمله کي : ( چا) پوښتني نومځري مغیره بڼه ، درېیمه جمله کي (زما ) خپلواک ملکي نومځري ، څلورمه جمله کي (ستا) ملکي ضمیر ، پینځمه جمله کي (چا) استفهامي ضمیر دی ، چي د ( یم ، دي ، دی ، دی ، دی ) مرسیالو فعلونو سره په ترکیبي ډول د نومیز خبر په توګه راغلي دي .

**د : شمېرنوم د نومیز خبر په توګه**

شمېرنومونه د مرستیال فعل سره یوځای په جمله کي د نومیز خبر په توګه راتلای شي ؛ لکه په دا لاندې جملو کي :

۱- په پښتو ژبه کي واول اوازونه اته دي .

۲- په پښتو کي د عربي ژبي دخیل توري لس دي .

۳- دوه او دوه څلور کېږي .

۴- خبري ډېري سر يې يو دی .

۵- نن د روژې څلورویشتمه ده .

د دغو جملو خبر به کوم وي ؟

ځواب

د لومړی جملي خبر ( اته دي) دی .

د دویمي جملي حبر ( لس دي ) دی .

ددریېمي جملي خبر (څلور کېږي) دی .

د څلورمي جملي خبر ( یو دی ) دی .

د پینځمي جملي خبر ( څلورویشتمه ده ) دی .

چي ( اته ، لس ، څلور ، یو ، څلورویشتمه) شمېرنومونه او (دي ، دي ، کېږي ، دی ، ده ) مرستیال فعلونه دي چي په ترکیبي ډول يي د جملي د خبر برخه جوړه کړې ده . په همدې ډول فعلي نوم ( مصدر ) هم د مرستیال فعل یوځای د نومیز خبر په توګه راتلای شي ؛ لکه :

- د دوي مطلب یوازې پخلا کول دي.
- د ملالی مقصد یوازې تلل وه .

**هـ : اضافي ، توصيفي ، عددي عبارتونه او ترکيبونه د نوميز خبر په توګه**

اضافي ، توصيفي او عددي عبارتونه او ترکيبونه کېدای شی چې د نوميز خبر په توګه راشي . بېلګې يې په لاندې جملو کې :

۱- خوشحال خان د ملک اکوړي لمسی دی .

۲- خندا د ژوند مالګه ده .

۳- دغه هلک زما ورور دی.

۴- دغه نجلۍ ستا خور ده .

۵- دا وطن زموږ مور ده .

۶- حمزه باب پیاوړی شاعر دی .

۷- ناست کسان هوښیار خلک دي .

۸- روغتيا لوی نعمت دی .

۹- علم پټه خزانه ده .

۱۰- علم يوه رڼا ده .

۱۱- په ساعت کې اوس څلور بجې دي .

۱۲- نمر او سپوږمی په اسمان کې دي.

په پورته جملو کې ګورو چې اضافي ، توصيفي او عددي عبارتونو او ترکيبونو د مرستيالو فعلونو سره يوځای د جملو د نوميز خبر په توګه دنده اجراء کړې ده .

**دويم – فعلي خبر**

فعل د يوې جملې د خبر اساسي برخه جوړوي او د خبري فعل په نامه يادېږي . د جملې خبر هم کولای شي د جملې د مبتداء په څېر د يوې يا ډېرو کليمو څخه جوړ شي ، خو په دې شرط چې د هغه زړي يا اساس کليمه فعل وي . هغه جملې چې د خبر په برخه کې يې يو پوره فعل او يا فعلي ترکيب ( غونډ) وي ، د فعلي جملې په نامه يادېږي.

یا : فعلي جمله هغې جملې ته ويل کېږي چې خبر يې فعلي بشپړه بڼه ولري ، يعنې د اېښوني (مسند) برخه يې اصلي فعلونه وي .
په دوديزه نومونه د (ليکل ، خوړل ، تلل ، راتلل ) او نورو مصدرونو څخه لاس ته راغلي وي . فعلي خبر په لاندې جملو کې :

۱- ملالۍ راغله .

۲- ژمی راغی .

۳- ده اخبار ولوست .

۴- الوتکه راپرېوته .

۵- هلک ډوډۍ وخوړه .

په پورتنيو جملو کې ( ملالی ، ژمی ، ده ، الوته ، هلک ) کليمې نوميزې کليمې دي . د (راغله ، راغی ، ولوست ، راپرېوته ، وخوړه ) کليمې ټولې فعلي يا (کړنيزې ) او ښوونيزې کليمې دي . د کليمو دغه ډلې (نومونه او فعلونه) د جملې د عناصرو يا د کلام د توکو په نامه يادېږي ، دا چې د هرې جملې د خبر په برخه کې يې پوره يا بشپړ فعلونه راغلي دي نو فعلي جملې دي او خبر يې فعلي خبر دی .
په دغه ډول جملو کې خبرې برخه د فعل ټول ګرامري شکلونه ( زمانه ، جنس ، عدد ، شخص ، وجه ، حالت ) د فعل ډولونه : لازمي ، متعدي ، معلوم ، مجهول ، مثبت او منفي خواوې څرګندېږي.

د بېلګې په ډول په لاندې جملو کې :

۱- دغه ماشوم ژاړي .

۲- دغه لوړه ښکلې نجلۍ ناځي .

۳- د دوی آسونه ښه نه ځغلي .

پورته لومړۍ جمله له نوم + لازمي فعل څخه رغېدلې ده ، چې (ژاړي) د همدې جملې خبري فعل دی ، دا چې په دې جمله کې کوم مفعول نشته . فعل يوازې په فاعل سره پای ته رسېږي ؛ نو داسې فعل د لازمي فعل په نامه يادېږي . او د جملې د خبر په برخه کې هم بشپړ فعل راغلی دی . په همدې ډول په دا نورو فعلي جملو کې :

په متعدي فعل کې :

۱- زموږ ښوونکي لوست تشريح کړ.

۲- ما د خپلې ناروغۍ علاج وکړ .

۳- نجونو ډوډۍ وخوړه .

په پورته جملو کې (لوست ، ناروغۍ ، ډوډۍ) کليمې د مستقيم مفعول په ډول راغلي دي چې د فاعلی فعل پرې انجام شوی دي . (تشريح کړ ) د لومړۍ جملې فعلي خبر دی . ( علاج وکړ) د دويمې جملې فعلي خبر دی . او (وخوړه ) د درېيمې جملې فعلي خبر دی .

داسې يو فعل (کړنه) چې د فاعل څخه مفعول ته لېږدي ، د متعدي فعل په نامه يادېږي ، متعدي بايد تل يو مفعول ولري .

**ساده ، ترکيبي او متعدد خبر**

خبر د جملې يوه بنسټيزه او اساسي برخه ده او په دې برخه کې فعل سره د خبلو اړوندونو راځي ؛ نو د يوې غونډلې (جملې) د شتوالي لږه کې آړ يا بنيادي توک ګردان شوی فعل دی ، چې په بنسټيز ډول له مهال سره تړاو لري . له مانيز پلوه بيا داسې يو ويی دی چې د يوې پېښې د پېښېدنې کړن او يا د يوه حالت د استېدنې څرګندونه پر غاړه اخلي ، د جملې د خبر د رغنده زړي په توګه د نحوي چار د پرځای کوونکو توکو ، لکه کړند يا کړي (فاعل يا مفعول) يا دواړو غوښتنه کوي .

د وييرغاوني له مخې په يوستوي يا ساده فعل ، لکه خوړل ، څښل ، خندل ، بېلښتي ( اشتقاقي) لکه پرېولل ، کښېناستل ، راتلل ، تړښتي (ترکيبي ) چې د آزادو ګړونو په ملتيا رغېدنګ مومي ، لکه پورې وهل ، ننه ايستل ، سره غاړې وتل ... باندې وېشل کېږي .(زيار ، ۱۳۸۴هـ)

دلته زموږ موخه د ساده ، ترکيبي او متعدد خبر پېژندل دي ، چې هر يو به په وروسته ډول واضح شي.

**الف: ساده خبر**

دا ډول خبر ، د خبرو د نوميزو برخو او فعلونو څخه د فعلي روستاړو په زياتولو سره جوړېږي ؛ لکه په لاندې جملو کې :

۱- پسرلی راغی .

۲- د دغې نجلی ورور ژاړي .

۳- زه ځم .

۴- احمد ځي .

۵- هغه ژړل .

۶- مينه ليک ليکي .

۷- دغه سړی هره ورځ ځغلي .

۸- زه کتاب لولم .

په پورته جملو کي (راغی ، ژاړي ، ځم ، ځي ، ژړل ، ليکي ، ځغلي ، لولم) فعلونه د ساده خبر په ډول راغلي دي.

**ب: ترکيبي خبر**

دا ډول خبر د فعلونو او د کلام د ځينو نورو برخو څخه په ترکيبي ډول جوړېږي. د ترکيبي خبر د پېژندلو لپاره لاندې جملو ته ځير شئ:

۱- په ملي آرشيف کي ډېر ارزښتناک آثار خوندي دي .

۲- زما زوی د ښوونځي په درېيم ټولګي کي شامل شو.

۳- په ميدان ښار کي د ملي ګل مشاعره پيل شوه .

۴- زما ورو په کانکور آزموينه کي بريالی شو .

۵- حميد مومند د پښتو ژبي يو نازکخياله شاعر دی .

۶- د کابل پوهنتون زده کوونکو د سولي ورځ ونمانځله .

۷- د کابل د نوي ښار مانۍ راپرېوته .

۸- د ښووني او روزني پوهنتون استادانو خپله اتحاديه جوړه کړه.

۹- د غازي ايوب خان ښوونځي زده کوونکي وستايل شول .

۱۰- د افغانستان ولسمشر ډاکټر اشرف غني د يو شمېر زړورو سرتېرو برياوې وستايلي.

په پورته جملو کي : ( خوندي دي ، شامل شو ، پيل شوه ، بريالی شو ، شاعر دی ، ونمانځله ، راپرېوتي ، جوړه کړه ، وستايل شول ، وستايلي ) کليمي د ترکيبي خبر په ډول راغلي دي . يالکه په دا لاندې جملو کي د چي مرکب فعل پکي راغلی دی :

۱- ښکلي نجلۍ سندرې وايي .

۲- ښکلي نجلۍ نڅا کوي.

د لومړی جملي فاعل يا مسنداليه ( ښکلي نجلۍ ) دی ، په همدې ډول د دويمي جملي فاعل هم (ښکلي نجلۍ )ده . د لومړی جملي مسند - خبر يا فعل ( سندرې وايي ) او د دوهمي جملي فعل ( نڅا کوي) دی ، نو د دواړو جملو فعلونه په ترکيبي ډول راغلي دي او د خبر برخه يې ترکيبي بڼه لري.

**ج: متعدد خبر**

په پښتو ژبه کې د جملي خبر په متعدد ډول هم راځي ، په دې معنا چې د يوې مبتداء لپاره څو خبره ذکر شوي وي.

هرکله چې دوه يا ډېر (فعلي يا نوميز ) خبرونه په يوه مبتداء پورې اړه پيداکړي يا ديوې مبتداء لپاره راشي ، متعدد خبر بلل کېږي ؛ لکه په دا لاندې جملو کې :

۱- ملي ارشيف د تاريخي سندونو خوندي ساتني ځانګړې اداره ده ، چې له تاسيس کېدو يې څو لسيزې تېرېږي.

۲- تر څو چې په هېواد کې بهرني سترتېري وي ، سوله نه راځي.

۳- اجمل غره ته وخوت او ايمل کلي ته راستون شو.

۴- ملالۍ له پوهنتون څخه راغله ، ډوډۍ يې وخوړه او له ورور سره نوي ښار ته ولاړه .

۵- ببوزلو کډوالو ته خوراکي توکي وويشل شول وروسته به کورونه هم ورکړل شي.

په پورته لومړی جمله کې (ځانګړې اداره ده ) او (څولسيزې تېرېږي) خبرونه د يوې مبتداء لپاره راغلي دي . همدارنګه په دويمه جمله کې (وي) او (نه راځي ) دريمه جمله کې (وخوت ) او (راستون شو) په څلورمه جمله کې (راغله) ، ( وخوړه) ، (ولاړه) درې خبره د يوې مبتداء لپاره ذکر شوي دي ، پينځمه جمله کې (وويشل شول ) او (ورکړل شي) فعلي خبرونه د يوې مبتداء په مقابل کې راغلي دي ؛ نو متعدد خبر بلل کېږي.

که چېرې د خبر نوميزه يا اسمي برخه تاکونکی ولري ، دا ډول خبر تفصيلي خبر بلل کېږي ؛ لکه په لاندې جملو کې :

۱- نازو يوه ښکلې پېغله ده .

۲- زموږ لپاره دا د خوښۍ ځای دی .

۳- د رخصتی ورځ  د استراحت ورځ وي .

په دې جملو کې (ښکلې پېغله ده ) ، ( خوښی ځای دی ) ( د استراحت ورځ وي) تفصیلي خبرونه دي ، چې ښکلې د پېغلې لپاره ، خوښي د ځای لپاره او استراحت د ورځ لپاره د ټاکونکي په ډول راغلي دي.

**په غونډله (جمله) کې د خبر ځای**

خبر د جملې یو بنسټیزه او اساسي برخه ده ، چې فعل پکې له خپلو اړوندو سره راځي . د پښتوژبې د گرامري قاعدې سره سم خبر د جملې په پای کې راځي ؛ خو کله کله خصوصاً په شعرونو (نظمونو) کې د جملو په سر او مینځ کې هم راتلای شي.

د خبر د ځای د پېژندنې لپاره لاندې جملې وگورئ :

۱- د بیاني جملې په پای کې ټکی اینودل کېږي.

۲- په پسرلي کې هوا ښه وي.

۳- د ملالی مور ښوونکې ده .

۴- یو هلک یو لیک کاږي.

۵- زرغونه روغتون ته لاړه .

په پورته جملو کې : ( ټکی اینودل کېږي ، ښه وي ، ښوونکې ده ، یولیک کاږي ، روغتون ته لاړه ) کلیمې او ترکیبو د خبر په ډول د جملو په پای کې راغلي دي . همدرانگه کېدای شي په شعرونو کې خبر (مسند) د جملو په منځ او پیل کې هم راشي .

فعل (مسند) د جملې په منځ کې :

| | | |
|---|---|---|
| ۱- | په ساده گی کې ځومره ښه لگي په زړه جانانه | راته په وینه کې ویده لگي په زړه جانانه |
| ۲- | د جنون ځنځیر مې پرېــــــوت و گرېوان ته | چې په زړه مې ستا د زلفو ســودا راغله |

په لومړي بيت کي (ښه لګي او ويده لګي) فعلونه دي چي د جملو په منځ کي راغلي دي . همدارنګه د دويم بيت په لومړي نيم بيتي کي (پرېوت) فعل (مسند) دی چي په منځ کي راغلی دی.

د مسند (فعل) راتګ د جملي په سر کي:

په شعري ژبه کي خامخا د غه ترتيب زيات ليدل کېږي ، مګر کله هم پرته له شعر څخه په ځينو مواردو کي فعل د مخه راځي .

بېلګي يي په لاندي شعرونو کي :

| | | |
|---|---|---|
| ۱- | راغـــــله لېـــونی لـــــيلا په نــــــاز | ښـــــــکار کــــــوي د زړونـــــو لکه بــــاز |
| ۲- | چېږي لاړي له ما لري ای زما د رنځ طبيبه | چي ته نه يي خو زه نه يم ای زما د زړه حبيبه |

په پورته لومړي شعر کي (راغله او ښکار کوي) فعلونه دي چي د جملي په پيل کي راغلي دي . همدارنګه په دويم شعر کي (چېږي لاړي ، چي ته نه يي ) هم فعلونه دي چي د جملي په سر کي راوړل شوي دي .

مبتداء او خبر يا اينښی او اينښونی چي د غونډلي (جملي دوه بنسټيزي برخي دي ، د دغو دوه ګونو غونډله رغيو غونډونو ترمنځ دا توپير دی چي اينښی (مبتداء) په يوازيني ځان کوم پېښوييز او مانيز چار يا دنده پرځای کولای نه شي، خو اينښونی (خبر) يي په وړاندي د يوه اوړېدلي (په تېره نالېږند او يا بېچارلېږند) کړ (فعل) په درلودلو سره د غونډلي (جملي) زړی بلل کېږي او له دې سره همزمان يوه لنډکی غونډله (جمله) يعني د غونډلي اړينه برخه ګڼل کېږي ؛ لکه : راغلم ، ځم ، تلل يم ، وکړېدم ، وکړول شوم ، ځه ، وخوره ، وڅښه ...

**په جمله کي مبتدا سره د خبر سمون (مطابقت )**

د پښتو ژبي د جملو يوه مهمه ځانګړنه دا ده چي مبتداء لخ خبر سره سمون او مطابقت لري . د مطابقت معنا دا ده چي په ترکيبونو او عبارتونو کي د کليمو ترمنځاو په جمله کي د اجزاوو يا غونډونو (اسمي –فعلي) ترمنځ ګرامري مطابقت موجود وي ، دغه مطابقت او سمون د جملي د فاعل او فعل يا مبتداء او خبر (مسنداليه ، مسند) ترمينځ له درېو اړخونو : ( شخص ، جنس او عدد ) له مخي موجود وي.

**الف : د وګړي (شخص) له مخي سمون**

د وګړي يا شخص له مخي سمونه دا چي فاعل (مسنداليه – مبتداء) په جمله کي له هر يو وګړي : ( لومړي (متکلم) ، دويم (مخاطب) ، درېيم (غايب ) ) سره سم وکارول شي. لکه :

۱- زه راغلم .

۲- ته راغلې.

۳- دی راغی.

په پورته لومړی جمله کي (زه) د لومړي وګړي يا مفرد متکلم لپاره ضمير دی چي د مسنداليه يا مبتداء برخه يي جوړه کړې ده چي فاعل لومړی وګړی يا متکلم دی ، همداشان فعل يا مسند (راغلم) هم د لومړي وګړي لپاره تصريف شوی دی .
په دويمه جمله کي (ته) د دويم وګړي يا مفرد مخاطب لپاره ضمير دی او مسنداليه راغلی دی مسند يا خبري فعلي يي هم چي (راغلې) دی د مخاطب يا دويم وګړي په فعلي خاتمه (e) باندي ختم شوی دی.
همداډول په درېيمه جمله کي (دی) د درېيم شخص يا غايب لپاره ضمير او مسنداليه دی . خبري فعل يي هم د درېيم وګړي په فعلي خاتمه (ay) باندي پای شوی دی . چي دي ته د شخص يا وګړي له مخي د مبتداء او خبر سمون او مطابقت وايي . په پښتو ژبه کي فعل شخص څرګندوي . په فعل کي د شخص د اړخ څرګندېدل همدغه فعلي روستاړي دي چي د فعل په اصل (ريښه) پورې نښلول کېږي . لکه : زه خورم ( əm) ، ته خورې (ې = e) ، دی خوري (ي= i) . په پورتنيو مثالونو کي (ام – ې – ي) لومړی ، دويم او درېيم شخص مفرد څرګندوي.

**ب- د جنس له مخي سمون**

د جنس له مخي سمون دا چي فاعل ( مبتداء – مسنداليه) ښځينه وي . فعل (خبر – مسند) هم ورسره ښځينه کارول کېږي او که نارينه وي فعل هم ورسره نارينه کارول کېږي ؛ لکه :

۱- احمد راغی .

۲- ملالی راغله .

۳- کال تېر شو.

۴- مياشت تېره شوه .

پورته لومړی جمله کې فاعل (احمد) مفرد مذکر دی ، فعل (راغی) هم د مفرد مذکر په بڼه راغلی دی. دویمه جمله کې فاعل (ملالی) مفرد مؤنث دی ، فعل هم د مفرد مؤنث په بڼه راغلی دی . په همدې ډول په دریمه او څلورمه جمله کې .

**ج: د ګڼې یا عدد له مخې سمون**

دا چې د جملې ارکان د عدد (مفرد – جمع) له مخې سره سمون ولري که چیرې د جملې مبتدا یوګړی (مفرد) وي ، خبر هم ورسره یوګړی او که جمع وي خبر هم ورسره د جمع په بڼه راوړل کیږي ؛ لکه دا لاندې بېلګې :

- زلمی راغی.
- توریالی او بریالی راغلل.
- احمدووهل شو.
- بریالی او توریالی ووهل شول .

په پښتو کې د شخص د اړخ څرګندېدل د مفرد او جمع بڼې لري . په فعلونو کې د مفرد او جمع د بڼې د څرګندېدو لپاره مشخص او ټاکلي مورفيمونه نشته ، بلکې هماغه د شخص تصریفي روستاړي دي چې د مفرد او جمعې بڼې هم ښکاره دي.

*یادونه : د جنس او جمع (جمعیت) په نومونو کې بیا مبتداء او خبر سره توپیر پیدا کوي. یعنې که چیرې مبتداء د جنس نوم وي خبر یې د جمع په شکل راځي او که مبتداء د جمع (جمعیت) نوم وي خبر یې مفرد واقع کیږي. لکه :*

- *تبل توی شول .*
- *جرګه راغله .*

*په لومړی جمله کې (تبل) جنس نوم دی ، خبر ( شول) یې د جمع په بڼه راغلی دی . دویمه جمله کې (جرګه) جمعیت نوم دی ، خبر (راغل ) یې په مفرده بڼه راغلی دی. البته په پښتو ژبه کې د جنس څرګندېدل یوازې د دویمې ریښې (تېره زمانه) په ګردان کې څرګندېدای شي ، یعنې د جنس مساله یوازې په تېر مهال څرګندیږي ؛ هغه هم د دریم شخص په مورد کې . د لومړي او دویم شخص په مورد کې ښځینه او که نرینه دی فعل یوازې د شخص او عدد له پلوه مطابقت او سمون ښئي.*

*تېره زمانه : زه پاڅېد + م (əm) ، ته پاڅېد+ ې(e) ، دی پاڅېد + ه (ə) ، دا پاڅېد + له (la) . دلته ګورو چې د دریم شخص په مورد کې فعل سربېره پر شخص او عدد جنس له پلوه هم د فاعل سره مطابقت ښودلی دی .*

په پښتو ژبه کې د مسنداليه او مسند رابطه او سمون د فعل په ډول او ګروپ پورې اړه لري . د نحوي وضعيت له مخې د پښتو ژبې ټول فعلونه په دوو اساسي ډلو ( لازمي او متعدي ) باندې وېشل کېږي.

لازمي فعل چې فعل يوازې په فاعل تمام شي او متعدي فعل چې سربېره پر فاعل مفعول هم وغواړي . د صرف يا مورفولوژي له پلوه لازمي فعل په دواړو زمانو (په تېره او ناتېره) کې د فاعل سره سمون ښئي . متعدي فعل په تېرمهال کې د جملې د مفعول لپاره تصريف کېږي.

په لنډو ټکو کې داسي ويلای شو چې :

يو : د ټولو لازمي او متعدي فعلونو په حاليه (ناتېره ) ګروپ کې د فعل او فاعل ترمنځ مطابقت وي .

دوه : د متعدي (معلوم او مجهول) افعالو په ماضيه (تېرمهال ) ګروپ کې د فعل او مفعول ترمنځ مطابقت ليدل کېږي . د موضوع د لا روښانتيا لپاره لاندې جملې وګورئ .

**ناتېره زمانه**

| شخص | مفرد | جمع |
|---|---|---|
| ۱ | زه کښېن + ام (əm) | موږ کښېن + و (u) |
| ۲ | ته کښېن + ې (e) | تاسي کښېن + ئ (əy) |
| ۳ | دی کښېن + ي (i)<br>دا کښېن + ي ( i ) | دوي کښېن + ي (i)<br>// |

(۱)

**تېره زمانه**

| شخص | مفرد | جمع |
|---|---|---|
| ١ | زه کښېناست + ام (əm) | موږ کښېناست + و ( u ) |
| ٢ | ته کښېناست + ې ( e ) | تاسي کښېناست + ئ (əy ) |
| ٣ | دی کښېناست + ه ( ə )<br>دا کښېناست + له (la) | دوي (مذکر) کښېناست + ال (əl<br>دوي (مؤنث) کښېناست +لې (le |

(٢)

په پورته لومړی شماره جدول کې ګورو چې په ناتېر مهال لازمي ګردان شوي فعل کې د لومړي او دويم شخص په مورد کې د شخص او عدد له پلوه فعل د فاعل لپاره تصريف شوی ؛ خو د درېيم شخص په مورد کې فعل يوازې د شخص له پلوه له فاعل سره مطابقت ښودلی دی. په دويمه شماره جدول کې ګورو چې په تېره زمانه کې فعل د لومړي او دويم شخص په مورد کې د شخص او عدد له پلوه ، خو د درېيم شخص په مورد کې د جنس له پلوه هم فعل د فاعل سره سمون ښودلی دی ؛ نو ويلای شو چې ټول فعلونه که لازمي وي او که متعدي ، په ناتېره مانه کې دفاعل سره مطابقت ښئي ، خو لازمي فعل په دواړو زمانو (تېره او ناتېره ) کې د فاعل لپاره تصريف کېږي .

د متعدي معلوم فعل مطابقت په لاندې جدول کې :

**ناتېره زمانه**

| شخص | مفرد | جمع |
|---|---|---|
| ١ | زه مقاله ليکم | موږ مقاله ليکو |
| ٢ | ته مقاله ليکې | تاسي مقاله ليکئ |
| ٣ | دی (مذکر) مقاله ليکي<br>دا(مؤنث ) مقاله ليکي | دوي مقاله ليکي<br>دوي مقاله ليکي |

**(٣)**

په پورته دریيمه شماره جدول کې گورو چې د جملې فعل متعدي دی مگر دا چې زمانه حال یا ناتېره زمانه ده ؛ نو د لازمي فعل په شان یې د جملې د فاعل سره مطابقت ښودلی دی .

مخکې مو یادونه وکړه چې متعدي فعل هغه فعل ته وايي چې مفعول قبلوي او فعل په تېره زمانه کې د جملې د مفعول لپاره اوړون (تصریف) مومي . البته دغه اوړون د شخص ، عدد او جنس له پلوه ترسره کېږي . لکه په دا لاندې جدول کې :

**تېره زمانه**

| شخص | مفرد | جمع |
|---|---|---|
| ۱ | احمد زه ووهل + ام (mə) | احمد موږ ووهل + و (u) |
| ۲ | احمد ته ووهل + ې (e ) | احمد تاسې ووهل + ئ (əy) |
| ۳ | احمد دی وواهه ( ə)<br>احمد دا ووهـ + له (la) | احمد دوې (مذکر) ووهـ + ل (əl)<br>احمد دوې (مؤنث) ووهـ +لې (le) |

**(۴)**

په پورتنې څلورمه شماره جدول کې گورو ، هلته چې دفعل مفعول لومړی او دویم شخص مفرد وي فعلي روستاړی د (ام ) ، (ې ) او کله چې د فعل مفعول (موږ او تاسې ) جمع وي . فعلي روستاړي د (و – ئ ) په بڼه ظاهرې شوي دي ، ځکه په فعلونو کې د مفرد او جمع بڼې د څرگندېدو لپاره مشخص او ټاکلي مورفيونه نشته ، بلکې هماغه د شخص تصريفي روستاړي دي چې د مفرد او جمعې شکلونه هم ښکاره کوي. خو د دریيم شخص په مورد کې په تېره زمانه کې د جنس مساله هم رابرسېره کېږي ، لکه چې په پورتني جدول کې وينو ، هلته چې دفعل مفعول دریيم شخص (دی – دا) مفرد مذکر او مفرد مؤنث دی . فعلي روستاړي د (ə- له) په بڼه ، همدارنگه هلته چې د فعل مفعول (دوی) جمع مذکر او جمع مؤنث دی فعلي روستاړي د ( ال – لې ) په بڼه څرگند شوي دي و نو په نتيجه کې ويلی شو چې د دریيم شخص په مورد کې فعل په تېره زمانه کې د جنس له پلوه هم د مفعول لپاره تصريف کېږي . (خوېشکی ، ۱۳۸۹لمریز)

په متعدي مجهولو فعلونو کې مطابقت هر ځای له مفعول سره لازمي دی ، ځکه چې دلته د فاعل د نشتوالي په وجه مفعول د نایب وظیفه پرځای کوي او په دې ورته د فاعل نايب وايي ؛ لکه په دې لاندې بېلگو کې :

- ونه پرې کړای شوه .

- زلمی ووهل شو.
- هلکان ووهل شول .
- ونې پرې کړای شوې.

په پښتو ژبه کې کله په یوه مجهوله فعلي جمله کې د مفعول سره فاعل هم په ارتباطي حالت کې راوړل کېږي ، مگر په فعل باندې دغه فاعل مخامخ اثر نه اچوي ؛ نو ځکه یوازې د مفعول تابع گڼل کېږي . (۴۵۱:۵۲)

لکه :

- دا لیک د ملالی له خوا لیکل شوی دی .
- دا لیکونه د ملالی له خوا لیکل شوي دي.

په پښتو ژبه کې د مجهول فعل یو بل شکل هم شته چې دلته هم مفعول د نایب فاعل حیثیت لري .

لکه :

- دا هلک وهل غواړي.
- هلته تلل غواړي.
- ده وهل غوښتل.

دا جملې د معنا له مخې د مجهول فعل رنګ لري ، ولې چې وهونکی او تلونکی پکې نه ښکاري ، خو په لفظي توګه د معلوم فعل رنګ لري ؛ مګر بیاهم فعل پکې د مفعول تابع دی چې ورسره سمون لري . ( ۱۱۴:۵۳)

## د جملې پیروي برخې

په جملو کې د اساسي برخو سربېره پیروي برخې هم راځي ، چې دا برخې د جملو خبر بشپړوي . د جملې په پیروو برخو کې بشپړوونکی ( مفعول) ، ټاکونکی ( مشخص کوونک ) او نحوي قید راتلای شي .

**الف: بشپړوونکی (مفعول)**

مفعول د جملي له پیروو برخو څخه د خبر بشپړوونکي برخه ده . مفعول هغه څوک یا شی دی چي د فعل اثر وربانديږ شوی وي یا ور رسېدلی وي. که چېرې په یوه جمله کي فعل متعدی وي ، یوازې د فاعل ذکر وشي او مفعول رانه وړل شي ؛ نو په دغه صورت کط کعنا به روښانه نه وي ؛ لکه :

- بريالي ............وکړه .
- بريالي ............بوتله.

په دغو جملو کي د کړي ( مفعول) شته والی چي د کړ ( فعل) د معنا څرګندوونکی یا متممه برخه ده ، نه دی راغلی ، نو په دې توګه مطلب هم پوره نه دی رسول شوی . او که ووايو چي :

- بريالي مېړانه وکړه .
- بريالي خپله مېرمن بوتله.

نو مطلب پوره شو . په یو شمېر هغو ګرامرونو کي چي ختیځ پوهانو برابر کړي دي ، مفعول هم د جملي دویمه درجه غړی ګڼل شوی دی ، ولي دا خبره به یو څه د غور وړ وي ؛ ځکه په معلوم متعدي فعل کي د فاعل شته والی ، مفعول له فعل سره د جملي برخه جوړوی ؛ ولي په مجهولو فعلونو کي بیا مفعول د نایب فاعل په توګه د جملي مبتداء (مسندالیه) ګڼل کېږي . ( زرغونه زېور ، ۱۳۸۲لمریز)

په هر حال مفعول د جملي د یو توکي په حیث د فعل متمم ګڼل شوی دی ، په جمله کي د مفعول دریځ د هغې په نحوي موقعیت پورې اړه لري . په جمله کي بشپړوونکی (مفعول) په دوه ډوله :

- مستقیم (بې واسطي)
- او غیر مستقیم ( بې واسطي)

سره راځي .

**۱- مستقیم بشپړوونکی یا بې واسطې مفعول ( *Direct object*)**

په پښتو ژبه کې مستقیم مفعول ته نژدې مفعول هم وایي ، ځکه چې د فعل اثر وربانديې بې له کومې واسطې شوی وي .
په دري ژبه کې مستقیم بشپړوونکی یا بې واسطې مفعول ته نامعین (نکره) مفعول هم وایي چې د فعل نه دمخه له فعل سره پیوست راځي .(۱۷۷:۵۴)

لکه په دې لاندې جملو کې :

- کنشکا اوبه راوړې.
- منیژې کتاب واخیست .

چې په پورته لومړۍ جمله کې (کنشکا) فاعل ، ( اوبه ) نامعین مفعول (راوړې) فعل دی . همدارنګه په دویمه جمله کې (منیژه ) فاعل ، ( کتاب) مفعول نکره ، (واخیست) فعل دی .
مستقیم یا نژدې مفعول د متعدي فعلونو سره تل فعل ته نژدې اړیکې ساتي ، مستقیم مفعول کومه ځانګړې نښه نه لري ، مګر د فعل د ګردان له مخې او د جملې ترتیب څخه پېژندل کېږي.

په پښتو ژبه کې مستقیم بشپړوونک (مفعول) په اصلي حالت کې راځي ، کوم بل خاص صورت نه لري ، یوازې د (زه ، ته ) ضمیرونه که د متعدی فعل په حال زمانه کې د مفعول په توګه راشي ، نو په غیر اصلي (مغیره) حالت سره راځي . لکه په لاندې جملو کې :

- زه تا وینم .
- ته ما وینې.
- دی تا وینې.
- دی ما وینې.

بې واسطې یا مستقیم بشپړوونکی د (څوک ، څه شي او څه) پوښتنو ته ځواب ورکوي . لکه په دا لاندې جملو کې :

۱- ننګیالی لوبې کوي .
۲- توریالی ورځپاڼه لولي .

۳- علم نړۍ رڼا کوي.

۴- هغه لیک کاږي .

۵- موږ وطن ساتو.

۶- کوچني ماشوم قلم واخیست .

۷- کوچني ماشوم قلم او کتابونه واخیستل .

۸- د افغانستان خلک سوله او امنیت غواړي.

۹- بزگران غنم او جوار کري.

۱۰- افغاني سوداگر غالۍ او وچې مېوې لېږدوي.

په پورته لومړۍ جمله کې (لوبې) ، دویمه جمله کې (ورځپاڼه ) ، درېیمه جمله کې ( نړۍ) ، څلورمه جمله کې (لیک) ، پینځمه جمله کې (وطن) ، شپږمه جمله کې (قلم) ، اوومه جمله کې (قلم او کتابونه) ، اتمه جمله کې (سوله او امنیت) ، نهمه جمله کې (غنم او جوار) ، لسمه جمله کې (غالۍ او وچې مېوې) مستقیم بشپړوونکي دي.

نومونه ، ستاینومونه ، شمېرنومونه ، نومځري ، فعلي نومونه په جملو کې د مستقیم بشپړوونکي په توگه راتلای شي . اوس به د کلام اجزاوې (ساده ، مرکب) د مستقیم بشپړوونکي یا نژدې مفعول په توگه وگورو:

**مفرد مذکر نومونه د مستقیم بشپړوونکي په توگه**

نوم او ډولونه یې د مستقیم بشپړوونکي په توگه راتلای شي لکه په دا لاندې جملو کې:

- پلوشې لیک ولیکه .
- محمود درس ولوست .
- زه کتاب لولم .
- زیرک ډوډۍ خوري.
- لیکوال مقاله ولیکله .
- دکاندار تېل وپلورل.
- ښوونکي خوازک ووهلو.

- دده ورور موټر واخيستو.
- هغه هلک منه وخوړه.
- ملالی کميس وګانډه.

په دغو جملو کې د (ليک ، درس ، کتاب ، ډوډی ، مقاله ، تېل ، خوازک ، موټر ، منه ، کميس ) نوميزې کليمې د مستقيم بشپړوونکي په توګه راغلي دي.

**جمع مذکر نومونه د مستقيم بشپړوونکي په توګه**

د مفرد مذکر نومونو په څېر جمع مذکر نومونه د مستقيم مفعول په توګه په جمله کې راتلای شي . بېلګې يې په لاندې جملو کې :

۱- مليار ګلان وکرل .

۲- بزګر څاروي اوبه کړل.

۳- موږ کورونه خرڅ کړل.

۴- ملالی توتان خوري.

۵- ادبپوهانو شعرونه وليکل.

په پورته لومړۍ جمله کې (ګلان) ، دويمه جمله کې (څاروي) ، درېيمه جمله کې (کورونه) څلورمه جمله کې (توتان) ، پينځمه جمله کې (شعرونه) کليمي د جمعي په بڼه د مستقيم بشپړوونکي په توګه راغلي دي.

په همدې ډول مفرد مؤنث نومونه او جمع مؤنث نومونه هم د مستقيم بشپړوونکي په توګه راتلای شي ؛ لکه په دا لاندې بېلګه يې جملو کې :

| مستقيم بشپړوونکی د مفرد مؤنث په بڼه | مستقيم بشپړوونکی د جمع مؤنث په بڼه |
|---|---|
| ۱- څانګي منه وخوړه . | څانګي منې وخوړې. |
| ۲- ملالی کتابچه واخيسته . | ملالی کتابچې واخيستلې . |
| ۳- ليکوال مقاله وليکله . | ليکوال مقالې وليکلې . |

۴- دې سترګه پټه کړه .                                  دې سترګې پټې کړې.

۵- خوازک الماری خرڅه کړه.                                خوازک الماری خرڅې کړې.

**ضمیر او ډولونه یې د مستقیم بشپړوونکي په توګه**

په پښتو ژبه کې ضمیرونه د شکل او چار له مخې بېلابېل ډولونه لري . دغه ضمیرونه کېدای شي چې په جمله کې د مستقیم بشپړوونکي په توګه خپل چار ترسره کړي.

**۱- شخصي ضمیر د مستقیم بشپړوونکي په توګه**

لکه په دې لاندې جملو کې:

۱- ده زه ولیدم .          دی ما ویني.

۲- ده ته ولیدې.          دی تا ویني.

۳- دی ووهل شو.          دوي ووهل شول .          ښوونکي دوي وستایل .

په پورته جملو کې : ( زه ، ته ، دی ، ما ، تا ، دوی) شخصي نومځري دي چې د مستقیم مفعول په توګه کارول شوي دي . شخصي ضمیرونه کولای شي د جمل د فاعل یا مفعول په توګه وکارول شی. او د شخصي ضمیرونو په بڼه هغه وخت بدلون مومي چې هغوي په جمله کې د فاعل یا مفعول په توګه وکارول شي. د بېلګې په توګه په لاندې دوه جملو کې :

۱- ده بریالیتوب تر لاسه کړ.

۲- ښوونکي دوي وستایل .

په لومړۍ جمله کې (ده) چې د (دی) دریېم شخص لپاره شخصي ضمیر دی او په مغیره بڼه کارول شوی دی ، د همدې جملې فاعل دی. په دویمه جمله کې (دوی) د دریېم شخص د جمع په بڼه شخصي ضمیر دی چې د جملې مفعول واقع شوی دی.

**۲- استفهامی ضمیر د مستقیم بشپړوونکي (مفعول) په توګه**

پوښتنومځری له آره له دویم وګړي څخه د یوه کړن ، پېښې ، اکر ، وګړي یا یوه څه د پوښتنې لپاره په کار لوېږي. (زیار، ۱۳۸۴)

دا ضميرونه کېدای شي په جمله کي د مستقيم بشپړوونکي په توګه راشي ؛ بېلګي يي په لاندې جملو کي :

۱- ته څه اخلي ؟

۲- تا څوک وليدل ؟ څوک ووهل شو؟ څوک وهل کېږي؟

۳- ته څوک غواړې؟

۴- څوک ويني ؟

۵- تا څه وليدل؟

۶- ستا څوک په کار دي ؟

۷- ستا کوم خوښېږي ؟

۸- ستا کومه خوښېږي؟

په پورتنيو جملو کي : ( څه ، څوک ، کوم ، کومه ) د پوښتني ضميرونه دي چي د مستقيم مفعول په توګه کارول شوي دي. همدارنګه (څوک ، هېڅ ، ټول ، ځيني ..) د ناټيک يا د ټاکلي او ناټاکلي ضميرونو په توګه هم مستقيم بشپړوونکي واقع کېدای شي ؛ لکه :

- ما ټول وليدل .
- دی ټول ويني.
- څوک ووهل شول او څوک نه ؟
- زه هېڅ نه وينم .
- ځيني وينم او ځيني نه وينم.

**۳- ستاينومونه او شمېرنومونه د مستقيم بشپړوونکي په توګه**

ستاينومونه او شمېرنومونه هم کېدای شي چي په جمله کي د غيرمستقيم بشپړوونکي په توګه راشي ، بېلګي يي په لاندي جملو کي ګورو :

<u>صفت د غير مستقيم مفعول په توګه</u>

۱- ډاکټر ناروغ معاینه کړ.

۲- زه رنځور وینم.

۳- وری یې بوت.

۴- زاړه یې لري کړل.

۵- کاره یې سم کړل .

په پورته جملو کې : ( ناروغ ، رنځور ، وری ، زاړه ، کاره ) ستاینومونه دي چې د غیرمستقیم بشپړوونکي په توګه یې په جملو کې دندې سرته رسولې دي .

<u>شمېرنوم د غیرمستقیم مفعول په توګه</u>

۱- زه یو وینم . مایو ولید . ما یوه ولیده .

۲- یو یې راوست .

۳- درې یې ووژل .

۴- دویم او درېیم یې وغوښت.

په پورته جملو کې : ( یو ، یوه ، درې ، دویم او درېیم) شمېرنومونه دي چې د مستقیم بشپړوونکي په توګه راغلي دي . همدرانګه : فعلي صفتونه او مصدرونه (فعلي نومونه) هم په جمله کې د مستقیم مفعول په توګه راتلای شي . لکه :

۱- زه لیکونکی وینم چې لیکنه کوي.

۲- تښتېدلی یې بندي کړ.

۳- دی ځنګله ته تلل غواړي .

۴- دی ډېر لوستل کوي .

په پورته لومړی او دویمه جمله کې (لیکونکی ، تښتېدلی) فعلي صفتونه او په درېیمه ، څلورمه جمله کې (تلل او لوستل) فعلي نومونه دي چې د مستقیم مفعول په توګه راغلي دي.

**۴- ترکیبونه او عبارتونه د مستقیم بشپړوونکي په توګه**

د ترکیبونو او عبارتونو بېلابېل ډولونه کېدای شي په جمله کي د مستقیم بشپړوونکی په توګه راشي .

**اول : ترکیبونه د مستقیم بشپړووکي په توګه**

لکه په دا لاندې جملو کې:

۱- د ښوونځي زده کوونکي قلم او کتابونه واخستل .

۲- میرویس سره غالی او وچې مېوې لېږدوي.

۳- بزګران غنم او جواړ کري.

۴- کتابونه کتابونه مي ولیکل .

۵- غنم منم یې په ځای کړل .

۶- د کابل ښاروال میراحمد ووژل شو.

په پورته لومړۍ جمله کي : ( قلم او کتابونه) ، دویمه جمله کي (غالی او وچې مېوې) ، درېیمه جمله کې (غنم او جوار) عطفي ترکیبونه دي چې په جملو کې د مستقیم بشپړوونکي په توګه راغلي دي. همدارنګه په څلورمه جمله کې (کتابونه کتابونه ) تکراري ترکیب دی چې د مستقیم مفعول په توګه راغلی اوپه  پینځمه جمله کې (غنم منم) د تکراري ترکیب د یو ډول په توګه مستقیم بشپړوونکي دي ، په همدې ډول په شپږمه جمله کي (د کابل ښاروال میراحمد) بدلي ترکیب دی چې د مستقیم بشپړوونکي په توګه یې په جمله کي دنده سرته رسولې ده .

**دویم : عبارتونه د مستقیم بشپړوونکي په توګه**

لکه په دا لاندې جملو کې:

۱- پاکستاني طالبانو د ملالی کور لوټ کړ.

۲- سپلانیانو د افغانستان غرونه ولیدل.

۳- زرګر د طلا ګوته جوړه کړه .

۴- نجار د کور دروازه جوړه کړه .

۵- شاعر پینځه غزلي ولیکلي .

۶- ملیار ښکلي ګلونه کرلي دي.

په پورته لومړی او دویمه جمله کي ( د ملالی کور او د افغانستان غرونه) ملکي اضافي عبارتونه دي . په دریمه جمله کي (د طلا ګوته) بیاني اضافي عبارت دی ، په څلورمه جمله کي ( د کور دروازه) اختصاصي اضافي عبارت دی ، پینځمه جمله کي (پینځه غزلي) عددي عبارت او شپږمه جمله کي (ښکلي ګلونه) توصیفي عبارت دی چي په جملو کي د مستقیم بشپړوونکي په توګه راغلي دي.

د پورتنیو بېلګو څخه څرګندېږي چي عبارتونه او ترکیبونه په جمله کي د مستقیم بشپړوونکي په توګه راتلای شي.

**۲- غیرمستقیم بشپړوونکي (لرې مفعول)**

دغه ډول مفعول د کلام د بېلابېلو اجزاوو څخه په مغیره یا غیر اصلي حالت کي د سریني (preposition) او پسیني (post position) سره په ارتباطي حالت کي راځي او په جمله کي د یو نوم حالت او دریځ څرګندوي ( تاکي) (زرغونه ، ۱۳۸۲هـ)

زموږ ګرامر لیکونکو (له ، ته ، سره) د لرې مفعول نښې ګڼلي دي . غیرمستقیم بشپړوونکي ( لرې مفعول) د فعل سره د یوې واسطې له مخې رابطه ټینګوي . د دغه ډول مفعول د یو اسمي مرکز حالت د اداتو له مخې څرګندېږي ، یعني د کومو سرینو او پسینو سره په کوم یوه نحوي حالت کي قرار لري . بېلګې یې په لاندي جملو کي:

۱- د مشرانو لارښوونه د کشرانو په ګټه ده .

۲- ټول باغ له ګلونو ډک دی.

۳- په حماسي لنډیو سره انسان هیجاني کېږي.

۴- جرګه کلي ته ستنه شوه.

۵- زه تاته کتاب درکوم.

په پورته جملو کي (کشرانو ، ګلونو ، انسان ، کلي ، تا) کلیمې د غیرمستقیم بشپړوونکي په ډول راغلي دي ؛ خو د سرینو او پسینو په واسطه. په همدې ډول لرې مفعول په لاندي جملو کي :

۱- دغي نجلی خپلي خور ته قلم ورکړ .

۲- دولت له کډوالو او بېځایه شوو کسانو سره مرسته کوي.

۳- د پوهنې وزارت نجونو او هلکانو ته ښوونځي جوړوي.

۴- د پوهنتون ریاست زده کوونکو او ښوونکو ته لازمي اسانتیاوې چمتو کوي.

۵- د کرهنې وزارت بزګرو او بڼوالو ته درمل ورکړل .

په دغه جملو کې : ( خور ، کډوال او بېځایه شوي کسان ، نجوني او هلکان ، زده کوونکي او ښوونکي ، بزګر او بڼوال) د لري مفعول په توګه کارول شوې کلیمې او ترکیبونه دي .

**نوم د غیرمستقیم بشپړوونکي په توګه**

نوم تر ټولو ډولونو سره د غیرمستقیم بشپړوونکي په ډول راتلای شي ، لکه په دې لاندې جملو کې:

۱- مصطفی هارون ته قلم ورکړ.

۲- ملالی خپلو خویندو ته پاملرنه کوي.

۳- بریالی له خپلو ورونو سره مرسته کوي.

۴- د انګلیسي لوست مې ښه زده کړ.

۵- زه ملالی ته سبق ښایم .

په پورته جملو کې : ( هارون ، خپلو خویندو ، خپلو ورونو ، انګلیسي لوست ، ملالی ) کلیمې نومونه دي چې د غیرمستقیم بشپړوونکي په ډول راغلي دي.

**نومځری د غیرمستقیم بشپړوونکي په توګه**

نومځری د نوم د بیاځلي تکرار څخه مخنیوی کوي او د نوم پرځای کارول کیږي . دا ډول کلیمې کېدای شی په جمله کې د غیرمستقیم بشپړوونکي په توګه واقع شي.

د (زه ، ما ، ته ، تا ، دی ، ده ، دا ، دې ، موږ ، تاسي او دوي) په څېر کلیمې چې د عامو او خاصو نومونو پرځای کارول کېږي او د هغوي د بیاځلي توب مخنیوی کوي شخصي ضمیرونه بلل کېږي. ضمیر د غیرمستقیم بشپړوونکي په توګه په لاندې جملو کې وګورئ :

۱- ښوونکي دوي ته انعامونه ورکړل.

۲- برېښنا له هغې سره خبرې کوي.

۳- مصطفی له دوي سره اړیکه ونیوله .

۴- ښوونکي ماته کتابونه راکړل .

۵- په تا باندې د زماني ډېرې سړې او تودې تېرې شوي دي.

۶- زه تاته کتاب درکوم .

۷- تاسي له دوي څخه غوښتنه وکړئ.

په دغو جملو کې : ( دوی ته ، له هغې سره ، له دوی سره ، ماته ، په تا باندې ، تاته ، له دوی څخه ) ارتباطي حالت کې واقع شوي دي او د دویم مفعول په نامه نومولی شي. ضمیري کلیمې یې په جمله کې د غیرمستقیم بشپړوونکي په ډول راغلي دي.

**متعدد بشپړوونکی**

کله چې دوه یا زیات بشپړوونکي په یوه جمله کې راشي او هماغه یوه سوال ته ځواب ووایي متعدد بشپړوونکي بلل کېږي.

د متعدد بشپړوونکي د پېژندني لپاره لاندې جملې وګورئ :

۱- د انسان عزت او اعتبار په عمل او ښه خوي کې ساتل کېږي.

۲- د لمر تودوښه د غلو او مېوو په خوند او ښکلا کې آغېزه کوي.

۳- د ننګ او ناموس د ساتلو لپاره له خپل سر او ماله تېرېدل یو لوی صفت دی .

۴- د افغان خپلواک هېواد ساتنه په پوره مېړانه او سربښندنې سره کېدای شي .

۵- د سولې ملي جرګه به په هېواد کې د سولې د تامین او د امنیت د ټینګښت لامل شي.

په پورته جملو کې (علم او ښه خوي ، د غلو او مېوو په خوند او ښکلا ، له خپلو سر او ماله ، په پوهه مېړانه او سرښندنه ، د سولې د تامین او د امنیت د ټینګښت ) عبارتونه او ترکیبونه د متعدد بشپړوونکي په ډول راغلي دي.

**ب : ټاکونکی**

ټاکونکی د جملې له پیروو اجزاوو څخه دی چې د اشخاصو او شیانو څرنګوالی ټاکي او د څه رنګه ، څه ډول ، کوم ، څو پوښتنو ته ځواب ورکوي . ټاکونکی په جمله کې یوازې نه راځي ؛ بلکې د مبتداء ، خبر او د جملې د پیروو اجزاوو سره یوځای راځي . (۱۴:۵۵)

لکه په دا لاندې بېلګو کې :

۱- خوشحال خان خټک نومیالی او ستر شاعر وو.

۲- زیاکښه بزګران ډېر کار کوي.

۳- هغه ښکلی او وطنپال ځوان دی .

۴- وړتیا لرونکی کارګر د هر چا خوښېږي.

۵- کشر ورور يې د پښتو ژبې ښوونکی دی .

په پورته لومړی جمله کې (نومیالی او ستر ) کلیمې د خبر ( شاعر) سره ، په دویمه جمله کې (زیارکښه ) کلیمه د (بزګران) د کلیمې سره چې په مبتداء کې ده ، دریمه جمله کې (ښکلی او وطنپال) کلیمې د (ځوان) د کلیمې سره چې خبر دی راغلي دي او ټاکونکی بلل کېږي .

په همدې ډول په څلورمه جمله کې (وړتیا لرونکی ) کلیمې د (کارګر) د کلیمې ټاکونکي ده او په پینځمه جمله کې (کشر) کلیمه د (ورور) کلیمې د ټاکونکي په توګه راغلې ده . ټاکونکی په دوه ډوله :

- اضافي ټاکونکي
- غیراضافي ټاکونکي

باندې وېشل کېږي .

**لومړی - اضافي تاکونکی**

د تاکل شوې کلیمې څخه د مخه راځي او د تاکل شوې کلیمې تابع ګرځي . لکه په دې لاندې جملو کې :

۱- پوهاند حبیبي د افغانستان د کلتور په باره کې کتاب لیکلی دی .

۲- خوشحال خان د یوناني طب په باره کې بو کتاب لیکلی دی.

۳- د باغ ګلان وغوړېدل .

۴- هغه به تل په ویلا تندي خبرې کولې .

۵- ملالی به د غازیانو سره ښه سلوک کاوه.

په پورتنیو جملو کې ګورو چې په لومړی جمله کې د (افغانستان ) کلیمه د (کلتور) د کلیمې تاکونکې ده . په دویمه جمله کې د (یوناني) کلیمه د (طب) کلیمې تاکونکي ده . په درېیمه جمله کې د (باغ) کلیمه تاکوکي ده او (ګلان ) تاکل شوې کلیمه ده . په څلورمه جمله کې (ویال) کلیمه د (تندي) د کلیمې تاکونکي ده چې د خپلې تاکل شوې کلیمې تابع ګرځېدلې ده . په همدې ډول په پینځمه جمله کې (ښه) کلیمه د (سلوک) کلیمې تاکونکې ده چې د خپلې تاکل شوې کلیمې تابع ګرځي.

اضافي تاکونکی بیا په :

- توصیفي اضافي تاکونکې
- نسبتي اضافي تاکونکي
- او ملکي اضافي تاکونکي

باندې وېشل کېږي.

**توصیفي اضافي تاکونکی**

هغه اضافي تاکونکی دی چې د صفتونو په وسیله افاده کېږي . لکه په دې لاندې بېلګو کې :

۱- د هغې د ښکلې او ښایسته څېرې میینان ډېر دي.

۲- ښوونکی د زیارکښو زده کوونکو سره مینه لري.

۳- ټول خلک د هغه د ښه خوي او نېکي رويې څخه خوش دي.

په پورته لومړۍ جمله کې (ښکلی او ښايسته) ، په دويمه جمله کې (زيارکښو) او په درېيمه جمله کې (ښه خوی او نېکې رويې ) کليمې چې هره يوه يې د خپلو موصوف څرنګوالي بيانوي ؛ توصيفي اضافي تاکونکی بلل کېږي .

**نسبتي اضافي تاکونکی**

هغه تاکونکی دی چې په نسبتي صفت سره افاده شي . لکه په لاندې جملو کې :

۱- له سهارنی وږمې نه مې ډېر خوند واخيست .

۲- پرون مې د ګلالی باغ ننداره وکړه.

۳- د پښتني ولس دردونه د هرچا خوښېږي.

په پورتنی لومړۍ جمله کې (سهارنۍ) کليمه ، په دويمه جمله کې د (ګلالي) کليمه ، په درېيمه جمله کې د (پښتني ) کليمه نسبتي تاکونکی دي.

**ملکي اضافي تاکونکی**

درېيم ډول تاکونکی ملکي اضافي تاکونکی دی . دا هغه ډول تاکونکی دی چې يو ملکيت افاده او د نوم يا ضمير په وسيله په جمله کې راځي؛ لکه په دا لاندې جملو کې :

۱- د خاتول کتابونه ورک شول.

۲- د محمود بايسکل مات شو.

۳- د هغې خبرې مې واورېدې .

۴- زموږ کور په خوشحال خان مېنه کې دی.

په پورته جملو کې (خاتول ، محمود ، هغې ، زموږ ) کليمې د ملکي اضافي تاکونکي په توګه راغلي دي . ملکي اضافي تاکونکی د نوم ، نومځري (متصل يا ناخپلواک) نومځرو په وسيله جوړېدای شي. لکه په لاندې جملو کې :

۱- د ملالی حماسي لنډۍ ډېره مشهوره ده .

۲- زما کور په میرویس میدان کې دی .

۳- کتاب مې ورک شو.

په پورته جملو کې د (ملالی) کلیمه نوم ، (زما) کلیمه ملکي ضمیر او (مې) کلیمه متصل ضمیر په ډول راغلي او اضافي ټاکونکی هم بلل کېږي.

**دویم – غیراضافي ټاکونکی**

ځرنګه چې له نامه ځخه یې معلومېږي ، په دې ډول ټاکونکي کې د اضافت ادات نه راځي او ټاکونکی بې د اضافت له اداتو د خپل ټاکل شوي تابع کېږي.

غیراضافي ټاکونکی درې ډولونه لري:

۱- توصیفي غیر اضافي ټاکونکی .

۲- عددي غیراضافي ټاکونکی.

۳- اشاري غیراضافي ټاکونکی.

د هر ډول بېلګې یې په لاندې جملو کې ښیو:

۱- عبدالحی حبیبي د پښتو ادبیاتو تاریخ ښه استاد و.

۲- په ټولګي کې شل تنه ناست دي.

۳- هغه هلک ښوونځي ته ځي.

په پورته لومړی جمله کې د (ښه) کلیمه ستاینوم اوټاکونکي ده چې د خپل ټاکل شوي (استاد) کلیمې ځخه د مخه راغلي ده . په دویمه جمله کې (شل) شمېرنوم او ټاکونکي کلیمه ده چې د خپل ټاکل شوي (تنه) کلیمې ځخه دمخه راغلي ده . په درېیمه جمله کې (هغه) کلیمه اشاري ضمیر او ټاکونکي ده چې د خپل ټاکل شوي مرجع (هلک) ځخه د مخه راغلي ده .

نو دې پایلې ته رسېږو چې په بعضې ځایونو کې ضمایر او همدارنګه شمېرنومونه او ستاینومونه د ټاکونکي په ډول استعمالېږي.

**متعدد ټاکونکی**

که چیرې دوه یا زیات ټاکونکي د یو ټاکل شوي څرګندونه وکړي ، متعدد ټاکونکی بلل کیږي ؛ لکه په لاندې جملو کې :

۱- په دې کلي کې زلمي ډیر لوړ ، قوي او غښتلي سړي دي .

۲- دغه ډیره ښکلي ، لایقه او هوښیاره پیغله معلومیږي.

۳- په دغه دفتر کې پینځه تنه مامورین په وظیفه مېین ، په کار پوه او تکړه دي.

په پورته لومړی جمله کې (لوړ ، قوي او غښتلی) کلیمې د (سړي) کلیمې ټاکونکي دي . په دویمه جمله کې (ښکلي ، لایقه او هوښیاره) کلیمې د (پیغلي ) ټاکونکي او په دریمه جمله کې (په وظیفه مېین ، په کار پوه او تکړه) کلیمې د (مامورینو) لپاره د ټاکونکي په توګه راغلي دي .

په پایله کې د ټاکندویانو ( Determiners) په اړه داسې ویلای شو چې ټاکندویان (Determiners) هغه کلیمې دي چې د مقصد وړ شي د نامه څخه مخکې کارول کیږي ، د جملې په جوړښت کې سمون رامنځته کوي او هغوي بشپړوي. ټاکندویان تل د نومونو سره کارول کیږي او موږ ته وایي چې جمله په کوم کس یا شي پورې اړه لري.

**ج – نحوي قید**

که څه هم په ځانګړي ډول د قید په اړوند د پښتو ګرامر (صرف) برخه کې خبرې شوي دي او دا موضوع په مورفولوژي پورې اړوندیږي ؛ خو دلته یې یادونه ځکه اړینه ده چې د یوې جملې په جوړښت کې د کړول( قید ) دنده ځانګړي شي او د جملو په تحلیل – تجزیه کې ستونزې راپیدا نه شي. په پښتو ژبه کې قیدونه د فعل له متعلقاتو څخه دي او د جملې د دوهمې درجې د غړو څخه ګڼل کیږي .

متعلقات فعل هغو کلیمو ته وایي چې په جمله کې د فعل معنا توضیح کوي ، یعني د فعل د وقوع ځای ، وخت ، وضیعت او علت رابښيي.

نو کړولونه هغه ژبني توکونه دي چې د یوه کړ (فعل) د پېښېدنې څرنګوالی ښیي . دا څرنګوالی د کړ (فعل) د پېښېدلو ځای یا مهال ټاکي او یا یې څرګندتیا ، اړوندتیا ، ټینګار او داسې نورې ځانګړتیاوې ښکاره کوي. (زیار ، پښتو پښویه ، ۱۳۸۴لمریز ، ۱۹۸مخ)

په پښتو کې آر کړولونه ناوړېدوني (نه ګردانېدونکي) دي ؛ لکه : اوس ، بیا ، ببرته ، ژر ، ورو ، هم ، هرګوره ،هرومرو ، ناڅاپه یا ناڅاپي ، نابېره ، کښته ، پورته ، لاندې ، باندې ، دننه ، پاس ، نن ، پرون ، لرغون ، پخوا ، وړاندې ، وروسته ، لرې ، نژدې ، دلته ، هلته ، هیسته ... ( زیار ، پښتو پښویه ، ۱۳۸۴لمریز ، ۱۹۸مخ)

په پښتو ژبه کې په خپله اصلي قیدونه زیات شمېر نه لري ، خو زیاتره نا آر کړولونه څیزنومونه او ستاینومونه او غونډونه (فقرې) چې په څرمهډول د کړولونو په توګه کارول کېږي . (البته ناوړیدونی نه بلل کېږي ) په جمله کې د قید دنده ترسره کوي.

د بېلګې په توګه په لاندې جملو کې :

۱- پرون زه قندهار ته ولاړم .

۲- احمد پورته ولاړ .

۳- محمود ښوونځي ته ژر ژر ځي.

په پورته جملو کې (پرون ، قندهار ته ، پورته ، ښوونځي ته ، ژر ژر) داسې کلیمې دي چې د فعل معنا توضېح کوي . ( پرون ) د فعل د وقوع وخت راښیي. (مکتب ته ، قندهار ته ، او پورته) د فعل د وقوع ځای راښیي او (ژر ژر) د فعل د وقوع وضیعت راښیي.

قید په ساده ډول په لاندې جملو کې وګورئ :

۱- لاروی ډېر ترږی دی .

۲- ملنګ غلی ناست دی .

۳- هغه پرون ننګرهار ته لاړ .

۴- نن د ۱۳۹۴لمریز کال لومړی ورځ ده .

۵- ستا خبرې مې لرې واورېدې .

په پورته جملو کې (ډېر ، غلی ، پرون ، نن ، لرې ) کلیمې د ساده یا (یوستوي) قیدونو په توګه دنده اجراء کړې ده . قید په ترکیبي ډول په لاندې جملو کې :

۱- دی غلې غلې خبرې کوي.

۲- دی اوس اوس راورسېږ.

۳- ده ورته ځیر ځیر کتل .

په پورته جملو کې (غلې غلې ، اوس اوس ، ځیرځیر) کلیمې تکراري ترکیبونه دي او قیدي مطلب یې هم رسولی دی . یالکه په دې جملو کې:

- تر اوسه پورې لا پرېکړه نه ده شوې.
- له هغه وخت نه تر دې وخته پورې ډېر کلونه تېر شول .
- په یوه ورځ په یوه ساعت کې له یوې شفاخانې نه دوه جنازې راووتلې .

قیدونه د عطف په توګه هم کارول کېږي ؛ لکه :

- مور شپه او ورځ کار کوو.
- خبره به نن او سبا کې معلومه شي . او نور..

په ټولیز ډول آر او په ترڅ کې ورسره ناآر کړولونه دا وروسته وېشنه لري :

**۱- مهالي کړول ( د زمان قید)**

چې د مهال له مخې د یوه کړ پېښېدنه اغېزمنوي ، یعنې د جملې د خبر یا دفعل د پېښېدو مهال او وخت څرګندوي ، لکه په دې لاندې جملو کې :

۱- دی په غرمه کې خوب کوي.

۲- زده کوونکي خپله کورنۍ دنده په دوو بجو بشپړوي.

۳- ده په اختر کې ماته پیسې راکړې.

۴- دی په دوبې کې کابل ته راځي .

۵- دوی په کال کې درې ځلې کلي ته ځي .

۶- ده ته یې پلار په میاشت کې پینځه سوه روپۍ ورکوي.

۷- زه په اوونۍ کې دوه ځله روغتون ته ځم .

په پورته جملو کې (په غرمه کې ، په دوو بجو ، په اختر کې ، په دوبي کې ، په کال کې ، په میاشت کې ، په اوونۍ کې ) معالي کړولونه دي.

**توني (مکاني) کړول**

چې د یو کړ پېښدنه د ځای او چاپېریال له مخې اغېزمنوي ، یعنې د فعل د پېښېدو یا واقع کېدو ځای ښیي ؛ لکه په لاندې کې :

۱- د ملي آرشیف ودانۍ په کابل کې ده .

۲- د افغانستان ملي موزیم به دار الامان کې دی.

۳- اڅک په ننګرهار کې کور جوړ کړ.

۴- دی په افغانستان کې زېږېدلی دی.

۵- زه په کلي کې ډېره ځمکه لرم .

۶- ملالۍ په بهر کې زده کړه کړې ده .

۷- ما دی په ښوونځي کې ولیده .

۸- زما پلار په پوهنتون کې ښوونکی دی.

۹- موږ په هېواد کې سوله غواړو.

۱۰- موږ په کور کې کار نه کوو.

په پورته جملو کې ( په کابل کې ، په دارالامان کې ، په ننګرهار کې ، په افغانستان کې ، په کلي کې ، په بهر کې ، په ښوونځي کې ، په پوهنتون کې ، په هېواد کې ، په کور کې ، په کابل کې ) قیدي ترکیبونه د مکاني کړول په توګه راغلي دي او د همدغو قیدي ترکیبونو په وسیله جملې ستایل شوي دي.

**۳- څرنګیز کړولونه ( د حالت او څرنګوالي قید)**

چې د یوه کړ د پېښېدنې حالت یا څرګندتیا ښيي . یعنې د یوه فعل حالت او څرنګوالی ورځني ښکاره کېږي ؛ لکه : هسې ، خوشې (راغلم ...) هېڅ ، ناڅاپه ، ناڅاپي ، نابېره ، داسې (چې ) همداسې ، همداراز ، همدارنګه ، په همدې ډول ، له آره ، په

زغرده ، په ډاګه ، ډانګ پيڅلي ( ويل) ، په لويه کې يا له لويه سره (عمدتاً ، مجموعاً ، کاملاً) په ښکاره ، په پټه ، په څرګنده ، په غلا ، په زيار ، په خوارى ، په مېرانه ، په زور يا په زوره ، په خوښه ، په ورو، په نره ، په مړو سترګو ، په ټيټو سترګو ، د زړه له کومي ، زړه نازړه ، غاړه پرغاړه ، په کلکه ، په ټينګه ، په اوږدو ، په لنډو ...

بېلګې يې په لاندې جملو کې:

۱- ښکلا په خندا راغله .

۲- ملالى په ژړا له ښوونځي ووتله .

۳- د نشه يي توکو کارول مرګوني پايلې لري .

۴- هارون په بيړه کورته ولاړ.

۵- درخانى ناڅاپه له خوبه راويښه شوه.

پورته لومړۍ جمله له فاعلي نوم + لازمي فعل څخه جوړه ده . (ښکلا راغله) د لومړۍ جملې اساسي ساده جمله ده ، ( په خندا) يو قيدي ترکيب دى چې د (راغله) فعل ستايي او موږ ته وايي چې ښکال څرنګه او څه ډول راغله .

په همدې ډول په دويمه جمله کې (په ژړا) قيدي ترکيب او ښوونځي څخه د ملالى د وتلو حالت بيانوي . همدارنګه په دريمه جمله کې (مرګوني پايلې ) ، په څلورمه جمله کې ( په بيړه) ، پينځمه جمله کې (ناڅاپه) قيدي کليمي او ترکيبونه دي ، چې خپلو اړوند فعلونه يې ستايلي دي . د حالت قيدي ترکيبونه او عبارتونه په لاندې جملو کې وګورئ :

۱- مور مې په خورا صبر سره خواره پاخه کړل.

۲- زما ورور په ډېرې پاملرني سره پوښتنو ته ځواب ورکړ .

۳- اجمل په تيري کوونکي توګه خبرې پيل کړې .

۴- د ده سره يې مېره په ظالمانه توګه چلند کوي.

۵- ده په چټکى سره چارواکي خبر کړل .

۶- دې خپلې لوړې زده کړې په پټه ترسره کړې .

**۴- تینګاري کرولونه**

لکه : هرومرو ، په هر ډول ، په هره توګه ، په هر راز ، په ځانګړي توګه یا ډول ، په تېره (بیا) ، کورټ ، بېخپوره ، له سره (یار له سره په خبره نه پوهېږي) ، سخت ، کټ مټ ، چورلټ ، هېڅ ، په مټ ...

لکه په دا لاندي بېلګو کي:

۱- ته به خامخا زموږ مجلس ته راځې .

۲- دغه سړی سوچ لېونی دی .

۳- ته به هرومرو خپل کار خلاصوې .

**۵- د مقصد او سبب قید**

ددي قید څخه په جمله کي د خبر (فعل) د واقع کېدو هدف ، مقصد او سبب څرګندېږي ؛ لکه په لاندي جملو کي :

۱- هغه د ناروغی له کبله په روغتون کي بستر شو.

۲- دوی د ښه کار له امله جایزه واخیسته .

۳- ستا لیدو ته راغلم.

۴- احمدشاه بابا مېنه کي د لویو کورونو د جوړېدو په خاطر زاړه کورونه وړان شول .

۵- ماشوم خبرو کولو ته ځان جوړوي.

په پورته جملو کي : ( د ناروغی له کبله ، د ښه کار له امله ، ستا لیدو ته ، د لویو کورونو د جوړېدو په خاطر ، خبرو کولو ته ، عبارتونه او ترکیبونه په جملو کي د فعل د واقع کېدو سبب او مقصد ښيي.

**۶- د مقدار ، اندازي او درجي قید**

چي د فعل مقدار ، انداز ه او درجه ښيي ؛ لکه په لاندي جملو کي :

۱- زه دوه ځلي مزار شریف ته تللی یم .

۲- افغان هېواد پر موږ بې شانه ګران دی .

۳- ملالی لږه لږه ناروغه ده .

په پورته جملو کي : ( دوه ځلي ، بي شانه ، لږه لږه ) کليمي د مقدار ، اندازې او درجي قيدونو په ډول راغلي دي.

**متعدد قيدونه**

که چېرې دوه يا زيات قيدونه د يو خبر (فعل) تابع وي او عين سوال ته ځواب ورکړي ، متعدد قيدونه ورته ويل کېږي ؛ لکه په لادې جملو کي :

۱- د ګل پاچا الفت شعرونه ډېرسليس ، روان ، خواږه او له ابتکاره ډک دي .

۲- ښکار ډېره خپه ، وارخطا او سرګردانه معلومېدله .

۳- په ډېره مينه ، په ډېره تلوسه ، په بيړه بيړه يې ځانونه د ګلونو تماشي ته راورسول .

په پورته لومړۍ جمله کي (سليس ، روان ، خواږه) کليمي ، په دويمه جمله کي : (وارخطا ، سرګردانه ) کليمي او په درېيمه جمله کي (په مينه ، په تلوسه ، په بيړه بيړه) کليمي متعدد قيدونه دي.

**په غونډله (جمله) کي د نحوي قيد ځای**

نحوي قيدونه د جملي په سر ، مينځ او کله هم د جملي په اخر کي راتلای شي.

لکه په دې لاندې جملو کي :

۱- په کراره کراره يې خپله لار لنډوله .

۲- ښکلا ماته په ژړا ژړا کي وويل .

۳- تعليمي کال په ختمېدو دی .

۴- نه جوړېږي دا زموږ او ستاسو کلی موږ ساده يو ته مکاريي ځه پاڅېږه

په پورته جملو کي (کراره کراره) د جملي په سر کي ، ( ژړا ژړا) د جملي په مينځ کي اود (ختمېدو ) کليمه د نحوي قيد په توګه د جملي په پای کي ؛ په څلورمه بېلګه کي (کلي) کليمه په دې شعر کي د نحوي قيد په ډول راغلي ده .

بله د يادوني وړ خبره دا ده ، په هغو جملو کې چې قيدونه د فعل د متعلقاتو په توګه راغلي وي ؛ نو دغه قيود بيا له فعل نه دمخه راځي او د فعل څرنګوالی او کيفيت ښيي. قيود د مطابقت او سمون له مخې د فعل سره فعلي غونډ جوړوي ؛ نو ځکه که چېرې يو فعل د فاعل تابع وي ؛ نو دغه مربوطه قيود هم د فاعل تابع يا ورسره سمون کوي ، يا په بله وينا :

قيدونه هم د فاعل لپاره تصريفېږي ؛ دلته زموږ موخه ګردانېدونکي يا ځيني هغه قيدونه دي کله چې د لازمي فعل سره راشي هلته بيا د جملي د فاعل لپاره تصريف کېږي ، خو که د متعدي فعل سره راشي هلته بيا د جملي د مفعول لپاره تصريف کېږي . البته دغه تصريف د جنس ، عدد او شخص له پلوه ترسره کېږي ( ۷۴:۵۶)

**۱- د لازمي فعل سره د قيدونو استعمال او سمون**

لازمي فعل هغه فعل دی چې په اوس مهال او تېرمهال کې د جملي د لومړي عنصر لپاره تصريف شي او يا د جملي د لومړي عنصر سره مطابقت وښيي ؛ بله خبره دا چې د لازمي فعل فاعل هېڅکله بدلون نه مومي (په مغيره بڼه يې نه راځي) که چېرې قيد د لازمي فعل سره راشي ؛ نو بيا قيد او لازمي فعل د فاعل سره سمون کوي ( په اوس او تېرمهال کې)

لکه :

مفرد مذکر : زمرک د خپلواکۍ په جشن کې توند توند ګرځي.

مفرد مؤنث : ملالی د خپلې خور په واده کې توده توده ګرځېده .

جمع مذکر : پوه خلک د ژوند په ډګر کې پاخه پاخه قدمونه ږدي.

جمع مؤنث : دغه مېلمنې تودې تودې ګرځي.

په پورته جملو کې فعل لازمي دی او قيد د جملي د فاعل لپاره تصريف شوی دی.

او يا لکه په دا لاندې بېلګو کې :

| وګړي | اوس مهال | | تېرمهال |
|---|---|---|---|
| لومړی وګړی | مفرد (مذکر) | زه درونړ درونړ ګرځم . | زه درونړ درونړ ګرځېدم . |
| | مفرد (مؤنث) | زه درنده درنده ګرځم . | زه درنده درنده ګرځېدم. |
| | جمع (مذکر) | موږ دراندہ دراندہ ګرځو. | موږ دراندہ دراندہ ګرځېدو. |
| | جمع (مؤنث) | موږ درندې درندې ګرځو. | موږ درندې درندې ګرځېدو. |
| دویم وګړی | (مذکر) | ته درونړ درونړ ګرځې. | ته درونړ درونړ ګرځېدې . |
| | (مؤنث) | ته درنده درنده ګرځې. | ته درنده درنده ګرځېدې . |
| | جمع (مذکر) | تاسي دراندہ دراندہ ګرځئ. | تاسي دراندہ دراندہ ګرځېدئ. |
| | جمع (مؤنث) | تاسي درندې درندې ګرځئ. | تاسي درندې درندې ګرځېدئ. |
| درېیم وګړی | (مذکر) | دی درونړ درونړ ګرځي. | دی درونړ درونړ ګرځېده (ə) |
| | (مؤنث) | دا درنده درنده ګرځي. | دا درنده درنده ګرځېده (a) |
| | (جمع مذکر) | دوي دراندہ دراندہ ګرځي. | دوی دراندہ دراندہ ګرځېده (ə) |
| | (جمع مؤنث) | دوي درندې درندې ګرځي. | دوی درندې درندې ګرځېدلې (e) |

**۲- د متعدي فعل سره د قیدونو استعمال او مطابقت**

په پښتو ژبه کې ټول فعلونه په اوس مهال کې د جملې د لومړي عنصر سره مطابقت کوي ؛ خو په تېرمهال کې بیا توپیر لري. متعدي فعل هغه فعلونه دي چې په تېرمهال کې د جملې د لومړي عنصر سره مطابقت کوي ، یا د جملې د لومړي عنصر لپاره تصریف کېږي ، په دې اړوند بله خبره دا ده چې د جملې لومړی عنصر (فاعل) په اوښتي(مغیره) بڼه راځي او د متعدي فعل بله ځانګړنه دا ده چې په تېرمهال کې د جملې د دوهم عنصر لپاره تصریف کېږي.

په متعدي فعل کې که زمانه ناتېره وي فعل د فاعل سره سمون ښیي او قید د مفعول سره مطابقت څرګندوي ؛ لکه :

- زه دغه لیکوال پوخ پېژنم .
- زه دغه لیکوالان پاخه پېژنم .

- زه دغه ليکواله پخه پېژنم.
- زه دغه ليکوالاني پخي پېژنم .

په دغو مثالونو کي فعل له فاعل سره سمون کوي ، مګر په دغو جملو کي (پوخ) د (پېژندل) سره يو مرکب فعل (متمم) جوړ کړی دی ؛ نو دغه د فعل اسمي خبر د مفعول سره مطابقت کړی او د فعل دويم توکی يې (پېژندل ) د فاعل سره سمون ښودلی دی . متعدي فعل او قيد په تېره زمانه کي ، په لاندي جملو کي څرګندېږي:

- ما دغه سړی پوخ وپېژند ( مفرد مذکر)
- ما دغه ښځه پخه وپېژنده (مفرد مؤنث)
- ما دغه سړي پاخه وپېژندل ( جمع مذکر)
- ما دغه ښځي پخي وپېژندلې( جمع مؤنث)

په دغه پورته مثالونو کي فعل او قيد په ګډه (دواړه) د مفعول سره سمون لري .

**۳- په متدي مجهولو فعلونو کي هم داسي راوړو**

**ناتېره زمانه**

ډوډۍ توده توده خوړله کېږي.                ډوډۍ تودې تودې خوړلې کېږي.

**تېره زمانه**

ډوډۍ ګاني سړې سړې خوړل کېدې .          ډوډۍ ګاني سړې سړې وخوړل شوې .

په پورته مثالونو کي ګورو چي په دواړو زمانو (تېره او ناتېره) کي فاعل معلوم نه دی . ډوډۍ مفعول ( د فاعل نايب) دی ؛ نو فعل او قيود يوځای ورسره سمون ښيي.

يا لکه په دا لاندي بېلګو کي:

| ناتېره زمانه | تېره زمانه |
|---|---|
| تورما (مذکر) پوخ پېژني. | تور زه پوخ پېژندلم. |
| تور ما (مؤنث) پخه پېژني. | تور زه پخه پېژندلم . |
| تور مورږ (مذکر) پاخه پېژني. | تور مورږ پاخه پېژندلو. |
| تور مورږ (مؤنث) پخي پېژني. | تور مورږ پخي پېژندلو. |
| | |
| تور تا (مذکر) پوخ پېژني. | تور ته (مذکر) پوخ پېژندلي. |
| تور تا (مؤنث) پخه پېژني. | تور ته (مؤنث) پخه پېژندلي. |
| تور تاسي (مذکر)پاخه پېژني. | تور تاسي (مذکر) پاخه پېژندلئ . |
| تور تاسي (مؤنث) پخي پېژني. | تور تاسي (مؤنث) پخي پېژندلئ. |
| | |
| تور دغه هلک پوخ پېژني. | تور دغه هلک پوخ پېژنده. |
| تور دغه هلکان پاخه پېژني. | تور دغه هلکان پاخه پېژندل. |
| تور دغه نجلی پخه پېژني. | تور دغه نجلی پخه پېژندله . |
| تور دغه نجوني پخي پېژني. | تور دغه نجوني پخي پېژندلي . |

پورته مثالونو کي گورو چي فعل متعدي دی او قيد د جملي د مفعول لپاره گردان شوی دی ، يعني هلته چي مفعول مفرد مذکر دی ، قيد د (پوخ) په شکل ؛ خو هلته چي د جملي مفعول مفرد مؤنث دی ، قيد د (پخه) په بڼه تر سترگو کېږي.

همدارنگه هلته چي د جملي مفعول جمع مذکر دی قيد د (پاخه) پهشکل او کله چي د جملي مفعول جمع مؤنث دی ، قيد د (پخي) په شکل گردان شوی دی . نو د پورتنيو بېلگو څخه څرگندېږي چي ځيني قيدونه هم تصريف کېږي . په دې معنا کله چي د جملي فعل لازمي وي ، قيد د جملي د فاعل لپاره د جنس او عدد له پلوه تصريف کېږي او کله چي د جملي فعل متعدي وي ؛ نو هلته بيا قيد د جملي د مفعول لپاره د جنس او عدد له پلوه گردانېږي.

## د پينځم څپرکي لنډيز او پوښتني

### لنډيز

د جملي بنسټيزې برخي مبتداء او خبر دي ، دا برخي چي په پښتو ژبه کي د ايښي - ايښوني او په دري ژبه کي د نهاد – گذاره په نومونو باندې يادېږي ؛ د يوې جملي اساسي برخي يا هسته جوړوي . اساسي په دې معنا چي له فرعي اجزاوو او توکونو څخه پرته هم يوه پوره او بشپړه جمله جوړولای شي.

د بېلگي په توگه :

۱- اجمل ښوونکی دی.

۲- هلک پيسي غلا کړې.

۳- جرگه جوړه شوه.

پورته هره جمله کي د مبتداء او خبر برخي په خپلواکه توگه راغلي دي او نورو فرعي توکونو ته يې اړتيا نه ده ليدل شوې . پورته لومړی جمله کي (اجمل) برخه د جملي د مبتداء په نامه يادېږي او مورږ ته وايي چي جمله د څه شي په هکله ده . دويمه جمله د (هلک) په هکله ده ، په دغه جمله کي (هلک) برخه د جملط د مبتداء په نامه يادېږي او مورږ ته واي چي جمله د څه شي په هکله ده . درېيمه جمله د (جرگې) په هکله ده ، په دې جمله کي (جرگه ) د جملي د مبتداء په نامه يادېږي او مورږ ته وايي چي جمله د څه شي په هکله ده .

ځواب دا دی :

- لومړی جمله مورږ ته وايي چي د جملي مبتداء ( اجمل) ښوونکی دی.
- دويمه جمله مورږ ته وايي چي د جملي مبتداء (هلک) پيسي غلا کړې .
- درېيمه جمله مورږ ته وايي چي د جملي مبتداء (جرگه) جوړه شوه .

د پورتنيو جملو هغه برخي چي مورږ ته د جملو د مبتداء به هکله معلومات راکوي د جملي د خبر په نامه يادېږي ، په دې توگه هره جمله له دوو برخو څخه جوړه شوې ده : مبتداء + خبر = جمله .

نو ویلای شو چې :

مبتداء = د جملې هغه برخه ده چې جمله ورته حواله کېږي.

خبر = د جملې هغه برخه ده چې موږ ته د جملې د مبتداء په هکله معلومات راکوي.

په جمله کې د غه دوې اساسي برخې په اسمي او فعلي غونډونو بېلېږي ، چې اسمي برخې ته یې مسندالیه (فاعل) ، مبتداء یا نوموال غونډ و فعلي برخې ته یې (مسند ، فعل ، خبر) یا کړوال غونډ وایي .

د مبتداء په برخه کې د کلام د اجزاوو څخه ( نوم ، ځېزنوم ، ستاینوم ، شمېرنوم ، نومځري ...) یا د هغوي معادل جوړښتونه راځي چې د جملې مبتدا جوړوي ، په هغوي کې اساسي کلیمه نوم وي او د فاعلي نوم په نامه یادېږي. مسندالیه په عام ډول یوازې راځي ، خو کله ورسره توابع هم راوړل کېږي ،

- چې دغه توابع به یا د صفت او بیان په بڼه وي ؛ لکه : روغ صورت نیمه پاچاهي ده .

- یا به د ټینګا او تاکید په بڼه وي ؛ لکه : بریالی پخپله راغی .

- او یا به د بدل او عطف په بڼه وي ؛ لکه : ستاوربړه ملالی راغلې وه . چې په دې جمله کې ( ستا وربړه) ته مبدل منه او (ملالی ) ته بدل وایي چې د مسند الیه د وضاحت او خاصوالي لپاره راوړل شوی .

مبتداء په (ساده – ترکیبي او متعدده ) باندې وېشل کېږي ، یعني مبتداء کېدای شي یوه ساده کلیمه وي ، ترکیبي وي او یا په متعدد ډول سره . کېدای شي د جمل په سر ، مینځ او پای کې راشي . د جملې دویمه بنسټیزه برخه مسند ( خبر) ده . په پښتو کې یې اینسی او په دري کې یې ګذاره نوموي . چې د مبتداء او مسندالیه حال ښکاره کوي او حرکت یې څرګندوي. د جملې په دې برخه کې فعل د خپلو اړوندونو سره راځي ، نو فعل د یوې جملې د خبر اساسي برخه جوړوي . که هرڅومره توکونه سره یوځای شي ؛ خو چې فعل ونه لري جمله نه شي جوړېدای .

د جملې خبر هم کولای شي د جملې د مبتداء په څېر د یوې یا ډېرو کلیمو څخه جوړ شي ، خو په دې شرط چې د هغه زړی یا اساسي کلیمه فعل وي . په پښتو ژبه کې خبر په دوو ډولو (اسمي او فعلي) وېشل کېږي او له دې سره یې جملې هم په اسمی او فعلي جملو وېشنه مومي.

نومیز یا اسمی خبر تل د نوم له ډلې ( نوم ، ستاینوم ، شمېرنوم ، نومځر او مرستیال فعلونو ) سره راځي . فعلي خبر ؛ هغه جملې چې د خبر په برخه کې یې پوره فعل او یا فعلي ترکیب (غونډ) وي د فعلي جملې په نامه یادېږي . یعني د اینسوني (مسند) برخه

يې اصلي فعلونه وي . نو د يوې غونډلې (جملې) د شتوالي لره کې آر يا بنيادي توک ګردان شوی فعل دی چې په بنسټيز ډول له مهال سره تړاو لري ؛ له مانيز پلوه فعل بيا داسې يوه کليمه ده چې د يوې پېښې د پېښېدنې کړن او يا د يوه حالت د استېدنې څرګندونه په غاړه اخلي .

خبر هم د مبتداء په څېر په ساده ، ترکيبي او متعدد باندې وېشل کېږي . د پښتو ژبې د ګرامري قاعدې سره سم خبر د جملې په پای کې راځي ؛ خو کله کله خصوصاً په شعرونو کې د جملو په سر او منځ کې هم راتلای شي.

د پښتو ژبې په جملو کې يوه مهمه ځانګړنه دا ده چې مبتداء له خبر سره سمون او مطابقت لري . دغه مطابقت د عدد ، جنس او شخص له مخې صورت نيسي .

**په جمله کې د شمېر او عدد له پلوه د مسندالیه او مسند یا مبتداء او خبر مطابقت**

ليدل کېږي چې په پښتو ژبه کې فعل د فاعل يا د مفعول لپاره تصريفېږي ؛ نو په دغه صورت کې فعل د فاعل يا مفعول سره تابعيت او مطابقت څرګندوي ، په دې معنا که د جملې فاعل ، مفعول مفرد يا جمع وي ؛ نو فعل يا خبر هم د مفرد يا جمع په توګه راځي.

**د جنس مطابقت او سمون**

د جنس سمون په دې معنا چې که مسنداليه يا د جملې فاعل ښځينه وي ؛ نو بيا مسند (فعل) ښځينه راوړل کېږي او که نارينه جنس وي ؛ نو فعل نارينه (مذکر) کارول کېږي. د مسند اليه او مسند سمون د شخص له مخې دا معنا لري چې فعل بايد د هر يوه وګړي (لومړي وګړي (متکلم) دويم وګړي ( مخاطب ) ، درېيم وګړي ( غايب )) سره سم راوړل شي.

په جملو کې د اساسي برخو سربېره پيروي برخې هم راځي ؛ دا برخې د جملو خبر بشپړوي . د جملې په پيروو برخو کې بشپړوونکی ( مفعول) ، ټاکونکی (مشخص کوونکی) او نحوي قيد راتلای شي.

مفعول هغه څوک يا شی دی چې د فعل اثر ورباندې شوی وي او په دوه ډوله (مستقيم او غيرمستقيم) باندې وېشل کېږي. نومونه ، ستاينومونه ، شمېرنومونه ، نومځري په جمله کې د بشپړوونکي په توګه راتلای شي.

ټاکونکی د اشخاصو او شيانو څرنګوالی ټاکي ، په جمله کې يوازې نه راځي ، بلکې د مبتداء ، خبر او د جملې د پيروو اجزاوو سره يوځای راځي ، په دوه ډوله (اضافي ټاکونکی او غيراضافي ټاکونکي) باندې وېشل کېږي. د جملې له پيروو برخو څخه يو

نحوي قيد دی . په پښتو ژبه کې قيدونه د فعل له متعلقاتو څخه دي . متعلقات فعل هغو کليمو ته ويل کېږي چې په جمله کې د فعل معنا توضيح کوي ، يعنې د فعل د وقوع ځای ، وخت ، وضيعت او علت راښيي.

کرولونه په پښتو ژبه کې په آرو او ناآرو باندې وېشل کېږي ؛ آر کرولونه ، نه گردانېدونکي دي شمېر يې زبات نه دی ، خو زياتره صفتونه ، نومونه په ساده او هم په ترکيبي شکل سره په جمله کې د قيد دنده ترسره کوي.

د معنا له مخې قيدونه په دا لاندې ډولونو باندې وېشل کېږي:

- د حالت او څرنګوالي قيد : چې د يو فعل حالت او څرنګوالی ورځنې څرګندېږي.
- د مقدار او درجې قيد : چې د فعل مقدار ، اندازه او درجه ښيي.
- د زمان قيد : چې د جملې د خبر يا دفعل د پېښېدو مهال او وخت څرګندوي.
- د مکان قيد : چې په جمله کې د فعل د پېښېدو يا واقع کېدو ځای ښيي.
- د مقصد او سبب قيد : چې په جمله کې د فعل د واقع کېدو هدف ، مقصد او سبب څرګندوي .

نحوي قيدونه د جملې په سر ، مينځ او کله هم د جمل په اخر کې راتلای شي.

**پوښتنې**

لاندې پوښتنې په لنډ ډول ځواب کړئ :

۱- د يوې جملې بنسټيزې برخې راوپېژنئ .

۲- ناخپلواکې کليمې يا مورفيمونه د جملې د بنسټيزو برخو په توګه راتلای شي ؟

۳- مبتداء څنګه راپېژنئ ؟

۴- د جوړښت له مخې د مبتداء ډولونه کوم دي ؟

۵- ساده ، ترکيبي او متعدده مبتداء څنګه سره توپيرولای شئ ؟

۶- پينځه داسې جملې وليکئ چې مبتداء يې ساده وي.

۷- پينځه داسې جملې وليکئ چې ترکيبي مبتداء ولري .

۸- پينځه داسې جملې وليکئ چې مبتداوې يې په متعدد ډول راغلي وي.

۹- د مسنداليه توابع په کومو بڼو سره راتلای شي؟

۱۰- په يوه غونډله کې مبتداء څنګه پېژندلای شئ ؟

**لومړی تمرين**

ښوونکی دې د ټولګي زده کوونکي په پينځو ګروپونو باندې ووېشي ، او هرګروپ ته دې په لاندې ډول دندې وسپاري :

**لومړی ګروپ**

لس داسي جملې وليکئ چې مبتداء يې ساده وي او په خاص نوم سره افاده شوي وي.

**دويم ګروپ**

لس داسي جملې جوړې کړئ چې مبتداء يې ترکيبي وي او په ستاينومونو سره پيل شوي وي.

**درېيم ګروپ**

لس داسي جملې وليکئ چې مبتداء يې ترکيبي بڼه ولري او په شمېرنومونو افاده شوي وي.

**څلورم ګروپ**

لس داسي جملې وليکئ چې مبتداء يې متعدده بڼه ولري.

**پينځم ګروپ**

لس داسي جملې وليکئ چې د مبتداء برخې يې د نومونو په بېلابېلو ډولونو :(خاص نوم ، عام نوم ، جنس نوم ، جمعيت نوم ، معنا نوم) او نورو باندې افاده شوي وي.

د هرګروپ مشر دې په نوبت سره د خپل ګروپ ليکل شوي جملې ټولګيوالو ته وړاندې کړي ، ښوونکی دې څارنه وکړي.

ښوونکی دې زده کوونکو ته کورنی دنده وسپاري چې د (ساده ، ترکيبي او متعددې )مبتداء لرونکي لس ، لس جملې په خپلو کتابچو کې وليکي او د بلې ورځې په درسي ساعت کې دې ټولګيوالو ته وړاندې کړي.

۱۱- د جملې خبر څنګه توضيح کولای شئ؟

۱۲- د جملې د خبر په برخه کې د کلام کوم توکي راتلای شي؟

۱۳- د جملې د خبر برخه څنګه پېژندلای او بېلولای شئ؟

۱۴- اسمي او فعلي جملي سره څنګه توپيروئ ؟

۱۵- ايا نومځري کېداى شي چي له فعل سره يوځاى د جملي د خبر په توګه راشي؟

۱۶- مسند ( خبر) څنګه راپېژندلاى شئ ؟

۱۷- په جمله کي د خبر ځاى څنګه توضېح کولاى شئ ؟

۱۸- اسمي او فعلي خبر څنګه راپېژندلاى شئ ؟

۱۹- اسمي او فعلي جملي سره څنګه توپيروئ ؟

۲۰- د ساختمان له مخي خبر په کومو ډولونو باندي وېشل کېږي؟

**دويم تمرين**

ښوونکی دي د ټولګي د زده کوونکو د شمېر په پام کي نيولو سره څو ګروپونه جوړ کړي او هر ګروپ ته دي د جملي د خبر په اړوند ځانګړې دندې وسپاري چي بشپړه يې کړي ، بيا د ګروپ مشر يې نورو ټولګيوالو ته وړاندې کړي.

ښوونکی دي د ټولګي زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکړي چي هر زده کوونکی د (ساده ، ترکيبي او متعدد) خبر لرونکي لس لس جملي په خپلو کتابچو کي وليکي او بلې ورځي د نحوې مضمون په درسي ساعت کي د نورو ټولګيوالو ترمخ ولولي .

هر زده کوونکي ته دي کورنۍ دنده ورکړل شي چي لس داسي جملي په خپلو کتابچو کي وليکي چي (اضافي ، توصيفي ، عددي) عبارتونه او ترکيبونه پکي د نوميز خبر په توګه راغلي وي.

۲۱- په جمله کي د مبتداء سره د خبر سمون او مطابقت څنګه توضېح کولاى شئ ؟

۲۲- په جمله کي د جملي د اجزاوو ترمنځ د مطابقت معنا څه ده ؟

۲۳- په جمله کي د جملي د فاعل او فعل يا مبتداء او خبر ترمنځ مطابقت له څو اړخونو له مخي موجودېږي؟

۲۴- د وګړي يا شخص له مخي مطابقت څنګه توضېح کولاى شئ؟

۲۵- پينځه داسي جملي وليکئ چي د لومړي وګړي له مخي پکي مطابقت موجود شوى وي.

۲۶- پينځه داسي جملي وليکئ چي د دويم او درېيم وګړي له مخي پکي مطابقت موجود شوى وي.

۲۷- د جنس له مخي د مبتداء او خبر ترمنځ مطابقت څنګه توضېح کولاى شئ ؟

۲۸- پينځه داسي جملي وليکئ چي د جنس له مخي پکي د مبتداء او خبر ترمنځ مطابقت راغلى وي .

۲۹- د ګڼي (شمېر) یا عدد له مخې دمبتداء او خبر ترمنځ مطابقت د مثالونو سره توضېح کړئ .

۳۰- پینځه داسي بېلګه یي جملې ولیکئ چي د عدد او شمېر له مخې پکي مطابقت موجود وي.

۳۱- د جملي پیروې برخي کومي دي ؟ نومونه یې واخلئ .

۳۲- بشپړوونکی د جملي له کومو برخو څخه دی ؟ توضېح یې کړئ.

۳۳- مستقیم او غیرمستقیم بشپړوونکی سره څنګه توپیرولای شئ ؟

۳۴- پینځه داسي جملي ولیکئ چي ضمیرونه پکي د بشپړوونکي په توګه راغلي وي.

۳۵- پینځه داسي جملي ولیکئ چي نومونه او شمېرنومونه پکي د بشپړوونکي په توګه راغلي وي.

۳۶- پینځه داسي جملي ولیکئ چي د جمع مذکر نومونه پکي د بشپړوونکي په ډول کارول شوي وي.

۳۷- پینځه داسي جملي ولیکئ چي چي عام نومونه پکي د بشپړوونکي په توګه واقع شوي وي .

۳۸- پینځه داسي جملي ولیکئ چي د مبتداء برخي یې ټاکونکي ولري .

۳۹- اضافي ټاکونکی او غیراضافي ټاکونکی څنګه توپیرولای شئ ؟

۴۰- متعدد ټاکونکی کوم ټاکونکي ته ویې . په جملو کي یې راوښایاست .

۴۱- قید څنګه راپېژندلای شئ ؟

۴۲- قیدونه په څو ډولونو وېشل کېږي . هر ډول یې د مثال سره واضح کړئ .

۴۳- ګردانېدونکي قیدونه که چېرې له لازمي فعل سره راشي ، د جملي کوم عنصر لپاره تصریف کېږي ؟ واضح یې کړئ .

۴۴- پینځه داسي جملي ولیکئ چي د زمان قید پکي راغلی وي.

۴۵- پینځه داسي جملي ولیکئ چي د مقصد او سبب قیدونه پکي کارول شوي وي.

**څلورځوابه پوښتني**

لاندي هرې پوښتني ته څلور ځوابه لیکل شوي ، تاسي سم ځواب په نښه کړئ :

۴۶- لاندي هغه جمله په نښه کړئ چي د مکان قید پکي راغلی وي :

الف : ښوونکی هلته دی　　　ب: ډوډۍ وخوره　　　ج: زه پرون راغلم　　　د: کتابونه یې واخیستل

۴۷- لاندي هغه جمله په نښه کړئ چي ضمیر پکي د مستقیم بشپړوونکي په توګه راغلی وي:

الف: زه کورته ځم ب: ما ډوډۍ وخوړه ج: هغه زه ووهلم د : الف او ج ځوابونه سم دي.

۴۸- لاندې هغه جمله په نښه کړئ چې په قیدي ترکیب سره ستایل شوي وي :

الف: لوبه پیل شوه ب: زه په پوهنتون کې یم ج: زه ډوډۍ خورم د: لمر راخېژي .

۴۹- لاندې هغه جمله په نښه کړئ چې قید یې په سر کې راغلی وي :

الف: دولت په کار پیل وکړ ب: زما پلار کله ناکله راځي ج: اوس دا کار کوي د: هغه ناروغ دی

۵۰- په لاندې جملو کې د مبتداء او خبر د مطابقت له مخې سمه جمله په نښه کړئ :

الف : دغه هلکان شوخ دي ب: زه ښوونکی یم ج: د دوي ښوونکی یم د: دغه هلک ووهل شو .

**مقابلوي پوښتني**

لاندې په یو ستون کې اصطلاحات او په بل ستون کې د اصطلاح تعریف درکړل شوی ، تاسي یې سره انډول کړئ :

۵۱- د جملې هغه برخه ده چې جمله ورته حواله کېږي ۱- فعل

۵۲- هغه برخه ده چې مورږ ته د جملې د مسندالیه په هکله خبر راکوي ۲- مفعول

۵۳- هغه کلیمه ده چې د کسانو ، شیانو ، ځایونو او جیواناتو د نومولو لپاره کارول کېږي ۳- عام نوم

۵۴- هغه کلیمه ده چې د یوه عمل ترسره کول او د یوه حالت درولودل بیانوي ۴- لازمي فعل

۵۵- د جملې د کړني لاسته کوونکي ته وایي ۵- خاص نوم

۵۶- هغه فعل دی چې په هغه کې عمل له فاعل څخه مفعول ته لېږدي. ۶- مبتداء

۵۷- هغه نوم دی چې د یوې کټګورۍ هرکس ، هر شي ، هرځای او یا هر حیوان ته ورکړل شي. ۷- متعدي فعل

۵۸- هغه فعل دی چې په هغه کې عمل له فاعل سره پاتې کېږي. ۸- خبر

۵۹- هغه کلمیه ده چې فعل ، صفت ، بل قید او ټوله جمله ستایي او ټولې جملې په هکله یوځه بیانوي

۶۰- هغه کلیمه ده چې فعل ستایي او مورږ ته د یوه عمل د ترسره کولو د څرنګوالي په هکله معلومات راکوي او د څرنګه پوښتني ته ځواب ورکوي.

۹- قید

۱۰- نوم

۱۱- مجهول فعل

۱۲- د حالت فعل

۱۳- د زمان قید

۱۴- فعلي صفتونه

**شپږم څپرکی**

**نوموالي او کړوالي غونډلې**

څرنګه چې د ژبې د زده کړې او کاروني په بهیر کې د ورتیا لرلو لپاره په دواړو برخو (وینا او لیکنه) کې د سمو جملو جوړول او لیکل اړین دي ؛ نو باید د جملو له بېلابېل وېش : ( معانیز ، جولیز ، نوموال او کړوال) څخه خبرتیا ولرو . سربېره پر دې د کلام د توکو پېژندنه ، په جمله کې د هغو کارونه او د جملې په جوړښت کې د هغوي ترتیب د هغوي ترمنځ اړیکي ، پیوستون ، سمون (مطابقت ) ...دا ټول هغه څه دي چې د ګرامر موخه جوړوي . دې موخې ته د رسېدو سره د کلام د بېلابېلو توکو پېژندنه او د جملې په جوړښت کې د هغوي کارونه په مخکنیو څپرکو کې ولوستل شول . په دې څپرکي کې به د جملو بېلابېل ډولونه تر څېړني او شنني لاندې ونیسو :

دا چې په پښتو ژبه کې د یوې جملې اساسي او بنسټیزه برخه خبر (مسند) جوړوي او بې له دې برخې څخه جمله نه بشپړېږي ؛ نو په پښتو ژبه کې لومړی جملې په دوه برخو وېشل شوي دي ، چې لومړی برخه يې نوموالهِ یا د اسمي جملو په نامه او دویمه يې د کړواله یعني فعلي جملو په نامه یادوي.

**نوموالهِ یا اسمي جمله**

نوموااله یا امسي جمله هغې جملې ته وايي چې مبتداء يا مسنداليه يې د نوم له ډلې څخه وي او د خبر (مسند) برخه يې له نيمګړي فعل څخه جوړه وي. يعني هغه جمله چې مبتداء او خبر يا مسنداليه او مسند پکې دواړه اسمونه وي ؛ د اسم او خبر نه علاوه پکې نيمګړی (ناقص) فعل هم راغلی وي.

په اسميه جمله کې د مسنداليه او مسند نه ( چې ورته اسم يا مبتداء او خبر وايي) جمله نه جوړېږي ، يعنې پوره مطلب تري ، نه څرګندېږي ؛ ترڅو چې يوه بله داسې کليمه ورسره رانه وستی شي چې د دوي يو تربله اړيکه څرګنده کړي. (۲۵۱:۵۷)

لکه په دا لاندي بېلګو کې :

۱- برېښنا ناجوړه ده .

۲- هغه ناروغ دی.

۳- اجمل ښوونکی دی.

۴- زه ښوونکی يم.

۵- ورېځ توره ده .

په پورته لومړی جمله کې (برېښنا) نوم ، (ناجوړه) ستاينوم او (ده) نيمګړی فعل دی . په دويمه جمله کې (هغه) اشاري ضمير ، (ناروغ ) صفت ، ( دی) نيمګړی فعل دی . په درېيمه جمله کې (اجمل) نوم ، ( ښوونکی) فاعلي نوم ، ( دی) نيمګړی فعل، په څلورمه جمله کې (زه) د مفرد متکلم ضمير ، ( ښوونکی) نوم ( يم) فعل او په پينځمه جمله کې (ورېځ ) نوم ، ( توره) ستاينوم (ده) نيمګړی فعل دی.

په دې جملو کې : ( برېښنا ناجوړه ، هغه ناروغ ، اجمل ښوونکی ، زه ښوونکی ، ورېځ توره ) ( مسنداليه او مسند ) نه تر هغې پورې مطلب نه څرګندېږي ، ترڅو چې ورسره د «ده» او «دی» کليمې نه وي لګول شوي.

د نحوي ځينې استادان (دی، ده ، دي) ته نيمګړی (ناقص) فعل نه وايي بلکې دي کليمو ته د (ربط) کليمې يا ادات وايي . (خيال بخاري ، ۱۹۸۳ م) .

زما په آند دغه ډول نيمګړو فعلونو ته چې د نوميزو کليمو سره يوځای د جملې د مسند (خبر) برخه جوړوي د ربط کليمې ويل به ناسم وي ، ځکه چې په ناقصو يا نيمګړو فعلونو او د ربط په اداتو کې د جملې د عناصرو او توکو له مخې هيڅ ډول مشابهت نه ليدل کېږي.

دا سمه ده چي په عربي ژبه کې که دوه اسمونه (مسنداليه او مسند) يوځای شي ؛ نو جمله ترې جوړېدای شي ؛ لکه : (اللهُ واحدٌ ، مُحُمدٌ صَادِقٌ..) چې لومړی نوم مسنداليه او دويم نوم مسند دی ، خو ددې نه علاوه هغوي (عرب) په داسې کليمو کې يو پټ «اسناد» ته هم قايل دي ، چې هغه بيان شوي خو نه وي خو ددې کليمو ترمينځه تړون او تعلق پيدا کوي، بلـه دا چې عربي يو ځانته ژبه او جلا ګرامري قاعدې لري او پښتو ځانته . ددې په مقابل کې په پښتو کې د دوه اسمونو نه جمله نه جوړېږي بلکې يوه بلـه داسې کليمه يا ادات چې هغه ددې اسمونو ترمينځه اړيکه پيدا کړي ؛ لکه : الله يو دی ، محمد (ص) رښتونی دی ، اجمل ناجوړه دی او نور...

**د نوموالو غونډلو (اسمي جملو) قاعدې**

د نوموالي غونډلي بنسټيز توکي درې :( مسنداليه ، مسندا او اسناد) دي .

**مسنداليه**

هغه نوميزه کليمه ده چې د يو کار او حکم نسبت ورته کېږي.

**مسند**

هغه دی چې د مسنداليه حال ښکاره کوي.

**اسناد**

د مسنداليه او مسند ترمنځ حکم کوي.

دغه درې توکي : ( مسنداليه ، مسند ، اسناد) د مبتداء ، خبر او ربطي اداتو په نامه هم نومول شوي دي .( ۴۴۱:۵۸)

اوس به يو لړ قاعدې ولولو :

۱ – په نوموالو غونډلو کې که اينبى او اينونى ( مبتداء او خبر) دواړه نومونه وي نو د ربط کليمې (ده ، دی ، دي) د نړدېوالي په وجه د خبر تابع دي. لکه :

- تاج محمد انسان دی .

په دې جمله کې (تاج محمد) يو خاص نوم دی چې په يو ځانګړي شخص باندې يې دلالت کړی او همدا نوم ددې مسنداليه (مبتداء )ده . (انسان) چې يو عام نوم دی ، مسند (خبر) دی ، (دی) ناقص يا نيمګړی فعل دی چې نوم (انسان) او نيمګړي فعل (دی) سره په ګډه د جملې خبر جوړ کړی دی او همدغه ناقص فعل د نژدېوالي په وجه د نوم (انسان) تابع ګرځېدلی دی.

يا لکه په دا لاندې بېلګو کې:

- پوهه يو قوت دی.
- علم يوه رڼا ده .
- ادب د اندازې ساتل دي.
- حميدمومند د پښتو ژبې شاعر دی.

په پورته جملو کې ګورو چې د جملې د خبر په برخه کې نيمګړي فعلونه ( دی ، ده ، دي ، دی) د خپلو نږدې کليمو تابع ګرځېدلي دي.

۲ ـ که په يوه اسمي جمله کې مبتداء او خبر دواړه نومونه ، نه وي ، بلکې يو ذات نوم او بل ستاينوم وي ؛ نو د ذات نوم به مسنداليه او ستاينوم د نيمګړي فعل سره مسند بللی شي او د ربط کليمې د نوم تابع ګڼل کېږی ، مبتدا وي که خبر.

لکه په دا لاندې جملو کې :

۱- نمر روښانه دی.

۲- دا خبره سره زر ده .

۳- دا کور تياره دی .

۴- دروغ ناروا دي.

۵- يوه اوونی اوه ورځې ده.

په پورته جملو کې ګورو چې نيمګړي فعلونه د نږدې کليمو نه ، بلکې د نومونو تابع ګرځېدلي دي.

۳- که په نوموالـه غونډله کې ايښونی ( خبر) د عطف په صورت کې دوه نومونه وي ؛ نو ستاينومونه او اړيکوييکې د نږدې کليمې تابع کېږي، لکه :

۱- د ګل پاچا الفت په شعر کې زياته جذبه او جوش پروت دی .

۲- د ګل پاچا‌ل الفت په وينا کې زيات جوش او جذبه پرته ده .

۳- که چېرې په مبتداء کې دوه نومونه مذکر او مؤنث رشاي ؛ نو خبر د جمع مذکر په بڼه راځي ؛ لکه :

- د ملالی پلار او مور مړه دي .
- د ده خور او ورور دواړه زده کړندويان دي.
- خوشحال او برېښنا د يوه ښوونځي زده کوونکي دي.

۵- که چېرې په مبتداء کې د عطف په صورت د جمع نومونه راغلي وي ، نو صفات او د ربط ادات د نژدې جمعي متابعت کوي ، لکه :

- دا چاينکي او پيالي دي .
- دا پيالي او چاينکي ماتې دي.
- دا پيالي او چايجوشونه مات دي.

۶- که چېرې په مبتداء کې د متکلم ، مخاطب او غايب ضميرونه راشي ، نو خبر او د ربط ادات د متکلم او مخاطب تابع ګڼل کېږي ؛ لکه :

- زه اوته ناست وو.
- ته او دی ولاړ وئ .

۷- که په اسمي جمله کې يو صفت يا يو نوم په جمله کې دوه ځلې راغلی وي ؛ نو اول يې مبتداء او دويم يې خبر ګڼل کېږي ؛ لکه :

- ښه ښه دي او بد بد .
- سړی سړی دی او ښځه ښځه.

۸- که مبتداء او خبر له دوو نه زيات نومونه وي نو د عطف وييکي (او) يوازې په اخر کې راوړل کېږي ؛ لکه :

- دا قلم ، کتاب او کاغذ زما دي.
- دا موټر د سليم ، بريالي او توريالي دی .
- خدای (ج) رحمان ، رحيم او مهربان دی .

۹- په خبري جمله کي د لهجي فشار په خبر باندې اچول کېږي ؛ لکه :

څوک کار کوي ، او څوک ساعت تېروي .

مګر د سوال او ځواب پروخت بيا دغه فشار د استفهام پر کليمه باندې راځي. لکه :

- د باندې څوک ولاړ دی؟
- ته څوک غواړې؟
- دا هلک د چا زوی دی؟

۱۰- په اسمي جمله کي کله د ربط فعلي ادات ( دی ، ده ، دي ) غورځېږي ؛ خو په ذهن کي موجود وي . دا کار د لنډيزلپاره په متلونو او اشعارو کي زيات پېښېږي ؛ لکه :

- خپل عمل د لارې مل دی .
- دروغجن ، هېرجن .

دلته په لومړي متل کي : ( خپل عمل) مبتداء ، ( د لارې مل) خبر دی او ( دی ) فعلي ادات ( ناقص) فعل پکي حذف شوی دی . په همدې ډول په دويمه جمله کي هم (دی) حذف شوی دی.

۱۱- کله کله مبتداء ، خبر او فعلي ربطونه ټول يا نيم د پوښتني په ځواب کي غورځېږي . د بېلګي په ډول ددې پوښتني په ځواب کي .

- ته سيدال خان يې ؟

په ځواب کي :

يوازې (هو) راځي.

يعني هو ! زه سيدال خان يم .

دغه شان ددې پوښتنې په ځواب کې:

سيدال خان ته يې ؟ ( هو ! زه يم ) ويل کېږي او مبتداء حذفېږي .

۱۲- په مقيده يا په قيدونو ستايل شوې جمله کې سربېره پر مبتداء او خبر قيدونه هم راوړل کېږي لکه :

۱- ښوونکی هلته دی.

۲- ښوونکي په ټولګي کې ده .

۳- يتيم په زړا پوخ دی.

۴- زما پلار په پوهنتون کې استاد دی .

۵- سليم په کور کې ناست دی .

۱۳- په اسمي جمله کې د مبتداء او خبر ترمينځ په تذکير ، تانيث ، مفرد او جمع کې سمون او مطابقت اړين دی . لکه :

- سليم ولاړ دی .
- ملالی ولاړه ده .
- هلکان ولاړ دي.
- نجونې ولاړې دي.
- دی ناست دی .
- دا ناسته ده .
- دوی ناست دي.
- هغوي ناستې دي.

۱۴- په جمله کې د اداتو تکرار او بيا راوړل عيب ګڼل کېږي ؛ لکه :

۱- خوشحال او رحمان او عبدالقادر او حميدمومند نوميالي شاعران دي.

۲- د زلمي د واده د شپې د ډوډۍ د غوړو خوند خراب وو.

دلته په لومړۍ جمله کې د (او ) عطف ادات او په دويمه جمله کې د (د) اضافت ادات زيات تکرار شوي دي.

دا جملې بايد داسې وليکل شي :

١- خوشحال خان ، رحمان ، عبدالقادر خان خټک او حميد مومند نوميالي شاعران دي.

٢- د زلمي د واده په شپه د ډوډۍ د غونړو خوند خراب و.

**د کړوالو غونډلو ( فعلي جملو ) قاعدې**

کړواله غونډله يا فعلي جمله هغې جملې ته وايي چې مسنداليه يا مبتداء برخه يې نوم يا له نوميزې ډلې څخه وي او د خبر په برخه کې يې بشپړ فعل راغلی وي ؛ لکه :

- اجمل راغی .
- يوسف خاندي.
- زه ښوونځي ته ځم.

په دې جملو کې : ( اجمل او يوسف) نومونه دي او (زه) د نوم قيمقام (ضمير) دی چې درې واړه نوميزې کليمې مسنداليه (راغی ، خاندي ، ځم) مسندونه دي. په فعليه جمله کې «مسنداليه» ته فاعل او «مسند» ته فعل وايي . که چېرې فعل لازمي وي ؛ نو يوازې فاعل او فعل نه هم جمله جوړېدای شي ؛ لکه :

- ايمل راغی .
- ملالی ژاړي.
- ما وخندل... په دې ډول نورې.

خو که فعل متعدي وي ؛ نو له فاعل نه علاوه مفعول هم غواړي ؛ لکه :

- ايمل ليک وليکلو .
- ملالی ډوډۍ وخوړه.
- ما ډوډۍ وخوړه.

په دې جملو کې : ( ايمل ، ملالی ) خاص نومونه او د (ما) ضمير مسنداليه (فاعل) دی ( وليکلو ، وخوړه) فعلونه دي او ورسره ( ليک ، ډوډۍ) د مستقيم مفعلو په توګه هم راغلي دي.

په ځينو جملو کې دوه مفعوله هم راځي ؛ چې اولني ته ړومبی مفعول وروستني ته دويم مفعول ويل کېږي ؛ لکه :

- اجمل محمود ته خط وليکه .

په دې جمله کې (محمود) ړومبنی مفعول او (خط) دويم مفعول دی . په ساده او ازاده جمله کې لومړی فاعل راځي بيا مفعول او بيا فعل . په فعلي مقيده جمله کې : اول فاعل ، بيا زماني . مکاني .... قيدونه او نور مربوطات راځي ، ورپسې مفعول او بيا فعل راوړل کېږي ؛ لکه :

- د فابريکې کارګرانو پرون په فابريکه کې په تلوار له خپلې فابريکې څخه خپلو کورونو ته يو شمېر ضروري شيان راتول کړل .

په دغه جمله کې د فابريکې کارګران (فاعل مغيره حالت) ، پرون ( دزماني قيد) ، په فابريکه کې (مکاني قيد) ، له خپلې فابريکې څخه (پيل ځای) ، په تلوار (حالتي قيد) ، خپلو کورونو ته ( د فعل مقصد ، سبب ) يو شمېر ضروري شيان (مفعول) راتول کړل ( مرکب فعل) دی .  خو کله چې فاعل متصل ضمير ( مې ، دې ، يې ) راشي ؛ نو بيا دا ترتيب بدلېږي يعني مفعول له فاعل څخه وړاندې (مخکې) راځي ؛ لکه :

- ليک مې ورته وليکه.
- ډوډۍ دې وخوړه.
- کتاب يې واخيست.

ګورو چې په پورته درې واړو جملو کې (مې ، دې ، يې ) متصل ضميرونه او فاعل واقع شوي دي ؛ خو مفعول : ( ليک ، ډوډۍ کتاب) له فاعل څخه د مخه راغلي دي.

په پښتو ژبه کې ګروالي غوندلې هم يو لړ قاعدې لري چې د جوړښت پر وخت يې مراعات لازمي دی :

۱- که د یو فعل لپاره دوه فاعله یا دوه مفعوله راشي چې یو مذکر وي او بل مؤنث ، فعل د جمه مذکر په شکل راځي او مؤنث د مذکر تابع ګڼل کېږي ؛ لکه :

- چای او بوره مې واخیستل .
- خټکی او هندوانه یې وخوړل .
- اڅک او برېښنا له ښوونځي نه راغلل.

۲- که چېرې فاعل یا مفعول جمع وي او د عطف په صورت راشي ؛ نو فعل د نږدې نوم تابع ګڼل کېږي ؛ لکه :

- هلکان او نجونې له ښوونځي نه راغلې .
- خټکي او هنوانې وخوړل شوې .
- مونږ هندوانې او خټکي وخوړل.

۳- که چېرې مصدر یا عام مقداري قیود د مفعول په حیث راشي ؛ نو فعل همېشه په ماضي کې د جمع په شکل راځي ؛ لکه :

۱- دی کنځل کړي دي.
۲- هغه وهل کړي دي.
۳- څه دې واخیستل ؟
۴- څه دې ولیدل؟
۵- څومره دې راوړل؟

۴- د حکمي متعدي مصدرونو صیغې په ماضي کې د مذکر په شکل راوړل کېږي ؛ لکه :

- ماو خندل .
- ده وژړل .
- ما ورته وویل
- ده په یخو اوبو لامبل.

دغه شان د کتل او لیدل ماضي صیغې هم کله د جمع مذکر په شکل راځي ؛ لکه :

- ما وليدل چي هرڅوک د مطلب ياران دي.

*يادونه*

*په پښتو کي يو شمېر لام والا مصدرونه شته چي د معنا او مفهوم له مخي لازمي او د لفظ او استعمال له مخي د متعدي مصدرونو حکم لري . دغه ډول مصدرونه حکمي متعدي مصدرونه يا مخصوص مصدرونه نومېږي ؛ لکه : خندل ، ژړل ، غپل ، نڅل ، دانګل ، زانګل ، لامبل ، توخل ... ( ريښتين ،۱۳۷۲ هـ . ش)*

۵- که چېري په يوه جمله کي د متکلم ، مخاطب نومونه او ضميرونه د فاعل يا مفعول په توګه راشي ؛ نو فعل د جمع متکلم په شکل او يا د مخاطب په بڼه راوړل کېږي ؛ لکه :

- زه ، ته او دی به د جمعي په ورځ پغمان ته ولاړ شو.
- ته او دی به دواړه ولاړ شئ .

مطلب دا دی چي په پښتو کي مخاطب د متکلم او غايب د مخاطب تابع ګڼله شي.

۶- که چېري مصدر د متعدي ماضي په فاعلي حالت کي راشي ؛ نو د ارتباطي حالت په شان يي په پای کي (و) زياتېږي ؛ لکه :

- ډېرو ليکلو ستړی کړم.

۷- دغه شان که چېري د جنس او جمع نومونه په ماضي متعدي کي د فاعل په حيث راشي ؛ نو د ارتباطي حالت په شان يي په پای کي (و) راوړل کېږي ؛ لکه :

- ځوانانو او نجونو پوره مېړانه ښکاره کړه.
- تېلو هر څوک په عذاب کړي دي.

**د بڼي او جوړښت له مخي د غونډلي ( جملي) ډولونه**

غونډله (جمله) تر هر څه له مخه د جولي او څومره والي (شکل او کميت) له مخي په يوستوي يا ساده او ترښتي يا غبرګه او مرکبه باندي وېشل کېږي . ترڅنګ يي ځينو ګرامرونو کي د ګډلي يا مختلطي غونډلي يادونه هم کړې ده . ( زيار ،۱۳۶۲هـ.)

**لومړی – یوستوی یا ساده غونډله (*semple sentence*)**

یوستوې یا ساده غونډله هغه یوګړې (مفرده) غونډله ده چې د ترښتې (ترکیبي) غونډونو پـه تـوپیر ورسره بلـه یـا نـورې غونډلې د یوې غړې یـا غړیو ، یـا پـه بلـه وینـا ؛ د سیده یـا ناسیده یـوون یـا یوونـو (constituents) پـه توګـه ملګرې نـه وي . هرګوره د یوستوې غونډله د ترښتې غونډلو (غبرګغونډلي ، ګډلغونډلی او ګډغونډلي ) بنسټ بلل کېږي . (۲۵۴:۵۹)

یعنې یوستوې یا ساده جمله له یو فاعل او یو فعل یا په بله وینا ؛ له یوې مبتداء او خبر څخه جوړه وي. لکه دا لاندې غونډلې :

۱- بزګر ییوه کوي.

۲- اجمل راغی.

۳- یوغښتلی سړی په څغاسته راغی.

۴- د کندهار انار خواږه دي.

۵- د لمر سترګه پرېوته.

۶- زما ملګری هېڅکله خپل کورنی کار نه هېروي.

۷- هلکان او نجوني نن سبا په یوه ښوونځي کې زده کړه کوي.

۸- یوه هلک او نجلی سره واده وکړ.

د څومره والي له مخې یوستوې یا ساده جمله په درې ډوله : ( ساده ، ارته او لنډه کې ) وېشل کېږي .

**۱- ناارته یوستوې غونډله**

هغه غونډله ده چې اینې او اینونی (مبتداء – خبر) یـې یـوازې لـه همـاغو بنسټیزو یوسـتوو توکونـو څخـه رغېدلي وي ؛ لکه :

- ځانګه ځي.
- زه کورته ځم.
- زمرک اوبه څښي.
- ته څه کار کوې ؟

او یا د هرې یوې برخي څرمهتوکونه تر یوه یوه یا دوو دوو څخه تېرې ونه کړي . لکه :

- یو هلک سخت ژوبل شو.
- د امان کورنی په کابل کې اوسېږي.
- هلکان او نجوني په یوه ښوونځي کې زده کړه کوي.
- نن په کابل کې اسمان وربځ دی .
- یوه ښکلې نجلی یو پنډ لیک لولي.

**۲- ارته یوستوې غونډله (منکشفه بسیطه جمله)**

ارته یوستوې غونډله هغه غونډله ده چې په اینسي یا اینسوني (مبتداء – خبر) یا دواړو کې تر «ګړني» دوده زیات څرمهرانغښتل شوي وي ؛ لکه په دا لاندې بېلګو کې :

- د ښووني او روزني پوهنتون ، ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګې فارغانو ته بریلیکونه ورکړل شول .
- د دوست هېواد هند د بهرنیو چارو وزیر به بله میاشت زموږ د جمهوري دولت له هېواد مشر ډاکټر اشرف غني احمدزي سره د خبرو اترو لپاره کابل ته راشي.
- د ژبو او ادبیاتو پوهنځي، پښتو څانګې اړوند ټولګیو څو ممتاز محصلان اوږمه ورځ د لوړو زده کړو لپاره د جاپان هېواد ته واستول شول.
- د اجراییه شورا رییس ډاکټر عبدالله به د وړي په میاشت کې خپله کړنلاره اعلان کړي.
- کابل ښووني او روزني پوهنتون پښتو څانګې فارغانو په رقابتي آزموینه کې لوړې نمرې واخیستې.

**۳- لنډه کې غونډله**

دا هغه راز غونډله (جمله) ده چې یوې کلیمې یا ویي غونډ (لغوي ترکیب) ته رالنډه شوې وي ، بې له دې چې د غونډلې اړین توکونه ، لکه نوموال او کړوال غونډ یا په بله وینا : فاعل ، مفعول او فعل ولري ، خو د یوې عادي غونډلې هومره وینایيز چار پرځای کوي چې پر دې وروسته غورو ډولو وېشنه مومي:

**۱- غونډله ویی**

هغه ویی (لغت) دی چې د غونډلې دننه کوم غونډله پوهیز (نحوي) چار په غاړه نه اخلي ، بلکې په ځانتني ډول د یوې غونډلې انډول ګرځي ، یا په بله وینا : یوه لنډه کی غونډله رغوي ؛ لکه : هو ، نه ، مننه ...

همداسې پوښتنومځري : (څوک ، چا ، څه ، کوم ) او پوښتکړولونه : (چېرې ، کله ، څنګه ، څو ، څومره ، ولې ...) هم دراخله.

**۲- ويي غونډله**

هغه لنډه کی غونډله یا د غونډلې انډول ده چې له آره د غونډلې هماغو اړینو رغندو ټوکونو (نوموالغونډ او کړوالغونډ) غورځن (حذف elips) زېږنده یا پایله وي ؛ لکه : څومره بده ! (دا څومره بده ده ) ، څه بې معنا ! ( دا څه بې معنا خبره ده ) ، ډېر ښه ! (دا ډېره ښه ده ) ، ښنګه ګرانه ! (دا ښنګه ګرانه پېښه ده ) ، پام (پام کوه!) .

یا د پوښتنې په غبرګون کې : پرون (کله راغلې ؟) ، ښار ته (چېرته تللی وې ؟ ) ، یو ګاډی ( څه دې ولیدل ؟)

یا د خبري غونډلو په غبرګون کې د یوه ارمان یا ګومان د ښرګندونې لپاره ؛ لکه : کاشکې ( نن به هوا ښه شي .) ، ښایي یا ګوندي

( اورګاډی به ګړی وروسته راورسي )

۳- یو اوړېدلی (پوستوی یا غونډیز) کړ (Finit verb) چې بې له هغې هم د غوندلې زړی بلل کېږي ، هم د ورته لنډه کی غونډلې په درېځ کې راځي ؛ لکه :

راغلم ، ځم ، ولاړ به شم ، وکړېدم ، وکړول شوم ، کړېږم ، کړول کېږم ، یا لکه : خورم ، وبه خورم ، ومې خوړ ، خوړلی مې دی .

۴- بلنغونډلې (ندائیه جملې) هم له لنډکیو غونډلو څخه ګڼل کېږي ؛ لکه :

- (یه) خدایه!
- (و) موري !

چې د کړ (فعل) په ملتیا تړې عادي (بشپړې) بلنغونډلي رغېږي او هماغه لنډه کې یې رغنده غونډونه ګرځي ؛ لکه : و موږې راشه !

**دویم : تړښتي ، غبرګه یا مرکبه جمله (*copulative sentence*)**

دستور معاصر زبان پارسي دري کې يې غبرګغونډله د آمېخته جملې په نامه نومولې ده . هغه جمله ده چې له دوو یا زیاتو ساده (پوستوو) جملو څخه جوړه او یوه جمله له بلې سره لفظي او معنوي اړیکې ولري ، یا مرکبه (آمېخته) جمله هغه ده چې په هغې کې له یوه نه زیات فعلونه راغلي وي .(۲۰۱:۶۰)

پوهاند مجاور احمدزیار پخپل اثر پښتو پښویه کې مرکبه جمله د غبرګغونډلي په نامه یادوي او داسي يې راپېژني :

«غبرګغونډله هغه ده چې د یوه اینبي او یوه اینبوني پرځای دوه دوه اینبي او اینبوني ولري ، یا په بله وینا ؛ که د یوې پوهونې او مطلب د بشپړتیا یا دوو اړوندو مطلبو د څرګندوني لپاره سره دوې غونډلې په کوم اړیکوییکي یا لارغه (مکڅ) غبرګې او ملګري شي ، یوه غبرګغونډله منځته راوړي .» (۲۲۳:۶۱)

د اړیکوییکو د ډولونو له مخې سره ډول ډول غبرګغونډلي توپیرولای شو ، د غبرګغونډلي په دواړو بېلابېلو غونډلو کې یوه آره یا خپلواکه او بله څرمه( فرعي) یا ښواکه غونډله بلل کېږي .

- آره یا خپلواکه په دې معنا چې آر مطلب او موخه پکې څرګندېږي او ځانته پخپلو پښو درېدای شي .
- څرمهیا ښواکه په دې معنا چې آر مطلب او موخه پکې نه څرګندېږي او ځانته پخپلو پښو درېدای نه شي .

په دې توګه په یوه غبرګغونډله کې ښواکه یا څرمهله خپلواکې یا آرې سره د یو مطلب په څرګندونه کې مرستیاله او بشپړوونکې اوسي.

د پښتو ژبې ګرامر پوهانو غبرګغونډلي (مرکبې جملې) په لومړی مرحله کې پر دوو برخو وېشلي دي:

- یوه برخه ی پیوستي مرکبې جملې دي ، چې له دوو ساده وو متوازنو او خپلواکو غونډونو څخه جوړې شوي وي او د (او) عطف و ربط په واسطه سره دا دواړه غونډلي یوځای شوي وي ؛ لکه :

اجمل غره ته وخوت او ایمل کلي ته راستون شو.

پورته جمله يوه پيوسته مركبه جمله ده ، چې دوه ساده جملې سره يوځای شوي دي :

۱- اجمل غره ته وخوت.

۲- ايمل كلي ته راستون شو.

د پورته لومړۍ جملې مبتداء (اجمل) او د دويمې جملې مبتداء (ايمل) دی . همدرانګه د لومړۍ جملې خبر (غره ته وخوت) او د دويمې جملې خبر (كلي ته راستون شو) دی . دا شوني ده چې دواړه جملې سره يوځای شي او يوه جمله جوړه كړي ، چې موږ دغې نوې جملې ته مركبه جمله وايو ؛ نو مركبه جمله هغه جمله ده چې د دوو ساده جملو څخه جوړه شوي وي . دغه جملې د ربط توري په وسيله يوځای شوي وي ؛ نو د ربط توري هغه كليمه يا ادات دي چې د دوو ساده جملو په يوځای كولو كې مرسته كوي او يوه مركبه جمله جوړوي.

- بله برخه يې تابع مركبې جملې دي ، چې په مركبو تابع جملو كې يوه ساده جمله د بلې ساده جملې تابع كېږي ؛ يا په بله وينا : د ساده جملو ترمنځ د تابعيت مورفيمونه (كه ، چې ، كله ، څكه چې ...) راوړل كېږي . په دې ډول جملو كې يوه اساسي يا عمده (خپلواكه) غونډله بلل كېږي او بله تابع (ناخپلواكه) يا تړلې جمله وي چې د عمده جملې تابع وي ؛ لكه دا لاندې جملې:

۱- داسې كتاب اخلم چې ستا خوښ وي.

۲- د چا ور مه وهه په نوک ترڅو دې ور ونه وهل شي په سوک.

پورته لومړۍ مركبه جمله كې :( داسې كتاب اخلم) اساسي او دوهمه ساده جمله (چې ستا خوښ وي) تابع غونډله ګرځېدلې ده او (چې) د عطف و ربط ادات دی چې دواړه ساده جملې يې سره يوځای كړي دي ، په همدې ډول په دويمه مركبه جمله كې .

**۱- ترغبرګغونډله**

چې دواړه يوستوې غونډلې پكې په يو تړوييكي (او) يا لارغي سره يوځای شوي وي . لكه :

- زما زوی اووه كلن (دی ) او لورمې شپږ كلنه ده . يا:
- زما زوی لس كلن (دی) او ستا لور دولس كلنه (ده)

او یا له یو ځه زیات غورځن (خذف) سره ؛ لکه :

- زما زوی درېیم ټولګي ته وخوت او لور مي دویم ته .
- زما مشر ورور په کلي کي اوسېږي او کشر په ښار کي .

او یا هم په د «هم» اړیکوییکي په کارونه له لازیات غورځن (حذف) سره ؛ لکه :

- زما زوی ښوونځي ته ځي او لور مي هم.
- د زمري ورور له پرون راهیسي ناروغه دی او خور یي هم .

**۲- اړوتي (شرطي) غبرګغونډله**

چي یې یوه (زیاتره لومړۍ) یوستوي غونډله بېواکه او بله (زیاتره دویمه ) خپلواکه وي. په دې توګه دلته بېواکه غونډله آړ (شرط) بلل کېږي او خپلواکه اړوتي (شرطي ) ؛ لکه :

- که ته راشي ، زه به درشم.
- که وربځ سپینه شي ، باران ورېږي.
- که شمال نه وي ، ونه نه ښوري.

د «که» په وړاندې د اړوتي غونډلي په سر کي د «نو» اړیکوییکی هم راتلای شي ؛ لکه :

- که شمال نه وي ، نو ونه نه ښوري .
- که عمل زده کړې «نو» به عزت حاصل کړې.

په دې ډول غبرګغونډله یا په ناتړیا پرتلیزه غبرګغونډله کي چي له ناروییکي ( که ، یا ، خو ، مګر) سره منځته راځي ، له دغو وییکو څخه «که» او یا «یا» زیاتره د دواړو ملوغونډلو په سر کي راځي او «خو» یا «مګر» یوازې د دویمي ملي غونډلي په سر کي ټیکاو مومي .(زیار:۱۳۸۴)

لکه : «یا » به دې زلفـــي کمـــــــــربند کړم

«یا» به مي سر د غرغرې شمال وهینه

«یا» له اتــــكه زانــــي راغلي

«یا» پر ټولي د ښایستو ولګېدمه

له (خو ، مګر) سره د «که» او «یا» په توپیر نړه پرتلیزي نه ، بلکي زیاتره اړیپچني غبرګغونډلي رامنځته کوي :

- غوښه د هرچا خوښه (ده ، خو) د پیشو ورپسي کسي لوېږي.           یا:
- غوښي د هرچا خوښي دي ، (مګر) پیشي ایمان پرې راوړی دی .

او یا له (خو) یا (مګر) له غورځن (حذف) سره :

- کار اسان دی ،(...) پیل یې ګران دی .
- غل اوسه . ( ...) په انصاف اوسه.
- قاضي ملامتولم (...) زه نه ملامتېدلم.
- باران په تېرا وشو ( ...) خره یې د لړه موړې یووړه.
- خوله دې د سوی ده ،( ...) شخوند اوښ وهي.
- خیرات دې وشه . ( ...) د مړي پر اروا دې مه شه .

بې ناتړوییکي ورته ناتړ یا پرتلیزه غبرګغونډله وایي ، لکه :

- کاروان تېرېږي ، سپي غپېږي.

**۳- توسني (علتي) غبرګغونډله**

هغي مرکبې جملي ته ویل کېږي چې دواړه یوستوې غونډلي یې د علت یا توسنوییکو (ځکه ، ځکه چې ، چې ، دا چې ، په دې چې ، نو...) غبرګې شوي دي، په دې ډول خپلواکه توسني (معلومه) او بېواکه توسن (علت) غونډله نومېدای شي ، لکه :

- زه راغلم ځکه تا بللی وم .
- زه راغلم ځکه چې تا بللی وم.
- زه راغلم  په دې چې تا بللی وم .

- ځکه راغلم چې تا بللی وم .         یا :         ځکه راغلم په دې چې تا بللی وم .
- دا چې تا ویلي وو – نو راغلم .         یا:         ځنگه چې تا ویلي وو – نو ځکه راغلم.

یا په دې لاندې لنډیو کې :

زمـــــــا په برخه مـینــــــتوب شو
ځکه بیلتون ته دوه لاســـــي سلام کومه

رنگ د جانان مې په زړه گرځـــــــــي
ځکه مې رنگ د مرغوني په شان شونه

**۴- څرگندني (بیاني) غبرگغونډله**

چې دویمه مله غونډله د لومړی هغې د زیاتې څرگندتیا لپاره وي او دیوې پوښتني ځواب ووایي . ددغسې څرگندتیا د څرنگوالي له مخې دا لاندې کوچني ډولونه د یادولو وړ دي :

**لومړی – موخنه یا مرامي څرگندني غبرگغونډله**

چې په خپلواکه غونډله کې د راغلي مطلب یا پېښې موخه په بله څرمهغونډله کې څرگنده شي؛ لکه :

- څرک هندوستان ته ولاړ ، چې زانته کار مزدوري پیدا کړي.
- زه راغلی یم چې تا ووینم.
- هغه درس وایي چې بریالی شي.
- صابر هندوستان ته لاړو چې په ژبپوهنه کې ماستري واخلي.

**دویم – مهالي څرگندوني غبرگغونډله**

چې لومړی (بېواکه) ، غونډله د دویمې (خپلواکې) غونډلې د څرگند کړي چار او پېښې ، مهال او وخت ټاکي ، لکه :

- چې ته راغلي – زه به ولاړ شم .         یا:         چې ته راغلي ، نو زه به ولاړ شم.

- کله چې ته راغلې ، زه به ولاړ شم .          یا :          کله چې ته راغلې ؛ نو زه به ولاړشم.
- سم چې ما ور پرانیست ، پر هغې مې سترګې ولګېدې.
- زه به هله درشم چې ته مې وغواړې.
- تر څو ته رانه شې ، تر هغې به نه درځم .          یا :          زه به هله درشم ، کله چې تا وغوښتم.
- هله به خبر شې چې تارو جبې له ورشي .
- هله به دې په یاد شي چې دې یو دېوال ته مخ بل ته دې شا شي.

**درېیم – تونې ځرګندنی غبرګغونډله**

چې ځرمهغونډله يې د آرې لپاره تون (ځای) وټاکي ، لکه :

- چېرې دې ښه هلته دې شپه!
- چې نه کار ، هلته څه کار .          یا :          چې دې نه کار ، هلته څه کار!
- چې له کومې راغلی يې ، پر هماغه ځه !
- چېرې چې اوسې ! په خوی به د هغو سې .          یا :          چېرې چې اوسې ، په خوی به د هغو اوسې
- چېرې چې خوښ يې ، هلته اوسه.

**ځلورم – وګړیزه ځرګندني غبرګغونډله**

چې په دواړو ملو غونډلو کې راغلی کړند (فاعل) یا کړی ( مفعول) یو وګړی (شخص) وي ، لکه :

- چا چې کرلي ، هغه به يې رېبي.
- څوک چې خوب کړي ، نر کټې به زېږوي.
- څو چې ونه وېشل شي ، خبر به نه شي.

**پینځم – ځېزواله ځرګندني غبرګغونډله**

چې په دواړو ملو غونډلو کې راغلي کړوندونه (فاعل) یا کړي (مفعول) یو ځېز وي ، لکه :

- څه چي کړي هغه به رېبي .
- څه چي وي هغه به وي.

**شپږم- کړولي (قيدي) څرګندنی غبرګغونډله**

چي د دواړو غونډلو اړبکوييکي کړولونه (قيدونه) وي ، لکه :

- لري څه ژر راځه .

يا لکه ددي لاندي لنډی دويمه برخه :

- پر لويو غرو د خدای نظر دی          په سر يي واوري پر لمن يي ژېړ ګلونه

**اووم- پرتليزه څرګندنی غبرګغونډله**

چي د دواړو ملو غونډلو ابيني (مبتداوي ) سره د اړيکوييکو په وسيله انډول ، پرتله يا همځير شوي وي، لکه :

- ځنګه دېګ هسي تېپر. ( فعل پرېښودل شوی)
- ځنګه غر هسي کربوړی .(فعل پرېښودل شوی)
- يو يي ګټي سل يي ځتي.
- سل دي ومره يو دي مه مره .          يا : سل دي ومره د سلو سر دي مه مره.

**اتم – اړپېچه (متضاده) څرګندنی غبرګغونډله**

چي د دواړو ملو غونډلو (جملو) مبتداوي سره اړپېچ يا بډوالی (تضاد يا تقابل) ولري ، لکه :

- که څه هم ما زيار ايستلی نه و ، (خو) بيا هم بريالی شوم.
- سره له دي چي ناروغ وم بيا هم راغلم.
- سره له دي چي ناروغ وم ، (خو) بيا هم پوهنځي ته راغلم.
- که غر لوی دی ، پر سر يي لار ده .

- خپل خپل دي ، پردي په ډېرو نارو خپل دي.
- دښمن به دي وخندوي ، دوست به دي وژړوي.
- شمع چې سوزېږي ، رڼا هم لري.    (گوره په خندا کې ژړا هم لري)

**نهم : سرغاړي (منصرفه ) څرگندنی غبرگغونډله**

چې دویمه (ځېرمه) غونډله یې د لومړی (آرې) له څرگندوني څخه سر وغړ وي او نور زیات څه څرگند کړي ، لکه :

- زلمی گرم نه دی – بلکې زمری گرم دی .              یا :
- زلمی گرم نه دی – چې زمری گرم دی.

**لسم – بشپړانده څرگندنی غبرگغونډله**

هغې غبرگغونډلې ته وایي چې دویمه (ځرمه) غونډله یې د لومړی آرې (خپلواکې) غونډلې د جاج (مفهوم) په بشپړولو یا پراخولو کې مرستیاله اوسي ، لکه :

- خوشحال خټک نه یوازې شاعر وه – چې تورزن هم وه.          یا :
- خوشحال خټک یوازې شاعر نه و – چې تورزن هم و .          یا  بلکې تورزن هم و .          یا:
- خوشحال خټک لوی شاهر و – چې لا اتل هم و.

دلته گورو چې (نه یوازې) یا (بلکې هم ) د دواړو ملو غونډلو ترمنځ د بشپړتیا اړیکې څرگندوي.

**معترضه غونډله ( جمله)**

ځینو گرامر پوهانو معترضه جمله هم په مرکبو یا غبرگغونډلو کې راوړې ده نو دلته یې یادونه اړینه ښکاري:

معترضه غونډله ، هغې غونډلې ته وایي چې د څه وضاحت او څرگندتیا لپاره یا کله د دعایه په ډول د بلې غونډلې په منځ کې راوړل کېږي . که چېرې دا غونډله له هغه بلې عمده غونډلې وایستل شي ، بیاهم عمده برخه هغه خپله معنا څرگندولای شي . معترضه جمله د تل لپاره په قوسونو کې نیول کېږي ، لکه دا لاندې بېلگې :

۱- د توريالي کاکا ( خدای دې خوشاله لري) ډېر ښه سړی دی.

۲- هارون (چې د مالګې دکان لري) ډېر ايمانداره سړی دی.

په پورتنيو دواړو جملو کې : ( خدای دې خوشحاله لري) او (چې د مالګې دکان لري) معترضه برخې دي . که په جمله کې به وي نو جمله ځېله معنا افاده کولای شي.

**درېيم – ګډه غونډله**

مخکې مو د غبرګغونډلې يا مرکبې جملې په تعريف کې وويل چې مرکبه جمله هغې جملې ته وايي چې يو مبتداء او يو خبر پر ځای دوه مبتداء او دوه خبره ولري . د ځينو په وينا : (اويا له دې هم زياتې مبتداوې او خبرونه ولری.)

نو هغه ډله ګرامر پوهان چې غبرګغونډله کې د دوو څخه زياتې ساده غونډلې منلای شی هغوي بيا مختلطه يا ګډله غونډله په ځېلو ليکلو ګرامري اثارو کې نه يادوي او يوازې جمله د جوړښت له مخې په ساده جمله او مرکبه جمله باندې وېشي.

په هر حال غبرګغونډله (مرکبه جمله) له ګډلې (مختلطې ) څخه جدا جوليز جوړښت لري ؛ نو ګډه يا ګډله (مختلطه) جمله هغې جملط ته وايي چې په هغې کې تر دوو نه زياتې غونډلې پرله پسې راغلې وي او څرګندوني يې سره يو له بله کوم ډول اړيکې او اړوندې ولري . او دا چې هماغه يوه يواځينی مطلب د بېلابېلو غونډلو له مخې په بېلابېل ډول څرګندېدنه موندلې وي ، نو زياتره يې يوه غونډله ځېلواکه يا آره وي او نور يې تړلې ملې ورسره بېواکه يا څرمه وي .(زيار ، ۱۳۶۲)

په ګړنی (محاوروي) پښتو کې ګډې غونډلې زياتره له دوو غبرګغونډلو څخه جوړې وي چې په دې ډول په دواړو يوځای شوو غبرګغونډلو کې د آرو او څرمو غونډلو شمېر يو پر يو دی ، لکه په دې لنډيو کې :

ښـــــه ده چې ســـــترګې دې وړې دي

که چېرې غټې وای خوړلی به دې ومه

يـــــار مې د کـــوټ زه د تيـــــرا يـــــــــــم

خدايه کوټ وران کړې چې چې جوړه تيرا له ځونه

په لومړۍ لنډۍ کې لومړۍ برخه (مسره) یوه غبرګه غونډله ده چې آره غونډله پکې د مخه او څرمه ورپسې ده . دویمه برخه مسره یوه بله غبرګغونډله ده چې څرمه غونډله د آرې غونډلې تر مخه راغلې ده .

دا چې په لومړۍ مسره کې دویمه (څرمه) غونډله په څرګندني وییکي (چې) پیل شوې ، نو ټوله لومړۍ مسره یوه څرګندنی غبرګغونډله بلل کېږي او دا چې په دویمه مسره کې لومړۍ (څرمه)غونډله په آړوییکو (که چېرې) پیل شوې ؛ نو ټوله دویمه مسره یوه اړوتي (شرطي) غبرګغونډله ده . دواړې مسرې (غبرګغونډلې) سره بیا په یوه توسني اړیکي چې په لارغه څرګندېږي یوه غونډله جوړوي ؛ نو له دې پلوه زموږ پاسنی لومړۍ لنډۍ یوه توسني غبرګغونډله ده چې یې د غړیو غونډلو شمېر څلورو ته رسېږي.

همداراز دویمه لنډۍ د یوې ګډې غونډلې په توګه جوتولای شو . د لنډیو ترڅنګه یو شمېر متلونه هم شته چې د ګډ غونډلو بڼه لري او د چا خبره ګړنی پښتو ته یو ګام زیاتي ورنژدې دي – لکه دا لاندې بېلګې:

- بلا وه که بلاګی ، ابا یې مړ کړ په چوړکی.
- نن دی ، که سبا ، دا وطن د زرغون خان دی.
- چې ژوندی وي قلندر وي ، چې مړ شي چغندر وي.
- چې ژوندی یم ، ښه مې غواړه ، چې مړ شوم ، مه راپسې ژاړه.
- خواره شي مکارې ، چې جنګ کوي ، هم ژاړې.
- خوب چې راشي ، بالښت نه غواړي ، مینه چې راشي ښایست نه غواړي.

**د غونډلې (جملې) معانیز ډولونه**

په پښتو ژبه کې جمله د معنا له مخې لومړی په دوو سترو ډلو بېلېږي:

- خبري
- ناخبري یا : بیانیه او انشائیه جمله

**لومړی- خبری یا بیاني جمله**

هغه دي چې د یو څیز د حال او کیفیت بیان او څرګندویې کوي. یا په بله وینا ؛ یو فکر د خبر په توګه بیانوي .

په خبري چمله کي يو واقعيت ، پديده ، پېښه او داسې نور حالتونه په مثبت يا منفي توګه بيانېږي . خبري جمله ځانته آهنګ لري چې له نورو جملو څخه د آهنګ او تون له مخې توپيرېږي . په دغه ډول جملو کې ممکنه ده د آهنګ فاشر لوړوالی د جملې په يوې برخې باندې راشي ، خو په عمومي توګه آهنګ يې هوار پيلېږي او بيا غورځېدلی پروت پای ته رسېږي ؛ لکه :

- زمری راغی. ⟵

د خبري جملې په پای کې د ليک نښه (ټکی) راځي ، لکه دا لاندې جملې :

- ملالی د ميوند د جګړې زمری وه .
- د خوشحال دستار نامه په يو عادي او ازاد نثر ليکل شوې ده .
- ملالی ليک ليکي .
- ستا ليک نه دی راغلی.
- دلته څوک کار نه کوي.

په پورتنيو جملو کې وينو چې يو فکر يا مطلب د خبر په توګه بيان شوی دی .بيانيه جمله کېدای شي مثبت اړخ ولري ، لکه :

- زه کورته ځم.

او هم کېدای شي منفي اړخ ولري ، لکه :

- زه کور ته نه ځم .

د بياني جملې منفي بڼې د ښودلو لپاره د نفي (نه) ناخپلواک مورفيم د خبر په برخه کې راځي او غونډلې ته منفي بڼه ورکوي . د ځينو ګرامرونو په اعتبار ګوماني ، تمنايي ، شرطي او تاکيدي جملې هم د بياني جملې په ډولونو کې راځي .

د بياني يا خبري جملې د پېژندلو لپاره دا لاندې بېلګې وګورئ :

- د ميرويس نيکه ټول کارونه د وياړنې وړ دي.
- احمدشاه ابدالي د خپلې خاورې بڼه ساتنه کړې ده .
- ټول افغانان به د غازي وزيراکبر خان مېړانه هېره نه کړي.

- ټولټاکني به د ۱۳۹۵ هجري کال په پای کې ترسره شي.
- هغه هلک شکل کلن دی .
- دا نجلی پېغله ده .

**دويم – ناخبري يا انشايه جمله**

هغې جملې ته ويل کېږي چې په هغې کې د درواغو يا رښتياوو احتمال نه پيدا کېږي ؛ لکه :

- د وخت څخه ګټه واخله !
- ته چېرته ځې؟

ځينې ګرامر پوهان د بياني او انشايي ساده جملو لپاره بېلابېل ډولونه ښيي ، مګر ځينې نور بيا يوازې انشائيه جمله په ډولونو وېشي او د بياني جملې لپاره ډولونه ، نه ټاکي.

هغه ګرامر پوهان چې د بياني جملې لپاره ډولونه ټاکي هغوي ګوماني ، تمنايي ، شرطي او تاکيدي د خبری او بياني جملې په ډولونو کې شمېري او نورې ټولې ساده جملې د انشايي جملې په ډولونو کې راوړي او د معنا له مخې د جملې ډولونه : ( خبري ، سوالي ، امري ، تعجبی...) ښودلي دي. ( ۱۱:۶۲ )

ناخبري يا انشايي جملې دا لاندې ډولونه لري :

**۱- د پوښتنې ساده جمله**

په دې ډول غونډلو کې د ويونکي مطلب پوښتنه وي او دا پوښتنه د ځواب غوښتونکې وي . د دغو جملو مهمه ځانګړنه د ويلو خاص آهنګ او فشار دی . د پوښتنې غونډلې آهنګ ټيټ پيل مومي او بيا نبغ شوی پروت پای ته رسېږي او په ليک کې يې د پوښتنې نښه (؟) په پای کې ايښودل کېږي ؛ لکه ؛

- زمری راغی.

که د جملې په سر کې پوښتنومځری يا پوښتوييکي راشي ، بيا نو آهنګ په سر کې لوړېږي ؛ لکه :

- چېرته ځي؟
- څه وخت راغلي ؟
- کوم شی غواړي؟
- څنګه راغلي؟
- ولي دې ونه ویل ؟

نو د پورته بېلګو په پام کي نیولو سره د پوښتني ساده جمله په دوه ډوله جوړېږي :

**- الف :** د پوښتني کلیمو یا مورفیمونو په راوړلو سره ، لکه : (څوک ، څه ، چا ، چېرته ، څرنګه ، ولي ، کوم ، څنګه) او داسي نور...

لکه په دا لاندې جملو کي:

- څوک راغی ؟
- څه غواړي؟
- چا وویل ؟
- چاته وایي؟
- څه ډول راغلي؟
- ولي راغلي ؟
- کوم یو ښه دی؟ ...

**ب :** د آواز د فشار په واسطه : په دې ډول جملو کي د جملي په یوه برخه فشار راوړل کېږي او هغه برخه درنده ، قوي او لوړه تلفظ کېږي ؛ لکه :

- ملالی ښوونځي ته ځي ( چي دا یوه بیانیه یا خبري ساده جمله ده )

نو اوس که د همدې جملي په پای کي د پوښتني نښه (؟) کېږدو او په پوښتني آهنګ سره یې تلفظ کړو ، نو سوالیه جمله تري جوړېږي ، لکه :

- ملالې ښوونځي ته ځي؟

په همدې ډول دا لاندې جملې :

- هارون په کورکې شته .
- ښکلا ډوډۍ خوړلې ده ؟
- هغه ليک ليکلی دی ؟
- بریښنا ښوونځي ته ځي؟
- توریالي کورنی دنده لیکلې ده ؟

**۲- امریه ساده جمله**

په دې ډول جملو کې د ویونکي فکر او موخه د امر ، حکم ، هیلې او غوښتنې په ډول بیانېږي ؛ دا ډول جملې په عادي ډول تلفظ کېږي او د خبر برخه یې د امر په صیغه (کلمه) افاده کېږي ؛ لکه په دا لاندې جملو کې:

- د بېوزلو سره مرسته وکړه!
- له وخت څخه ګټه واخله!
- د ښوونکي خبرو ته غوږ ونیسه!
- د خپلوانو سره ښه سلوک وکړه!
- په غلطه لاره تګ مه کوه!

**۳- خطابي ساده جمله**

په دې ډول غونډلو کې د ویونکي مطلب او فکر خپل مخاطب ته متوجه وي . د خطابي یا ندایي جملې په پای کې د ندا نښه (!) اېښودل کېږي . شعارونه او خطابي توول په خطابي جملو سره لیکل کېږي . کله کله کېدای شي چې د ندا لپاره ادات یا ناخپلواک مورفیم هم ورسره راشي .

د بېلګې په ډول لاندې جملې وګورئ :

- لویه خدایه ؛ ته خیرراپیبن کړې!
- ګرانو زده کوونکو خپلي کورنی دندي ماته راوښیئ !
- ګرانو وطنوالو سره یو شئ !
- خپل هېواد ودان کړئ !
- ای خدایه ، زما مور او پلار وبخښي!

**۴- تعجبي ساده جمله**

په دې ډول جملو کې د ویونکي فکر او مطلب د تعجب او حیرانتیا د حالت څرګندونه کوي. د تعجبي جملو سره هم کېدای شي د پوښتني جملي په څېر ضمیرونه راشي ، خو په دې جملو کې پوښتنه د ځواب غوښتونکي نه وي ؛ لکه :

۱- څه ښکلي هوا ده !

۲- څه کارونه یې ونکړل!

۳- څومره ښې ورځې وې!

۴- څومره ښه هلک دی !

۵- څه ښکي منظره ده !

**۵- تمنایي ساده جمله**

په دې ډول جملو کې د یو شي هیله ، غوښتنه او ارمان ښکاره کېږي ؛ لکه :

- کاشکي هغه ژوندی وای!
- کاشکي خپلو هېلو ته ورسېږو!
- ارمان چي احمدشاه بابا ژوندی وای!
- کاشکي ملالی راغلي وای!

**۶- قسميه ساده جمله**

دا ډول جملې د قسم او لوړې کولو په وخت کې استعمالېږي يا په يو کار باندې د خلو د باور کولو لپاره په يو سپېڅلي ، لوړ ، محترم شي يا ذات باندې لوړه (قسم) کول څرګندوي ؛ لکه :

- خدايږو درځم !
- قسم که راشم!
- په خدای چې درځم!
- خدايږو چې رشتيا وايم !
- په خدای چې سبا ته درځم !

**۷- دعائيه ساده جمله**

د خير ، ښېګڼې د غوښتنو او څرګندولو لپاره ويل کېږي ؛ لکه دا لاندې جملې :

- ځه الله دې مرستندوی شه !
- غازيانو ، څښتن تعالی مو مل شه!
- په خير لاړ شئ!
- الله (ج) دې زموږ هېواد اباد لري !
- افغان هېواد دې تل ازاد وي!

**۸- ګماني ، شکي او احتمالي جمله**

چې مقصد او مطلب ثابت نه وي او ويونکی په دوو کې حيران او دوه زړې وي . يعني په دې ډول جملو کې د ويونکي فکر د ګما شک او احتمال په ډول بيانېږي ؛ لکه دا لاندې جملې :

- ښايي هغوي راغلي وي.
- ګوندې نن راشي.
- ښايي ملالی تللې وي.

- اڅک به لاړ شي که نه .
- ګوندي ښه قلم وي.

**۹- ټينګاري ساده جمله**

په دې ډول جملو کې د ويونکي فکر په يو ځه شي ټينګار کوي ؛ لکه :

- ته به هرومرو راځې.
- هغه دې حتمي لاړ شي.
- ته به خامخا هارون ويني .
- هرومرو به هغه تللى وي.
- خامخا به يې غابښونه پرې وباسم.

**په پښتو جملو کې د جملې د اجزاوو ترتيب**

جمله د وينا داسې يو مستقل صورت او جوړښت دی و چې په کوم بل ګرامري جوړښت کې د کومې برخې حيثيت ونه لري . ځينو پښتو ګرامرليکونکو د جملې اجزاوې د (فعل ، مفعول ، متعلقات فعل ، متمم فعل) په نومونو يادې کړې دي ، خو په اوسنيو ليکل شوو ګرامرونو کې د جملې بنسټيزې برخې د مبتداء او خبر يا ايښي او ايښوني په نومونو او د جملې پيروې برخې د : ( بشپړوونکي ، ټاکونکي او نحوي قيد ) په نومونو يادې شوې دي . د يوې جملې د اجزاوو د ترتيب څخه مطلب په يوې جملې کې د جملې د رغنده توکونو (مورفيمونو او کليمو) د پرله پسې راوړلو ، ترتيب او د هغو اجزاوو نظم – ترتيب چې د جملې برخې او اجزاء جوړوي په نظر کې نيول کېږي.

اوس به د پورتنيو اجزاوو په ترتيب باندې يوه لنډه رڼا واچوو ؛ خو په راتلونکي څپرکي کې د جملې تجزيه يا اسانی سره سرته ورسوو . که څه هم په جمله کې د پورتنيو اجزاوو : ( فاعل ، مفعول ، متعلقات فعل ، متمم فعل ) ترتيب په پورته ډول ثابت نه وي او کېدای شي ځايونه يې تغيير او تبديل شي ، خو بيا هم ګرامر ليکونکو ددې اجزاوو د دريځ او واقع کېدو لپاره ځايونه ټاکلي دي.

**۱- فاعل**

فاعل هغه شخص یا څیز ته وایي چې د فعل نسبت ورته شوی وي او دا فاعل کله نوم ، کله ضمیر او کله مصدر وي . فاعل زیاتره په جمله کې تر نورو اجزاوو دمخه راځي ؛ لکه :

- احمد راغی.
- زه خط لیکم.
- زمری تښتي.
- ماشوم ژاړي.

په لومړۍ جمله کې (احمد) خاص نوم د جملې مبتداء او فاعل دی . په دویمه جمله کې (زه) د مفرد متکلم ضمیر فاعل او د جملې مبتداء ده . په درېیمه جمله کې کې (زمری) د یو حیوان نوم فاعل د جملې مبتداء دی . په څلورمه جمله کې (ماشوم) نوم فاعل او د جملې مبتداء دی . په جملو کې د فاعل برخه مفرد ، جمع ، نارینه او ښځینه راتلای شي.

که چېرې په جمله کې د مسندالیه (فاعل) سره نور متعلقات (توابع) ذکر شوي وي ؛ نو د جملې په پیل یا مبتداء کې فاعل (نوم) له خپلو توابعو څخه وروسته راځي یعنې تر فاعل دمخه د فاعل نژدې ټاکونکی لکه : ( صفت ، عدد ، نوم ، ادات) راځي او په پای کې نوم راوړل کېږي ؛ لکه :

- هوښیار هلک راغی.
- ډېر هوښیار هلک راغی.
- خورا ډېر هوښیار هلک راغی.
- یو خورا ډېر هوښیار هلک راغی.
- دغه یو خورا ډېر هوښیار هلک راغی.

په پورته لومړۍ جمله کې (ستاینوم + نوم) ، دویمه جمله کې (قید + صفت + نوم) ، درېیمه جمله کې (تاکید + قید + صفت نوم) ، څلورمه جمله کې (ټاکلی عدد + تاکید + قید + صفت + نوم) ، پینځمه جمله کې (اشاره + عددي مرکب ترکیب) د جملې د مبتداء برخې جوړې کړې دي . په دې ترتیب صفت ترموصوف دمخه ، عدد تر معدود دمخه او اشاره تر مشار الیه دمخه ذکر

شوي دي او اړيکي د دغو ترکيبونو ترمنځ د مطابقت او سمون په اساس شته دی ، ځکه په پښتو ژبه کي صفت د موصوف ، عدد له معدد سره د عدد ، جنس او حالت له مخي مطابقت لري.

همدارنګه که مبتداء يا مسنداليه (فاعل) اضافي ترکيب وي ، نو د قاعدې سره سم مضاف اليه له مضاف څخه دمخه راځي او په همدې توګه د مضاف نورې مربوطه برخې هم د مضاف څخه مخکي راځي ؛ لکه په دې لاندې بېلګو کي:

- د زلمي ورور پاڅېد.
- د زلمي کشر ورور راغی.
- د زلمي تر ټولو کشری ورور بريالی شو.
- د زلمي تر ټولو يو کشر ورور راغی.

په دغه ترکيب کي د اضافت (د) تر ټولو برخو دمخه راځي.

**۲- مفعول**

مفعول هغه کليمه ده چي د فاعل فعل پر هغه واقع شوی وي. دا هم کله نوم ، کله ضمير او کله مصدر کېدای شي. مفعول په جمله کي تر فاعل وروسته راځي ؛ لکه په دا لاندې جملو کي :

۱- احمد محمود وواهه.

۲- احمد هغه وواهه.

۳- زه دروغ ويل نه خوښوم .

پورته لومړۍ جمله کي (محمود) خاص نوم ، دويمه جمله کي (هغه ) اشاري ضمير ، درېيمه جمل کي (دروغ) معنا نوم ، د مفعول په توګه راغلي دي . د مفعول برخه هم مفرده ، جمع ، نارينه او ښځينه راتلای شي.

په پښتو ژبه کي د جملي په جوړښت کي د غړو (اجزاوو) پرله پسي والی د جملو په ډولونو پورې هم اړه لري. که جمله اسمي وي د کليمو ترتيب ډېر ساده او اسان دی او د جملي برخي ، اول مسنداليه بيا مسند او درېيم اسناد (ربط) کومکی فعل راځي ؛ ولي که چېرې فعلي جملي وي ، په ساده او ازادو جملو کي لومړی فاعل بيا فعل يا : اول فاعل ، دويم مفعول ،

دربیم فعل راځي ؛ مګر په مقیدو جملو کې : لومړی فاعل ، دویم زماني قید ، دریم مکاني قید ، څلورم نور قیدونه ، پینځم فعل راځي ، لکه :

- بلبلان نغمې وایي.
- بریالي ماته یو قلم راکړ.
- بریالي نن دلته ماته کتابونه راکړل.
- بریالی نن دلته ژر ژر کتابونه غونډوي.

پورته لومړی جمله کې بلبلان (فاعل) ، نغمې (مفعول) ، (وایي) فعل دی .

دویمه جمله کې : بریالی (فاعل) ، ماته (غیرصریح مفعول) ، یو قلم (صریح مفعول ، راکړ ( فعل) دی .

دریمه جمله کې : بریالی (فاعل) ، نن ، (زماني قید ) ، دلته ( د مکان قید) ، ماته (غیرصریح مفعول) ، کتابونه (مفعول) ، غوندوي (فعل) دی.

په دې توګه د جملې د اساسي اجزاوو (مسندالیه او مسند) ترمنځ د فعل متعلقات راوړل کېږي ، یعني لومړی د ظرف قیدونه ، بیا نور قیدونه او مفعول راځي او په پای کې فعل راځي.

په هغو جملو کې چې د زماني او ځای قیدونه راغلي وي ، د زماني قید تر مکاني قید د مخه روړل کېږي ؛ لکه په دا لاندې جمله کې:

- زه پرون په تلوار له کوره پوهنتون ته ولاړم.

په دې جمله کې : زه = فاعل ، پرون = د زمان قید ، په تلوار = د حالت قید ، له کوره = پیل ځای ، پوهنتون = تم ځای ، ولاړم = فعل.

په دغه جمله کې د فعل مربوطات چې څلور توکي دي د اهمیت له مخې وړاندې وروسته کېدای شي . په متعدي فعلونو کې هم په دې توګه راځي.

- ده پرون په بازار کې په تلوار د یوه دکاندار څخه خپل زوی ته یو کتاب واخیست .

په مجهولو فعلونو کې د فاعل پرځای مفعول راوړل کېږي او نور مربوطات هم ورسره راځي ، مګر شمېر یې لږ دی .

- ملالی پرون په کور کي ورټل شوه.

**د فعل متعلقات**

هغه کليمي دي چي په جمله کي د فعل معنا توضيح کوي . د فعل متعلقات د فعل د واقع کېدو ځای ، وخت او علت ښيي . د فعل متعلقات عموماً تر فعل دمخه او فعل ته څېرمه يا نژدې راځي ؛ لکه :

- پرون زه قندهار ته ولاړم .
- احمد پورته ولاړه .
- احمد ښوونځي ته ژر ژر راځي.

په پورته لومړی جمله کي (پرون) د فعل مهال ، (قندهار) د فعل ځای ، دويمه جمله کي (پورته ) د فعل ځای ، درېيمه جمله (ښوونځی ) د فعل ځای او (ژر ژر) د فعل وضعيت ښيي.

**متمم فعل**

ځيني داسي متعدي افعال وي چي دوه فعلونه لري ، يو ته مفعول صريح او بل ته متمم فعل وايي. هغه کليمي چي د فعل معنااتمام ته رسوي د فعل متمم بلل کېږي . متمم فعل د تل لپاره تر صريح مفعول وروسته راځي او فعل معنا اتمام ته رسوي. لکه :

- ما احمد بخيل وګاڼه.

په پورته جمله کي (احمد) خاص نوم صريح مفعول ، (مي) ناخپلواک ضمير فاعل ، (بخيل) د (وګاڼه) فعل متمم دی.

**فعل**

فعل د جملي هغه برخه ده چي نسبت يي فاعل ته شوی وي ، يعني د فاعل په نسبت د يو څه بيان کوي . فعل د جملي مهمه برخه ده او بی له دي جمله جوړېدای نه شي.

په پښتو ژبه يوه ډېره لنډه جمله يوازط د يوه فعلي صورت څخه هم لاسته راځي ، ځکه فعلي صورت د فعل مونږ د اصل او فعلي خاتمي سره د مسند او مسنداليه وظيفه ترسره کوي ؛ لکه : ګور+ م ، ولاړ + م ، تللی + وم ، پاڅېدلی + يم .

که څه هم دلته د مستقیم فاعل (نوم) ذکر په جمله کې نشته . فعل زیاتره د جملې تر اجزاوو وروسته یعنې د جملې په پای کې راځي ؛ لکه :

- پښتنو هر ډول مبارزې ته ملا تړلې وه .
- په سبا باندې میرویس خان د کندهار ټول ولس راغونډ کړ.
- زه ځم .
- موږ ځو.
- ملالۍ ډوډۍ وخوړه.
- احمد محمود په ښوونځي کې په لرګي وواهه.

که چیرې فعل د امر په بڼه واقع شي ، زیاتره په حال زماني پورې تعلق نیسي ؛ لکه : وخوره ! ، مه خوره! ، کښېنه! ، پاڅه ! ، او داسې نور...

او د ترتیب په لحاظ زیاتره تر خپل فاعل وروسته راځي ؛ لکه : ډوډۍ مه خوره .

په شعري ژبه او کله کله پرته له شعر څخه په ځینو مواردو کې فعل په پیل او منځ کې هم موقعیت پیدا کوي ؛ لکه :

د جنون ځنځیر مې پرېوت و ګرېوان ته
چې په زړه مې ستا د زلفو سودا راغله

په لومړۍ نیم بیتی کې (پرېوت) د جملې فعل دی چې په منځ کې راغلی دی . یا :

ورک به نه شي له مشرقه تر مغربه
که د علم رهنما کاندي پیدا څوک

همداراز فعل د جملې په سر کې :

راغله لېـــونی لیـــلا په ناز
ښکار کوي د زړونو لکه باز

په دې بیت کې (راغله) او ښکار کوي تر نورو برخو دمخه راغلی دی .

## د شپږم ټولګي لنډيز او پوښتني

### لنډيز

په شپږم ټولګي کي نوموالي او کړوالي غونډلي او د هغوي قاعدې ، د بڼي او جوړښت لـه مخـي د غونډلي ډولونـه ، د معنا له مخي د غونډلي ډولونه په ترتيب سره تر بحث لاندې راغلي دي چي لنډيز يې په لاندې ډول سره وړاندې کېږي :

په پښتو ژبه کي لومړی جملي په دوه برخو (اسمي جملي او فعلي جملو ) باندې وېشل شوي دي:

- نوموالي يا اسمي جملي هغو جملو ته ويل کېږي چي مسنداليه يې د نوم له ډلي څخه وي او په مسند برخه کـي هم نـوم لـه نيمګړي فعل سره راغلی وي . لکه : خوشحال خان د پښتو ادب کلاسيکي دورې پياوړی شـاعر دی. ، اجمل ښـوونکی دی . ... او نور.

د نوموالو غونډلو بنسټيز توکي : ( مسنداليه ، مسند او اسناد) دی ، چي د اسـمي جملـو د قاعدو سره سم د جملـو پـه جوړښت کـي ونډله اخلي او هر توکی يې ځانته ځېل ځای لري.

- کړوالي (فعلي) جملي چي مسنداليه (مبتدار) برخه يې له نوميزې ډلي څخه وي او د مسند (خبـر) پـه برخـه کـي يـې بشپړ (پوره) فعل راغلی وي ، دا جملي هم يو لړ قاعدې لري چي جوړوونکي عناصـر (فاعل ، مفعول ،متمم فعل ، فعل) يې د پښتو ژبي د ګرامري قاعدو سره سم پخپلو ځايونو کي راځي .

د جولي او شکل له مخي په پښتو ژبه کي له درې ډوله جملو سره مخامخېږو :

- يوستوې (ساده) جمله چي د غبرګـي او ګډلي جملـي بنسټ بلل کېږي لـه (فاعل + فعل) يـا لـه يـوې مبتداء او خبـر څخـه جوړه وي چي په ارتـه يوستوې غونډله او نـاارته يوستوې غونډلي باندې سره بېلېږي.
- بل ډول يې تړښتي يا غبرګه غونډله ده چي د يوې مبتداء او يو خبر پرځای دوه دوه مبتداوې او دوه دوه خبرونـه ولـري ؛ يا په دا ډول غونډلو کي دوه ساده جملي په يو تړ وييکي سره يوځای کېږي او يوه غبرګغونډله جوړوي.
- دربيم ډول ګډلي يا امېخته غونډلي دي ، چي له دوو څخه زياتي ساده غونډلي يکي ملي شوي وي.

د اړیکوییکو د ډولونو له مخې غبرګغوندلي په بېلابېلو ډولونو : ( تړغبرګغونډله ، اړوتې غبرګغونډله ، توسني یا علتي غبرګغونډله ، څرګندني یا بیاني غبرګغونډله ، مهالي غبرګغونډله ، وګړیز څرګندني غبرګغونډله ، آړپېچه یا متضاده څرګندنی غبرګغونډله ...) او نورو باندې وېشنه مومي .

د معنا له مخې هم په پښتو ژبه کې جملې په خبري او ناخبري یا بیانیه او انشائیه باندې وېشل کېږي :

- بیاني یا خبري جملې هغه دي چې د یو څیز د حال او کیفیت څرګندویې کوي او د درواغو احتمال پکې کېدای شي لکه : (دا سړی ښوونکی دی .) کېدای شي دا سړی ښوونکی وي یا نه وي.
- ناخبري یا انشائیه جمله هغه ده چې په هغې کې د درواغو یا رښتیاوو احتمال نه پیدا کېږي ؛ لکه : له وخت څخه ګټه واخله ! ، ته چېرته ځې ؟ او داسې نورې جملې ...

د یوې جملې د اجزاوو د ترتیب څخه موخه د جملې د رغنده توکونو (مورفیمونو او کلیمو) د پرله پسې راوړلو ترتیب او د جملو د جوړوونکو اجزاوو ترتیب دی .

د جملې اساسي اجزاوې مبتداء او خبر دي ، چې په مبتداء کې فاعل له خپلو مربوطاتو سره ، او په خبر کې فعل له خپلو مربوطاتو سره راځي.

د جملې پیروې برخې : د (بشپړوونکي ، ټاکونکي او نحوي قید ) په نومونو یادېږي ، چې د پښتو ژبې د ګرامري قادهې سره سم د جملې د مبتداء او خبر په برخه کې خپل موقعیت اختیاروي.

**پوښتنې**

لاندې پوښتنې په ځیر سره ولولئ ، هرې پوښتنې ته لازم ځواب ولیکئ :

۱- د یوې جملې په جوړښت او ساختمان کې کوم توکونه ونډه اخلي ؟

۲- نوموالي او کړوالي غونډلي څنګه راپېژندلی شئ ؟

۳- د غونډلي مانیز ډولونه کوم دي؟

۴- ارته یوستوې او ناارته یوستوې جمله سره څنګه توپیرولای شئ ؟

۵- مرکبه او مختلطه جمله سره څه توپیر لري؟

۶- په یوه غبرګغوندله کي آره او ناآره غوندله سره څنګه توپیرولای شئ؟

۷- د ساده (یوستوي) جملي پینځه داسي بېلګي ولیکئ چي د مبتداژ په برخه کي یي عام نومونه راغلي وي .

۸- د ارتي یوستوي جملي پینځه بېلګي ولیکئ.

۹- د غبرګي جملي پینځه داسي بېلګي ولیکئ چي د (او) عطف و ربط ادات په واسطه سره یوځای شوي وي .

۱۰- د غبرګي جملي پینځه داسي بېلګي ولیکئ چي د (خو) خلافي عطف و ربط په واسطه سره غبرګي شوي وي .

۱۱- پینځه داسي جملي ولیکئ چي د مهال قید پکي راغلی وي .

لاندې هره جمله په غور سره ولولئ او د جملي اصلي فقره او تابع فقره پکي راوپېژنئ :

۱۲- دی به کتاب وپېري که پیسي ولري.

۱۳- ماشوم وژړل کله چي مور یي ولیدله .

۱۴- څنګه چي کارته ورسېدې د ښوونکي سره وګوره .

لاندې هره جمله په ځیر سره وګورئ په هره جمله کي د ترکیب شوي قید ډول راوپېژنئ :

۱۵- ښتانه لر او بر خواره دي.

۱۶- مور دلته او هلته ژوند کولای شو.

۱۷- ما مي پیسي پټي او ښکاره ولګولي .

۱۸- بي کوره خلک تل کښته او پورته روان وي.

۱۹- دوي دننه او بهر یو شان دي.

۲۰- د دوي دلته او هلته ساړه کېږي.

۲۱- د امریه جملي پینځه بېلګي ولیکئ .

۲۲- تعجبي جمله څنګه راپېژنئ ؟ پینځ بېلګي یي ولیکئ .

۲۳- خطابي یا ندایه جمله کومي جملي ته وایي ؟ درې بېلګي یي ولیکئ .

۲۴- شکي یا احتمالي جمله څنګه راپېژنئ ؟ درې بېلګي یي ولیکئ .

۲۵- اړوتي غبرګغوندله څنګه راپېژنئ ؟ پینځه بېلګي یي ولیکئ.

۲۶- یوه غونډله پر کومو دوو سترو برخو وېشل کېږي؟

۲۷- یوستوې غونډله په څو ډوله ده ؟ له هر ډول څخه یې څلور بېلګې ووایاست.

لاندې هر بیت له سم اوډون سره په نثر ولیکئ :

۲۸- د مـــــسلمان زړګـــــي ازار چې اخـــــلي — څه شول په دې چې کلیسا ته درومي

۲۹- مــــړې د ما خــــو دا یو سوال کړه ځواب - چې له ما درومي وایه چاته درومي

۳۰- د سپېڅلو ګروهو کچه مې له پاکو ګناهونو - او د هیلو پیمانه مې نهیلونه وپوښته

۳۱- که چېرې فعل د امر په بڼه واقع شي ، د جملي فعل په کومې زماني پورې اړوندېږي؟

۳۲- پینځه داسي جملي ولیکئ چې فعل یکي د امر په بڼه کارول شوی وي .

۳۳- په مجهولو فعلونو کې د فاعل پرځای کوم ګرامري توکي کارول کېږي؟

**څلور ځوابه پوښتني**

لاندې هرې پوښتني ته څلورځوابه لیکل شوي ، تاسي یې سم ځواب په نښه کړئ :

۳۴- په لاندې جملو کې ټینګاري ساده جمله په نښه کړئ :

الف: ته به هرومرو راځي چې هغه لاړ شي . ب: ګوندې هغه راشي ج: هغ دې حتمي لاړ شي د: الف ، ج سم دي.

۳۵- په لاندې جملو کې دعایه جمله وښایاست :

الف: خدایږو درځم ب:ښایی نه راشي ج: څومره ښه هوا ده د: په خیر لاړ شئ

۳۶- په لاندې جملو کې د ګرامر له مخې سمه تمنایي جمله په نښه کړئ :

الف: ژوندی وای هغه کاشکي　　ب: خپل هېواد ودان کړئ　　ج: کاشکي خپلو هیلو ته ورسېږو　　د :الف ، ج سم دي.

۳۷- په لاندې جملو کې امریه ساده جمله راوښایاست :

الف: د ښوزلو سره مرسته وکړه چې کامیاب شي　　ب: ښکار ناروغه ده ډاکټر ته یې بوځه

ج: په ناسمه لار تګ مه کوه　　د: هغه ښوونځي ته ځي

۳۸- معترضه جمله په لاندې کومو لیکنښو په منځ کې نیول کېږي :

الف: ؟　　ب: !　　ج: « »　　د: ( )

## اووم څپرکی

## د جملي تجزيه او شننه

په تېرو څپرکو کي مو په ترکيب ، عبارت ، جملي ، د جملي لفظي او معنوي جوړښتونه ، د جملي د اجزاوو ترتيب او پخپله د جملي اجزاوي سره وڅېړلي او د هري برخي اړوند لازمي تطبيقي بېلګي هم وړاندي شوي ؛ خو نن سبا د نحوي پوهانو دا منلي چي د جملو د جوړښت او تجزيې پر وخت بايد د جملي ډېر واړه واحدونه هم له نظره ونه غورځول شي ؛ ځکه چي په دې کوچنيو واحدونو کي ځيني د ريښي حيثيت لري او نورو ورپوري نښتلای شي او ځيني نور واحدونه چي د پيوندونو ( روستاړو او مختاړو) اشتقاقي پيوندونه لري او که له فورم څخه لري شي او ريښه تري پاتي کېږي ؛ ځيني سوفيکسونه دي که تري لري شي نو د مورفيم ماهيت ته تغيير نه ورکوي. همدارنګه که د جملي په جوړښت کي د مورفيمونو ځايونه سره بدل کړو ، نو وينو چي د جملي په جوړښت کي تغيير منځته راوړي ؛ نو له دې کبله هره جمله ځانته يو جلا سيستم لري . همدا سبب دی چي د يوې ژبي يادونه او زده کړه د جملو په يادولو او زده کولو تکيه لري او يوازې د مجردو لغتونو په يادولو ژبه نه زده کېږي . جمله د ژبينو فورمونو يوه داسي مجموعه ده چي نحوي واحدونو جوړه کړې ده ، دا مجموعه يوه ميخانيکي مجموعه او انبار نه دی بلکي داسي يوه مجموعه ده چي هره پرزه يي ځانته جلا او ځانګړی ځای لري .

فعلي ژبنی فورم يي د اسمي پرځای نه شي راتلای او همدارنګه اسمي فورم يي د فعلي فورم پرځای نه راځي او که راوړل هم شي ، يا به جمله بي معنا کېږي او يابه د هغې مفهوم بل ډول بيان او افاده شي او په بلي جملي به بدله شوې وي . دا چي موږ په تېرو څپرکو کي د جملي بېلابېل رغنده توکي او د جملي بېلابېل لفظي او معنوي جوړښتونه پېژندلي دي ، په دې څپرکي کي چي بحث يي (د جملي تجزيه او شننه) دی دغه جوړښتونه په تطبيقي او عملي ډول ګورو .

### د پښتو جملو تجزيه

د نحوې په اصطلاح ترکيب يو ځای کولو او تجزيه، جز- جز بيلولو ته وايي.

که موږ په يوه جمله کي د جملي اجزاوي سره يو ځای کړو دا ترکيب او که يي دغه اجزاوي سره جلا کړو دي ته تجزيه وايي.

د دې لیاره چې د نحوي واحدونو (جملو،ترکیب او عبارتونو) پر معانیز او جولیزو جوړښتونو، او ډون( ترتیب) او خپلمنځي اړیکو موښه ترا رڼا اچولي وي، دلته غواړو ځیني بېلګي یې تر شنني، ځیرني(تجزیي) او سپړني لاندې ونیسو. په دې ترڅ کې به راته دا هم ښه ترا څرګنده شي چې دغه راز شننه له غږ پوهیزې او ګړ پوهیزې (صرفی) شنني سره څه توپیر لري.

د بېلګې په ډول لاندې جمله:

۱- زما ورور – نن له کندهار څخه کابل ته راغی.

دا جمله وینو چې له ګړپوهیزې (صرفي) پلوه له (۹) کو شنیو توکو نو:

(زما- ورور-نن- له- کندهار- څخه-کابل- ته- راغی) څخه جوړه ده.

او تر دغې زیاته نه شنل کیږي. دغه (۹) صرفي توکونه پر (پنځو) نحوي واحدونو بیلیږی ، لکه:

(زما ورور)، (نن)، (له کندهار څخه)، (کابل ته)، (راغی)

دلته بیا ګورو چې په دغو پنځو غونډونو (فاعل،قید،قید،قید،فعل) کې دوه یوستوي او درې غونډیز یوونو نه (***syntagms***) دي.

دا ټول سره بیا پر دوو سترو غونډونو یا برخو ډله ډله کیږي، چې یوې برخې ته یې نوموال غونډ یا اینښی (مسند الیه) او بلې ته کړوال غونډ یا اینښونی (مسند) وایي، لکه:

<u>زما ورور - نن له کندهار څخه کابل ته راغی.</u>

د اوډون (ترتیب) له پلوه ګورو چې لومړی نوموال غوندي راغلی او بیا کړوال غوندي

په نوموال غونډ کې د پښتو غونډله پوهې له قاعدې او قانون سره سم لومړی ملکي ضمیر (زما) او بیا یې اړوند څیز نوم (ورور) او په کړوال غونډ کې لومړی د کړ (فعل) ټاکنده توکونه (***modifiers***) په بله وینا کړولونه (قیدونه) او بیا پخپله کړ (فعل) راغلی دی.

کومې اړیکې چې په دغه غونډله کې د مبتدا او خبر ترمنځ لیدل کیږي هغه یې سره د وګړي (شخص)، نوږي (جنس) او ګڼې(عدد) له مخې رابرښت اوسمبښت دی زموږ تر څیرني لاندې جملې په اینښوني (خبر) (نن له کندهار څخه کابل ته راغی) کې (نن) د (راغی) مهال ټاکې، په بله وینا یومهالي کړول (قید) دی.

(له کندهار ښخه) یو توني (مکاني) کړول (قید) دی او (کابل ته) یو بل توني (مکاني) کړول بلل کیږي. له بله پلوه (نن) یو ساده کړول (قید) دی او دا نور دواړه ترښتي کړولونه، یا په بله ژبه کړولي غونډونه دي.

په لومړي کړولي (قید) غونډ (له کندهار) کې (له) سربل(سرینه) او (ښخه) اوستربل( پسینه) (کندهار) په وتون پیر (مکاني حالت) کې اچوي.

د همدغه وتون پیر له کبله (کندهار) پر (کندهاره) اوړي چې اړونده پایله (*a*) یې هم د اوستربل ((ښخه)) استازي کوي او هم د اوښتي پیر.

درې واړه کړولونه (نن،له کندهار ښخه،کابل ته) د کړ (فعل) ټاکندویان دي او په یو مهال کې پر کړ (راغی) واکمنان.

د اوډون (ترتیب) له پلوه د جملې ټول توکونه پر خپل خپل ځای راغلي دي یوازې (نن) کولای شي، تر (له کندهار ښخه) وروسته ځای ونیسي، بې له دې چې پکې پښویز او مانیز ونجون( تغییر) پېښ شي.

کله که موږ و غواړو چې یوه پښتو غونډله (جمله) په بنسټیز ډول یعنې د لفظي او معنوي جوړښت له مخې وشنو یا تجزیه کړو، نو اړینه ده چې لومړی دیوې غونډلې د جوړښت مورفیمونه او کلمې تر غور لاندې ونیسو، کله چې دا برخه پوره څرګنده شوه، وروسته له هغې به د غونډلې نحوي جوړښتونه وګورو او غونډله به د خپلو نحوي ځانګړتیاوو له مخې تر څېړنې لاندې راولو.

د غونډلو شننه او تجزیه چې موږ دلته کارولې یا کاروو هغه په همدې اصولو ولاړه ده، یعنې موږ کوښښ کړی چې لومړی د جملو مورفیمونه او کلمې په نښه او ونوموو او بیایې نحوي ځانګړتیا وې.

خو دا چې دلته زموږ موخه غونډله پوهیزه شننه ده، په غونډله پوهیزه شننه کې د جملو تجزیه د ټل لپاره د لویو واحدونو څخه شروع کیږي، موږ به هم دغه اصول رعایت کړو او پخپلو جملو کې به لومړی د جملو اساسي او لوی واحدونه چې هغه مبتدا او خبر دي وڅېړو، او بیا به پرنورو کوچنیو واحدونو رڼا واچوو.

**لومړی – د نوموالو یا اسمي جملو تجزیه**

د مخه مو په نوموالو یا اسمي جمله کې لوستي و چې نوموالي غونډلي د تل لپاره له مبتدا (مسنداليه)، خبر(مسند)او نیمګړي (ناقص) فعل څخه جوړې وي، نو ددې ډول جملو د خپلواکو یا اساسي اجزاوو(مبتدا او خبر) د معلومولو لپاره ښه لاره داده چې ددې ډول جملو د مبتدا د معلومولو لپاره د خبر د برخې له نیمګړي فعل سره د پوښتنې هغه کلمې چې د مخه مو په مبتداکې لوستلي وې لکه: ( څوک، چا؟، څه شی، څه شیان او داسې نورې) ملګرې کړو، نو مبتدا په لاس راځي. که زموږ غوښتنه دا وي چې خبر په لاس راوړو، نو د مبتداله برخې سره د پوښتنې هغه کلمې، چې د مخه مو په خبرکې لوستلې وې لکه: څه کوي،څه وشول ،څه کیږي،څه ډول دي، څنګه دي، او داسې نورې) ملګرې کوو، نو خبر په لاس راځي.

یعني که په اسمې جملوکې وغواړو چې مبتدا پیدا کړو نو د خبر له برخې سوال جوړوو، مبتدا په لاس راځي او که غواړو خبر پیدا کړو، نو له مبتدا څخه سوال جوړوو، خبر په لاس راځی .

دا باید په یاد کې ولرو چې د پوښتنې دا ډول کلمې یوازې د مبتدا او خبر د معلومولو لپاره پکار وړل کیږي او د نوموالو جملو د نورو ناخپلواکو اجزاوو د معلومولو لپاره بیا نورې لارې چارې موجودې دي.

د نوموالو غونډلو د تجزیې او شننې د ښې څرګندتیا او سپړنې لپاره لاندې بیلګې وګورئ:

۱- ملالۍ ډیره هوښیاره ده.

اوس ددې جملې د خبر د برخې له نیمګړي فعل سره د (څوک) کلمه ملګرې کوو نو مبتدا په لاس راځي. لکه: څوک هوښیاره ده؟
ځواب: ملالۍ، نو: ملالۍ مبتدا شوه، که زموږ غوښتنه داوي چې خبر په لاس راوړو:

ملالۍڅه ده ؟ څه ډول ده؟ څنګه ده؟

ځواب: هوښیاره ده نو د خبر برخه شوه.

۲- بیلګه


د جملو تجزیه اسانه کارنه دی.

پوښتنه: څه شی اسانه کارنه دی؟


ځواب: د جملو تجزیه.

ګورو چي په پورته جمله کي: (د جملو تجزیه) مبتدا شوه او ( اسانه کارنه دی) خبر شو.

په لاندې ډول:




که اوس و غواړو همدا پورته جمله په وړو وړو واحدونو وویشو نو داسې لیکلای شو :



۳- بېلګه:


زما کور په ننګرهار کې دی.

سوال: څه شی په ننګرهار کې دی؟

ځواب : زما کور.

په پورته غونډله کې ګورو کله چې د خبر له برخې څخه سوال جوړشوی، ځواب یې د مبتدا برخه په لاس راغلي، یعنې (زماکور )، په پورته درېمه بېلګه جمله کې د جملې مبتدا ده او( په ننګرهار کې دی) د جملې د خبر برخه ده. په لاندې ډول:

د پورته جملي تجزیه په وړو واحدونو:





( اسمي بیانیه ساده جمله. )

۴- بېلګه

منه خوږه ده.

په دې غونډله کې:



ټوله غونډله ساده نومواله او بيا نيه ده.

۵-بيلګه

پښتو يوه زړه آريايي ژبه ده.

نوميزه مبتدا ده — پښتو = مفرده ښځينه خاص نوم دی.

ټاکونکي دی —
يوه = شمير نوم دی د مفرد ښځينه لپاره
زړه = مفرده ښځينه ستاينوم دی.

نوميز خبر دي —
آريايي = مفرد ښځينه خاص نسبتي صفت دی.
ژبه = مفرد عام ښځينه نوم دی.
ده = مفرد ښځينه نيمګړی فعل دی.

(ټوله عونډله ساده او ړده نوموالـه او بيا ينه ده)

**۶- ساده څو جز لرونکي نوموالـه غونډله**

بيلګه: منې، انګور او نورې خوړې ميوې په ګندهار کې ډېرې دي.

نوميزه مبتدا ده —
منې = ښځينه جمع عام نوم دی.
انګور = نارينه جمع عام نوم دی.
او = پيوستونکی عطف وربط دی
نورې = مبهم جمع نو مځری دی

خوږې= ښځينه جمع آرستاينوم دی.

ټاکونکي دي   ميوې= ښځينه جمع عام نوم دی.

نحوی قيد   په = سرينه او ناخپلواک مورفيم دی.

کندهار= مفرد، نارينه خاص مکاني نوم دی

کې= پسينه او ناخپلواک مورفيم او دارتباط توری دی.

نوميز خبر دی   { ډيرې= ښځينه جمع نحوی قيد دی.

{ دي= نيمګړی جمع فعل دی.

ټوله جمله ساده څو جز لرونکي نوموالمه او بيا نيه ده.

رښتيا ويل   د مخ ځېيرې دي .

مبتداء   خبر

رښتيا   ويل   د   مخ   ځېيرې   دي.

معنا نوم   مصدر   اضافت توری   عام نوم   عام نوم   مرستيال فعل

ښځينه نوم   مفرد   جمع   جمع

نارينه   ښځينه

الله تعالی د رېښتيني انسان ملګری دی .

الله تعالی   د رېښتيني انسان ملګری دی

مبتداء   خبر

| الله تعالی | د | ریښتیني | انسان | ملګری | دی |
|---|---|---|---|---|---|
| خاص نوم | اضافت توری | صفت | عام نوم | عام نوم | مرستیال فعل |
| مفرد | | مفرد | مفرد | مفرد | مفرد |
| فاعل | | مغیرم حالت | | | |
| | | نارینه | نارینه | نارینه | نارینه |

ننګرهار ، کنړ، لغمان او نورستان مشرقي ولایتونه دي.

ننګرهار ، کنړ، لغمان او نورستان ‏— مبتداء

مشرقي ولایتونه دي ‏— خبر

| ننګرهار ، | کونړ، | لغمان | او | نورستان | مشرقي | ولایتونه | دي. |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نوم | نوم | نوم | د عطف توری | نوم | صفت | عام نوم | مرستیال فعل |
| مفرد | مفرد | | | مفرد | مفرد | جمع | مفرد |
| نارینه | نارینه | | | نارینه | مغیره حالت | نارینه | نارینه |

کتاب ، کتابچه ، قلم ، تخته ، تباشیر ‏— مبتداء (مسندالیه)

درسي مواد دي ‏— خبر ( مسند)

| کتاب ، | کتابچه ، | قلم ، | تخته ، | تباشیر ، | درسي | مواد | دي. |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| عام نوم | عام نوم | عام نوم | عام نوم | عام نوم | عام نوم | عام نوم | نیمګړی فعل |
| مفرد | مفرد | مفرد | مفرد | مفرد – جمع | مغیره حالت | جمع | جمع |
| نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | نارینه | نارینه | نارینه |

دا زما کتاب دی .

| دا زما | کتاب دی. |
|---|---|
| مبتداء (مسندالیه) | خبر(مسند) |

| دا | زما | کتاب | دی . |
|---|---|---|---|
| اشاري ضمیر | ملکي شخصي ضمیر | عام نوم | نیمګړی فعل |
| مفرد مخاطب | مفرد متکلم | مفرد | مفرد |

نوله جمله ساده بیانیه جمله ده .

د ملالی مور زموږ ښوونکي ده .

| د ملالی مور | زموږ ښوونکي ده . |
|---|---|
| مبتداء (مسندالیه) | خبر(مسند) |

| د | ملالی | مور | زموږ | ښوونکي | ده . |
|---|---|---|---|---|---|
| د اضافت توری | خاص نوم | عام نوم | متکلم ملکي ضمیر | عام نوم | نیمګړی فعل |
| | مفرد | مفرد | جمع | مفرد | مفرد |
| | ښځینه | ښځینه | | ښځینه | ښځینه |

نوله جمله ساده اوږده بیانیه جمله ده .

که جمله په خبري او انشایي برخو ووېشو نو دا هم په لاندې ډول تجزیه کولای شو :

**۴- د خبري جملې تجزیه**

زما ورور کندهار ته لاړ.

| کندهار ته لاړ | زما ورور |
|---|---|
| خبر(مسند) | مبتداء (مسنداليه) |

ځوک کندهار ته لاړ ؟ زما ورور.

زما ورور چېرې لاړ؟ کندهارته.

| لاړ | ته | کندهار | ورور | زما |
|---|---|---|---|---|
| فعل ماضي مطلق | ارتباطي پسينه | خاص نوم | عام نوم | اضافي شخصي ضمير |
| مفرد | | مفرد | مفرد | مفرد |
| نارينه | | نارينه | نارينه | نارينه ، ښځينه |
| معلوم مثبت فعل دی . | | د مکان قيد دی | | |

**د انشايي جملي تجزيه**

توريالی چېرې لاړ؟

| چېرې لاړ ؟ | توريالی |
|---|---|
| خبر | مبتداء |

| لاړ؟ | چېرې | توريالی |
|---|---|---|
| فعل مجهول | دځای لپاره د پوښتني ضمير | خاص نوم |
| ماضي مطلق | نارينه ، ښځينه | نارينه |
| مفرد نارينه | مفرد، جمع | مفرد |

البته پوله جمله د پوښتني انشايي جمله ده .

**دويم  د کړوالي (فعلي)  جملي تجزيه**

څرنګه چي د مخه مو د کړوالي غونډلي په هکله لوستلي وو چي.

کړواله غونډله د مبتدا خبر او پوره يا بشپړ فعل څخه جوړه وي.

په فعلي جملو کي د مبتدا او خبر د ټاکني او پيداکولو لپاره د هماغه مخني فورمول او کړنلارې څخه کار اخلو:

دبېلګي په ډول که زموږ  غونډله داسي وي:

- زه ځم.

نو په دې جمله کي د مبتدا د پيداکولو لپاره د خبر له برخي پوښتنه جوړوو او مبتدا په لاس راځي.


لکه: څوک ځي ؟ ځواب: زه.        نو (زه)  مبتدا شوه

اوس که وغواړو د خبر برخه پيداکړو، د مبتداله برخي پوښتنه جوړوو.

لکه: زه څه کوم؟          ځواب:  ځم          نو (ځم )  برخه خبر شو.

د موضوع د څرګندتيا او سپړني لپاره به د کړوالي (فعلی) غونډلي څو بېلګي تر څېړني لاندې و نيسو:

ساده لنډه کړواله غونډله:  ۱-  بيلګه تورګل راغی.    څوک راغی؟  تورګل  تورګل څه وکړل؟   راغی.




تورګل راغی.  ( ټوله جمله فعلي ساده لنډه او بيا نيه ده)

۲- بيلګه:  توريالی راغی .

نومیزه مبتداده ـــ توریالی = یو ګړی (مفرد) نارینه خاص نوم او فاعل دی.

فعلي خبر دی ـــ راغی = یو ګړی(مفرد) نارینه لازمي ماضي فعل دی.

توریالی راغی. (ټوله غونډله ساده کړواله او بیانیه ده .)

۳: بېلګه : زمری پکتیا ته لاړ.

| زمری | پکتیا | ته | لاړ |
|---|---|---|---|
| فاعل | قید مکان | ارتباط توری | لازمي معلوم فعل |
| خاص نوم | خاص نوم | | مثبت |
| مفرد | مفرد | | نارینه |
| نارینه | نارینه | | |

زمری پکتیا ته لاړ. ( ټوله جمله فعلي ساده لنډه او بیانیه ده)

**ساده اوږده کړواله غونډله**

۴- بېلګه:

خوشحال پرون ننګرهارته لاړ.

نومیزه مبتداده ـــ خوشحال= یوګړی نارینه خاص نوم او فاعل دی.

زماني قید ـــ پرون = د زمان نوم دی.

بشپړوونکی ـــ ننګرهار= نارینه خاص او د ځای نوم دی.

ته = پسینه او ناخپلواک مورفیم یا د ارتباط توری دی.

فعلي خبر دی ← لاړ = یو ګړی نارینه او ماضی فعل دی.

خوشال پرون ننګرهار ته لاړ. ( ټوله جمله کړواله او بیانیه ده )

**ساده څو جز لرونکې کړواله غونډله**

۵- بیلګه:

زه، ته او هغه درې واړه یو ځای ډوډۍ خورو.

د نومځرو نومیزه مبتدا } زه = دمفرد متکلم لپاره ضمیر او فاعل دی.
ته = دمفرد مخاطب لپاره نومځری او فاعل دی.

او= پیوستونکی عطف اوربط او ناخپلواک مورفیم دی.

هغه = د مفرد غایب لپاره ضمیراو فاعل دی.

ټاکونکی دی } درې = ډېر ګړی آرشمیر نوم دی.
واړه = ډېر ګړی مبهم نو مځری دی

مکانی قید } یو = یو ګړی آر شمیر نوم دی.
ځای = یو کړی مکانی عام نوم دی.

بشپړوونکي } ډوډۍ = یو ګړی یا ډېر ګړی عام نوم دی.

فعلی خبر دی } خورو = ډېر ګړی متعدي مضارع فعل دی.

ټوله جمله ساده کړواله او بیانیه ده.

**د فعلي او ږدي جملي بله بېلګه**

۶- د احمد ورور پرون په باغ کي د هلکانو سره لوبي کولي .

چالوبي کولي؟ د احمد ورور = مبتدا شو


د احمد ورور څه کول ؟ لوبي کولي = خبر شو

د احمد ورور پرون په باغ کي د هلکانو سره لوبي کولي.

مبتدا — خبر

چا لوبي کولي؟ د احمد ورور = مبتدا شوه.

د احمد ورور څه کول؟ لوبي کولي = خبر شو.




دغه ښوونکي زږه نازړه تدریس وکړ.

دغه ښوونکي زږه نازړه تدریس وکړ.

مبتداء — خبر

| دغه | ښوونکي | زړه نازړه | تدريس | وکړ |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| اشاري ضمير | عام نوم | قيد | معنا نوم | فعل |
| مفرد | مفرد | | مفرد | د مطلق حال زماني فعل |
| نارينه | مغيره حالت | | نارينه | معلوم مثبت فعل |
| | فاعل | | | مفرد |

د خپل نفس ښوونکی او د خپل ضمير زده کوونکی اوسه .

ښوونکي د زده کوونکو ستاينه کړې وه .

| ښوونکي | د زده کوونکو ستاينه کړې وه. |
| --- | --- |
| مبتداء | خبر |

| ښوونکي | د | زده کوونکو | ستاينه | کړې وه . |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| عام نوم | اضافت توری | عام نوم | صفت | فعل |
| مفرد | | جمع | | ماضي مطلق فعل |
| مغيره حالت | | مغيره حالت | | معلوم مثبت فعل |
| فاعل | | مفعول | | |
| نارينه | | نارينه او ښځينه دواړه | | |

اغېزناکه ژبه د سړي ښکلا ده .

| اغېزناکه ژبه | د سړي ښکلا ده . |
| --- | --- |
| مبتداء | خبر |

| اغېزناکه | ژبه | د | سړي | ښکلا | ده . |
|---|---|---|---|---|---|
| صفت | نوم | اضافت توری | عام نوم | صفت | مرستيال فعل |
| مفرد | مفرد | | مفرد | مفرد | مفرد |
| مغيره | ښځينه | | نارينه | ښځينه | ښځينه |

حالت

موږ د خپل هېواد خدمت په اخلاص کړی دی .

| موږ د خپل هېواد | خدمت په اخلاص کړی دی . |
|---|---|
| مبتداء | خبر |

| موږ | د | خپل | هېواد | خدمت | په | اخلاص | کړی دی . |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شخصي ضمير | اضافت توری | مشترک ضمير | عام نوم | صفت | ارتباط توری | قيد | فعل |
| جمع متکلم | | مفرد | مفرد | | سرينه | | د نژدې تېرې زماني فعل |
| فاعل | | نارينه | | | | | مثبت او معلوم فعل |
| نارينه او ښځينه دواړو لپاره | | | | | | | |

غاښ چي انځور شي ؛ نو دي انبور شي .

| غاښ | چي انځور شي . |
|---|---|
| مبتداء | خبر |

غاښ ⇓ عام نوم ⇓ مفرد ⇓ نارینه ⇓ غایب

چې ⇓ ارتباط توری

انځور ⇓ ستاینوم ⇓ مفرد ⇓ نارینه

شي . ⇓ مرستیال فعل ⇓ مفرد ⇓ نارینه او ښځینه

نو ⇓ د شرط توری

دې ⇓ شخصي کمزوری ضمیر

انبور ⇓ عام نوم ⇓ مفرد ⇓ نارینه

شي. ⇓ مرستیال فعل ⇓ مفرد ⇓ نارینه او ښځینه دواړو لپاره

د لغمان سپین ږیرو پرون پرکړه وکړه .

د لغمان سپین ږیرو ← مبتداء

پرون پرېکړه وکړه ← خبر

د ⇓ اضافت توری

لغمان ⇓ خاص نوم ⇓ مفرد ⇓ نارینه ⇓ مضاف

سپین ږیرو ⇓ عام نوم ⇓ جمع ⇓ مغیره حالت ⇓ نارینه ⇓ مضاف الیه

پرون ⇓ قید ⇓ زمان قید

پرېکړه ⇓ معنا نوم ⇓ مفرد ⇓ ښځینه

وکړه ⇓ فعل ⇓ د مطلقي حال زماني فعل ⇓ مفرد ⇓ ښځینه

**د غبرګي یا مرکبي جملې تجزیه**

دا چې غبرګي یا مرکبي غونډلې له دوه ساده غونډلو څخه جوړې وي، نو د تجزیې او شننې لپاره یې لازمه ده چې لومړی یې دواړه برخې سره جلا او بیایې هره برخه تجزیه کړو.

**پیوسته غبرګغونډله**


۱- بېلګه: هغه خپل کتابونه واخستل او ښوونځي ته لاړ.

پورته غبرګغونډله، له دوو ساده او بسیطو جملو څخه جوړه ده، چې دواړه ساده غونډلې د (او) عطف و ربط په واسطه سره یوځای شوي دي.

لومړی به دا مرکبي جملې برخې سره جلا او بیا به یې اجزاوي په نښه کړو.

- چا خپل کتابونه واخستل؟ هغه
- هغه څه وکړل؟ خپل کتابونه واخستل
- هغه خپل کتابونه واخستل.

مبتدا خبر




(او) عطف وربط دی چې دواړه جملې سره یو ځای کوي.

**اوس به راشو د مخنی مرکبي جملې دوهمې برخې تجزیې ته**


که څه هم په دوهمه جمله کې (ښوونځي ته لاړ) ظاهراً د (هغه) ضمیر نه ښکاري،خو د لومړی جملې د (هغه) ضمیر د دواړو جملو لپاره کار ورکوي اوپه دوهمه کې د تکرار د مخنیوي لپاره نه دی ذکر شوی، نو ځکه لیکلای شو:

هغه ښوونځي ته لاړ.

څوک ښوونځي ته لاړ؟ هغه.

هغه څه وکړل؟ ښوونځي ته لاړ

هغه ښوونځي ته لاړ.
مبتدا خبر




ټوله جمله مرکبه پيوسته فعلي جمله ده چې په پخوانيو گرامرونو کې لومړی برخې ته معطوف عليه او دوهمې برخې ته معطوفه وايي او د (او) ارتباطي توري ته عطف وربط وايي.

١- بېلگه: زه کورته لاړم او زوی مي وليده.

نومځری مبتدا ده } زه = د مفرد متکلم لپاره شخصي ضمير او فاعل دی.

بشپړوونکی دی } کور = مفرد نارينه عام او د مکان نوم دی.

ته = پسينه او د ارتباط ادات دی.

فعلي خبر دی } لاړم = د مفرد متکلم لپاره د ماضي زماني فعل دی.

او = پيوست کوونکی عطف وربط دی.

زوی = مفرد نارينه عام نوم او مفعول دی.

مې= د مفرد متکلم لپاره ملکي متصل يا ناخپلواک ضمير او فاعل دی.

وليده = د مفرد متکلم لپاره د مطلقې ماضي يا تيرې زماني متعدي فعل دی.


**تابع مرکبه جمله**

دمخه مو په پيوسته مرکبه غوندله کې وليد چې يوه جمله بلې ته نه تابع کيدله مګر په تابع مرکبه جمله کې يوه جمله د بلې تابع کيږي او تر منځ يې د تابعيت اړيکوييکي راځي.

١- بېلګه:


هغه کورته لاړ | چې خپل ورور ووينې.
--- | ---
اساسي جمله | تابع جمله

هغه | کورته لاړ | چې | خپل | ورور وګورى.
--- | --- | --- | --- | ---
مبتدا | خبر | تابع کوونکى | مبتدا | خبر





٢- بېلګه

د علت مرکبه تابع جمله




(ټوله جمله د علت مرکبه تابع جمله ده.)

۱- هغه مرکبه جمله چې اړیکوییکي نه لري.




ته خه زه درځم. (ټوله جمله مرکبه فعلي جمله ده).

۱- بېلګه: اغونده ګډله          له پوره څخه ځغله.

ساده فعلي خبر} اغونده = یو ګړی د امر فعل او حال جاري دی.

نومیزه مبتدا} ګډله = یو ګړی عام ښځینه نوم دی.

له} = سرینه او عطف وربط دی.

نومیزه مبتدا} پوره = یو ګړی نارینه مغیره عام نوم دی.

څخه} = پسینه او عطف وربط دی

ساده فعلي خبردی} ځغله = مفرد نارینه حال جاري د امر فعل دی.

(ټوله جمله مرکبه فعلي ده)


**٢- معترضه غونډله**


معترضه غونډله کله د يوستوي يا ساده غونډلي ترمينځ او کله هم د غبرګي غونډلي په منځ کي راځي . که چيري دغه معترضه غونډله، له دغه نحوي جوړښت څخه ليري وايستل شي نو د غونډلي اصلي مطلب ته تاوان نه رسوي او دا ځکه چي معترضه غونډله يا د عايه وي او يا د بلي جملي د وضاحت لپاره راغلي وي.


بېلګه:

د توريالي پلار (خدای(ج) دي ژوندی لري) ډېر ښه سړی دی.

- د توريالي پلار ډېر ښه سړی دی = اساسي جمله ده
- خدای دي ژوندی لري = معترضه جمله ده.



بله بېلګه

بريالی (خداي ج) دې خوشحاله لري) ډېر ښه هلک دی.

په پورتنی غونډله کې (بريالی ډېر ښه هلک دی.) اساسي غونډله (جمله) ده او (خدای ج) د ی خوشحاله لري.) معترضـه غونډلـه ده.

مبتدا ده} خدای = فاعل – او واحد نوم دی.


بشپړوونکی} دي = مفرد مخاطب متصل يا ناخپلواک ضمير او مفعول دی.


} خوشحاله = متمم د فعل او صفت دی.

خبر دی} لري = د مفرد مخاطب لپاره نيمګړی فعل دی.

بله بېلګه

ما زلمي ته چې زما کليوال دی يوه ډالی ورکړه.



په پورته غبرګه غونډله کې:

(ما زلمي ته يوه ډالى ورکړه.) = آره غونډله ده، او (زما کليوال دى.) منځپيښى (معترضه) غونډله ده.

**ګډه (اميخته) غونډلې تجزيه**

دا چې په ګډه غونډله کې دوه غبرګې غونډلې موجودې وي، نو تجزيي او شنني لپاره يې هم بايد دا غونډله لومړى په دوه برخو وويشو او بيايې هره غبرګغونډله په دوه نورو برخو تجزيه کړو.

بېلګه: زه چې راشم ته نه يې او ته چې راشي زه نه يم.

تجزيه: زه چې راشم ته نه يې = يوه غبرګغونډله

او – ته چې راشي زه نه يم = دوهمه غبرګغونډله.

- اوس په لومړۍ غبرګغونډله کې:

زه چې راشم = تابع جمله ده.

ته نه يې = اساسي جمله ده.

- په دوهمه غبرګغونډله کې:

ته چې راشي = تابع جمله ده.

زه نه يم = اساسي جمله ده.

او دواړو غبرګو جملو ترمينځ (او) پيوستونکى عطف وربط دى.

د ضمير مبتدا ده {زه = د مفرد متکلم لپاره شخصي ضمير او فاعل دى.

چې = د تابعيت عطف و ربط دى.

فعلي خبر دى {راشم = د مفرد متکلم لپاره لازمي فعل دى.

د ضمیر مبتدا ده {ته = د مفرد مخاطب شخصي ضمیر دی.

نه{= د نفی توری دی.

نومیز خبر دی{ یي = د مفرد مخاطب لپاره نیمګړی فعل دی.

او{= پیوستونکی عطف وربط دی.

د ضمیر مبتدا ده{ته = د مخاطب مفرد لپاره شخصي ضمیر او فاعل دی.

چي{= د تابعیت عطف وربط دی.

فعلي خبر دی{ راشي = د مخاطب مفرد لپاره لازمي فعل دی.

د ضمیر مبتدا ده{ زه = د مفرد متکلم لپاره شخصي ضمیر او فاعل دی.

نه{= د نفي توری دی.

نومیز خبر دی{یم = د مفرد متکلم لپاره نیمګړی فعل دی.

(ټوله جلمه ګډه (امیخته) او بیانیه ده.)

د دې جملو نورې نا تجزیه شوي بېلګې:

یار مي د کوټې زه د تیرایم ربه کوټې وران کړې چي جوړه تیرا له ځونه

جانان زما زه د جانان یم که په بازار مي خرڅوي ورسره ځمه

ښه دی چي سترګي دې وړي دي که چیرې غټي وای خوړلای به دې ومه

که ته راغلي زه به هم درشم او که ته رانغلي زه هم نه درځم.

د عطف و ربط لرونکي مرکبي جملي تجزیه

هغوي په موټر کي کښېناستل او ښار ته لاړل .

هغوي (مبتداء) — په موټر کي ښېناستل . (خبر)

| هغوي | په | موټر | کي | کښېناستل |
|---|---|---|---|---|
| ⇓ | ⇓ | ⇓ | ⇓ | ⇓ |
| اشاري غايب ضمير | ارتباطي سرينه | عام نوم | ارتباطي پسينه | فعل دی او مصدر هم کېدای شي. |
| ⇓ | | ⇓ | | ⇓ |
| جمع | | مفرد | | جمع |
| ⇓ | | ⇓ | | ⇓ |
| فاعل | | مفعول | | فعل ماضي مطلق معلوم او مثبت |
| ⇓ | | ⇓ | | ⇓ |
| نارينه | | نارينه | | نارينه |

او ښارته لاړل .

| او - (هغوي) | ښار | ته | لاړل. |
|---|---|---|---|
| ⇓ | ⇓ | ⇓ | ⇓ |
| عطف و ربط | عام نوم | ارتباطي پسينه | فعل |
| | ⇓ | | ⇓ |
| | مفرد | | ماضي مطلق معلوم او مثبت |
| | ⇓ | | ⇓ |
| | قيد مکان | | جمع |
| | ⇓ | | ⇓ |
| | نارينه | | نارينه |

علم هغه دی چي له عمل سره ملګری وي .

علم هغه دی (اساسي برخه) — چي د عمل سره ملګری وي . (تابع برخه)

علم هغه دي

مبتداء خبر

| علم | هغه | دی . |
| --- | --- | --- |
| معنا نوم | اشاري ضمير | مرستيال فعل |
| مفرد | مفرد | مفرد |
| فاعل | نارينه او ښځينه دواړو لپاره | نارينه |

د عمل سره ملګری وي .

مبتداء خبر

| د | عمل | سره | ملګری | وي |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| اضافت توري | معنا نوم | ارتباط توری | عام نوم | مرستيال فعل |
| سرينه | مفرد | پسينه | مفرد | |
| | نارينه | | نارينه | |

غل ته وايي غلا کوه او مالک ته وايي بېداره شه .

غل ته وايي.

مبتداء خبر

غل ← عام نوم ← نارينه ← مفعول

ته ← ارتباط توری

وايي. ← فعل ← غايب فعل ← د جاري حال زماني فعل ← نارينه او ښځينه دواړو لپاره

غلا (مبتداء) کوه . (خبر)

غلا ← نوم ← ښځينه

کوه. ← د جاري حال زماني فعل ← د مخاطب فعل

او     مالک ته وايي بيدار شه .

او (د عطف توری)

مالک (مبتداء) ته وايي (خبر)

مالک ← نوم ← مفرد ← نارينه

ته ← ارتباط توری

وايي. ← فعل ← د حال جاري زماني فعل ← غايب فعل ← نارينه او ښځينه

(ته) (مبتداء) بيداره شه (خبر)

ببداره ← قید

شه. ← فعل ← د حال زماني امرفعل ← غایب فعل

عالم په څه کي دی او میرعالم په څه کي دی .

عالم ← مبتداء

په څه کي دی ← خبر

عالم ← جمعیت نوم ← جمع ← فاعل ← نارینه

په ← سرینه

څه ← مبهم ضمیر

کي ← پسینه ← ارتباطي توری

دی. ← مرستیال فعل ← مفرد ← نارینه

او - میرعالم په څه کي دی .

او ← د عطف او ربط توری

میرعالم ← مبتداء

په څه کي دی . ← خبر

| میرعالم | په | څه | کي | دی . |
|---|---|---|---|---|
| خاص نوم | ساده سینه | استفهامي ضمیر | پسینه | مرستیال فعل |
| فاعل | ارتباطي توری | | ارتباطي توری | مفرد |
| مفرد | | | | نارینه |
| نارینه | | | | |

**لنډې غبرګي پیوستي جمله**

هندو ژړل او مرچ یې خوړل .

| هندو | ژړل. |
|---|---|
| مبتداء | خبر |

| هندو | ژړل |
|---|---|
| نوم | فعل او مصدر هم کېدای شي. |
| مفرد | مفرد |
| فاعل | د مطلق تېري زماني معلوم او مثبت فعل |
| نارینه | |

| | | |
|---|---|---|
| او - | مرچ یې | خوړل. |
| د عطف و ربط توری | مبتداء | خبر |

| | | |
|---|---|---|
| مرچ | یې | خوړل . |
| ⇓ | ⇓ | ⇓ |
| عام نوم | شخصي ناخپلواک ضمیر | فعل |
| ⇓ | ⇓ | ⇓ |
| مفرد | مفرد غایب | د مطلق تېرې زمانې معلوم او مثبت فعل |
| ⇓ | ⇓ | ⇓ |
| نارینه | نارینه او ښځینه دواړو لپاره | جمع |
| | | ⇓ |
| | | نارینه |

# د اووم څپرکي لنډیز او پوښتني

په پښتوژبه کي جمله د شکل او بني له مخي او همدارنګه د معنا او مفهوم له مخي په بېلابېلو ډولونو باندې وېشل شوې ده چي هر ډول یې د کتاب په مخکنیو څپرکو کي په تفصیل سره وڅېړل شو.

په دې څپرکي کي هماغه د جملي بېلابېل ډولونه د خپلو رغښتي توکونو له مخي تر شنني او تجزیې لاندې نیول شوي دي .

لومړی د ساده (یوستوو او پراخه یوستوو) جملو تجزیه ترسره شوې ، وروسته د غبرګو او ګډلو جملو تجزیه په لویو او وړو واحدونو باندې ترسره شوې ده . همدارنګه اسمي او فعلي جملي په جلا جلا توګه د خپلو اصولو سره سمي تجزیه شوي دي

## پوښتني

۱- د پښتو ژبي ګرامر پوهانو د جملي اجزاوې په څو ډوله راپېژندلي دي ؟

۲- د جملي د پیروو اجزاوو یوازې نومونه راوپېژنئ .

۳- د نحوې په اصطلاح ترکیب او تجزیه څنګه راپېژندلای شئ ؟

۴- په لغت یا کلیمه کي ریښه څه حیثیت لري ؟

۵- روستاړی او مختاړی راوپېژنئ .

۶- روستاړی او سرینه سره څنګه توپیرولای شئ ؟

۷- که چېرې د جملي په جوړښت کي د مورفیمونو ځایونه بدل شي ، په جمله کي به کوم تغیرات رامنځته شي ؟

۸- په جمله کي نوموال غونډ او کړوال غونډ څرنګه راپېژنئ ؟

۹- پینځه  داسي جملي جوړې کړئ چي متعدي فعل ولري او بیا یې تجزیه کړئ .

۱۰- پینځه داسي جملي جوړې کړئ چي لازمي فعل ولري او بیا یې د کلام په توکو تجزیه کړئ .

# اخځلیکونه


۱- رېښتین ، زرغونه زېور . (۱۳۸۹لمریز). پښتو نحوه ، پېښور: مومند خپرندویه ټولنه .

۲- زیار ، مجاور احمد . ( ۱۳۸۴ لمریز). پښتو پښویه (پایځوړ : د ژبپوهنې بنسټونه او غرپوهه) . دریم چاپ ، پېښور : دانش خپرندویه ټولنه .

۳- هاشمي ، سیدمحي الدین . ( ۱۳۸۳ لمریز) . د پښتو ژبې لنډ گرامر (صرف – نحو) . پېښور : د اریک د گرځنده کتابتونونو اداره .

۴- رېښتین ، زرغونه زېور . ( ۱۳۸۹لمریز) . پېښور : مومند خپرندویه ټولنه .

۵- وصیل وردگ ، عبدالکریم .(۱۳۹۱ لمریز) . جمله په پښتو ژبه کې ، جلال اباد : گودر خپرندویه ټولنه .

۶- رېښتین ، زرغونه زېور . ( ۱۳۸۹لمریز) . ننگرهار : مومند خپرندویه ټولنه .

۷- هاشمي ، سید محي الدین . ( ۱۳۸۳ لمریز) . د پښتو ژبې لنډ گرامر (صرف-نحو) پېښور : د اریک د گرځنده کتابتونونو اداره .

۸- زیار ، مجاور احمد . ( ۱۳۸۴لمریز) . پښتو وییپوهنه او وییرغاونه . جلال اباد : مومند خپرندویه ټولنه .

۹- شېرزاد ، محمدآقا او جانداد الکوزی . ( ۱۳۸۹ لمریز ) . کابل : ښوونې او روزنې پوهنتون . پښتو څانگه .

۱۰- یمین ، محمدحسین . ( ۱۳۹۲هـ . ش) . دستور معاصر زبان پارسي دري ، ناشر : بنگا انتشارات میوند (بام) .

۱۱- بخاري ، سیدخیال .( ۱۹۸۳.م ) . د پښتو صرف و نحوه ، پېښور : یونیورسټي بک ایجنسي .

۱۲- رېښتین ، صدیق الله . ( ۱۳۷۲ هـ . ش ) . پښتو گرامر . (ژباړن : سیدمحي الدین هاشمي ) . پېښور : یونیورسټي بک ایجنسي .

۱۳- زیار ، مجاور احمد . ( ۱۳۸۲لمریز) . پښتوپښویه (پایځوړ : د ژبپوهنې بنسټونه او غرپوهنه) . پېښور : دانش خپرندویه ټولنه .

۱۴- رېښتین ، صدیق الله . ( ۱۳۴۴ لمریز) . د پښتو مصدرونو لاربنود ، کابل : پښتو ټولنه .

۱۵- مومند ، محمدگل . ( ۱۳۱۷هـ . ش) . د پښتو ژبې لیاره . لاهور : د بلخ د شرکت رشتیا له خوا .

۱۶- ایازی ، محمد اعظم . ( ۱۳۲۷ هـ.ش) . د پښتو نحوه . کابل : عمومي مطبعه.

۱۷- بخاري ، سيدخيال . ( ۱۹۸۳. م ) د پښتو صرف و نحوه . پېښور : يونيورسټي بک ايجنسي ، خيبر بازار .

۱۸- ريښتين ، صديق الله . ( ۱۳۸۹هـ . ش) د پښتو اشتقاقونه او ترکيبونه (دويم چاپ) . جلال اباد : مومند خپرونددويه ټولنه .

۱۹- ريښتين ، صديق الله . ( ۱۳۷۲ هـ . ش). پښتو گرامر ، ژباړن : سيدمحي الدين هاشمي . پېښور : يونيورسټي بک ايجنسي .

۲۰- نگهت سعيدي ، محمد نسيم . ( ۱۳۹۰هـ . ش) دستور زبان معاصر دري (چاپ دوم) . کابل: ميرويس کتاب پلورنځی .

۲۱- خوښکی ، محمدصابر . (۱۳۸۹لمريز ) . پښتو غږپوهنه او ويېپوهنه (پينځم چاپ) . جلال اباد : مومند خپرندويه ټولنه .

۲۲- شېرزاد ، محمدآقا . ( ۱۳۶۷ لمريز). د نومځرو نحوي حالتونه (د ماسټری تېزس) . کابل پوهنتون ، د ژبو او ادبياتو پوهنځی .

۲۳- ريښتين ، صديق الله . ( ۱۳۲۷ هـ . ش). پښتو گرامر (جزء اول ) . کابل : پښتو ټولنه .

۲۴- شېرزاد ، محمد آقا . ( ۱۳۹۲ لمريز) . پښتو مورفولوژي . د ښوونکو د روزنې لوی رياست .

۲۵- الکوزی ، جانداد خان . ( ۱۳۸۵ لمريز) . د پښتو ژبې مورفولوژي ( گړپوهنه) . لغمان : پټان ادبي ټولنه .

۲۶- بخاري ، سيدخيال . ( ۱۹۸۳. م ) . د پښتو صرف و نحوه . پېښور : يونيورسټي بک ايجنسي ، خيبر بازار .

۲۷- زيار ، مجاور احمد . ( ۱۹۸۱. م ) . پښتو ويېپوهنه . کابل پوهنتون ، د ادبياتو پوهنځی .

۲۸- فرشېد ورد ، خسرو . (۱۳۸۰هـ . ش). گفتارهای درباره دستور زبان فارسي (چاپ سوم) . تهران : موسسه انتشارات اميرکبير.

۲۹- پنزل ، هربرت . ( ۱۳۸۹لمريز) . د پښتو گرامر . ژباړن : محمدرحيم الهام . کابل : اسد دانش مطبعه .

۳۰- ريښتين ، صديق الله . ( ۱۳۸۹لمريز) . د پښتو اشتقاقونه او ترکيبونه . جلال اباد : مومند خپرندويه ټولنه .

۳۱- زيار ، مجاور احمد . ( ۱۳۸۴ لمريز) . پښتو پښويه (پايځور : د ژبپوهنې بنسټونه او غږپوهنه) . دانش خپرندويه ټولنه .

۳۲- يمين ، محمدحسين . ( ۱۳۸۴ هـ . ش) . دستور معاصر زبان پارسي دري . بنگا انتشارات ميوند .

۳۳- هاشمي ، سيدمحي الدين .(۱۳۸۳لمريز) . د پښتو ژبې لنډ گرامر(صرف و نحوه ) . پېښور : د اريک د گرځنده کتابتونونو اداره .

۳۴- اريانا دايرة المعارف (دريم ټوک) . (۱۳۸۹هـ . ش) . د افغانستان د علومو اکاډمی د دايرة المعارف مرکز رياست . کابل : نبراسکا مطبعه.

۳۵- انوري ، حسن او حسن احمدي گوي . ( ۱۳۸۶ هـ . ش) . دستور زبان فارسي ۲ (ويرايش سوم) ، ناشر : موسسه فرهنگي فاطمي .

۳۶- يمين ، محمدحسين . ( ۱۳۹۲ هـ . ش) . دستور معاصر زبان پارسي دري . ناشر : بنگا انتشارات ميوند .

۳۷- وصيل وردگ ، عبدالكريم . ( ۱۳۹۱ لمريز) . جمله په پښتو ژبه کې . جلال اباد : گودر خپرندويه ټولنه .

۳۸- زيار ، مجاور احمد . ( ۱۳۹۳لمريز) . پښتو وييپوهنه او وييرغاونه . جلال اباد : مومند خپرندويه ټولنه .

۳۹- زيار ، مجاور احمد . ( ۱۳۸۴لمريز) . پښتو پښويه ( پايڅوړ : د ژبپوهني بنسټونه او غړپوهنه). پېښور : دانش خپرندويه ټولنه .

۴۰- زيار ، مجاوراحمد . (۱۳۸۹لمريز) . پښتو بدلمېچ (پښتو شعر څنگه جوړېږي ؟ ) . پېښور : دانش خپرندويه ټولنه .

۴۱- هلالي ، عبدالحکيم . ( ۱۳۷۰هـ . ش) . د پښتو ژبې فونولوجي . د افغانستان د علومو اکاډمی د ښوونې او روزنې مطبعه.

۴۲- زيار ، مجاور احمد .( ۱۳۸۹لمريز) . پښتو بدلمېچ . پېښور : دانش خپرندويه ټولنه .

۴۳- زيار ، مجاور احمد . ( ۱۳۸۴لمريز) . پښتو پښويه (پايڅوړ : د ژبپوهني بنسټونه او غړپوهنه) . (درېيم چاپ) . پېښور : دانش خپرندويه ټولنه .

۴۴- زيار ، مجاور احمد . ( ۱۳۸۴لمريز) . پښتو پښويه (پايڅوړ : د ژبپوهني بنسټونه او غړپوهنه) . (درېيم چاپ) . پېښور : دانش خپرندويه ټولنه .

۴۵- ريښتين ، صديق الله . (۱۳۷۲ لمريز) . پښتو گرامر (ژباړن : سيدمحي الدين هاشمي ) . پېښور : يونيورسټي بک ايجنسي .

۴۶- ريښتين ، زرغونه زېور . ( ۱۳۸۲ لمريز) . پښتو نحوه . پېښور : د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز.

۴۷- خوېشکی ، محمدصابر . ( ۱۳۸۹لمريز) . پښتو فونولوژي – مورفولوژي (پينځم چاپ) . جلال کوټ : مومند خپرندويه ټولنه .

۴۸- زيار ، مجاوراحمد . ( ۱۳۸۴ لمريز) . پښتو پښويه (پايڅوړ : د ژبپوهني بنسټونه او غړپوهنه) . پېښور : دانش خپرندويه ټولنه .

۴۹- پېښور ، ش . ک .(۱۳۸۹لمريز) . د پښتو گرامر پخپله ښه کې . پېښور : دانش خپرندويي ټولنې تخنيکي څانگه .

۵۰- يمين ، محمدحسين . ( ۱۳۹۲هـ . ش) . دستور معاصر زبان پارسي دري . ( دوازدهم چاپ) . بنگا انتشارات ميوند .

۵۱- وصيل وردگ ، عبدالكريم . ( ۱۳۹۱لمريز) . جمله په پښتو ژبه کې . ( د ماستری تېزس) . جلال اباد : گودر خپرندويه ټولنه .

۵۲- ریښتین ، صدیق الله . ( ۱۳۷۲ لمریز) .پښتو ګرامر (ژباړن : سیدمحي الدین هاشمي ) . پېښور : یونیورستي بک ایجنسي .

۵۳- ریښتین ، زرغونه زېور . ( ۱۳۸۲ لمریز) . پښتو نحوه . پېښور : د ساپي د پښتو څېړنو پراختیا مرکز .

۵۴- یمین ، محمدحسین . ( ۱۳۹۲ هـ .ش ) دستور معاصر پارسي دري . ناشر : بنګا انتشارات میوند .

۵۵- شېرزاد ، محمد آقا . ( ۱۳۶۷لمریز) . د نومځرو نحوي حالتونه ( د ماسترۍ تېزس) . کابل پوهنتون ژبو او ادبیاتو پوهنځی .

۵۶- تری ، حبیب الله . (۱۳۵۷لمریز) . له فاعل او مفعول سره د فعل او قید مطابقت . کابل مجله شپږمه ګڼه . کابل پښتو ټولنه . دولتي مطبعه.

۵۷- بخاري ، سیدخیال . ( ۱۳۸۳ م . ) . د پښتو صرف و نحوه . پاکستان : ایجوکیشنل پریس لاهور .

۵۸- ریښتین ، صدیق الله . ( ۱۳۷۲ هـ . ش) . پښتو ګرامر ( ژباړن : سیدمحي الدین هاشمي) . پېښور : یونیورستي بک ایجنسي .

۵۹- زیار ، مجاور احمد . ( ۱۳۸۴ لمریز) . پښتو پښویه (پایځوړ : د ژبپوهني بنسټونه او غړپوهنه) . پېښور : دانش خپرندویه ټولنه .

۶۰- احمدي ګوي ، حسن او حسن انوري . ( ۱۳۸۶هـ . ش) . دستور زبان فارسي ۱ ( چاپ سوم) . ناشر : موسسه فرهنګي فاطمي .

۶۱- زیار ، مجاور احمد . ( ۱۳۶۲ هـ . ش ) . پښتو پښویه (ګرامر) . کابل : ژبو او ادبیاتو پوهنځی .

۶۲- خانلري ، پروېز . ( ۱۳۵۲ لمریز) . دستور زبان پارسي ، ایران .